# له وسلې سره مخه ښه

# A FAREWELL TO ARMS



Ketabton.com

ليكوال: ارنيسټ همينګوي
ژباړن: رزاق راحل

(c) ketabton.com: The Digital Library



آغلې مریم درانی، د خدیجة الکبرا فرهنګي او ټولنیزي ټولنې بنسټ ایښودونکې او مدني فعاله چې د همدوی په مالي مرسته (له وسلې سره مخه ښه) کتاب د چاپ په ګاڼه وپسولل شو او د کتاب د مینه والو د تندي خړوبولو لپاره تاسي د کتاب مینه والو ته وړاندي شو.

د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب په اړه.

د کتاب نوم: له وسلې سره مخه ښه.

ليکوال: ارنيسټ همينګوي.

ژباړن: رزاق راحل.

د ژباړې پای: ۱۳۹۳,۱۲,۱

د ژباړن بريښناليک پته:anwerafghan147@gmail.com

خپرندويه: مومند خپروندويه ټولنه.

د پښتۍ ډيزاين: مصطفی درانی.

چاپ: لمړی چاپ.

د کتاب کرکټرونه.

د دې کتاب عمومي کرکټر يا راوي: فريډريک هنري. د پوځ د امبولانس د برخې کارکونکی.

کاترين بارکلي: بريتانوی نرسه ده. بارکلي او هنري يو له بل سره په مينه کي دي.

هيلن فرګوسن: سکاټلنډی نرسه ده. دا او کاترين يو ځای کار کوي.

رينالډي: فريډريک هنري او دی يو ځای کار کوي. رينالډي پوځي جراح دی.

پادري(کشيش): دوی ته مذهبي مشورې ورکوي.

فرعي کرکټرونه: تورن، جګړن، د روغتون چوپړوال او ميرمن يې، بوډا ميرز او ميرمن يې او د هنري ځيني نور ايټالوي ملګري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالۍ.....

هغه چا ته، چي د پښتو ادب بډایه کولو لپاره يې لستوڼي رابډ وهلي، چي يا يې په تېر کي کار ورته کړی یا په حال کي يا هم په راتلونکي کي کار ورته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاداښت!

د خدېجه الکبرا فرهنګي او ټولنیزه ټولنه له لسو کلو راپدېخوا په ښکلي او تاریخي ولایت، کندهار کي د آغلي مریم درانۍ تر مشرۍ لاندي فعالیت کوي. دا ټولنه ویاړ لري، چي په دې موده کي یې د زده کړیزو او تعلیمي پروګرامونو له لارې، په ښځینه قشر کي ظرفیت جوړونه رامنځته کړې او د هغوی د عامه پوهاوي سطحه یې لوړه کړې. د ښځینه شخصیتونو روزل، د هغوی د پوهي، کورني او اقتصادي، حالت لوړول نور هغه کارونه دي، چي یاده ټولنه یې سرلوړې کړې ده.

الف: د زده کړې او تعلیم په برخه کي:

په کورنۍ او ټولنه کي د یوې مسلماني مېرمني مسؤلیتونه او د عامه پوهاوي د کچي لوړول د قرانکریم او د دیني مسایلو د وروښوولو له لارې. د کورنیو د اقتصادي کچې د لوړاوي لپاره د فني او حرفه یي ټولګیو په لاره اچول. لکه: خیاطي، ګلدوزي، غالۍ اوبدنه، ګلسازي، بیک جوړول، څپلۍ ګنډنه او ارایشګاه. د خویندو د پوهي د سطحي د غوړېدا په برخه کي د دې ټولني مسؤلین د کورنیو له مشرانو سره په ګډه په دې توانېدلي، چي د سواد زده کړې، انګلیسي کمپیوټر، انټرنیټ، رسامي و خطاطي او لاسي کارو د ټولګیو له لارې د خپلو کندهاري خویندو په خدمت کي وه اوسي. نوموړې ټولنه همدا ډول ویاړي، هغه خویندي چي له دې ټولني سره یې اړېکي لرلې او لرې یې هم، نن ورځ د ښونځیو په لوړو ټولګیو کي درس لولي او یا هم له دولسم ټولګیو فارغه سوي او په ټولنه کي په دنده بوختي دي. د خدېجه الکبرا فرهنګي او ټولنیزه ټولنه په ورته وخت کي په کندهار کي د معلولو او کنو خویندو په خدمت کي ده. هغوی اوس دومره بریالۍ سوي، چي د ژبي زده کړي په ټولګیو کي له پښتو او دري ورهاخوا په انګلیسي هم خبري کولای سي.

ب: د عامه پوهاوي په برخه کي:

د کندهاري خویندو د عامه پوهاوي د کچي لوړاوي لپاره د خبرو اترو د محافلو، سیمینارو او کنفرانسونو په لار اچول. د دې لپاره چي د پوهاوي لړۍ د کندهار تر ټولو کورنیو پوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسېږي او د کندهاري ولس په تېره بيا د ښځينه قشر په خدمت کي وه اوسي. دې ټولني په کال ۲۰۱۲ کي مېرمن راډيو پرانيسته. چي د پروګرامونو ۷۵٪ تمرکز يې پر ښځينه مسايلو او پاتې ۲۵٪ تمرکز يې پر عمومي مسايلو ورټول دی. د مېرمن راډيو نشراتو د کندهار له ۱۷ولسواليو څخه ۱۴ولسوالی تر پوښښ لاندي نيولي دي. خپروني يې عبارت دي له: ديني ټولنيزي، ښوونيزي، فرهنګي، اقتصادي، په خاص ډول د عامه پوهاوي خپروني. د يوې ترسره سوې سروې له مخي تر اتيا زره زيات خلک د دې راډيو له خپرونو ګټمن سوي. مېرمن راډيو په کندهار کي د ښځينه قشر د ستونزو سپړونکې.

ج: د عدالت غوښتني په برخه کي:

د کندهار د ښځو د عدالت غوښتني شبکه د خديجه الکبرا ټولني د خدماتو يوه بله بېلګه ده، چي په ۲۰۱۲ کال کي د ښځو له حقوقو څخه د دفاع په خاطر تاسيس سوه. هدف يې په کندهار کي د زيانمنو سويو مېرمنو سره د هغوی د حقوقو د لاسته راوړلو په لار کي همکاري او مرسته ده.

د: ملالی ميوندي انټرنيټ کيفې:

د دې لپاره، چي خويندي لا ډېر معلومات ترلاسه کړي او خپلې درسي ستونزي حل کړي. دغه کيفي رامنځته سوه، چاپېريال يې بشپړه ښځينه او وړيا دی. خويندي کولای سي، چي د اسلامي او پښتني اصولو په مراعتولو سره له دې اسانتيا ځانونه ګټمن کړي.

ر: له بې وسه مېرمنو سره اقتصادي مرستي او په اضطراري حالاتو کي د کندهاري ولس په شمول د نورو هيوادوالو لاسنيوی.

س: د کندهار د ځوانو ليکوالو د کتابو د خپرولو په لړ کي له هغوی سره مرسته او همکاري.

لاسته راوړني:

څنګه چي هيڅ يوه کړنه د خدای او خلکو په وړاندي بې مزده نه پاتېږي، آغلې مريم درانۍ هم د دې د هغو ارزښتمندو هڅو په وړاندي، چي د جنوب غرب حوزې د ښځو له حقوقو څخه د دفاع په خاطر يې سرته رسولي؛ ګڼې کورنۍ او بهرنۍ جايزې ترلاسه کړي. هغه جايزې او ستاينليکونه چي له هيواده بهر يې ترلاسه کړي:

لمړۍ: د امريکا د بهرنيو چارو وزارت له خوا د ۲۰۱۲ کال د زوړري مېرمني جايزه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه: د پنسلوانیا ایالت د ښاروال له لوري د ۲۰۱۲ کال د مارچ ۵ نېټې د زوړرړي مېرمني ستاینلیک.

دریمه: د واشنګټن ډي سي د ښځو له طرفه د ۲۰۱۲ کال د مارچ ۶ د فعالي مېرمني ستاینلیک.

څلورمه: د انډیانا ایالتي مجلس له لوري د فعالترینې مېرمني ستاینلیک. ۲۰۱۲ د مارچ ۱۲.

پنځمه: د ټایم مجلې له لورې په کال ۲۰۱۲ کي د آغلې مریم درانۍ پېژندنه د نړۍ د سلو اغېزمنو شخصیتونو په جمله کي.

شپږمه: په کال ۲۰۱۲ کي د عراقي او افغان مېرمنو، د سولې په اړه په ګډو خبرو اترو کي د ګډون ستاینلیک.

اومه: په ۲۰۱۳کال کي د مریم درانۍ پېژندنه د ۳۰ ځوانو شخصیتونو د حقوق بشر د ځوانو فعالو په لړ کي.

اتمه: د هالنډ پادشاهي، د روزولټ بنسټ له لوري د بیان ازادۍ په برخه کي د څلور ازادۍ مډال ترلاسه کول.

په وروستیو کي د خدېجه الکبرا فرهنګي او ټولنیزه ټولنه په دې ویاړي، چي د دې کتاب په خپرولو سره د کتاب د مینه والو په خدمت کې ده. دغه کتاب چي اوس ستاسو په لاسو کي دی، په پنځه سوه ټوکه کي؛ زموږ د دوست او همکار، ښاغلي عبدالرزاق راحل ژباړه ده. نوموړی کتاب د دې ټولني په مالي مرسته چاپ سوی او د هیوادوالو خدمت ته وړاندي سوی. په وروستیو کي په علمي او نورو برخو کي د ښاغلي عبدالرزاق راحل او د هیواد د نورو ځوانانو د کامیابیو په هیله یو. د پرمختللي افغانستان په امید.

خدېجه الکبرا فرهنګي او ټولنیزه ټولنه.

۱/۴/۱۳۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمړی فصل

د هماغه کال د خزان په وروستیو شپو او ورځو کي موږ په یوه کلي کي اړولي وه. د کلي په سر کي سیند بهېده. د سیند په هاغه اړخ کي یوه هواره منطقه او له هغې ورهاخوا د غرو لړۍ پیلېده. د سیند په بستر کي غټي او وړې ډبرې، پر دوی باندي د لمر وچي او ځلیدونکي وړانګې او له پاسه پرې زلالي او تکي شنې اوبه په شړهاري رواني وې. د کور څنګ ته مو یو سړک غځېدلی وو، چي د پوځیانو د تګ راتګ لار وه او کله چي به دوی تېرېدل، د دوی د پښو راولاړ شوی ګرد به د ونو پر پاڼو باندي لوېده. د ونو تنې خو په دوړو کي له سره تر پایه غرقي وې. هماغه کال بلګونه له وخته وړاندي ورژېدل. پر سړک باندي تېریدونکو پوځیانو ته به مو کتل، دوی چي به هر قدم پر مځکه ایښوده، ګرد به نور پسي ډیرېده. له دې خوا به بیا باد به د ونو په بلګو پسي راوهلې وه، له یوې ځپې سره به یو خروار بلګونه کښته پر مځکه پراته ول. پوځیان چي به تېر شول، پر سړک به د پاڼو او بلګو پرته بل څه نه وه.

د سیند په ګاونډ کي هواره سیمه ډیره آباده وه. ګڼ میوه لرونکي باغونه او ښکلې سرسبزي یې لرل. خو تر دې ورهاخوا بیا پراته غرونه خړ او سپېره ښکاریدل. په همدې غرو کي جګړه روانه وه. د شپې له خوا، چي کله به توپونه پر ډزو راغلل، لمبې به یې موږ لیدلې. لمبې یې د دوبي لمر ته پاتېدې، خو دوبی نه وو. د شپې به ډیر یخ وو، خو د باران یا واورې څرک نه لګېده.

ځیني وختونه به مو په تیاره کي د پوځیانو د تګ راتګ او درنې توپخانې چي موټرونو به کشولې شورماشور اورېده. ماخستن به پر سړک باندي ازدحام زښت ډیریده. بېشمېره غاطرې، چي په خورجینو کي به یې وسلې او مهمات بار ول، خړ خړ موټرونه چي پوځیان به یې انتقالول او ګڼ نور باربري موټرونه چي له پاسه به پرې ترپالونه هوار ول؛ پر سړک باندي ورو ورو روان ول. لوی او درانه توپونه به بیا د ورځې له خوا هم انتقالېدل، په لویو موټرانو پسي به یې تړلې ول، د غټو غټو سرمو له پاسه به یې زرغونې پاڼې او ښاخلې پرې اچولې وې. په شمالي اړخ کي مو تر درې ورهاخوا د شابلوط ونو یو ځنګل او د سیند په دې څنګ کي یو غر وو، د دې غر پر سر هم جګړه روانه وه، خو چنداني په مزه کي نه ښکارېده. په مني کي چي کله باران وشو او بلګونه ټول پر مځکه راپرېوتل، ټولې زرغونې ونې په تشو تنو او سپېرو ښاخلو بدلې شوې. د انګورو کروندې هم ګرده سپیرې او خړې ایسېدې. د سیند له پاسه یو ډول خوپ وو او د غره له پاسه وریځې راټولیدې. لوی موټرونه چي به کله پر سړک تیریدل، د لارې په اوږدو کي پلي پوځیان به یې په خټو ولړل. دوی به

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر لندو باراني کوټو لاندي لانده ټوپکونه له ځېګر سره جوخت نیولي ول. د دوی پر ملاوستي به دوې چرمي غوټکۍ، چي ۶،۵ملي متره مرمۍ پکښې وې، ځوړند وي. په دې خړ رنګه غوټکیو کي مرمۍ شخي شخي راوتي وې. کوم پوځیان چي لاندي پر سړک به تېرېدل او دا ډول چانټې به یې تړلي وي، داسي به ښکارېدل لکه شپږ میاشتنی ماشوم چي یې په نس وي.

یو ډول وړوکي خړ رنګه موټرونه ول. ډېر په بېړه به پر لار تلل. یو افسر به له موټروان سره په مخکي سیټ او څو نور افسران به شا ته ناست ول. دغو موټرونو تر غټو موټرونو ډیري ختې پاشلي او که به یو کوتاه قده عسکر د دوو جنرالانو په مینځ کي ناست وو، ډېر وړوکی به معلومیده. یوازي به یې خولۍ او ډنګرې اوږې ښکارېدې. او که به موټر یو څه ډېر تیز روان وو، نو هغه بیا پادشاه وو، چي په یوډین کي هستېده او په ښار کي به د دې لپاره ګرځېده، چي د ښار له حال و احوال نه ځان خبر کړي، خو حالات خراب ول.

د ژمي له پیل سره دایمي بارانونه له اسهال سره یو ځای راغلل، خو تداوې یې پیل شول. په پای کي معلومه شول، چي پوځ کي یوازي اوه زره نفره مړه شوي وه.

## دوهم فصل

په راروان کال کي مو ګڼ فتوحات وکړل. له درې ورهاخو غر او د شابلوط ځنګله ډډه مو په خپل واک کي راوستل. د دې تر څنګ په جنوبي دښته کي هم پرمختګونه وشول. له دې سره موږ هم تر سیند پورېوتو او په ګوریزیا کي مو په یوه کور کي واړول. ښکلې فواره، تک شین باغ او د انګورو په تاکانو پټ دېوالونه یې درلودل. جګړه اوس په څنګلوري غره کي چي له موږ څخه ایله یو میل لا لیري نه وو، په زور کي وه. ښار ډېر ښکلی وو، زموږ د زړه راکښونکي کور شا ته سیند بهېده البته ښار له ډیري ویجاړۍ او ورانۍ پرته فتح شوی وو. خو له موږ څخه ښه ورهاخوا غر لا د دښمن په لاس کي وو. خوشاله وم. داسي ښکارېدل، چي اتریشیان د جګړې له پایته رسیدو وروسته ښار ته د راستنېدو هوډ لري، ځکه له ښاره د وتو په وخت کي یې سخت بمبار نه وو کړی. یوازي یې ځانته د اوړو پزه اېښې وه. په ښار کي اوس هم خلک اوسېدل. کافي شاپ او روغتونونه اوس هم فعال ول. د کوڅې په سر کي توپخانې سنګر نیولی وو. دوې کنجره خاني هم وې. یوه د عسکرو او یوه هم د افسرانو لپاره. د دوبي له ختمه سره یخو شپو، له ښاره ورهاخوا غرو کي جګړې، په توپ ویشتل شوې د اورګاډې پټلۍ، د سیند له پاسه مات پل چي د جګړې ډګر وو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلورلارې پر دواړو اړخو ولاړو ونو؛ په ښار کي موجوده نجونو او هغه بادشاه چي په موټر کي به تېریده، ځیني وختونه به يې کوچنی تنه او مخ چي خړه ږیره يي هم پرې ایښي وه ښکارید، او بیا ناڅاپه د هغو کورونو د دننه منظره چي د توپ په مرمی لګیدلي ول، د کورو ماتو خښتو او کودرکو په باغ یا به هم ځیني وختونه دباندي په کوڅه کي په ښکاره معلومیدل، دغو ټولو شیانو د (کارسو) خزان له تېر خزان څخه چي موږ په وطن کي وو، ډیر متفاوت کړی وو. جګړې هم په عین حال کي تغیر کړی وو.

له ښاره سره نژدې د شابلوط ځنګل له خاورو سره برابر شوی وو. په دوبي کي، کله چي موږ دلته راغلو، ځنګل زرغون او اباد وو، خو اوس د ونو د تشو تنو، ګوګلیو، ماتو ښاخلو او په بمانو الوزول شوي مځکې پرته بل څه نه وه. یوه ورځ د مني په پای کي دې ځنګله ته راغلم، همالته ولاړ وم چي د غره له پاسه راروانې وریځې ته مي پام شو، ډیره په بېړه مخ په وړاندي راروانه وه، په ضرب د څو دقیقو کي ټوله شین اسمان او ژړ لمر پټ شول. ورسره رنګینه نړۍ په توره و سپينه بدله شوه. په څو شیبو کي واوره پیل شوه. له واورې سره باد هم ملګری وو، تش تور میدانونه، د ونو تنې، توپونه، او د توپخانې شاته وه ټټۍ ته تللې لار، ټول په واورو کي پټ شول.

ګړی وروسته، په ښار کي د افسرانو په کنجره خانه کي ناست وم او د کړکۍ له لارې مي دباندي وه وربېدونکي واورې ته کتل. په همدې ننداره بوخت وم، چي یو ملګری مي هم راغلی. استي شراب مو راوغوښتل، دوه ګیلاسونه مو ځیني ډک کړل او بیا د واورې غټو غټو غټيو ته چي ورو ورو مځکې ته راکښته کېدل په سیل شوو. موږ پوهېدو چي د سږ کال لپاره جګړه پر همدې ځای پایته ورسیدل. له سینده ورپورې غر فتح نه شو. البته د سیند ورهاخوا یو غر هم ونه نیول شو. د هغوی فتح کول راروان کال ته وځنډول شول. زما سره پر مېز ناست ملګري پادري ولید، چي د کوڅې په ختو او ډم باراني اوبو کي خورا په احتیاط روان وو. ده د پادري پام رااړلو په خاطر کړکۍ وټکول. پادري لوړ وکتل، ویې لیدو او مسکی شو. ملګري مي د راتګ بلنه ورکړه، خو هغه سر وښوراوه او پر خپله لار رهي شو. هماغه شپه په خوړنځای کي، ټولو په بېړه آش وخوړل. په پنجو به مو راپورته کړل، هغه به نو په پنجه پسي ځړېدل، تر څو چي خولې ته به کښته شول یا به مو هم په شونډو کي ونیول او خولې ته دننه به مو راسر وهل. بیا به مو په وښو کي له پیچلي منګي نه څیښاک پسي کاوه. په یوه ګوته به مو هم پر ګیلاس منګی راکوږ کړ او هم به مو په هماغه لاس ګیلاس ورته نیولی وو. ګیلاس ته به سره او رانه شراب ورتوی شول. له خوراک وروسته تورن د پادري چخولو ته وجوغېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پادري ځوان او شرمېدوکی وو. زموږ ټولو په څېر، یونیفورم ده هم اغوسته، البته پر خړه کورتۍ یې د سینې په چپ اړخ کې د جېب له پاسه یو سور بخملي صلیب ځړېده. تورن په ماته ګوډه ایټالوي خبرې پیل کړې، تر څو زه هم پوه شم او کوم څه رانه پاتې نه شي.

تورن یو ځلي پادري او بیا ما ته وکتل "پادري هم له نجونو سره لین بسته کړئ!" پادري له شرمه مسکی شو او سر یې وښوراوه. دغه تورن به ډېری وختونه پادري ځوراوه.

تورن " څنګه رښتیا نه وایم؟ نن مي پادري له نجونو سره ولید."

پادري وویل " نه، داسي نه ده." نورو افسرانو به د پادري له ځورولو څخه خوند اخیست.

تورن "پادري له نجونو سره! داسي نه شي کېدای." مخ یې ما ته رااړولی وو، تورن ګیلاس راڅخه واخیست او ډک یې کړ. سترګې به یې تل زما له سترګو سره جنګولې، خو پادري یې هم له نظره نه غورځاوه.

"پادري، هره شپه یوازي له پنځو سره!" ناست خلک ټول په خندا شول. " پوهیږې؟ پادري هره شپه یوازي وي او په وړاندي یې پنځه وي." تورن په لاسو د یوې اشارې سره په زوره زوره وخندل. خو پادري دغه خبره نظر انداز کړه او دا یې یوه ټوکه وګڼل.

جګړن "پاپ د اتریشیانو ملاتړی دی. هغه په دې خوشاله دی، چي اتریشیان جګړه وګټي. فرانزجوزف یې په طبعه ښه لګیږي. پیسې هم له هغه ځایه ورته راځي. زه لامذهبه یم."

بریدمن "تورخرس کتاب دي کله لوستی؟زه به یې یوه نسخه درکړم. همدا کتاب وو، چي زما عقیده یې راولړزول."

پادري ورته وویل " ډېرناولی او چټل کتاب دی. دغه کتاب اصلاً د ویلو نه دی."

بریدمن "هغه ډېر ګټور کتاب دی. د پادریانو په اړه معلومات پکښې دي، خوښ به دي شي. نه یې وایې؟" ما ته یې وخندل. زه پادري ته مسکی شوم د شمعې په رڼا کي راته مسکی شو بیا یې زه مخاطب کړم "دغه کتاب مه وایه."

بریدمن "زه به یې یو جلد درته راوړم."

جګړن "ټوله بافکره لامذهبه دي. خو زه بیا هم پرفري ماسون عقیده نه لرم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

بریدمن "زه خپله عقیده پرې لرم. ښه ډله ده." یو څوک دننه راغلی، څنګه، چي دروازه خلاصه شول ومي لیدل چي واوره اورې. ما ورته وویل "واوره پیل شول فکر نه کوم، چي جګړه دي بیا پیل شي."

جګړن زه مخاطب کړم "تر قیامته خو به نه وي؟ ته باید رخصتي واخلې او روم، ناپلز، سیسلي...... ته ولاړ شې."

بریدمن "امالفي ته هم ولاړ شه. زه خپلي کورنۍ ته ستا په اړه وایم. هغوی به د زوی په څیر مینه درسره وکړي."

"پالرمو ته هم یو ځلي ولاړ شه."

"کاپري ته هم یو سر ورښکاره کړه."

پادري وویل "زما مشوره دا ده، چي په ابروزي کي وه کاپراکوتا ته ولاړ شې."

"دې د ابروزي طرفدار ته بیا وګوره! هلته تر دې ځاي ډیره واوره اوري. دی نه غواړي چي د کروندګرو په منظره ولاړ شي. دی غواړي د فرهنګ او مدنیت مرکز ته ولاړ شي."

"همالته به ښکلي نجوني هم وي. ګوره زه به بیا په ناپل کي د ښکلو ځایو ادرسونه درکړم. ښکلي نجونې، له خپلو میندو سره.ها! ها! ها!". تورن خپل ورغوی وغوړوی داسي چي بټه ګوته یي لوړه او نوري ګوتې یې بېلي بېلي وي ونیولې د لاس سایه یې په رڼا کي پر دیوال باندي ښکاریده، دی بیا په ماته ګوډه ایټالوي سر شو "ته داسي ځې" وه بټې ګوتې ته یي اشاره وکړل،" بیا داسي راځې". خمچۍ ګوتې ته یي لاس ونیو. ټولو وخندل.

تورن "ورته وګوره" لاس یې بیا وغوړوی او د شمعې په رڼا کي یې سایه پر دیوال باندي ولوېدل. د لاس ګوتې یې ټولي نامګذاري کړې، نامګذارې یې له بټې ګوتې څخه پیل کړل "(سوټوټینینټ) بټه ګوته (ټینینټ) شهادت ګوته (کاپیټانو) منځنی ګوته (میګیوري) د خمچۍ ګوتې څنګته (ټینینټ کولونیلو)خمچۍ ګوته "ته (پادري) د سوټوټینینټ وه خواته ځې اوبیرته د سوټو کولونیلو وه خواته راځې.". پدي سره یو ناڅاپه د خندا انګازې په خوړنځای کي پورته شوې. د تورن پدې لوبه خورا ساعت تیر وو. پادري ته یي وکتل او چغه یې پرې وکړل "هره شپه یو د پنځو په وړاندي" یو ځلي بیا ټول په خندا شول.

جګړن "ته باید ډیر ژر رخصتي واخلې."

(c) ketabton.com: The Digital Library

بریدمن ”کاشکي زه او ته په ګډه تللي وای او ښه مسته مېله مو کړې وای.”

“هر وخت چي راستنېدې فونوګراف[1] بیا درسره راوړه.”

“ګوره، خوندور اوپیراډیسکونه هم راوړه.”

“کارسو هم درسره راوړه.”

“کارسو مه راوړه. دی بیا رمباړې وهي.”

“ته د ده په څېر د رمباړو وهلو ارمان نه لرې؟”

”دی رمباړې وهي. وایم رمباړې وهي.”

دوی ټول یو له بل سره په جر و بحث اخته ول، پادري زه مخاطب کړم ”که تاسي ابروزي ته ولاړ شئ، زه به ډېر خوشاله شم. ښکلي ښکارځایونه پکښي شته. ښه پاسته خلک یې دي او هوا یې که څه هم یخه ده، خو ډېره صافه او ښکلې ده. همالته زموږ په کور کي اوسه. زما پلار نامتو ښکاري دی.”

تورن ”راځئ، بیره وکړئ، چي بیا کنجره خانه بندیږي.”

پادري ته مي وویل ”د خدای په امان.”

پادري ”په مخه دي ښه.”

دریم فصل

د رخصتۍ له پایته رسېدو وروسته، بیرته هغه خپل پخواني ښار ته راستون شوم. د پسرلي له راتګ سره په سیمه کي پوځي تدارکات زیات شوي ول. کروندې زرغونې شوي وې. پر تاکانو نوي راټوکېدلي غوټۍ زړه راکښونکي وې. د ونو پاڼو هم خپله ځواني د کوچنیو پاڼو له لارې موږ ته ښوول. کله کله به له سیند نه د شمال یوه نرۍ څپه راالوته. ښار ته مي وکتل، پر یوې تپې مي سترګې ونښتې، د همدې تپې په سر کي یوه پخوانی کلا ودانه وه. شا

[1] هغه اله چي اواز او موسیقي ثبتوي او بیرته یې اوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته یې خړ خړ غرونه چي په ډډو کي یې لږ سرسبزي هم ښکارېدل، پراته ول. د پخوا په پرتله اوس پوځي تدارکات زیات ول، نوي روغتونونه هم جوړ شوي ول. په ښار کي راروان وم، چي څو ځله له نارینه او ښځینه بریتانو سره مخ شوم. له داسي کورو سره هم مخ شوم، چي زما په نه شتون کي په توپو ویجاړ شوي وه. هوا معتدله وه زه په یوه کوڅه کي چي دواړو اړخو ته یې ونې ولاړي وې روان وم. د لمر وړانګو، چي د کورو پر دېوالو لګېدې هوا ګرمه کړې وه. یوه شوم چي په هماغه پخواني کور کي اوسیږو، هر څه د پخوا په څېر وه. دروازه خلاصه وه. یو عسکر پر میز دباندي وه لمر ته ناست وو. له دېوال سره په خوا کي یو امبولانس تیارسی ولاړ وو. کور ته دننه ورغلم. د مرمر او روغتون بوی ترې راته. هر څه د پخوا په شان ول، پرته له دې چي اوس پسرلی وو. له دروازي څخه مي وه غټي کوټې ته وکتل. جګړن می ولید چي د میز ترشا ناست وو. کړکۍ خلاصه وه لمر خپلي زرینې وړانګې دننه خپرې کړي وي. زه یي ونه لیدم نه پوهیدم چي دننه ورشم، ریپورټ ورکړم او که لوړ وخېژم او ځان پاک کړم. فیصله مي وکړل چي لمړی به لوړ وخېژم.

زه او بریدمن رینالډي په کوټه کي یو ځای اوسېدو. زموږ له کوټې څخه د سرای غولی ښه واضح ښکارېده. کړکۍ خلاصه وه. کټ مي ښه تیار، توس پرې هوار او شیان مي ټول پر چنګګ ځړول شوي ول. ضد ګاز ماسک مي په یو اوږد فلزي بکس کي پروت وو. فولادي هلمټ مي پر کوټ بند باندي ځړېده. بسته او ژمني بوټونه مي له کټ سره پراته ول، پالش شوي هم وه چي یو ډول ځلا یي کول. زما شین اتریشی سنیپر چي کنداغ یي د جوز له لرګي څخه جوړ شوی وو، د کټ له پاسه ځړېده. د توپک دوربین مي یاد دی چي په بیک کي مي ایښی وو. بریدمن رینالډي پر یوه بل کټ بیده وو. کله چي یي زما ږغ واورید راپاڅید او کښېناست.

رینالډي "سلام! اوه، رخصتي دي څنګه تیره کړه؟"

"ډیره ښه تیره شول."

یو له بل سره مو ستړي مشي وکړل. په غیږ کي موسره ونیول او مچ یي کړم.

ورته وه مي ویل "اوف!"

رینالډي "خیرن یې. یو ځلي حمام وکړه. ښه دا راته ووایه چي چیري ولاړې؟څه دي وکړل؟ ټوله کیسه په لنډو کي راته وکړه."

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ټولو ځايوته ولاړم. ميلان، فلورانس، روم، ناپلز، ويلاسان ګايواني، مسينا، تاورمينا[2]....."

"ته خو د تقسيم اوقات غوندي راته چالان شوې. خير، له کومې په زړه پوري خاطرې سره مخ شوې؟"

"هو."

"چيري؟"

"ميلانو، فايرنز، روم، ناپولي.........."

"ښه بس همدومره کفايت کوي. ريښتيا ووايه، چيري دي ډېر ساټ تېر شو؟"

"ميلانو کي".

"دا له دې امله چی هغه دي اولنی ځای وو. ښه نو له هغې سره دي چيري وليدل؟ په کوا[3]کي؟ چيري ولاړاست؟ څه ډول احساس دي کاوه؟ ټوله راته ووايه، ټوله شپه ويښ واست؟"

"هو".

"دا خو هيڅ نه دي. اوس موږ ترهغوی ښکلي (نجوني) لرو. له دې وړاندي جبهې ته نه وي راغلي."

"ډيراعلی."

"ستا باور نه کيږي؟ همدا نن غرمه به ولاړشو، ته به يې په خپلو سترګو ووينې. ښار له ښکلو بريتانوي نجونو ډک دی. اوس له ميس بارکلي سره په اړيکه کي يم. وه ملاقات ته به يې ورځو. کيدای شي له هغې سره واده وکړم."

"لمړی بايد ولامبم او بيا ريپورټ ورکړم. تاسي لکه چي ټول بېکاره ياست؟"

"له کومه چي تاسي تللي ياست هيڅ کار نه لرو. پرته له يخه، ژړي، د پښو او لاسو له چاودو، ګونورهيا، قصدي زخمونو، سينه بغل، سخت او نرم چانکريس. لنډه دا چي هره

[2] په اروپا کي د ايټاليي هيواد د ولايتو نومونه دي.
[3] دا هم د ايټاليا له ولاياتو څخه يو ولايت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ یو نفر د لویو ګارو د ټوټو په وسیله زخمي کیږي. هغه چې په ریښتیا زخمیان وي، د هغو شمېر ډېر کم دی. راروانه اونۍ جګړه بیا پیلیږي. اوازې خو همداسي دي. ستا په نظر ښه به نه وي چې له میس بارکلي سره واده وکړم ـــ یعني د جګړې له پایته رسیدو وروسته؟"

ورته وه مي ویل "بیخي ښه کوې". له دې ویلو سره مي تالۍ له اوبو څخه ډکه کړل.

رینالډي "ماښام به ټوله کیسه راته وکړې. زه اوس بیدېږم، چې بیا د میس بارکلي سره د ملاقات په وخت کي بیداره او پر حال یم." کالي مي وکښل او په تالۍ کي په یخو اوبو ولمبېدم. په اتوال مي د ځان وچولو پرمهال د کوټې وه شاوخوا او رینالډي ته، چې سترګې یې پټي وې؛ وکتل. ښکلی ښکاریده، زما همزولی او د امالفي اوسیدونکی وو. له خپلې دندې نه، چې جراحي وه، خوښ وو. ښه ملګری وو. ما لا ده ته کتل، چې سترګې یې پرانیستې.

زه یې مخاطب کړم "پیسې میسې لرې؟"

"هو".

"پنځوس لیرې خو په پور راکړه."

لاسونه مي وچ کړل او له کورتۍ څخه مي، چې په چنګک ځړیدل بټوه راوایسته. رینالډي پیسې واخیستې، بیله دي چې له ځایه راولاړ شي په جیب کي یې واچولې او وې خندل."زه باید ځان وه میس بارکلي ته شتمن ښکاره کړم. ته زما ملګری او زما اقتصادي ملاتړی یې." ورته وه مي ویل "ځه ورک شه."

هماغه شپه په خوړنځای کي له پادري سره یو ځای کښېناستم. کله، چې خبر شو زه ابروزي ته نه یم تللی خواشینی شو. ده خپل کور ته یو خط لیږلی وو. په هغه کي یې لیکلي ول، چې زه ورځم، ځکه نو هغوی زما لپاره تیاری هم نیولی وو. زه هم د ده په خبر پریشانه شوم. په دې، چې ولي نه ولاړم. ما ریښتیا هم غوښتل چې ولاړ شم. ده ته مي قناعت ورکړ چې څنګه مي له یوه کار څخه فکر او توجه د یوه بل کار په لور واوښتل. په اخره کي دی هم قانع او پوه شو چې ما ریښتیا هم غوښتل ابروزي ته ولاړ شم. هرڅه بیرته د پخوا په شان عادي شول. ما نن بیا ډېر څښل وکړل له دې وروسته مي قهوه له هغه وروسته مې بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستریګا[4] وڅیښل. نشه یي کړم. پادري ته مي وویل چي څه ډول هغه کارونه چي موږ یي د کولو نیت کړی وې هغه نه کیږي او بیا هیڅکله د هغه کار د کولو موقع نه پیدا کیږي.

موږ په خپل مینځ کي ښه تود باندار اچولی وو، خو څنګلوري ملګري مو یو له بل سره په جنجال وه. ما ابروزي ته د تګ عزم کړی وو، خو نه ولاړم. زه وه داسي ښار یا سیمې ته، چي سړکونه یې یخی او داسي شوي وې لکه وسپنه، چي هوا یې یخه خو صافه او تازه، واوره یې وچه او داسي وي لکه ګرد اوغبار، چي پر واوره باندي یي د سویانو پلونه وي، په هغه ځای کي چیري چي بزګران خپلي خولۍ ستا لپاره له سره ایسته کړي او دا لفظ ووایي "مشره" او ګڼ ښکار ځایونه وي، نه ولاړم. البته داسي ځای ته ولاړم، چیري چي د کافې شاپ دودونه ول، په شپه کي به خونه څرخیدل او د برقرار ساتلو لپاره اړ وې چي دیوال ته دې پاملرنه وي. په شپه کي د کټ له پاسه نشه پروت. انسان فکر کوي چي هر څه همدا دي. او کله چي به راپاڅیدې نو یو ډول عجب او غریب احساس به وو. هغه دا چي ستا سره څوک درسره وه. په تیاره کي به له یوې غیر حقیقي نړۍ چي په یوه عجبه احساس سره به دي یي د بیا لاسته راوړلو هڅه کول ورک شوې. او یقیني وه چي همدا ټوله، ټوله همدا وه او بیا له ځانه بیځانه. بیا ناڅاپه سړی پوه شي او ځان په خوب واچوي، بیا پاڅیږي او سهار شوی وي اوهر څه تیر شوي وي. بیا هرڅه تېز، سخت او څرګند وي، خو ځیني وختونه یي د بیي پر سراختلاف وي.

ځیني وختونه تر اوسه هر څه عادي وي. ښکلې ناشته او خوندوره غرمنۍ وي. ځیني وختونه ټولي خوښۍ او خوشالۍ له منځه ولاړي شي او غواړې له تنګ ماحول او چاپېریال څخه ازادي فضا ته ولاړ شې؛ خو هر ځلي ورځ ختمه شي او یوه بله شپه پیل شي. هڅه مي وکړه، د شپې په اړه یو څه درته ووایم، همدا ډول د شپې او ورځې توپیر بیان کړم، دا چي شپه څومره ښه ده، خو دا چي ورځ صافه او یخه وي، خو ومي نه شوای ویلای. ځکه د ویلو توان راپکښې نه وو. خو که تاسي ورسره مخ شوی بیا خپله پوهیږئ. پادري ورسره مخ شوی نه وو. خو پوهیده چي ما ریښتیا هم غوښتل ابروزي ته ولاړ شم، خو و مي نه شوای کړای چي هلته ولاړ شم. البته زموږ ملګرتیا اوس هم برحاله وه، په عین حال کي زموږ دواړو طبیعت تقریباً یو ډول وو، خو له یوه توپیر سره، هغه دا چي هغه په هغو شیانو پوهېده، چي زه نه په پوهېدم، خو کله چي زه پرې پوه شوم بیرته به رانه هېر شول. که څه هم وروسته مي زده کړل، خو بیا هم نه په پوهېدم. موږ تراوسه په خوړنځای کي وو، ټول

---

[4] یو ډول ځانګړی ایټالوی مشروب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماړه شوي ول او اوس يې يو له بل سره باندار کاوه. موږ خپل مجلس پایته ورساوه تورن ناری کړل "پادري خفه دی. پادري د نجونو د نه شتون له امله خفه دی."

پادري د ده په جواب کي وويل "زه خوشاله يم."

تورن "پادري خفه دی. پادري په دې خوشاله دی، چي اتريشيان جګړه وګټي." ناستو خلکو ټول د ده خبرو ته متوجه ول. پادري سر ته تکان ورکړ او وې ویل "نه."
"پادري وايي لمړی حمله باید موږ ونه کړو، همداسي نه ده؟"

"نه. زما په اند که چيري پر موږ حمله وشي، باید حمله پرې وشي."

"باید حمله وکړو، که حمله وشي!"

پادري سر وښوراوه.

جګړن "دی یوازي پریږده. په ده نه ده جوړه."

تورن "په هر صورت، دی نه څه کولای شي او نه یې څه په وسه دي."

ټوله له مېزو راپاڅيدو.

## څلورم فصل

په څنګلوري باغ کي د توپ درنو ډزو سهار وختي له خوبه راويښ کړم. د لمر وړانګې له کړکۍ نه دننه کوټې ته راتلې. له کټه راولاړ شوم، د کړکۍ خوا ته ورغلم او دباندي مي وکتل. کوڅه نمجنه ښکارېده او پر ګلانو باندي شبنم له ورايه معلومېده. توپچي دوه ځلي ډزې وکړې له هر ځل ډز سره به ګرد او غبار د اسمان لور ته پورته کېده، کړکۍ به يې ولړزول او زما د مخ لمن به پورته ولاړه. توپونه نه ښکاريدل، خو ډزې يې زموږ له پاسه تېرېدې. د دې توپو شته والي يو ډول سرخوږی راته جوړ کړی وو، خو خوشاله په دې وو، چي تر دې غټ توپونه نه ول. ما لا باغ ته کتل، چي پر سړک د رواني لارۍ بړغ مي واورېد. کالي مي واغوستل لاندي ولاړم، په اشپزخانه کي مي يو څه قهوه وڅښل او له هغه وروسته ګاراج ته ولاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر یوه غټ سایوان لاندي لس غټ، پیټ پزې او خړرنګه امبولانسونه لیک قطار ولاړ ول. بهر مستریان د یوه امبولانس په ترمیم مصروف ول. درې نور امبولانسونه لوړ د غره په روغتون کي ولاړ ول.

له یوه مستري څخه مي وپوښتل "پر دغي توپخانې له هغې خوا نه ډزي نه کیږي؟"

"نه. ښاغلی بریدمن. پر هماغه سیمه یوه غونډۍ راتاو شوې"

"حالات څنګه دي؟"

"بد نه دي. دغه موټر له کاره لویدلی، خو هغه نور سم دي" کار یي بس کړ او راته مسکی شو." تاسي په رخصتي تللي واست؟"

"هو"

لاسونه یي په پتلانه پاک کړل بیا مسکی شو "څنګه وه رخصتي ښه در باندي تیره شول؟" هغه؛ نور مستریان هم مسک شول.

ورته ومي ویل "هو ښه وه. په دې موټر څه شوي؟"

"خراب دی، هر ځلي یوه خرابي ورپیښه شوي وي."

"اوس څه په شوي؟"

"نوي رینګان غواړي".

دوی مي خپل کار ته پرېښوول. هغه موټر چي ماشین یي خلاص شوی وو او پرزې یي پر میز پرتې وې، نس یي ګوګ ښکاریده. تر سایوان لاندي ټول موټرونه مي تر نظر تېر کړل، ځیني پاک ول او ځیني تازه پریولل شوي ول، خو ځیني یي تر اوسه لا دوړن او خیرن ول. وه ټیرو ته مي یي په دقت وکتل چي پرې او څیري شوي خو به نه وي. هرڅه سم ښکاریدل. زما موجودیت او نه موجودیت کومه توپیر نه و رامنځته کړی. له ځان سره مي فکر کاوه، چي د امبولانسونو ساتل، د اړتیاوو او کمبوداتو پوره کول، وه روغتونو ته د زخمیانو وړل او بیا هلته ځاي پر ځاي کول، د غرو څخه وه رغتونو ته د جسدونو راوړل او بیا د هغوی نومونه لیکل او ثبتول دا ټوله زما دنده او مسولیت دی، خو وروسته پوه شوم که زه یم که نه یم دا کارونه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د مستریانو له ډلګۍ مشره پوښتنه وکړه "د ماشینانو د پرزو په موندلو کي خو به له ستونزوسره نه یاست مخ شوي؟"

"نه، ښاغلی بریدمنه."

" پټرول پمپ چیري دی؟"

"په هماغه پخواني ځای کي دی".

ما ورته وویل "تشکر". له دوی نه تېر او بیرته کور ته ستون شوم. د ډوډۍ پر مېز باندي مي یوه پیاله قهوه وڅیښل. قهوه خامه، خړرنګه او په ګاټه شیدو خوږه شوې وه. بهر ښکلی پسرلنی سهار وو. په هوا کي مي یو ډول وچواله احساساوه، چي په راتلونکو ساعتونو کي یې د هوا د ګرموالي خبرداری راکاوه. په هماغه ورځ د غره وه پوستو ته ولاړم او بیا ماپښین مهال ښار ته ستون شوم.

داسي ښکاریدل، زما په نه شتون کي هرڅه پر خپل ټاکلي وخت و زمان تر سره شوي وو. تر غوږو مي د جګړې د پیلیدا اوازې راورسیدې. په کومه فرقه کي چي ما کار کاوه، ټاکل شوې وه، هغه به د سیند په هاغاړه کي پر یوه هدف باندي حمله کوي. جګړن ما ته دنده راوسپارل، چي پوستې د حملې لپاره اماده باش کړم. پلان داسي وو، چي حمله به د سیند له کم برې نقطې څخه پیلیږي او له سیند څخه تر پورېوتو وروسته به پوځیان د تپو لور ته پرمختګ ته دوام ورکوي. د امبولانسو تمځای باید د شونتیا تر بریده وه سیند ته نژدې او یوه خوندي ځای کي وای. د پوستو د موقعیت ټاکل د پلي ځواکونو له خوا کېده، خو پلي کول او عملي کول یې زموږ دنده وه. دې کار موږ ته یو ډول د غیر حقیقي نظامیتوب احساس راکاوه.

کور ته چي راغلم، په دوړو او ګرد کي پټ وم. پاس کوټې ته د لمبېدو لپاره وختم. ریناللډي په کټ کي ناست وو او د (هوګو انګلیسي ژبې ګرامر) یې لوسته. ځان یې ښه تیار کړی وو او خورا ساټ و باټ ناست وو. تور بوټونه په پښو او سریې هم ښه غوړ کړی وو.

زما له لیدو سره یې وویل "وا وا! له ما سره به د مس بارکلي وه لیدو ته ولاړ شې".

"نه، زه نه شم تلای".

"داسي نه شي کیدای. ته به له ما سره خامخا ځې، چي زما یو څه ستاره پرې وغورځي. "

(c) ketabton.com: The Digital Library

“سمه ده. خو زه به ځان پاک کړم او ته راته منتظر شه”.

“پریږده یې، همداسې ښه یې راځه چې ځو له خیره”.

ځان مې پاک کړ، وریښتان مې ږمنځ کړل او روان شوو.

ریناليډي “شیبه صبر وکړه. یو شی می به وښیښنو”. غوټه یې خلاصه کړه او یو بوتل یې ترې راوایست.

ورته ومې ویل “زه سټریګا نه ښیښم.”

“سټریګا نه، ګراپا[5]”.

“ډیر ښه”.

دوه ګیلاسه یې ډک کړل، یو له بله مو وجنګول او پرسر مو پورته کړل. ګراپا ریښتیا هم ښه خوند کاوه.

“نور ښیښې؟”

“ته خو یې ورواچوه”. دوهم ګیلاس مو هم ترستوني کړ. رینالډي بوتل څنګته کړ، راپاڅېدو او د زینو له لارې لاندې ولاړو. په لار کې مو ګرمې وشول، خو لمر نور په کښته کیدو وو او ډیر ښه خوند یې کاوه. د بریتانویانو روغتون په یوه لویه کلا کې وو، چې تر جګړې وړاندې جرمنیانو جوړه کړې وه. مس بارکلې له یوې بلې نرسې سره په بڼ کې ناسته وه. د ونو له دې خوا مو د دوی سپینې جامې ولیدې او په لور یې ور رهي شوو. رینالډي سلام ورواچاوه. ما هم سلام ورواچاوه، خو ورو.

مس بارکلې وویل “سټړي مه شئ. تاسې ایټالوی نه یاست، که څنګه؟”

“اوه، نه”. رینالډي له یوې بلې نرسې سره په خبرو بوخت وو. کله کله به یې خندا زموږ تر غوږو هم رارسیدل.

“جالبه! تاسې ایټالوي پوځ ته څنګه مخه وکړل؟”

“که ریښتیا شي، زه پوځي نه یم، یوازې د امبولانس موټروان یم”.

[5] دا هم یوډول څښاک دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

"بیا هم جالبه ده. څه لامل وو چي دا دنده مو پیل کړه؟"

"نه پوهېږم. شوني نه ده چي د هرڅه د کولو لپاره دي یو لامل وي".

"ریښتیا وایې؟ ما تر اوسه پوري همداسي فکر کاوه".

"ډېر ښه".

"خوښه دي، نه ده، چي پر یوه بله موضوع مجلس وکړو".

ما ورته وویل "ستاسي سره موافق یم".

"دا خو ښه دی. که څنګه؟"

دې ته مي وویل "دا لرګی څه په کوې؟" میس بارکلي په ونه ډېره جګه وه. له جامو څخه یې ښکاریدل چي نرسه ده. ژړ رنګه وریښتان، غنم رنګه څېره او خړي سترګې یې وې. ښکلې راته وایسېده. په لاس کي یې یو وړوکی لرګی چي په چرم کي پیچلی وو، نیولی وو.

"دا د یوه ځوان د لاس نښه ده. تېر کال په جګړه کي ووژل شو".

"په اورېدو یې خواشینی شوم".

"ښه ځوان وو. موږ نیت کړی وو، چي یو له بل سره به واده کوو. خو د (سوم) په جګړه کي یې له دې نړۍ سره مخه ښه وکړه".

"افسوس!"

"تاسي (سوم) ته تللي یاست؟"

"نه".

دې وویل " د هغه ځای په اړه مي اورېدلي. که ریښتیا درته ووایم د هغه ځای په څېر جګړې دلته نشته. هغوی ما ته دغه کوچنی لرګی راولیږه، مور یې ما ته راولیږه. پوځ د ده سامان د دوی کورنۍ ته راولیږه، همدا لرګی هم پکښې وو".

"د کوژدني مو ډېر وخت کېده؟"

"اته کاله. زه او هغه یوځای رالوی شوي وو".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“نو واده مو ولي ونه کړ؟”

مس بارکلي “په(ولي) يې زه هم نه يم خبره. ګناه زما وه، د ده لپاره ما همدومره کولای شوای. فکر مي کاوه، چي زه به د ده لپاره يوه ښه جوړه نه يم”.

“پوه شوم”.

“تراوسه دي له يو چا سره مينه کړې؟”

ما ورته وويل “نه”.

پر يوه اوږده چوکۍ باندي کښېناستو او ورته وه مي کتل.

“ورېښتان دي ښکلي دي”.

“خوښ دې شول؟”

“ډېر زيات.”

“د هغه له مرګ وروسته مي يې د غچي کولو هوډ وکړ”.

“نه”.

“ما غوښتل د هغه لپاره يوڅه وکړم، خو زما سر نه خلاصېده. ده له ما پرته بل څه نه درلودل، خو که چيري زه هغه وخت په هوښ کي وای؛ نو ما به له ده ځان نه وای سپمولای. خو زه اوس په هوښ کي شوم. دی جګړې ته تلی، خو زما سد کار نه کاوه”.

ما څه ونه ويل.

“زما په هيڅ شي باندي سر نه خلاصېده. فکر مي کاوه که موږ واده وکړو، کېدای شي د ده لپاره په خير تمام نه شي، وروسته دی ووژل شو او هر څه ختم شول”.

“زه څه نه شم ويلای”.

“ولي نه. همدا زموږ د مينې پای وو”.

رينالډي ته مو، چي له نرسې سره په خبرو بوخت وو، وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"د دې اغلې نوم څه دی؟"

مس کاترین بارکلي "فرګوسن، هیلن فرګوسن. ستاسي ملګری ډاکټر دی؟"

"هو. تکړه سړی دی".

"ډېر ښه. په دې وختو کي په جبهه کي تکړه ډاکټران ډېر لږ پیدا کیږي. موږ د جګړې لمړۍ کرښې ته ډېر نژدې یو، همداسي نه ده؟"

"هو. ریښتیا هم ډېر نژدې یو".

بارکلي "ډیره جالبه، خو ښکلې جبهه ده. دوی خو د حملې هوډ کړی، که څنګه؟"

"بلي. د جګړې د بیا پیلېدو شونتیا شته".

"نو بوختیاوې به بیا ډېري شي. اوس خو ټوله ورځ مچان جنګوو".

"ډیر وخت به مو کیږي، چي د نرسې په حیث دنده ترسره کوئ؟"

"د نولس سوه پنځلسم میلادي کال راهیسي. ما او زما نامزاد دواړو یو ځای دا دنده پیل کړه. تر اوسه مي یاد دي، یوه ورځ مي یو ناکاره فکر ذهن ته راغلی، په خیال کي مي داسی تصور کړل، چي یو ورځ به په توره ژوبل زموږ روغتون ته راشي، سر به یې په سپین بنداژ کي تړلی وي او یا هم په اوږه کي به ویشتل شوی وي. په هر صورت یوه ښکلې منظره به وي."

ما ورته وویل "جبهه خو ښکلې ده".

"هو. خلک د جګړې له آره ناخبره دي، البته که پرې پوه شي؛ جګړه خود به خوده پای مومي. په هرصورت، هغه په توره زخمي نه شو، بلکي په بم ټوټې ټوټې شو."

همداسي غلی پاته شوم.

"ستاسي په اند دا جګړه به تل تر تله وي؟"

"نه".

"نو بیا څنګه ختمېدای شي؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

“یو ځاي به يې مخه ډب شي”.

“موږ به يي مخه ونيسو. همدا په فرانسه کي به يې مخه ډب کړو، څو بيا د سوم د جګړې په څېر له يوې بلي ترخې تجربې سره مخ نه شو”.

ما ورته وويل “فکر نه کوم چي دلته دي يې مخه ډب شي”.

“ته فکر کوې، چي دا کار شونی نه دی؟”

“نه. دوی تير دوبی ښه کارکردګي له ځانه ښکاره کړل”.

بارکلي “کيدای شي مخه يې ډب شي. هر يو کولای شي جګړه بنده کړي”.

“جرمنيان هم”.

“نه، فکر نه کوم”.

د رينالډي او مس فرګوسن وه لور ته ورغلو.

رينالډي په انګليسي کي له مس فرګوسن څخه وپوښتل “ایټاليه دي خوښه ده؟”.

“ښېحده”.

رينالډي سر وښوراوه او وې ويل ”زه نه پوهېدل”.

ما ورته وژباړل”Abbastanza bene“. سر يې وښوراوه.

“دا ښه نه ده. ستا انګليستان خوښ دی؟”

“ډير نه؛ زه په خټه سکاټلنډی یم، پوه شوې؟”

رينالډي سترګه راته ووهل.

ما په ایټالوي کي ورته وويل “دا سکاټلنډی ده. له همدې امله د سکاټلنډ سره تر انګليستان زياته مينه لري”.

“خو سکاټلنډ او انګليستان يو دي”.

همدا خبره مي وه فرګوسن ته وژباړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میس فرګوسن"pan encore"

"ریښتیا؟"

"هیڅکله نه. زموږ له انګریزانو څخه ښه نه راځي".

"له انګریزانو مو ښه نه راځي؟ نو تاسي به له مس بارکلي څخه هم نفرت کوی؟"

"اوه، هغه بېله ده. تاسي باید هرڅه دومره دقیق ونه نیسئ".

ګړی وروسته مو یو له بل سره مخه ښه وکړه او سره بېل شوو. په لار کي رینالډي راته وویل "ما ته د لمر په څېر روښانه او ځرګنده شول، چي د مس بارکلي ته تر ما خوښ شوې، خو هغه کوچنی سکاټلنډۍ یې بیا ډیره ښه ده".

ما ورته وویل "ډیر. ستا خوښه ده؟" زه مس بارکلي ته ډیر دقیق متوجه نه وم.

رینالډي "نه".

## پنځم فصل

سبا غرمه بیا د مس کاترین بارکلي ملاقات ته ولاړم. په باغ کي نه وه؛ د امبولانسونو د تګ راتګ پر لار وه کلا ته ورننوتم. دننه د دوی له مشرې سره مخ شوم. د هغې له خولې خبر شوم، چي هغه اوس مصروفه ده. مشرې یې زه مخاطب کړم "خامخا د جنګ حالات دي، تاسي هم پوهیږئ".

ما ورته وویل هو پوهیږم.

دې پوښتنه وکړل "ته امریکایې الاصله ایټالوی پوځي یې؟"

"هو. آغلي".

"ایټالوي پوځ ته ولي راغلاست؟ موږ ته به راغلی وای".

"نه پوهیږم، چي دې پوځ ته څنګه او ولي راغلم؟ اوس ستاسي سره کار نه شم کولای؟"

"په معذورت سره اوس نه. دلته په ایټالوي پوځ کي څنګه داخل شوی؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

“اوله خبره دا چي زه دلته په ایټالیه کي وم او بله دا چي ایټالوي مي هم بده نه وه”.

“اوه، زه یې هم زده کوم. ښکلې ژبه ده”.

“یو چا ویلي چي په دوو اونیو کي زده کیږي”.

“اوه، زه به یې په دوو اونیو کي زده نه کړای شم. اوس یې نو څو میاشتې کیږي، چي زه یې په زده کړه بوخته یم. که دي له میس بارکلې سره لیدل نو بیا د اوو بجو وروسته راشه. له هغه وروسته فارغه وي، او پام دي وي چي ډیر ایټالویان له ځان سره مه راوله.”

“ان د ښکلې ایټالوي ژبې په خاطر هم نه؟”

“نه، آن د ښکلي یونیفورم په خاطر هم”.

ما ورته وویل“تر بیا د خدای په امان”.

“A rivederci,Tenente”

“A rivederla” سلامي مي ورته وکړل او ځني ولاړم. وه بهرنیانو ته د ایټالویانو په څیر سلامي کول له تکلیفه خالي نه وه. داسي ښکاریدل چي ایټالویانو دغه ډول سلامي د صادرولو لپاره نه وه رامنځته کړې.

ورځ ډیره ګرمه وه. پر پله باندي تر سیند پورېوتم او د پلاوا تر سنګره پوري ولاړم. اټکل کېده چي عملیات به له همدې ځایه پیلیږي. تېر کال له دې سیند څخه پورېوتل ناشوني وه، ځکه له لوړي څخه بیا تر کښته پوري یوازي یو پل وو. هغه هم د مشین ګنو تر سختو ډزو لاندي وو. همدا یکې یو پل هم کم سوره وو. زیات سوقیات پرې نه شوای کیدای. اتریشیانو کولای شوای دغه ځای د ایټالویانو لپاره سور تنور وګرځوي. خو ایټالویانو خپل پوځیان ورباندي تېرکړل او د سیند په هاغاړه کي تر یو میله پوري، چي د اتریشیانو په ولکه کي وه، ولاړل او سیمه یې په خپل واک کي راوستل. د دې سیمې د ستراژیک موقعیت له امله اتریشیانو نه غوښتل دا سیمه ایټالویان ونیسي. فکر کوم چي دا یو دوه اړخیز زغم وو، ځکه لږ وړاندي اتریشي پوځیان ګوته په ماشه په سنګر کي ناست ول او د غونډیو په لمن کي له ایټالوي کربښې څو متره لیري اتریشی توپخانې سنګر نیولی وو. همدلته نژدې یو ښارګوټی هم وو، خو همالته له کنډوالو پرته بل څه نه ول. د اورګاډي یو زوړ تمځای، مات او له کاره لویدلی پل، چي د هغه جوړولو شونتیا هم نه وه، ځکه په هواره سیمه کي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر سینده پر کم سوره سړک باندي ولاړم، همدلته مي موټر تر غونډۍ لاندي په ساحوي روغتون کي ودراوه. د سیند دا غاړه او هاغاړه له لرګو څخه د جوړ شوي پله په وسیله نښلېدل او غره د دښمن له ډزو څخه ساته. پرې پوربوتم، د پوځیانو مورچلي او د ښار وران شوی مرکز مي له نظره تېر کړل. پوځیان ټول په خزو کي ناست ول. راکټونه، توغولو ته تیار ول. البته دوی هغه وخت توغول کېدل، چي یا به توپچي قواو ته اړتیا شول یا به هم مخابرې کار پرېښود. خاموشه، ګرمه او چټله ورځ وه. د اتریشیانو کرښي ته مي وکتل، خو څوک مي ونه لید. همالته په خزه کي له یوه ملګري سره چي په رتبه تورن وو مخ شوم، له هغه سره مي یو ګیلاس چای وکړ او بیرته د پله پر راروان شوم.

یو نوی او پراخ سړک چي کار یې مخ پر بشپړیدو وو، د غره په مینځ کي د مارپیچ په شکل تر پله پوري غځیدلی وو. عملیات د همدې سړک له جوړېدو سره پیلېدل. سړک د ځنګله له سختو کږلیچو وروسته لاندي راکوزېده. پلان داسي وو، چي هرڅه به د نوي سړک له لاري لوړ راوړل کیږي. خالي موټرونه، ګاډیانې، ډک امبولانسونه او نور انتقالات به د هماغه زاړه او تنګ سړک له لارې کیږي. بیړنی روغتیایي مرکز د سیند ورهاخوا تر غونډۍ لاندي د اتریشیانو په اړخ کي وو او تذکیره والاو ژوبل کسان تر پله پورې ایستل. دا پلان د جګړې له پیلیدا سره عملي کیده. زما د اندازې له مخي نوی سړک تر هغه ځایه چي سړک تنګېده یعني نژدې تر یوه میله پوري ښه سم د اتریشی توپخانې تر برید لاندي وو. دغه سیمه له خطره خالي نه وه. خو ما یو داسي ځای پیدا کړ، چي که امبولانسونه له دې خطرناکې سیمې تېر شي بیا یې کولای شوای، چي همالته پناه واخلي او د ژوبلو کسانو تر رارسېدو پوري تم شي. پر نوي سړک تګ ښه خوند کاوه، خو هغه لا تراوسه تکمیل شوی نه وو. پراخ او په ښه کیفیت جوړ شوی معلومېده او د غره د لمني کږلېچونه یې چي له ځنګله څخه ښکارېدل، ډیر په زړه پوري ایسېدل. بیرته پر هماغه کم سوره سړک رهي شوم.

له موټر سره دوه پوځیان ولاړ ول. د توپ توغندۍ دلته ښښتې وه، موږ لا همالته ولاړ وو، چي درې نوري راغلي. ۷۷ډوله توغندۍ وې، له ړندونکو رڼاوو، سخت باد، پښهاري او خړو لوګیو سره ملې د سړک پر هاغه بله څنډه ولګیدې. پوځیانو د تګ د ښې په توګه لاسونه وښورول. په لار کي توغندۍ ځیني کندې جوړې کړې وې. هڅه مي کول چي موټر ترې بچ کړم. له کندو خو مي ځان خلاص کړ، خو د توغندۍ د تېزو باروتو او سوځلې خاورې د بوی څخه خلاص نه شوم. بیرته په ګوریزیا کي وه خپلې کلا ته راستون شوم او لکه څنګه، چي مي مخکي یادونه وکړل د میس بارکلي ملاقات ته، چي پر دنده وه ولاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بېړه مي مابښامنۍ وخوړل او کلا ته چي د انګرېزانو روغتون پکښي وو، ولاړم. په ریښتیا هم ډېر پراخ او ښکلی روغتون وو. ښکلي او زړه راښکونکي ونې پکښي شنې وې. مس فرګوسن هم له هغې سره وه. زما په لیدو خوشاله شوې. شیبه وروسته فرګوسن د بخښني په غوښتلو سره ولاړل.

فرګوسن ی"تاسي دواړه به یوازي پرېږدم. فکر کوم له ما پرته به ښه یاست."

میس بارکلي هغې ته وویل "هیلن، ته کښېنه".

"زه به ولاړه شم، یو څو لیکونه باید ولیکم".

ما ورته وویل "په مخه دي ښه".

"ښاغلی هنري، د خدای په امان".

"داسي څه مه لیکه چي سانسورچیان په تکلیف کړي".

"ته یې غم مه کوه. زه به یوازي زموږ د ښکلي هستوګنځای په اړه لیک ولیکم. او بل هم د ایټالویانو د زړورتیا په اړه".

"که دي همداسي وکړل، نو بیا خو خامخا مډال درکوي".
"ډېر ښه خوند به وکړي. کاترین ښه شپه".

کاترین "زه هم څو شیبې وروسته درځم".

فرګوسن په تیاره کي غیبه شول.

کاترین ته مي وویل "ښه نجلۍ ده".
"اوه، هو ریشتیا ډېر با اخلاقه ده. نرسه ده".
"ته نرسه نه یې؟"
"اوه، نه. موږ ته رضاکاره ویل کیږي. شپه او ورځ کار کوو. خو زموږ وړتیا ته څوک ارزښت نه ورکوي".

"ولې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

“کله چي کوم کار نه وي نو پر موږ باور نه کوي. کله چي بيا کار پيداشي نو بيا راپسي ګرځي”.

“نو ستاسي او د نرسانو تر منځ توپير په څه کي دی؟”

“نرس د ډاکټر په څېر دی. او دې درجې ته رسېدل ډير وخت غواړي. البته رضاکاري يوه لنډه طريقه ده”.
“پوه شوم”.

کاترين بارکلي “ايټالويان وه جبهې ته د ښځو د نژدېوالي مخالف دي. خو له موږ سره يې کړه وړه بل ډول دي. موږ بهر ډير نه وځو”.

“ما ته د دننه راتلو اجازه شته؟”

“اوه، هو. موږ خو ترک دنيا نه يو”.

ما ورته وويل “دا د جګړې مګړې بحث به پرېږدو”.

“ډيره ستونزمنه ده. د پرېښولو هيڅ ځای ځايګی يې نشته”.

“په هر صورت دا موضوع به څنګته کړو”.

“خوښه مي ده”.

په تياره کي مو يو بل ته وکتل. تر نظر مي ډيره ښکلې ښکاره شول او لاس مي يې ونيو. لاس يې په لاس کي ونيول شو د لاس پرې راچاپيره کولو هڅه وشول.

“نه”. لاسونه مي، چي چيري وه همالته پاته شول.

ما ورته وويل “ولي؟”

“نه”.

ما ورته وويل “ولي؟ لطفا” تاريکه وه. زه يې د ښکلېدو په نيت ورخم شوم، خو له ها خوا څخه يوه کلکه چپلاخه زما پر باړخو ونښتل. لاس يې زما پر سترګو او پزه باندي لګېدلی وو. له سترګو مي د اوښکو څاڅکي راوڅڅيدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاترین "زه ډیره بخښنه غواړم". په ځان کي مي يو شومه حس کړل.

"تاسي حق درلود".

"زه ډيره بخښنه غواړم، يوې نرسې ته د سپکاوي احساس مى وکړ. ما نه غوښتل چي تاسي ووهم. خوږ خو نه شوی؟"

په تياره کي يې ما ته کتل. له غصې څخه ايشېدم. دا هر څه مي د شطرنج د لوبې په څېر مخي ته روان ول.

ما ورته وويل "تاسي برحقه واست. هيڅ خبره نه ده".

"بيچاره".

ما ورته وويل "تاسي وليدل چي ژوند له ما سره څه ډول لوبې کوي؟ او ان ما خو په انګليسي خبري هم نه دي کړي. او بل خوا تاسي ډير ښکلي ياست".

"د زياتو چټياتو ويلو ته اړتيا نشته. بخښنه مي درڅخه وغوښتل. سوله به وکړو".

ما ورته وويل "سمه ده، او د جګړې له نړی څخه به کوچ وکړو".

وې خندل. دا لمړی ځل وو چي دا مي د خندا پر مهال وليدل. وه ځيرې ته يې متوجه شوم.

دې راته وويل "تاسي ډير ښه ياست".

"نه، نه يم".

"هو. ته ډېر ښه يې. خوښه به شم که چيري تاسي ښکل شئ، په دې شرط که تاسي نه خفه کيږئ".

سترګو ته مي يې وکتل، لاسونه مي پرې راچاپيره کړل او ښکل شول. په عين زمان کي وه جوختيدو او ښکليدو هڅه وشول. د زړه ضربان حس کيدل. بيا يې ناڅاپه سر زما پر اوږه راپريوت او په ژړا يې پيل وکړ.

کاترين "اوه، ګرانه، تاسي به له ما سره همېش راسره ياست. که څنګه؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو عجبه کشمکش وو. لاس مي يې له وريښتو څخه راوايست او پر اوږه مي وټکول. ژړل يې.

سر يې راپورته کړ "راسره به يې؟ موږ به ښه ژوند ولرو".

شپېه وروسته يوځاى د کلا د دراوزې وه لور ته روان شوو. دا ننوتل او زه د کور په لور روان شوم. کور ته له راستنيدو سره پاس په زينو کي وختم او کوټې ته ولاړم. رينالډي په کټ کي پروت وو. زما له ورننوتو سره يې راته وکتل.

"نو د ميس بارکلي په موضوع کي پرمختګ شوى؟"

" موږ د يو بل ملګري يو".

"په دې ګرمې کي دي د يوه ښکلي سپي شکل کښلى".

په مطلب يې پوه نه شوم.

"د څه شي شکل".

يو څه شرح يې راکړل.

ورته ومي ويل "تا هم د يوه خوشکله سپي شکل کښلى".

"بس يې ده. په څو شيبو کي به ښکنځل شروع شي". ويې خندل.

"ښه شپه".

"ښه شپه، کوتريه".

په بالښت مي شمعه ګل کړل. او په تياره کي د کټ په غيږ کي اوږد وغځيدم.

رينالډي شمعه راپورته کړل، ويې لګول او په مطالعه يې پيل وکړ.

## شپږم فصل

دوې ورځې له هر څه څخه ليري په پوستو کي وم. کور ته چي راستون شوم ډېر ناوخته وو. له کاترين سره مي هم تر راتلونکي ماښام پوري ونه ليدل. د دې د ليدو لپاره کلا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورغلم، خو دا په بڼ کي نه وه. مجبور وم چي د هغې تر راتګ پوري په دفتر کي ورته منتظر شم. د دفتر په مينځ کي له ولاړو ميلانو سره ګڼ شمېر د مرمر نيمه مجسمه يې تنې ولاړې وې. په دهلېز کي هم چي د دفتر دروازه ورخلاصيدل يو قطار مجسمې ولاړې وې. بيا نو برونزي کارونه څه دي. د دومره مرمرينو مجسمو له امله دفتر خاص د هديرې په څير ښکاريد. يوه ښکلې هديره خاص لکه د پيسا. جنووا د بد شکله مجسمو د ليدو ځای وو. دغه کلا، چي اوس د روغتون کار ترې اخيستل کيده د يوه شتمن جرمني وه. کيدای شي دا مجسمې، دې جرمني په ډيره ګرانه بيه پيرودلي وي. نه پوهيدم چي چا به جوړې کړي وې او څومره خوشمږې به يې پرې اخيستي وي. هڅه مي وکړل چي وه يې پيژنم چي ټوله د يوې کورنى دي که پردي هم پکښې دې. خو ټولو يو ډول پخوانى څيرې درلودې. په اړه يې چا څه نه شوای ويلای.

پر يوه چوکۍ باندي کښېناستم، خپله فولادي خولۍ مي له سره ايسته کړل او په لاس کي مي ونيول. موږ ته امر شوی وو، چي آن په ښار کي هم فولادي خولۍ پر سر کړو، خو په يوه داسي ښار کي، چي ملکيان له فولادي خوليو پرته ګرځېدل، ما ته يې پر سر کول ښه خوند نه راکاوه. کله چي د پوستو معاينه کولو ته تلم، يوه فولادي خولۍ او يو انګليسی ضد ګاز ماسک مي له ځان سره واخيست. دغه انګرېزي ماسکونه اوس تازه راغلي ول. خوندور ماسکونه ول. زموږ په شمول ډاکټران او آن ساده روغتيايې کارکوونکي ټول اړ ول، چي يوه اتومات توپنچه له ځان سر وګرځوي. زه اوس پر چوکۍ ناست وم او د شا له خوا راجګېدل. که په يوه خطري سيمه کي له موږ سره توپنچه نه وای، د ګرفتارۍ شونتيا وه. ريناللډي به د خپلي توپنچي خانچه له کاغذانو ډکه کړې وه. خو ما به له ځان سره اصلي توپنچه ګرځول، خو د تمرين څخه مخکي مي ځان د يو وسله وال غله په څېر احساساوه. زما توپنچه استرا۶۵,۷ ډوله يو کوچنى ميل لرونکې وه. کله چي به مي هدف په ويشتی ډيره به غورځيدل، د هدف د لګيدو په اړه کومه پوښتنه نه وه. په همدي توپنچه به مي تمرين کاوه. تر هدف لاندي به مي ښه ونيول، او هڅه به مي کول چي پر خپله لنډ ميله تو پنچه باندي کنټرول پيداکړم؛ له مسلسلو هڅو وروسته وتوانيدم، چي په شل قدمی کي يو هدف ولم. بيا هم د توپنچي له ځانه سره ګرځول راته شرم ښکاريده، البته څه وخت وروسته ورسره عادي شوم او توپنچه به مي له ځانه سره ګرځول، پر لار چي به روان وم پر ملا باندي به مي پورته کښته کيده. بيا يې هيڅ په فکر کي هم نه وم. خو کله چي به بيا له انګليسي ژبو سره مخ شوم نو د يو ګمنام شرم احساس به مخي ته راته ودريد. په هماغه دفتر کي د کاترين په تمه ناست وم. زما شاته پر مېز باندي يو چوپړوال ناست وو، د ده د څېرې له ګونجو نه پوه شوم، چي زما په ناسته خوښ نه دی. خو ما په بي پروايې سره وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرمرین فرش، پرتو مجسمو او پر دېوال باندي وه ځوړند تصویرو ته کتل او د مس بارکلي په تمه ناست وم. پر دېوال رسم شوي رساميانې بدي نه وي. خو دغه رساميانې، چي پر پانو وي او وپاشل شي بيا نو ښه خوند کوي.

کاترین بارکلي مي ولیدل چي لاندي وه هال ته راروانه وه. ولاړ شوم. د راتګ په وخت کي جګه نه ښکاریدل خو ښکلې ښکارېدل.

"ښاغلی هنري ستړي مشئ".

ما ورته وویل "تاسي څنګه یاست؟" خادم زموږ خبرو ته غوږونه څرک کړي ول.

"همدلته کښېنو، که بڼ ته وزو؟"

"بڼ ته به ولاړ شو، هلته هوا ښه یخه ده".

بڼ ته رهي شوو. خادم اوس هم موږ ته رډ رډ کتل. کله چي وه کرېږ شوي لارې ته ورسیدو کاترین راته وویل "تاسي چېري واست؟"

"په پوسته کي وم".

"یو لیک دي نه شوای رالیږلای؟"

ما ورته وویل "نه، نه مي شوای کولای. ځکه فکر مي کاوه چي ژر به راستون شم".

"له تګه وړاندي دي باید ما ته هم خبر راکړئ وای".

له لاري څخه ووتو او تر ونو لاندي روان شوو. لاسونه یې ونیول شول او قبله شول.

"بل ځای نه ځو؟"

کاترین "نه، همدا ځای سم دی، مسافري دي هم ډېره وکړل".

"ګردسره مي درې ورځې تېري کړې او دا دی اوس راغلم".

ما ته یې وکتل او وې ویل "له ما سره مینه لرې؟"

"هو".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"تا وویل چي مینه درسره لرم. ریښتیا؟"

په درواغو مي ورته وویل "هو، مینه درسره لرم". له دې وړاندي مي چا ته د مینې اقرار نه و کړی.

"او ته ما ته کاترین وایې؟"

"کاترین". په بڼ کي ګرځېدو، شیبه وروسته تر یوې ونې لاندي ودریدو.

"راته ووایه، چي زه په ماښام کي وه کاترین ته راستون شوی یم".

"زه په ماښام کي، وه کاترین ته راستون شوی یم".

"اوه، ګرانه. ته بیا راغلې! همداسي نه ده".
ما ورته وویل "هو، زه راغلم".

کاترین "ډیره مینه درسره لرم. ستا په تګ ډیره خوابدې شوم. بیا خو به نه ځې؟"

"نه، زه به تل دلته یم".
"اوه، مینه درسره لرم. لاسونه دي بیا هلته کښېږده".

"پر هغه ځای دي". و څرخیدل او قبل شوه. پر پټو سترګو مي ښکل کړل. یو څه لیونۍ غوندي راته وه ایسېدل. خو که لیونۍ هم وایي کومه خبره نه وه. په دې کیسه کي یې نه وم چي په مستقبل کي به څه پېښ شي. فکر مي وکړ، چي هره شپه وه هغه کور ته تر تګ خو ښه دی چي خاص د افسرانو لپاره وو، چي هلته به یې له خپلو ملګرو څخه د ساعت تیري په موخه خولۍ له سره ایسته کول. پوهیدم چي نه اوس له کاترین سره مینه لرم او نه مي هم د دې سره د مینې خیال په ذهن کي ګرځېده. دا هرڅه یوه لوبه وه، لکه د ورقو لوبه. داسي چي د لوبې پر ځای باندي خبرې کیږي. داسي چي څوک یې له ځانه سره داسي وګڼي لکه د ورقو لوبه چي د پیسو یا هم د شرط لپاره کوي. خو یوه هم ویلي نه وي، چي شرط پر څه باندي دی. خو دا چي هر څنګه وه، ما ته قبوله وه.

ما ورته وویل "کاشکي یوځای تللي وای". د ډیري دربېدا له لاسه مي پښو درد کاوه.

دې وویل "ځای نشته". چیري چي ولاړه وه له هماغه ځایه راغله.

"یو څو شیبې به همدلته کښېنو".

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر یوه ډېرینه چوکۍ باندي کښېناستو. د کاترین لاس مي ونیو، البته اجازه نه وه چي لاسونه پرې راچاپېره شي.

کاترین "ډېر ستړی یې؟"

ما ورته وویل "نه".

لاندي یې وښو ته وکتل.

"دغه لوبه چي، موږ یې کوو پایله به یې ناوړه وي. همداسي نه ده؟"
"کومه لوبه؟"

"ځان ناګومانه مه اچوه".

"ځان نه اچوم. ستا په خبره مي سر خلاص نه شو".
کاترین وویل "ته ښه انسان یې او تاسي یې د لوبولو په اړه معلومات هم لرئ، خو بیا هم یوه بېځایه لوبه ده".

"ته هر وخت پوهیږې، چي خلک څه ډول ګومانونه کوي؟"

"هر وخت نه. خو زه له تا سره یم. البته دې ته اړتیا نشته، چي له ما سره د مینې کولو تمثیل وکړئ. د نن لپار همدومره کفایت کوي. کوم ویل خو نه لرې؟"

" خو زه مینه درسره لرم".

"لطفاً یو له بل سره به د درواغو د مینې اقرار نه کوو. ښکلې ننداره وه، اوس زه ښه یم، ته پوهیږې چي نه تر اوسه لیونۍ او نه هم کاواکه شوې یم، خو ځیني وختونه بیا کاواکه کیږم".

لاس مي یي ور کښېکاږه. "کاترین زما ګرانې".

"کاترین ـ بیخي بدخونده بریښې، زما په څېر یې نه تلفظ کوې. خو ته ښه انسان یې، ډیرښه!"

"پادري هم همداسي وایې".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"هو، ته ښه انسان يې. بيا مي ليدو ته راځې؟"
"هو، ولې نه".

"او اړ نه يې چې له ما سره د مينې اقرار وکړې. د نن لپاره همدومره کفايت کوي". پاڅيدل او خپل لاس يې ايسته کړ.

"ښه شپه".

غوښتل مي چې قبل شي.

"نه، زه ډيره ستړې يم".
"صبر و کړه، ما ښکل کړه".

"ګرانه زه ډيره ستړې يم".

"بيا هم، هڅه يې وکړه".

"خامخا؟"

"هو".

ښکل مو کړل او يو ناڅاپه وغورځيدل "نه، ښه شپه. خواهش کوم". د دروازې لور ته ولاړو ورته کتل مي چې دننه ولاړل. دېته مي کتل چې روانه وه په نظر مي ښه وه ايسېدل. دا دهلېز ته داخله شوه او زه هم کور ته راستون شوم. هغه شپه ګرمې خورا زياته وه. په غرو کې تېنګه جګړه روانه وه. د سان ګبريل ناحيې له پاسه مي راپورته کيدونکي لمبې ليدې.

زه د ويلا روسا مخې ته ودرېدم، دروازې يې بندې وې، خو کاريګرو لا کار کاوه. دننه يو چا سندرې ويلې. کوټه کې مي جامې بدلولې چې رينالډي هم راورسېد.

" اه، اه! داسې ښکارې لکه په کباب کې چې هډوکی پيدا شوی! ماشوم خفه ښکارې."

"ته تر اوسه چېرې وې؟"

"په ويلا روسا کې وم، هغه ډير ښه ځای دی. موږ ټولو سندري وويلې، ته چيرې وې؟"
"د انګريزانو ملاقات ته تللی وم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"شکر خدايه چي زه خو د دې انګليسيانو په دام کي نه يم راګېر شوی".

## اوم فصل

په سبا غرمه له اولنۍ غرني پوستې نه راستون شوم. په (سمستمينتو) کي مو موټر ودراوه، دلته يې ژوبل او ناروغه کسان د هغوی د اسنادو او معلوماتو له مخي طبقه بندي کول او بيا يې مختلفو روغتونو ته د درملنې لپاره ليږل. موټر ما چلاوه. زما سره په موټر کي ناست ملګري ته مي اسناد ورکړل، چي دننه يې يوسي. هوا بيا جهنمي شوي وه، اسمان ډېر صاف او شين وو، خو سړکونه له دوړو او چټليو ډک ول. زه د موټر په لوړ سيټ کي پرته له دنيايي فکرونو بېغمه کېناستم. د پوځيانو يو غونډ چي پر سړک باندي روان وو، هغوی ته مي کتل. پوځيان د ډېري ګرمۍ له لاسه په خولو کي غرق ول. ځينو خپلي فولادي خولۍ پر سر کړې وې، خو ځينو شاته اړولي وې او پرې ځړېدې. د ځينو خولۍ خو دومره ورباندي غټي وې چي پر غوږو باندي يې راځړېدې، خو افسرانو داسي خولۍ پر سر کړي وي چي پر سرونو باندي يې ښه فټ او جوړې وې. د دغو پوځيانو نيمايي يې له باسيليکاتا لوا نه وو. ما دوی، د دوی پر کالرونو باندي د سرې او سپينې ترادې له امله وپېژندل. د دې پوځيانو له تيريدو ښه ګړی وروسته هغه پوځيان چي له دوی سره يو ځای نه شوای تلای راروان ول. دوی په خولو کي غرق، ستړي ستومانه او د لاري مټ وهلي ول. د ځينو حالت بيخي وخيم ښکارېده. دوی هم تېر شول په پای کي يو بل پوځي راښکاره شو، ګوډ ګوډ پر لار روان وو. داسي ښکارېدل لکه په بدن کي چي يې نور سېک پاتې نه وي. د سړک يوه څنګته شو او بيا کېښېناست. زه له موټره راکښته او د ده خواته ورغلم.

" په تا څه شوي؟"

ما ته يې وکتل، او بيا پاڅيد.
"دادی روان يم".

"نه، ستا مشکل څه دی؟"

"جګړه".

"په پښه دي څه شوي؟"

"دا مي خپله پښه نه ده. پلاستيکي پښه ده".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“په موټر کي ولي نه ځي؟ روغتون ته ولي نه يې تللئ؟”

“روغتون ته مي نه پرېږدي. زموږ قومندان راته وايي چي ما خپله پټۍ قصداً پرې کړې”.

“ته يي راښکاره کړه، چي وه يې ګورم”.
“دغه ده”.

“کوم اړخ يي دی؟”

“دغه دی، دغه ځای دی”.

هغه ځای مي تر نظر تېر کړ.
ما ورته وويل “ته، وتوخه”.

“بيريږم چي زخم يي نور هم پسي خراب نه شي. د سهار په پرتله دوه چنده زيات شوی”.

ما ورته وويل “کښېنه. څنګه چي د نورو ژوبلو کسانو اسناد راوړل شول، زه به دې له ځان سره واخلم او ستاسي طبي ټېم ته به دي وسپارم”.

“هغوی به هم هماغه بابولاله وايي، چي دا يي په قصدي ډول کړی”.

ما ورته وويل “دوی هيڅ نه شي کولای. دا زخم نه دی، له دې وړاندي هم وو؟”

“له ما نه هغه خپله پټۍ هم ورکه شوې”.

“ستاسي د غونډ طبي ټېم به دي وه يوه روغتون ته وليږي”.

“بريدمنه، تاسي ما له خپل ځان سره نه شئ بيولای؟”
“نه. ستا اسناد له موږ سره نشته”.

ملګری مي هم له روغتونه راووت او په امبولانس کي د پرتو ژوبلو کسانو اسنادونه يې ورسره رواړل.

زما ملګری“څلور د ۱۰۵دوه د ۱۳۲ لپاره”. دا له سيند سره نژدې د روغتونو نومونه ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وویل "موټر ته درروان کړه". ما له ټپي شوي عسکر سره موټر ته په راپورته کېدو کي مرسته وکړه.
پوښتنه یي وکړل "تاسي په انګریزي ګړیږئ؟"

"هو".

"دې لعنتي جګړې ته دي څنګه مخه وکړل؟"

"ناولې!"

"زه وایم، چي جګړه ناولې ده! اوه خدایه زه اقرار کوم چي جګړه ناولې ده".

"ته په امریکا کي وې؟"

"زه باوري وم. په پیټسبرګ کي. زه پوهیدم چي ته امریکایي یې".

"څنګه، زه پر ایټالوې ښه برلاسی نه یم؟"
"هو. زه پوهېدم چي ته امریکایي یي".

موټروان ملګري مي وه رنګ الوتي پوځي ته وکتل او په ایټالوي یي وویل "دا یي هم یو بل امریکایي."

"ګوره بریدمنه، تاسي په دې مکلف یاست، چي ما تر خپل غونډ پوري رسوئ؟"
"هو".

"زموږ د غونډ ډاکټر زما په ټپي کېدو خبر دی. ما خپله لعنتي پټۍ په دې خاطر له ټپه ایسته کړه، چي جبهې ته له تګه پاتي شم".

"سر مي خلاص شو".

"ته مي یو بل ځای نه شي بېولای؟"

"که ته جبهې ته نژدې وای، اولیه روغتون ته به مو انتقال کړی وای، خو ته اوس دلته یې او دلته باید له تا سره اسناد موجود وي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"که زه اوس بیرته خپل غونډ ته ورشم، دوی به مې عملیات کړي او بیا به نو د ابد لپاره د جګړې په لمړۍ کرښه کې خزه یم". د ده پر دې خبره مې فکر وکړ.

زه یې وپوښتلم "ستا د خپل ځان لپاره دا خوښه ده، چې تر ابده په جبهه کې یې؟"

"نه".
"اوه، خدایه، له دې جګړې نه خو تر پزې راغلي یو!"

ما ورته وویل "راکښته شه او زما خبره په ځیر واوره! دلته لاندې، په یوه ډبره باندې خپل تندی ووهه، زه له هاخوا بیرته درباندې راګرځم او تا به له ځان سره روغتون ته بوزم.
الدو، موټر د سړک یوې ژۍ ته ودروه". موټر مو یوه څنګته ودراوه او له ده سره مو له موټره په راکوزېدو کې مرسته وکړل.

ده راته وویل "زه به همدلته تاسي ته سترګې په لار یم".
ده ته مې وویل "تر بیا ښې چارې". دی مو همدلته پرېښود او رهي شوو. له غونډ څخه یو میل لیرې ولاړو، بیا له سیند نه پورېوتو. په سیند کې واورینې اوبه ډېرې تیزې او په بېړه رواني وې. موږ اوس په دې پسې روان وو، چې په امبولانس کې راباز کړي ژوبل کسان پر دوو روغتونو باندې تقسیم کړو. څنګه چې مو ټپیان پر روغتونو تقسیم کړل، په بېړه زموږ په تمه ناست، ژوبل کس ته رهي شوو. لمړی له غونډ نه، چې حالت یې تر پخوا ډېر ناوړه شوی وو تېر شوو، بیا له پاتې شوو پوځیانو نه تېر شوو. لږ ورهاخوا مو د سړک یوه لور ته آسي امبولانس ولید. دوو نفرو هغه کول رنګ الوتی نفر چې زموږ په تمه ناست وو، ګاډۍ ته پورته کړي. هغوی د ده په لټه لټه پسې دلته رارسیدلي ول. زما له لیدو سره یې له هغه ځایه سر راته وښوراوه. خولۍ یې له سره لویدلې وه. پر تندي یې د وینې وچې شوې لکې له ورایه ښکاریدې. پزه یې ګرول شوي وه. پر وینې شوې ناحیه او وریښتانو باندې یې ګرد او غبار پرېوتی وو.

ما ته یې راناري کړې "مشره، زما زخم ته وګوره، هیڅ ګټه یې ونه کړل. دوی مې اوس بیرته بیایي".

پنځه بجې به وي، چې خپلي کلا ته روارسېدم. شیبه وروسته د لمبېدو په نیت د موټرونو د پرېولو ځای ته ورغلم. ځان چې مې پاک کړ، بیرته کوټې ته راغلم. په پتلون او انګیا کې د خلاصي کړکۍ وه مخې ته کښېناستم او د ریپورټ په لیکلو مصروف شوم. د جګړې پیل ته دوې ورځې پاتې وې، زما دنده دا وه، چې امبولانسونه راسره واخلم او (پلاوا) ته ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسوم. کور ته مي هم له ډیره وخته د ځان په اړه کوم خبر نه و لیږلی. نن او سبا ته به مي کاوه. اخره اوبه له ورخه تېرې شوې. البته کومه خاصه خبره هم نه وه، چي کورنۍ ځیني خبره کړم. په لیک کي مي یوازي دا ولیکل"زه ښه یم" او یو څو د جبهې تصویرونه مي ورسره ضمیمه کړل او امریکا ته مي ور خیر کړل. همدې بسنه کول. کیدای شوای دې تصویرو د خپل جالبوالي له امله په امریکا کي ځانته ډېره پاملرنه رااړولې وای. ریښتیا هم دا جبهه ډېره عجبه او غریبه وه، خو یوه خبره وه هغه دا چي دا جبهه د نورو، هغو جبهو په پرتله چي د اتریشیانو په وړاندي جنګیدې ډېره منظمه او ډسپلین پکښې زیات وو. اتریشی پوځ د دې لپاره جوړ شوی وو، چي د ناپلیون ګټلې خاوره له لاسه ورکړي. البته د هر ناپلیون. ما ارمان درلود چي د ناپلیون په څېر یو صف څیرونکی قومندان مو درلودلای، خو موږ د هغه پر ځای چاغ او بریالی قوماندان (جنرال لویجي کادورنا) او غنم رنګه، غټ غاړی او اوږده ږیره لرونکی (ویټوریو ایمانویل) درلود، چي پر ښي بازو یې د ډک اوسټا ټاپه وه، خو دی د یوه غټ جنرال پر ځای یو عادي سړی ښکاریده. ګڼ خلک په دې راضي ول، چي دی دي پاچا شي. دی ریښتیا هم د پاچا په څېر ښکارید. دی د پاچا کاکا او في الحال د دریم لښکر، سرلښکر وو. موږ په دوهم لښکر کي وو. په دریم لښکر کي د انګریزي پوځ څو یونیټو فعالیت کاوه. په میلان کي څو ځلي د دوی له ځینو پوځیانو سره مخ شوم. ښه اخلاق یې درلودل. په بدنه غټ، شرمیدوکي، مننډوی او کوم څه چي به پیښیدل په ورین تندي به یې ورته ښه راغلاست وایه. ارمان مي کاوه چي کاشکي له انګریزانو سره وای. د دوی په یونیټو کي ډېر سهولتونه ول. البته که مي له دوی سره کار کولای زه به هم اوس په دې نړۍ کي نه وای. خو د امبولانس په برخه کي نه. هو ان په همدې د امبولانس په برخه کي هم. ځیني وختونه به خبرېدو، چي بریټانوي امبولانس چلوونکي وژل شوي. په هرصورت، زړه مي راته ویل چي نه مړ کېدم. البته په دې جګړه نه کي. له ما سره یې کومه شریکه نقطه نه درلودل. دغه جګړه ما ته په فلمو کي د جګړې په څېر ښکارېده، خو له ځان سره به مي ویل چي کاشکي دا جګړه ختمه شي. شوني وه چي جګړه سږ دوبی پایته ورسیږي. کیدای شي اتریشیان ماته وخوري لکه د نورو جګړو په څېر. په دې جګړه څه شوي وو؟ ټولو ویل چي فرانسویان فارغه شوي. ریناالډي یوه ورځ راته وویل"فرانسویانو بغاوت کړی او اوس پوځیان د پاریس په لور روان دي". پوښتنه مي ترې وکړل چي څه وشول؟ راته ویې ویل " اوه، هغوی یې مات کړل." غوښتل مي چي اتریش ته ولاړ شم، خو چي جګړه نه وي. غوښتل مي تور ځنګله ته ولاړ شم. غوښتل مي چي د هارتز غرونو ته ولاړ شم، خو هارتز غرونه بیا چیري ول؟ جګړه اوس په کارپات غرونو کي روانه وه. په هرصورت خوښه مي نه وه، چي هلته ولاړ شم. خو شوني وه چي ښه هم وای. غوښتل مي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي وه اسپانيا ته ولاړ شم، خو همالته هم جګړه وه. لمر ورو ورو کښته کېده، ورسره يخ زياتېده. نيت مي وکړ چي د ماښامنۍ خوړلو وروسته به د مس کاترين بارکلي ليدو ته ځم. په زړه کي مي ويل، خدای دي وکړي چي په روغتون کي وي. په فکر کي مي راوګرځېدل، کاشکي په ميلان کي راسره وای. په کووا کي مو ډوډۍ خوړلې وای او بيا ماښام د ويامنزوني له لارې پر ويياله پورېوتي وای او له هغې سره يوځای هوټل ته تللی وای. کيدای شوای دې زه د خپل وژل شوي ملګري پر ځای فرض کړی وای. دواړه په ګډه هوټل ته ورننوتي وای، د هوټل په دروازه کي ولاړ چوپړوال، له سر څخه خولۍ ايسته کړي وای. زه د هوټل د کوټو وه مسؤل ته ورتېر شم، له هغه څخه کيلۍ واخلم، کاترين له لفټ سره زما انتظار کوي، بيا په ګډه لفټ ته ورپورته شو. لفټ ورو ورو لوړ ځي او له هر منزل سره يو وړوکی اواز باسي. بيا زموږ منزل راورسيږي او هلک د لفټ دروازه خلاصه کړي. له لفټ نه راووزو او په دهلېز کي روان شو. کيلۍ راوباسم، قلف ته يې ورداخله کړم او دروازه خلاصه شي. دواړه په ګډه کوټې ته ننوزو. زه ټليفون راپورته کړم د يوه بوتل (کاپري) او په يوه نصواري رنګه سطل کي د يخي د راوړلو اډر ورکړم. شيبه وروسته په دهلېز کي د راروان خادم د پښو ږغ او د يخي کړپی چي له سطل سره ټکر کوي واورم. دی دروازه وټکوي زه ورتهووايم مهرباني وکړئ، همالته بهر له دروازې سره يې کښېږدئ. ځکه چي موږ به د ګرمۍ له امله کالي ايسته کړي وي. کړکۍ به خلاصي وي، بهر د بامو پر سر به توتکيانې الوزي، بيا د خلاصي کړکۍ لور ته ورتېر شم، شوپرکان د بام پر سر او د ونو له پاسه په ښکار بوخت وي. موږ دواړه د کاپري په څښلو بوخت يو او د ميلان په ګرمه شپه کي هره خواته مينه خپره وي. دا هغه څه وه چي بايد همداسي وای. اوس مي بايد په بيړه ډوډۍ خوړلي وای او د کاترين وه ليدو ته ورغلی وای.

پوځيانو په خوړنځای کي خورا زيات مجلس کاوه. ما هم ځکه نن شپه شراب وڅښل چي وروړګلوي نوره نه وه، خو دومره هم نه چي له پادري سره مي د ايرلنډ د لوی اسقف په اړه له بحث نه واچوي. هغه يو شريف شخصيت ښکاريده، په اخلاقي لحاظ مي داسي وښودل چي زه په هغه ناانصافيانو او کړولو چي ما د يوه امريکايي په صفت برخه پکي اخيستې خبر يم. ځکه له دومره زيات وضاحت وروسته چي هرڅه د سوءتفاهم له امله رامنځته شول، نزاکتاً ښه راته ښکاره نه شول چي ووايم زه په هيڅ نه يم خبر. د ده نوم مي په نظر ښه راغلی. دی په اصل کي د مينيسوټا، ښکلی نوم يې راته، ايرلنډ مينيسوټا، ايرلنډويسکوسين، ايرلنډميشيګان. هغه څه چي ښکلا يې نوره هم زياتول هغه د Islandپه څېر د ده د نوم تلفظ وو. نه دا هم نه وو. له دې پرته يو بل څه وو. هو، پلار. هو همدا پلار صحيح وو. پلار. نه پلار هم نه. په هرصورت، همدا پلار سم وو. تاسي په دې اړه تر ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیر پوهیږی. پلار. پادري ښه وو، خو مړاوی وو. افسران نه د دین وه نه د دنیا. پاچا هم ښه وو، خو سست غړانده وو. شراب ناوړه ول، خو خوندور ول، همدوی د غاښو خانه ورخرابول او په تالو پوري نښتل.

روکا "پادري یې یې فرانسه کي کوټه قلف کړ. لامل یې دا وو چي د ده پر سړي باندي د درې سلنه ګمرکي محصول د وهنې تور وو. که دلته وای هیڅکله به زنداني شوی نه وای. د پنځه سلنه وهني تور یې رد کړ او ځان یې ناګومانه کړ. دا واقعه بیا په (بیزر) کي وشول. زه همالته وم، د اخبار په وسېله د ده له زنداني کیدو خبر شوم. بیا زندان ته د ده لېدو ته ورغلم او دا یو ښکاره حقیقت وو چي اسناد ده غلا کړي ول".

ریناللډي "زه د دغه کیسې پر یوه لفظ باندي هم باور نه لرم".

روکا "چي څنګه ستا خوښه ده، البته دا هرڅه زه د پادري لپاره وایم. ډیر معلوماتي وه. دی پادري دی، یوڅه اخذ به ترې وکړي".

پادري مسکی شو او وې ویل "ادامه ورکړئ، زه ورته غوږ یم".

"البته ټول اسناد مدنظر نه دي نیول شوي. خو درې سلنه اسناد او ځیني نور محلي تورونه چي زما هېر دي، ټوله پر پادري باندي ول. لنډه دا چي وه زندان ته ورغلم اصلي خبره دلته ده! د پادري کوټې ته ورغلم داسي لکه زه چي اقرار کوم، ورته ومي ویل: پلاره ما ته بخښنه وکړه. ځکه چي تاسي ګناه کړې!".له دې خبرې سره ټولو وخندل.

پادري پوښتنه ځیني وکړل "هغه څه درته ویل؟". روکا ځان ناګومانه واچاوه او ټوکه یې راته تشریح کړل. "په باریکی باندي دي سر خلاص شو؟" خندونکې ټوکه وه، په شرط د دې که څوک په پوه شوي وای. زما جام یې بیا راډک کړ. ما د هغه انګلیسي سرباز کیسه ورته وکړل چي تر شاور لاندي یې ودرولی وو او لمبېده. شییه وروسته تورن د یوولسو چکیانو او یوه هنګري تبعه فرقه مشر کیسه وکړل. له څو جام وهلو وروسته مي د هغه سپاره کیسه ورته وکړل چي یوه سکه یې پیداکړي وه. تورن هم دې ته ورته یوه کیسه د ډوچي په اړه وکړل چي د شپې به خوب نه ورتلی. موږ لا خپلې غورې کولې، چي پادري پاڅېد او ووت. دوی ته مي د هغه سوداګر کیسه وکړل چي سهار پر پنځه بجې به وه مارسیلي ته چي ښه توند باد به وو، راته. جګړن زه مخاطب کړم"ما اورېدلي چي تاسي شراب څیښلې." خو ما یې له منلو انکار وکړ. زما له انکاره وروسته یې راته وویل په باکوس دي مي قسم وي، چي زه به یې معلوموم چي دا خبره ریښتیا ده که درواغ؟ ما ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل، نه په باکوس به قسم نه راکوې. جګړن راغبرګه کړل هو، په باکوس قسم درکوو. بیا یې وویل "ته باید له باسي، فلیپو او وینسزنا سره پیاله په پیاله او ګیلاس په ګیلاس سیالي وکړې". باسي چې خپل نوم واورېد وې ویل"نه. زه تر سیالی تېر یم. زه اوس لا تر ده دوه چنده نشه یم". ما ورته وویل چې دا ټوله هسي چټیاټ او درواغ دي. باکوس یا بل یو، فلیپو وینسینزا، باسي یا باسي فیلیپو وینسینزا، لنډه دا چې یوه لا هم یوغړپ شراب نه دي څښلي. په هر صورت د هغه نوم څه دی؟ بیا یې پوښتنه را نه وکړل چې زما نوم فریدریکو انریکو دی که انریکو فریدریکو؟ ورته ومي ویل هر یو چې دي په نظر ښه درځي. باکوس د میدان پرېښودو اجازه نه راکول. جګړن هم زموږ ګیلاسونه له سرو شرابو راډک کړل. نیم ګیلاس چې مي کورت کړ، نور مي نو بس کړه. په یاد مي وه، چې چیري باید ولاړ شم.
ورته ومي ویل "باسي ګټونکی دی، باسي نسبت ما ته پیاوړی دی. زه ځم له خیره".

رینالډي وویل "ریښتیا هم، باسي ګټونکی شو. هنري، له یو چا سره د ملاقات ژمنه کړې. زه یې په هر څه خبر یم".

"ما ته د تګ اجازه راکړئ".
باسي وویل "یوه بله شپه چې کله دي طبعیت سم وي، له خیره سیالي کوو". پر اوږه یې وټکولم. پر مېز څو لګیدلي شمعې پرتې وې. افسران ټول خوشاله او خندان ول.

ما ورته وویل "ښاغلو، ښه شپه ولرئ!"

زه او رینالډي دواړه دباندي راووتو. په لار کي یې مخ راواړاوه او مخاطب یې کړم"زما په نظر د نشې په حالت کي هلته ستا ورتګ ښه نه دی. چې نشه نه وای ښه به وو".

ورته ومي ویل "رینالډي ریښتیا درته وایم، نشه نه یم".

"د قهوې یو څو دانې وژووه، ګټه لري".

"فکر نه کوم، دومره ګټه دي ولري لکه ته چې وایې".
"زه به یو څه درته راواخلم. ته درروان شه". له یو ډک موټ پخ شوو د قهوې له دانو سره راستون شو.

"واخله دا وژووه او ورځه خداي پاک دي مل شه".
ورته ومي ویل "باکوس".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"زه به درسره ولاړشم".
"زه رک روغ یم. په ما هيڅ نه دي شوي".

زه او دی په ګډه روان وو. په ښار کي پر یو څو واټو راتېر شوو. کله چي د انګرېزانو د کلا سړک ته راورسېدو، رينالډي ما ته وويل " ښه وخت او ښه شپه ولرې".
ما ورته وويل "ته هم ښه شپه ولرې. که دي زړه وي، ته هم راسره تلای شې".

سر يې وښوراوه او وې ويل "نه. زما ساده لوبې خوښيږي".
"قهوې ښه خوند وکړ. مننه".
"په ملګرتيا کي دا هيڅ نه دي. بيا هم هيڅ نه".

پلی پر سړک باندي روان شوم. د لارې په اوږدو کي د ولاړو ونو اوږده قطارونه ښه منظم او مرتب ول. په تګ تګ کي مي شا ته راوکتل، رينالډي ولاړ وو، راته کتل يې لاس يې راته ښوراوه.

د کلا په مېلسمتون کي د کاترين په انتظار کښېناستم. په دهلېز کي مي د يوه راروان شخص د پښو کړپهاری تر غوږو شو، له چوکی نه راولاړ شوم، خو هغه کاترين نه، بلکي مس فرګوسن وه. "سلام. کاترين نن ماښام له تاسي سره د لېدو څخه معذورت غوښتئ".

"ډيره بخښنه غواړم، د روغتيا په هيله يې يم".

"لږ مريضه غوندي ده".
"زما معذورت ورته ورسوئ".

"سمه ده، ولي نه".
"سبا له خيره به يې ملاقات ته راشم، که څنګه؟"

"سمه ده. فکر کوم ښه به وي".
ما ورته وويل "ډيره مننه، ښه شپه ولرئ".

د کلا له دروازې چي راووتم ځان مي يوازي او تش لاسی احساس کړ. فکر مي کاوه چي له کاترين سره به له کومې ستونزې پرته ووينم. په اول کي څه نشه غوندي شوی وم او نژدې وو، چي له کاترين سره د لېدو ژمنه مي هېره شي، خو کله چي ورغلم او دا مي ونه ليدل ځان مي يوازي او تش لاسی احساس کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم فصل

راروانه غرمه خبر شوو، چې ماښام به د سیند پر هاغاړه حمله کیږي. زموږ دنده دا وه، چې له څلورو موټرونو سره مو ځانونه همالته رسولي وای. د حالاتو په اړه هیڅ چا څه نه شوای ویلای، خو د ټولو په څېرو کې هیله مندي له ورایه ښکارېده. زه په لمړي موټر کې سپور شوم، څنګه چې د انګریزانو د کلا دخولي دروازې ته راورسېدو، موټروان ته مې د موټر د درولو وویل. هغه نور درې موټرونه ولاړل. زه راکوز شوم، موټروان ته مې وویل چې که په کورمونز چوک کې تر هغوی پورې ور ونه رسیدې، نو بیا ما ته تم شه. زه په بیړه له سړک نه واوښتم، روغتون ته ولاړم او د کاترین پوښتنه وکړل.

"هغه اوس مصروفه ده".

"زه یو دوې خبرې ورته کوم، ډیره مې پکار ده".

پیاده یې پسي ولیږه، هغه له هاخوا له کاترین سره یوځای راستون شو.

ما ورته وویل "زه دلته ستا د احوال اخیستو لپاره تم شوم. دوی راته وویل چې تاسي اوس مصروفه یاست، خو ما ورته وویل چې محضې یو دوې خبرې ورسره لرم".
کاترین "اوس ښه یم، فکر کوم چې تېره ورځ ګرمې زور راباندي کړی وو".
"زه نو، نور در نه ځم".
"زه به دي تر دروازې بدرګه کړم".
دباندي مي وپوښتل "تاسي خو به ښه یاست؟"
"هو، ګرانه. نن شپه راځې؟"
"نه. پلاوا ته ځم، همالته د جګړې شونتیا شته".
"جګړه؟"
"فکر نه کوم، چې دومره د پام وړ به وي".

"څه وخت بیرته راستنیږې؟"
"سبا له خیره".

له غاړې څخه د یو څه په راخلاصولو بوخته شول او زما په لاس کې یې یو شی راکښېښود. کاترین "دا د روحاني مشر، انتوني نخښه ده. او سبا له خیره بیا راشه".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ته کاتولیکه نه یې. همداسې نه ده؟"

"نه. خو داسې ویل کیږي چې د روحاني مشر، انتوني نخښنه ډېره ګټوره وي".
"ستا لپاره به یې له ځان سره وساتم. د خدای په امان".
کاترین "نه. دخدای په امان مه وایه".
"سمه ده".

"بې احتیاطي مه کوه. ډېر محتاط اوسه. نه! دلته مې نه شې ښکلولای".
"سمه ده".

شاته مې راوکتل، په زینو کې ولاړه وه، لاس یې راته وښوراوه، ما خپل لاس ښکل کړ او د دې لور ته مې ونیو. بیا ځلې یې لاس راته وښوراوه، زه تر سړک واوښتم امبولانس ته ورپورته شوم او په حرکت مو پیل وکړ. د روحاني مشر، انتوني نخښنه په یوه وړوکي اوسپنیز بکس کې پرته وه. بکس مې خلاص کړ او د روحاني مشر، انتوني نخښنه مې په لاس کې کښېښوده.

موټروان "دا د روحاني مشر، انتوني نخښنه ده؟"
"هو".

بیا یې وویل "له ما سره هم یوه دانه شته". ده خپل ښی لاس له سټرینګ څخه راایسته کړ او د پتلون یوه غوټه یې خلاصه کړل. او ګردن بند یې د کالو له دننه راوایستی.
"وینې یې؟"

ما خپله نخښنه په بکس کې واچول او د سرو زرو ځنځیر مې یې د مخ په جیب کې کښېښود.

"ته یې نه په غاړه کوې؟"
"نه".

"چې په غاړه یې وځړوې ښه به وي، د همدې لپاره دی".
ما ورته وویل "سمه ده". د سرو زرو د ځنځیر بند مې خلاص کړ او په غاړه مې وځړاوه. نخښنه مې پر کالو سربیره راځړېده، د کالر غوټه مې خلاصه کړل او لاندې مې وځړاوه. په لاره کې به ځینې وختونه راجګیده، خو ورو ورو ورسره عادي شوم. کله چې ټپي شوم، راڅخه ورک شو، چې بیا مې تر ننه ګړی ونه لید. کیدای شوه، چې یو چا دې روغتون ته وړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر پله په بیړه روان وو او ډیر ژر مو د هغو موټرونو، ګرد ولید چي له موږ نه مخکي روان ول. نور نو سړک راتاوېده، د سړک پر ګولایي باندي مو درو موټرو ته وکتل، ډیر وړوکي معلومېدل. اوس د ونو په مینځ کي روان ول او له تېرو څخه یې ګرد آسمان ته پورته کېده. هغوی مو هم په لږ وخت کي راټینګ، ځیني راتېر، پر سړک راتا او په پاس د تپو په لمنو کي روان شوو. د موټرونو په کاروان کي موټر چلول ښه وي، په شرط د دې چي موټر دي لمړی وي. زه شاتني سیټ ته واوښتم او د شاوخوا په منظرو بوخت شوم. د تپو په لمن کي د سیند له ژۍ سره څنګ په څنګ روان وو، څنګه چي سړک غرنی لړی ته ورداخل شو ځان مو د دنګو غرونه په منځ کي ولید؛ لیري په شمالي اړخ کي د غره پر لوړه څوکه سپینه واوره اوس هم پرته وه. شاته مي راوکتل درې موټرونه راپسې ول، خو ګردجنه او له غبار څخه ډکه فاصله یې په مینځ کي واقع وه. د بار کچرو تر یوه اوږد قطار راتېر شوو. څاروانان یې چي رومي خولۍ یې په سر کړي وې، په خوا کي ورسره روان ول. دوی د برساګلیري غونډ څخه ول.

له کچرو پرته پر سړک بل څه نه ول. موږ پاس په تپو کي نور هم وړاندي ولاړو او وروسته د غونډۍ په لمن کي پر یوه سړک باندي، چي وه یوې درې ته، چي په مینځ کي یې سیند تېر شوی وو، روان شوو. د سړک دواړه اړخونه په ونو پوښل شوي ول. په ښي اړخ کي مي د ونو له منځه د سیند رڼې، صافې او په بیړه رواني اوبه ولیدې چي پر ډبرین بستر باندي له شرهاري سره مخ ته رواني وې. په سیند کي د اوبو سطحه ټیټه وه. په کوچنیو ویالو کي رېګ او وړوکي ډبرې له ورایه ښکاریدې او ځیني ځایونو کي به پر ډبرو خپرو شوو اوبو ځلا او پړکا کول. د سیند له ژۍ سره ژور حوضونه ول. اوبه یې د اسمان په څېر تکي شنې وې. د سیند له پاسه یو ډبرین پل پروت وو، چي له سړک نه بېلیدونکې د اورګاډي کرښه پرې ودانه وه. له کلیوالي کورو نه چي د دېوالو له پاسه یې د ناک د ونو ښاخلې راځړېدې او له کروندو نه چي ټیټ دېوالونه یې ول، تېر شوو.

په دره کي له ښه مزل وروسته بیرته تپې ته ورپورته شوو. سړک د شاه بلوط ونو په ځنګله کي څوځلي ښه ژور پورته او کښته تللی وو او په پای کي یو لاس کیده. له پاس څخه مي لاندي راوکتل د لمر وړانګې، چي تر لیري لیري پورې تلې او سیند، چي د دواړو پوځونو تر مینځ حایل وو، ولید. پر تازه جوړ شوي سړک نور هم وړاندي ولاړو. شمالي اړخ ته مي وکتل، دوې خړې غرنی لړۍ مي تر سترګو شوې، چي پر څوکو یې د واورې سپین څادر پروت وو. د لمر وړانګې نیغې پر واوره نښتې چي ډېر ښه خوند یې کاوه. څنګه چي نور هم وړاندي ولاړو، په یوه دریمه غرنی لړۍ ورننوتو، د غره دغه لړۍ تر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو غرو دنګه، واورینه، سپینه  او ډارونکي کړلېچونه یې درلودل. د سترګو له دیده خورا لیري، یوه بله لړۍ معلومېدل، خو د چا باور نه کېده، چي هغه دي په ریښتیا هم وجود ولري. هغه غرونه ټول د اتریش په خاوره کي ول، خو موږ له دې غرنیو لړیو نه بې برخي وو. وړاندي د سړک په ښي اړخ کي مي یوه ګولایي ولیدل او راته معلومه شول، چي سړک د ونو له مینځه تیریږي. پر سړک له پوځیانو، ګاډو او کچرو سره چي غرنی او درنې وسلې پرې بار وې، مخ شوو. له موږ نه ښه لاندي، سیند او په اوږدو کي یې د اورګاډي پټلۍ، زوړ پل او د تپې په لمن کي بهاند سیند معلومېده. ټاکل شوي وه، چي د ښار ټول مخروبه کورونه به په خپل کنټرول کي راولو.

تقریباً ماښام وو، چي لاندي راغلو. له دې نه وروسته پر عمومي سړک باندي، چي څنګ ته یې سیند بهېده رهي شوو.

## نهم فصل

په ټانټو پوښل شوي سړک باندي ګڼه ګوڼه زیاته وه. د سړک دخولي اړخ خاص د یوه سرکس یا هم د پخوانیو زمانو یوه کلي ته پاتېده. په ټانټو پوښل شوي سړک باندي ورو ورو وړاندي روان وو، له دې سړک څخه له وتو وروسته یوې سرخلاصي فضا ته چي د اورګاډي پخوانی تمځای وو، راووتو. سړک د سیند تر ژۍ کښته وو. د لارې اړخونه ټول سوري سوري او غار شوي ول، خو دې غارو د خزو کار کاوه، یعني ټول له پلي پوځیانو ډک ول. لمر ورو، ورو کښته کیده. په موټر کي مي د اتریشیانو څارونکي بالونونه تر سترګو شول، چي د تپو له پاسه یې درولي ول. د لویدونکي لمر وړانګې پرې لګیدې. موږ خپل موټرونه د خښتو له بټیو سره په څنګ کي ودرول. داښونه او ځیني نور ژور غارونه یې د سیار روغتون په توګه تیار کړي ول. درې ډاکټران وو، چي درې واړه یې زما شناخته وه. له جګړن سره مي یو څو شیبې بانډار وکړ. د خبرو په جریان کي راته معلومه شوه، چي زموږ دنده څه وخت پیلیږي؟ زموږ دنده دا وه، چي دلته به مو ژوبل پوځیان موټرونو ته اچولای، بیا به د هماغه په ټانټو پوښل شوي سړک له لارې عمومي سړک ته وتلای او بیا به مو له لړۍ سره نژدې ژوبل پوځیان وه روغتون او نورو امبولانسو ته په لاس ورکولای.  جګړن هیله وښوده، چي سړک به نه بندیږي. دغه سړک یو طرفه وو. سړک یې ځکه په ټانټو پوښلی وو چي له سیند څخه ورهاخوا د اتریشیانو تر حملې لاندي وو. موږ همدلته په بټۍ کي د مشین ګڼو او ټوپکو له ډزو نه په امان ناست وو. پر سیند باندي یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مړژوانده پل پروت وو، خو پرېکړه شوي وه، چي د جګړې د پيل په شيبو کي به يو بل نوى پل د سيند له پاسه ړدي، او پوځيان به د سيند هاخوا ته پرې پوريوزي. جګړن يو کوتاه قده سړى وو، لوړي خوا ته تاو شوي بريتونه يې درلودل. د ليبيا په جګړه کي يې هم ګډون کړى وو او ده ژوبلو دوه پټې يې اخيستې وې. ده ژمنه راسره وکړل، چي که راسپارل شوې دنده په سم ډول مخته ولاړه شي نو د مډال په اخيستو کي به کومه شبهه نه وي. دى په دې خپله خبره کي صادق وو.

جګړن ته مي وويل "که مو يوه خزه راکړه، مهرباني به مو وي. يو عسکر راسره ولېږه چي راويي ښيي." زه له عسکر سره رهي شوم، يوه مناسبه خزه يې راته په ګوته کړل. د موټروانانو په زړه ولګيدل. موټروانان مي په خزه کي پرېښوول او زه بيرته جګړن ته ورغلم. جګړن د له دوو نورو افسرانو سره يوځاى د څېښناک ست راته وکړ. (رم) مو وڅيښل. ډېر ښه خوند يې وکړ. دباندي تياره په خپرېدو وه. د جګړې د پيل په اړه مي پوښتنه ځيني وکړل. راته وې ويل، د تيارې له خپرېدا سره به پيل شي. له دوى نه راپاڅيدم او موټروانانو ته راغلم. دوى يو له بل سره ښه تود باندار اچولى وو. زما له ورتګ سره ټول چپ شول. دوى ټولو ته مي يوه يوه قوطۍ مقدونيايي سګرېټ ورکړل. تر څکولو وړاندي يې وه پيچلو ته اړتيا درلودل. منيرا ليټر ولګاوه او پر ټولو يې وګرځاوه. لټير خاص د موټر د فيات په شان ښکاريده. کوم څه چي مي بهر اوريدلي ول، هغه مي وه دوى ته هم واورول.

پاسيني وويل "په لار کي مو پوستې ونه ليدې، ولي؟"
"له ګولايي سره په څنګ کي وې".

مانيرا "کيداى شي، پر سړک له ډېرو کړاوو سره مخ شو".
"اتريشيان به مو هم ښه په آسانى ايله نه کړي!"

"کيداى شي په توپونو مو هرکلى ووايي".
"بريدمنه ډوډۍ څه وخت خورو؟ که جګړه شروع شول، فکر نه کوم چي بيا دي د ډوډۍ خوړلو موقع پيدا کړو".

ما ورته وويل" زه به يې اوس معلومات در وکړم".
"يعني موږ دلته کښېنو او شاوخوا نه شو ګرځيدلاى؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

"فکر کوم چي که همدلته پاتي شئ، ښه به وي".
زه بيرته د جګړن خزې ته ورغلم. همالته د ده له خولې نه خبر شوم چي ګرځنده اشپزخانه به هم په څو شيبو کي راورسيږي او موټروانان به خپله حصه ځيني واخلي. دا يې هم راته وويل چي که دوی لوښي نه لري، موږ به يې په قرض ورکړو. ما ورته وويل فکر کوم چي دوی له ځان سره خپل لوښي راوړي. بيرته وه موټروانانو ته راستون شوم او ورته ومي ويل چي څنګه ډوډۍ راورسيږي، دوی ته به هم ورکول شي. منيرا وويل" خدای دي وکړي چي د جګړې له پيليدا وړاندي راورسيږي". زما تر تګه پوري خاموشي خپره وه. هغوی ټوله مستريان ول او له جګړې يې کرکه کول.

زه دباندي د موټرانو د حال و احوال اخيستو او حالت معلومولو لپاره راووتم، بيرته خزې ته راغلم او له څلورو موټروانانو سره کښيناستم. موږ پر مځکه ناست وو، شاګاني مو دېوال ته تکيه کړي وې او سګرېټ مو څکول. اوس نو تقريباً تياره شوي وه. مځکه تودوښې او وچه غوندي وه. ورو مي پر ديواله باندي اوږې تکيه کړې، اوږد وغځېدم او د ارام ساه مي واخيستل.
ګاووزي وويل "لمړی څوک جګړه پيلوي؟"

"برساګليريا[6]".
"ټوله برساګليريا؟"

"فکر کوم، همداسي به وي".
"که واقعاً ښه سمه جګړه وي، نو بيا خو موږ کافي شمېر پوځيان دلته نه لرو".

"زما په اند دغه جګړه د جګړې له اصلي ډګره د دښمن د پام اړلو لپاره ده".
"برساګليريا خبر دي چي څوک حمله کوي؟"

"فکر نه کوم".
مانيرا "فکر نه کوم چي خبر دي وي. که خبر وای جګړه يي نه کول".

پاسيني "هو ولي نه، خو برساګليريايان ټول بي عقلان دي".
ما پسي ورغبرګه کړل "نه دوی زړور او په عين حال کي ښه نظم او اداره هم لري".

---

6 دا د ايټاليا خاص ځواکونه دي چي په ۱۸۳۶ميلادي کال کي رامنځته سول. دوی پر خپلو خوليو باندي ښکي لګولي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"هغوی په بدنه غټ، قوي او روغ رمټ دي، خو په عین حال کي بي عقلان هم دي".
مانیرا "ګراناتیریا[7] ډیر قدبلنده دي ". دا یوه ټوکه وه، چي ورسره ټوله په خندا شول.

"بریدمنه، ته په هغه وخت کي موجود وي، چي هر لسم سړی به یي قتل کاوه؟"
"نه".

"دا ریښتیا دي. ټوله یي لیک قطار ودرول بیا یي هر لسم سړی راټینګ کړ، ټوپکوال راغلل پسي ویي ویشتل".
پاسیني "ټوپکوال!". پر مځکه یي ناړي تو کړې. بیا پسي زیاته کړل.

"خو هغه شپږ فوټه ګریناتیران به جګړه ونه کړي".

مانیرا "که ټوله له جګړې لاس په سر شي، معلومه خبره ده، چي جګړه به پایته ورسي".

"اصلي خبره داسي نه وه، بلکي هغوی له بیرې او ډار څخه جګړه نه شوای کولای. افسران یي ټوله له شریفو کورنیو څخه ول".

"یوه سر پړکمشر مشر خو دوه افسران چي له خزې څخه دباندي وه جګړې ته نه راوتل ځای پر ځای یې وویشتل".

"خو ځیني عسکر بهر راووتل".

"هغه چي وتلي وه، هغه یې پر لیکه نه وه درولي".

پاسیني وویل "د ټوپکوالو له لاسه یو وژل شوی نفر، زموږ د ښار وو. ډیر جګ او ښه هوښیار ځوان وو. ګرده عمر یې په روم کي تیر کړی وو. همېش به له نجونو سره وو، مدام به له ټوپکوالو سره ګرځېده." مسکی شو او بیا یې وویل "اوس یي هر وخت د کور په دروازه کي یو پیره دار ولاړ وي، هیڅوک حق نه لري چي له پلار، مور یا هم د کورنیو له نورو غړو سره یي وګوري. پلار خو یې له ټولو ټولنیزو حقوقو هم بي برخي شوی. ان رایه هم نه شي ورکولای. نور یي نو قانون هم دفاع نه شي کولای. اوس هر څوک کولای شي چي د کور شیان او سامانونه ځیني واخلي".
"که له دوی سره د دې ډول عکس العمل ښېره نه وي، ټول به جګړې ته شا کړي".

[7] دا د ایټالوي پوځ یو غونډ یا ټولی ده. د دې غونډ عسکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

“ولي؟ آلپيان به د جګړې اور بل وساتي. اجير پوځيان او ځيني برساګليرياېان به هم همدغسي ناست نه وي”.

“خو برساګليرياېان هم وتښتېدل، اوس دوی هڅه کوي چي دا هرڅه هېر کړي”.

پاسيني په پيغور وويل “مشره، تاسي بايد وه داسي خبرو کولو ته څوک پرېښې‌دئ”.

ما ورته وويل “پوهيږم چي تاسي څه واياست. خو تر کومه چي موټران ښه چلوئ او ستاسي چلند ښه وي........”.

“لنډه دا چي بايد په دومره لوړ اواز ونه ږغيږو، چي نور افسران زموږ خبرې واورې.” مانيرا زما خبرې بشپړي کړې.

ما ورته وويل “فکر کوم چي نور نو بايد له دې جنګ جګړو څخه لاس واخلو. البته که يو اړخ له جګړې لاس واخلي، جګړه پايته نه رسيږي، خو حالت او اوضاع تر دې هم ناوړه کيدای شي.”

پاسيني جدي شو “حالت له دې ناوړه کيدای نه شي او بله دا چي له جګړې ناوړه بل هيڅ شی نشته”.

“شکست ناوړه دی".

پاسيني بيا په جدي انداز وويل “دغه نظريه ما ته قابل قبول نه ده. شکست يعني څه؟ يعني کور ته تګ”.

“دوی دي په تعقيب پسي راځي. کور درڅخه غصبوي او په پای کي به خپل د کورنۍ غړي هم له لاسه ورکړې”.

پاسيني “زه ستا له نظر سره مخالف يم. غالب پوځ نه شي کولای له هر چا سره داسي وضعه وکړي. هر يو پوه شه، خپل يې کار. هر يو دي خپل ورونه او خويندې په خپل کور کي محفوظه کړي”.

“په دار به دي وځړوي. فاتح پوځيان به ستا په لټون ستا کور ته درشي او بيا ځلي به عسکر شې، هغه هم په پلي پوځ کي، نه په امبولانس کي!”

(c) ketabton.com: The Digital Library

"د ټولو خلکو په دار ځړول ناشونی کار دی".

مانیرا "یرغلګر ځواک په ټولو خلکو جبري عسکري نه شي کولای. که بالفرض داسي وشي، په لمړی جګړه کي به ټول وتښتي".

"لکه د چیک خلک".

"زه فکر کوم چي تاسي تراوسه د مغلوبه کیدو خوند نه دی څکلی، ځکه نو فکر کوئ، چي مغلوبېدل ښه دي".

پاسني وویل "بریدمنه، زه پوهېږم چي موږ ته مو خبرو کولو چانس راکړئ. غوږ شه. له جګړې ناوړه شی په دې نړی کي بل نشته. موږ د امبولانس موټروانان یې د ناوړه والي اندازه نه شو لګولای! خو کله چي عام ولس د جګړې په ناولتیا خبر شي، بیا یې مخه نه شي نیولای، ځکه که یې د مخي ډب کولو هڅه وکړي، لیونیان کیږي. داسي خلک هم شته چي هیڅکله یې په ناولتیا نه پوهیږي. داسي پوځیان هم شته چي له مشرانو څخه ډاریږي، همدا د دوی له لاسه د جګړې اور بل دی".
"پوهیږم چي جګړه ښه نه ده، خو موږ یې باید مخه ډب کړو".

"جګړه نه ختمیږي، جګړه پای نه لري".

"ولي؟ هره جګړه یو پای لري".

پاسیني سر وښوراوه.

"جګړه په بري پایته نه رسیږي. څه پروا لري که موږ سان ګبریل ونیسو؟ څه به وشي، که موږ مونافالکانو فتح کړو؟ که مو دا ګرده ښارونه ونیول، بیا به چیري یو؟ نن مو هغه لیري غرونه ولیدل؟ تاسي فکر کوی چي دا ټوله به موږ ونیسو؟ البته په هغه صورت کي چي اتریشیان جګړه بس کړي. یو اړخ باید جګړه بس کړي. موږ یې ولي نه بس کوو؟ که دوی ایټالیې ته راپسي راشي، ستړي به شي او بیرته به خپل هیواد ته ستانه شي، خپل هیواد او خپل جاګیرونه لري. خو نه ددې هر څه پر ځای جګړه ده".

"ته خو ډیر ښه نطاق یې".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“موږ دماغ لرو. فکر کوو. يو څه ويلای شو. موږ بزګران او ناپوه نه يو. مستريان يو. خو بزګران تر موږ ښه دي ځکه چي وه جګړې ته زړه نه ښه کوي. له جګړې څخه د ټولو کرکه کيږي”.

“د هر هيواد اداره کولو لپاره يوه اداره موجوده وي. په تاسف زموږ په هيواد کي همدا اداره کمزورې ده. نه په څه پوهيږي او نه به په پوه شي، نتيجه يي دا شول، دا دی موږ اوس په جګړه ايز حالت او جګړه کي ښکيل يو”.

“ډيری حکومتي چارواکي د همدې جګړې له لارې پيسي ګټي!”

ياسيني وويل “ګرده داسي نه دي. دوی بيخي بي عقلان دي، له دې څخه دوی ته هيڅ شی په لاس نه ورځي، دا هرڅه د خپل بي ځايه ضديت لپاره کوي”.
مانيرا “ نور يي بس کړئ. موږ نه بايد د بريدمن وه مخي ته دا ډول خبري وکړو”.

ګاووزي “د ده هم زموږ باندار خوښ دی. که يې خوښ نه دی، نو خپل هم نظره به ځيني جوړ کړو”.

مانيرا “خو د اوس لپاره بايد دا هر څه بس کړو”.

ګاووزي “مشره ډوډی څه وخت خورو؟”

ما ورته وويل “زه به دباندي ورشم او معلومات به يي وکړم”. ګوردينې هم پاڅيد او بهر راسره ووت.

“بريدمنه زه کومه مرسته درسره کولای شم؟ ستاسو په درد خوړلای شم؟”

په دې څلورو واړو موټروانانو کي دی غلی وو.

ما ورته وويل “که دي خوښه وي راځه، په ګډه به ولاړ شو او معلومات به يي وکړو”.

دباندي اوس بشپړه تياره خپره شوي وه، خو لويو او غټو لټون يا سرچ څراغو هر څه روښانه کړې ول. لوی لوی لټون څراغونه پر غټو موټرونو باندي ترل شوي وه. د شپې چي به کله څوک د جګړې له کرښې سره نژدې تيريده نو که به موظفو عسکرو رڼا پرې واچول نو يو دم او سمدستي به يو څوک ورته ښکاره شول او دوی به يي وه ډار کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بټۍ له میدانۍ نه تېر شوو او د زخمیانو د پټۍ کولو وه عمومي مرکز ته ولاړو. په دخولي دروازه کي د شنو پاڼو یوه چوتره وه، د ورځي په جریان کي به یي د لمر له امله وچي شوي پاڼې باد رپولې او مځکې ته به رالوېدې. دننه رڼا وه، جګړن په ټلیفون کي په خبرو اخته وو. همدلته د یوه ډاکټر له خولې خبر شوم چي حمله یو ساعت وځنډېدل. له ده سره مي یو ګیلاس کوکناک وڅیښه. پراته مېز ته مې، چي له پاسه پرې د جراحۍ سامانونه، لوښي او د درملو بوتلونه ول، وکتل د رڼا په وړاندي برېښېدل. ګوردیني مي شاته ولاړ وو. جګړن هم له ټلیفونه فارغه شو.

جګړن "حمله پیلېدونکې ده. د جګړې ځنډیدل لغوه شول".

بهر مي وکتل. تیاره وه. د اتریشیانو لېټون څراغونه زموږ تر شا غره باندي رڼاګانې اچولې. بنه شیبه مرګونې خاموشې وه. یو ناڅاپه ټول توپونه په غړمبېدو راغلل او بمبار پیل شو.

جګړن"پروردګاره، ته مو ساته".
ما ورته وویل "جګړنه، ښوروا څنګه شول؟" فکر کوم چي تر غوږ یي نه شول، بیا مي ورته تکرار کړل.

"تر اوسه لا نه ده رارسیدلي".

دباندي په بټۍ کي یوه لویه توغندۍ راپرېوتل او وچاودل. د یوې بلي چاودنې کمواکه ږغونه مو هم واورېدل، چي ورسره د خښتو ټوټو او ګرد فضا ونیول.

"د خوړو لپاره څه شته؟"

"له موږ سره یو څه پاسته اسکیوتا شته".

"هر څه، چي شته قبول مو دي".

جګړن پیاده ته یو څه پسپسی وکړ، هغه هم ولاړ، له هاخوا نه په غاب کي له یو څه سړو مکرونیو سره راستون شو. غاب مي ترې واخیست او ګوردیني ته مي ورکړ.

"پنیر درسره شته؟"

جګړن زړه نا زړه بیا خادم ته څه وویل، هغه هم په غار ننوت له هاخوا څخه د یوه ټوټه پنیر سره راستون شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته ومي ویل "ډیره مننه".

جګړن زه مخاطب کړم "که همدلته پاتي شئ ښه به وي".

له دروازې سره د یوه شي د ایښودو کړپ شو. له دو کسانو څخه چي دغه شی یې راوړی وو، یوه دننه راوکتل.

جګړن "دننه يي راوړئ. په تاسي څه شوي؟ اوس موږ هلته درشو او رادننه يې کړو؟"

دوو تذکره والاو سړی تر لاسو او پښو ونیو او دننه يي راوړ.
جګړن "جامې يي ځیني وباسئ".

جګړن امبور له یو څه ګاز سره راپورته کړ. دوو نفر له ده کوټ وکیښ.

جګړن وه تذکیره والاو ته وویل "ورځئ. تاسي نور خلاص یاست".

ما وه ګوردیني ته وویل "راځه".

جګړن د شا له خوا راپسي ږغ کړل "د بمبار د زور تر ختمېدو پوري، دلته ستاسي پاتېدل غوره دي".

ما ورته وویل "موټروانان وږي دي، ډوډۍ غواړي".

"نور نو، چي څنګه ستا خوښه وي".

دباندي راووتو او چابک چابک د خزې په لور روان شوو. له سیند سره نژدې یوه توغندۍ ولګېدل او وچاودل. شیبه وروسته یوه بله هم راپرېوتل، تر چاودلو پوري مو يي ږغ وانه ورید بیا ناڅاپه یو درز شو. موږ پر مځکه وغورځیدو او همداسي په پروتي پر څنګلو څکېدو. بځرکي، دودان او د ماتو خښتو د پارچو ږغونه مو، چي لاندي رالوېدل اورېدل. ګوردیني پاڅید او د خزې په لور په منډه شو، زه هم پاڅېدم، په لاس کي مي پنیر نیولي ول او د خزې په لور په تراټ شوم. د پنیرو صاف او ښوی مخ د خښتو د دوړو او ګرد له امله چټل شوی وو. دننه په خزه کي درې واړه موټروانان وه دیوال ته څنګ وهلی ناست او سګریټ یې څکول.

ما ورته وویل "دې ته وایې هیوادپالان او پر هیواد مین خلګ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

مانیرا "موټران پر کوم حالت دي؟"

"سم دي".

"بریدمنه ډزو خو ونه بیرولې؟"

ما ورته وویل "هو، دا خبیثان".

خپل چاقو مي راوکیښ، خلاص مي کړ، څوکه مي يي ورپاکه کړل او د پنیرو چټل مخ مي وروتوړه. ګاووزي د مکرونیو غاب راکړ.

"بریدمنه، شروع په وکړه".

ما ورته وویل "نه، پر مځکه يي کښېږده ټوله به يي وخورو".

"کاچوغې نشته".

په انګلیسي کي مي له ځانه سره وویل "اوه، لعنت!"

پنیر مي ټوټه ټوټه کړ او پر مکرونیو باندي مي کښېښود.

دوی ته مي وویل "کښینئ". دوی هم کښېښستل او منتظر شول. ما خپل لاس ور اوږد کړ او په ګوتو مي مکروني راپورته کړل. یو څه را نه توی شول.

"بریدمنه، لږ يي لوړ پورته کوه".

ما هم خپل لاسونه تر پخوا ورته وغوړول. خوله مي پسي ورکښته کړل. خولې ته مي راسر وهل او د پنیرو له ټوټې سره مي یو ځای وژوول. ورپسي مي د شرابو یو غوړپ پسي وکړ. د زنګ وهلي اوسپنې خوند يي وکړ. پتک مي بیرته وه پاسیني ته ورکړ.

پاسیني "اوبه خرابي شوي. همدا پتک له ډیره وخته له ما سره په موټر کي راسره وو".

ټول په خوراک اخته ول. خپلي خولې يې له غاب سره نژدې نیولي وي او مکروني به يې خولې ته سر وهل. یوه بله غټه ګوله مي له یوې ټوټې پنیر سره راپورته کړل. بهر یو شی پر مځکه راپرېووت، چي ځمکه يې سره ولړزول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاووزي "دا څلور سوه شل يا هم ماينين ورفر[8] وو".

ما ورته وويل "په غرو کي څلور سوه شل نشته".

"دوی غټ سکوډا وسلې لري. ما يې غارونه ليدلي".

"دري سوه پنځوس".

موږ په خپل خوراک اخته وو. د ټوخي اواز مو تر غوږو شو، يو داسي اواز لکه د اورګاډي ماشين چي چالانيږي، بيا يوه داسي چاودنه وشول چي ځمکه يې ولړزول.

پاسيني "ده خزه هم ډيره محفوظه او ژوره نه ده."

"دا د يوه ستر توپ توغندی وه."

"ريښتيا هم".

د پنير وروستی ټوټه مي هم وخوړل او د شرابو يو غوړپ مي پسي وکړ. د دې نورو اوازنو په منځ کي مي يو بل اواز تر غوږو شو بيا يو ناڅاپه چه ــ چه ــچه ــ چه ــ اواز راغلی. يو دم رڼا شول داسي لکه د اور د کورې دروازه چي خلاصه شي، ورسره غړومبی شروع شو له دې سره سپينه او سره لمبه له باده سره مله په سرعت هوا ته پورته شول. هڅه مي وکړل چي ساه وکاږم خو ساه مي نه شوای کښلای. داسي مي احساس کړه لکه روح چي مي له بدنه وتلی وتلی وتلی وتلی او په هوا کي يم. ورو وخوځيدم. فکر مي وکړ چي له نړۍ څخه رخصت شوی يم. دا مي غلطي وه چي ووايم سړی يوازي مړ کيږي. راپاڅيدم، هڅه مي وکړل چي وړاندي ولاړ شم. خو د وړاندي تګ پر ځای مي داسي احساس کړل لکه شاته چي ورغړېدم. ژوره مي واخيستل او يو څه په حال کي شوم. مځکه چاودلي وه، له سر، سره مي نژدې د لرګي يوه کونده پرته ول. زه لا د ځان په غم اخته وم، چي د يوه نفر د ژړا ږغ مي واورېد. فکر مي وکړ، چي يو څوک نارې وهي. د خوځيدو هڅه مي وکړل، خو د خوځېدو توان او سبک راپکښې پاتي نه وو. د سيند له پوري غاړې مي د مشين ګنو او ټوپکو ډزونه واورېدل، آسمان روښانه روښانه وو، مرمۍ د ستورو په څېر په آسمان کي ګرځېدې. پورته خوا ته توغول شوي راکټان او د بمونو د چاودېدو اوزونه، دا هرڅه په يوه ګړي کي وشول. شيبه وروسته مي يو ږغ واوريد ويل يې" ماميا! اوه ماما ميا!" ځان مي سره وښوراوه او بيا راتاو شوم. په تکليف مي ځان ده ته ورساوه.

[8] دا يو ډول لنډ واټن ويشتونکي جرمني توپونه دي، چي جرمني په لمړی نړيواله جګړه کي تري کار اخيسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاسیني وو، زما له لاس وروړو سره یې ناري کړې. پښې یې زما لور ته وې. د شپې په رڼا کې مې د ده پښو ته وکتل. دواړې د ځنګانه له پاسه ماتې وې. یوه پښه یې پرې شوې وه، هغه بله یې هم د یو ځو پلو او د پتلون د یوې ریښکۍ په وسیله پاتې وه، هغه هم داسې رپیدل لکه قطع شوې چې وي. له ډېر درد څخه یې په لاس غاښونه لګول او زګیروی یې کاوه.
"اوه ماما میا، ماما میا،" لږ څه وروسته"Dio te salve Maria.Dio te salve Maria"
اوه خدایه ما ووله او خدایه ما له دې نړی څخه پورته کړې. اوه، زما خدایه ته خو مې مړ کړې. بس یې ده. بس یې ده. بس یې ده. اوه، زما محبوب خدایه ته خو دا ودروه. اوه اوه اوه" بیا د سلګۍ په حالت کې "Mama mama mia" له دې ویلو سره غلی شو.خپل بازو یې همداسې چیچه، زخمي پښه یې ټولول او خلاصول.

لاسونه مې لپه کړل او ناري مې کړې "Porta Feriti! Porta feriti" کوښښ مې وکړ چې ده ته ورنږدې شم او پر زخم یې پټۍ ور واچوم، خو ما کې د خوځېدا توان پاتې نه وو. بیا مې هڅه وکړل، چې ده ته ورنږدې شم، دا ځلې مې پښو لږ غوندې ملګرتیا راسره وکړه. پر پښو، بازو او څنګلو مې زور وکړ او شا ته ورغړېدم. پاسیني اوس غلی وو. زه ورنږدې شوم، خپل جانکټ مې وکیښ، غوښتل مې یوه ټوټه ځیني پرې کړم خو ما کې دومره سېک پاته نه وو، چې په لاس یې ځیني غوڅه کړم. د جانکټ یوه څنډه مې په غاښ ونیول او پرې مې کړل. بیا مې د پاسیني ګلګل[9] ته پام شو. ما نخي جرابې په پښو کړي وې، خو پاسیني ګلګل تړلی وو. ټولو موټروانانو ګلګل پر پښو باندې تړل. خو پاسیني ته اوس یوازې یوه پښه ورپاته وه. غوښتل مې چې ګلګل ترې خلاص کړم، خو پام مې شو چې پټۍ کولو ته اړتیا نشته، ځکه هغه وړاندې لا مرګ ته ښه راغلاست ویلی وو! ځان مې ډاډه کړ، چې ریښتیا هم مړی شوی. درې نفره نور هم ول، چې باید نقل مکان شي. سیخ کښېناستم، خو یو ناڅاپه مې په سر کې څړیکه وشول او پر سترګو مې تیاره شوه، ګړی وروسته مې داسې احساس کړل لکه پښې چې مې تودې او لندې وي، بوټونه مې هم لانده او ګرم ول؛ پوه شوم چې زه هم لګیدلی یم. خم شوم، پر ځنګانه مې لاس راتېر کړ خو ځنګون مې نه وو. لاس مې نور هم کښته کړ، څو له لینګي سره مې لاس پر ځنګانه ولګېد. لاس مې پخپل کمیس پاک کړ، آسمان کې بیا رڼا شول او ورو ورو مځکې ته راکښته شول، ما په همدې رڼا کې خپلې پښې ته وکتل او ځیني وډارېدم " اوه، خدایه، ته خو مې په خپل فضل سره وساتې."
ګړی وروسته مې فکر وکړ، له ما پرته خو درې نفره نور هم شته. دلته څلور موټروانان ول، پاسیني ووژل شو، پاتې شول درې نفره. یو چا له اوږو و لاسونو او یوه بل هم له پښو

[9] ګلګل د ټوکر ټوټه ده، پوځیان یا عسکر یې له موزو څخه پورته د پتلون پر پایڅه باندې تړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونیولم او پورته يې کړم.
دوی ته مي وويل "درې کسان نور هم دي، يو پکښې مړ دی."

"زه مانيرا يم. موږ په تذکيره پسي تللي وو، خو پيدا مو نه کړل. بريدمنه ته څنګه يې؟"

"ګورديني او ګاووزي چيري دي؟"

"ګورديني په پوسته کي دی، پاسمان يې ورکوي او کوم نفر، چي ته يې تر پښو نيولی يې
هغه ګاووزي دی. بريدمنه زما غاړه ونيسه. سخت ژوبل يې؟"

"په پښه کي. ګورديني څنګه دی؟"

"هغه سم دی، يوه ستره توغندۍ وه."

"پاسيني مړ شو".

"هو. هغه ووژل شو".

د توپ يوه ګولۍ له موږ سره نژدې پر ځمکه راپرېوتل، دوی دواړه يې هلته وغورځول، له
دوی سره زه هم پر ځمکه ولوېدم.

مانيرا "بريدمنه، بخښنه غواړم. لاسونه زما پر غاړه باندي ونيسه".
ما ورته وويل "که مو دوهم ځلي بيا وغورځولم!"

"چاودنې وارخطا کړو".

ما ورته وويل "تاسي جوړ ياست؟"

مانيرا "موږ دواړه سربيرن ټپيان شوي يو".

ده ته مي وويل "ګورديني موټر چلولای شي؟"

"فکر نه کوم".

پوستې ته تر رسيدو وړاندي يې يو ځلي بيا پر ځمکه وغوځولم.

ما ورته وويل "د سپي زامنو".

(c) ketabton.com: The Digital Library

مانيرا "بريدمنه بخښنه غواړم. بيا به دي پر مځکه ونه غورځوو".

بهر په تياره کي زموږ په څېر زرگونه ژوبل پوځيان پر مځکه پراته ول. ژوبل نفر به وړل و راوړل کېدل. کله چي به يې يوڅوک دننه يا هم بهر يووړ، د گرځنده روغتون د دننه رڼا به بهر راووتل. وژل شوي پوځيان يې ټول يوه اړخ ته ايښودل. ډاکټرانو لستوڼي تر څنگلو پوري راپورته کړي وه او لکه قصابان په سرو لاسو په کارو بوخت ول. خو د تذکيرو کمښت محسوسېده. ځينو ژوبلو کسانو له ډېر درد څخه کريږي ايستلې. البته ځيني نور همداسي غلي پاتې ول. د گرځنده روغتون د دروازې له پاسه پر بلگو باد لگېده، چي هوا يې ښه يخه ساتلې وه. تذکيره والا به تلل راتلل، تذکيرې به يې پر مځکه کښېښولې خالي به يې کړې او بيرته به ولاړل. زه چي يې څنگه روغتون ته ورووړلم مانيرا له هاخوا له ځان سره يو ډاکټر زما د پښو، پټۍ کولو لپاره راوست. ډاکټر وويل "ستا ټپ ته بې حده ډېره خاوره دننه شوې، آن د ويني جريان يې بند کړی دی." په تگ تگ کي يې ژمنه وکړل، چي هر څومره چي ژر شوني وي ما به دننه روغتون ته وړي، دی بيرته دننه ولاړ. گورديني د موټر چلولو نه وو. د مانيرا له خولې خبر شوم، چي د هغه اوږه او سر دواړه ژوبل شوي. په لمړي سر کي يې حالت چنداني وخيم نه وو، خو اوس يې د درد له امله اوږه کج نيولې وه. له بټۍ سره تکيه وهلی ناست وو. مانيرا او گاووزي له يوه ډله زخيمانو سره ولاړل. په دوی کي لا د موټر چلولو سېک پاته وو. بريتانويان هم له درو امبولانسونو سره چي په هر يوه کي دوه دوه نفره وو، راورسيدل. که مي کتل له هاخوا گورديني رنگ الوتی او شومه ختلی له يوه بريتانوي موټروان سره راښکاره شو. بريتانوی نبغ ما ته ودرېد.

"سخت ژوبل يې؟" موټروان قدبلنده وو او عينکې يې پر سترگو کړي وي.
"په پښه کي".

"فکر کوم چي ټپ دي ډېر شديد نه دی. سگرېټ څکوې؟"

"مننه".

موټروان راته وويل "خبر شوم چي تاسي دوه موټر چلوونکي له لاسه ورکړي".

"هو. يو ووژل شو او بل يي هم، هغه يو وو چي ته يي دلته راوستلې".

"څومره يو خراب بخت! ستا خوښه ده چي موږ ستا موټران بوزو؟"

"همدا خو زما هيله هم وه".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“مور به یي ښه خیال ساتو او بیرته به یې کلا ته درولو. ۲۰۶ که څنګه؟”

“هو”.

“هغه ډېر ښه ځای دی. ته مې هلته لیدلی یې. دوی راته وویل تاسې امریکایی یاست”.

“هو”.

“زه بریتانوی یم”.

“ښه!”

“هو، زه بریتانوی یم. تاسي پر ما د ایټالوي فکر کړی وو؟ زموږ له څلورو یونیټونو سره ډیر ایټالویان راسره ول”.

ده ته مي وویل “که تاسي زموږ موټران درسره بوزئ، پر موږ به مو احسان کړی وي”. موټروان “نور یې نو ساتنه زموږ پر غاړه ده”. پاڅېد او وې ویل “ستا ملګری ډېر وارخطا وو، په بېړه یې دلته ستا د معاینې لپاره راوستم”. ګوردیني یې پر اوږه وټکاوه. ګوردیني ځان شا ته کړ او مسکی شو. بریتانوي په صافه او روانه ایټالوې خبرې پیل کړې “ښه، حالات دا دي اوس سم شول. ستاسي بریدمن مي وکوت. مه وارخطا کېږه. موږ ستاسي دوه موټران له ځانه سره بیایو”. بیا یې په انګلیسي وویل “زه به له دغه ځایه ستا د بېولو یوه چاره وسنجوم. البته له هر څه څخه مخکي به زه یو ځلي له ډاکټر سرهووینم او بیا به دي موږ له خپل ځان سره واخلو”.

بریتانوی د ژوبلو پوځیانو په مینځ کي په ډېرو محتاطو قدمو وړاندي رهي شو. ده ته مي تر هغو کتل تر څو د روغتون د دروازې پرده یې پورته کړل او وررننوت.
ګوردیني “بریدمنه دی ستا ساتنه او مراقبت کولای شي”.

ګوردیني ته مي وویل “فرانکو، ته څنګه یې؟”
“ښه یم”. زما څنګته راغلی او راسره کښېناست. شیبه وروسته د روغتون له دروازې پرده پورته شول او دوه نفره تذکیره والا له قد بلنده بریتانوي سره راغلل.

په ایټالوي کې راته وویل “بریدمنه دغه دي ایټالویان مي درته راوستل”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وویل "زه تر یو وخته انتظار کولای شم، کیدای شي تر ما شدید زخمیان وي. د هغو په پرتله زه ښه یم".

ده راته وویل "راشه راشه. له ځانه اتل مه جوړه".
بیا یې په ایټالوې کې وویل "دی په احتیاط تر ښو ونیسئ او پور ته یې کړئ. پښې یې ژوبل دي. دی د ولسمشر ویلسن قانوني زوی دی". دوی زه پورته کړم او ګرځنده روغتون ته یې دننه کړم. دننه څه چې مېزونه ول، د ټولو له پاسه عملیات روان ول. کوتاه قده جګړن زه وپیژندم او په غصه یې راته وکتل، بیا یې په لاس کې نیولی انبور راته وښوراوه.
"Ca va bien?"

"Ca va."
قدبلنده بریتانوي په ایټالوي کې وویل "دی خو مي راوست. د امریکایي سفیر یوازینی زوی. دی به تر هغه وخته همدلته وي، چې تاسي فارغیږی. بیا به یې زه زما په لمړی جوپه کې راسره بوزم". راخم شو او په غوږ کې راته وویل "زه به له روغتیاپال سره وګورم، چې ستا اسناد درته تیار کړي، له هغه وروسته به دي ټول کارونه په بیړه خلاص شي". پاڅېد. او دباندي ولاړ. جګړن انبور پرزه کړ او دوشۍ ته یې ورواچاوه. نظر مي د ده پر لاسو وو. په بنداژولو بوخت وو. تذکیره والا راننوت او یو بل نفر یې پر مېز کښېښود.

یوه تورن وویل " زه به امریکایي بریدمن عملیات کړم". زه یې پورته کړم او پر مېز پرې ایستم. مېز، کلک خو ښوی وو. د روغتون چاپېریال له توندو کیمیاوي بویانو څخه ډک وو. ټوله فضا د درملو او خوږې وینې بویانو نېولې وه. عملیات مي پیل شول. لمړی یې کالي رانه وکښل. دوی په داسي حال کې چې زما په عملیاتو اخته ول، ډاکټر وه جراح ته زما د زخمو په اړه معلومات ورکول "په راسته او چپه ورون، راسته او چپه ځنګون او راسته پښه کې ګڼ سطحي زخمونه لري او د راسته ځنګون په شمول په راسته پښه کې ژور زخمي شوی. او پر سر باندي زخمي کیدل". پر سر یې د جراحی په میله ووهلم "دغه ځای دي درد کوي؟" "اخ، خدایه. هو". "د دندې پر مهال باندي د سر د کوپړی زخمي کیدل. دا هغه څه دي چې تا په قصدي ډول د ځان د زخمي کېدو له تور څخه ساتي". شیبه وروسته یې وویل "څنګه یو څه څیښاک ته دي زړه کیږي؟ هو ریښتیا څنګه زخمي شوې؟ بهر دي څه کول چې راوتی وې؟ ځان وژنې پسې؟ـ د ټیټانوس ضد دوا ورکړه او پر دواړو پښو یې د ضرب نښه ووهه. ټپ به دي لمړی پاک، بیا پرېولو او له هغه وروسته به یې پټۍ کړو. هو ریښتیا دا ستا وینه ډېره ښه پرنډ کیږي" .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر له په لاس کي نيولو کاغذانو څخه سر راپورته کړ او ويې ويل "د زخمي کيدو لامل يي څه دی؟"

ډاکټر ما ته وکتل "په څه شي زخمي شوې؟"

ما په تړلو او بندو سترګو ورته جواب ورکړ "د توپ په مرمۍ".

ډاکټر په داسي حال کي چي زما په عملياتو باندي مصروفه وو، وويل"ته ريښتيا وايې؟"

زه په داسي حال کي، چي هڅه مي کول ارام پروت وه اوسم ناڅاپه مي د بدن د غوښې په پرېکيدلو سره په بدن کي څړيکه شول، بيا مي ورته وويل"زه خو همداسي فکر کوم ".

ډاکټر په داسي حال کي چي د يو شي په لټولو وو، وويل "د دښمن د توپ د توغندی پرزې. که دي خوښه وي پرزې به يې راوباسم، خو راايستل يې مهم نه دي. په هر صورت، زه به يې په نښه کړم. دغه ځاي درد کوي؟ ډير ښه! فکر مه خرابوه له دې څخه شديد دردونه لا پاتې دي. يو ګيلاس براندي ورته راوړئ. دغه شاک(کرنټ) ستا درد اراملای شي. خو ستا زخم دومره د انديښنې وړ نه دی. که چرک ونه کړي په کيسه کي يې هم مه کيږه. په تيره بيا په اوسني وخت کي د زخم د ککړېدو شونتيا بيخي نشته. سر دي څنګه دی؟"
ورته ومي ويل "ډير ترې په تکليف يم".
"نو بيا خو بايد ډير براندي ونه څيښې. که شکستګي ولرې، نو التهابي کيدل يې ښه نه دي. دغه ځای دي څنګه دی؟"

پر بدن مي خولې راماتي شوې.

ما وويل "اخ، خدايه".

"فکر کوم چي ته شکستګي لرې. سر دي در تړم، البته پام کوه چي سر اخوا ديخوا نه کړې". سر يې په بيړه، چابکۍ او په ښه ډول په بنداژ راوتړی."اوس دي نو کار خلاص شو. ورځه له خيره.VIVE LA FRANCE "
يوه ډاکټر وويل "دی امريکايي دی".

ډاکټر د ده په جواب کي وويل "ما فکر کاوه، چي فرانسوی دی. په فرانسوي هم ګړيدلای شي. دی مي له وړاندي پېژانده. ما چي ويل فرانسوی دی". له نيم ګيلاس کوګناک څيښلو وروسته يي بيا وويل "ما ته لږ څه شديد زخميان راولئ". دا يې وويل او ما ته لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

وښوراوه. له کټ څخه یې پورته کړم او دباندي یې وه ایستم له دې ځایه د وتو پر مهال مې مخ په توس پټ شوی وو. دباندې د ډاکترانو سرپرست پر ګونډو ودرید او په نرمۍ یې وپوښتل "نوم؟ منځنی نوم؟ لمړی نوم؟ رتبه؟ دزیږیدلو ځای؟ کومه ټولۍ؟ کوم قول اردو؟" او داسي نور.

شیبه وروسته یې وویل "ستاسي په زخمي کیدو خواشینی شوم. خو انشاالله ښه کیږې. موږ دي اوس له انګلیسي امبولانسونو سره لیږو".

ما ورته وویل"سمه ده. ستاسو یې کور ودان".

هغه درد، چي ډاکټر یې په اړه راته ویلي ول، اوس کرار کرار په پیلیدو وو. هر څه چي کیدل بي معنی او بیځایه وه. څه ګړی وروسته د بریتانویانو امبولانس راورسېد. زه یې د تذکیرې سره ورپورته کړم او بیا یې تذکیره د امبولانس مینځ ته ورټېل وهل. وه څنګته مې یوه بله تذکیره هم پرته وه، یو سړی پکښې پروت وو. مخ یې ټوله ور پټی کړی وو. ما یې یوازې پڼه هغه هم لکه د ویکسو قطۍ، ولیدل. چابکه چابکه او ژوره ساه یې کښل. زما تر تذکیرې پورته څو نوري تذکیرې هم پرتې وې. د امبولانس بریتانوی موټروان راتېر شو، دننه یې راوکتل او بیا یې وویل "کوښښ کوم، چي تاسي له کومې ستونزې پرته خپل پړاو ته ورسوم. په دې هیله چي په تکلیف نه شئ". دروازه یې بنده کړل او موټر ته وروخوت.
شیبه وروسته رهي شوو. کرار ارام وه دردونو ته بې وسه پرېوتم.

امبولانس چي سړک ته پورته شو، سرعت یې کم کړ. تم شو او شاته ولاړ، خو ډیر ژر په بیړه مخ ته روان شو. په همدې د پروتې په حالت کې مې داسي احساس کړل لکه له لوړې خوا څخه چي یو څه راباندې توییږې. لمړی څک څک راتوییدل، خو شیبه وروسته څک څک په جریان بدل شو. ما یې له لیدو سره سمدستي موټروان ته نارې کړې. ده موټر ودراوه او د شا له سیټه یې راوکتل.

"څه خبره ده؟"
"له لوړې تذکیرې څخه وینې راتوییږې".
"موږ اوس مرکز ته نژدې یو. زه هم یوازې یم او په یوازې سر یې نه شم راکښته کولای".

موټر یې بیا چالان کړ، خو وینه همداسي راڅڅیدل. په موټر کې تیاره وه، نه پوهیدم چي وینه له کومه ځایه راځي. هڅه مې وکړل چي د وینې له څاڅکو څخه ځان یوه اړخ ته کړم، خو زما له احتیاط سره سره زما کالي په وینو ولړل شول. یوه اړخ ته یخې هوا او بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړخ ته د پښې درد کاواکه کړم. د وینې تېز جریان اوس بیرته په څاڅکو بدل شو. شیبه وروسته پوه شوم چي هغه ځای پر ځای په ارامۍ وغځېد.

موټروان د شا لخوا رناري کړل "دی څنګه دی؟ موږ اوس وه مرکز ته نژدي یو".
ما ورته وویل "فکر کوم چي مړ شو".

د وینو څاڅکي اوس ډېر کرار او اهسته راتوییدل. داسي لکه د لمر لوېدو په وخت کي چي د یخي له ټوټې څخه اوبه څڅېږي. لوړ وه پوستي ته د تګ پر مهال په موټر کي هوا خورا یخه وه او کله چي وروختو په پوسته کي یې تذکیره ایسته کړل، بله یې کښېښول او بیرته پر خپله لاره باندي رهي شوو.

لسم فصل

په ساحوي روغتون کي راته وویل شول، چي غرمه مي لیدو ته یو څوک راځي. په همدې ورځ په کوټه کي د ګرمۍ سربېره د مچانو له لاسه هم طاقت نه کیده. په کوټه کي ناست خادم یو کاغذ راواخیست، تار تار یې کړ او بیا یې له هغه څخه د مګس پران کار اخیست. مچان له ده څخه وتښتېدل او د کوټې پر چت کښېناستل، خو شیبه وروسته پر خادم خوب غلبه وکړل، بیده شو. مچانو ته هم وخت په لاس ورغلی او راکښته شول، پر ما راټول شول هڅه مي وکړل چي له ځانه یې وشړم، خو نتیجه یې ورنه کړل ستړی شوم، په همدې ستړیا کي پر ما هم خوب غالبه شو او بیده شوم. کله چي راپاڅېدم ډیره ګرمي وه او پښې مي هم کا کول. پر خادم مي ږغ وکړ، هغه راپاڅید او د پټۍ له پاسه یې اوبه توی کړې. له دې سره مي کټ لوند او ښه یخ شو. په وارډ کي ټول ویښ خلک، یو له بله سره په باندار اخته ول. غرمه مهال به ښه بې غمه بې غمې وه. خو سهار به درې نرسان له یوه ډاکټر سره په نوبت وه هر یوه ناروغ ته ورتلل. هغه به یې وه پټۍ ځای ته وړی، د زخمونو له پټۍ کولو وروسته چي به راستون شو نو بستر به ښه پاک او منظم شوی وو. دا چنداني ښه سفر نه وو، خو زه تر پایه پوه نه شوم چي څوک په خپله بستره کي پروت وي دا هر څه نه شي کیدای؟ په هر حال زموږ تر راستنېدا پوري به خادم هر څه منظم کړي ول. پر کټ له کښېنستو سره به مي بدن یخ یخ شو. د خادم سره په خبرو بوخت وم، چي ډاکټر له رینالډي سره یو ځای کوټې ته راننوت. رینالډي په بیړه زما لور ته راټېر شو، خم شو او ښکل یې کړم. دستکلي یې په لاسو کړي وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

“څنګه يي ګرانه؟ صحت دي څنګه دی؟ ما وه تا ته دغه راوړي دي”. په لاس کي يې د کوګناک يو وړوکی بوتل وو. خادم يوه چوکۍ راوړل او دی پرې کښېناست ”يو ډير ښه خبر! هغه دا چي تا ته به د سپينو زرو مډال درکول شي. د برونزو د مډال شونتيا هم شته”.

“د څه لپاره؟”

“ځکه چي، ته سخت زخمي شوې. دوی وايي که ته ثابته کړې، چي تا کارنامه کړي ده، کيدای شي تا ته د سپينوزرو مډال درکړي، که نه نو بيا د برونزو مډال درکوي. هر څه په تفصيل سره راته ووايه. يوه کارنامه دي وکړل؟”
ما ورته وويل “نه. موږ د پنير په خوړلو اخته وو، چي يو ناڅاپه هوا ته پورته شوو”.
“جدي شه. تا به خامخا يوه کارنامه کړي وي. وړاندي يا وروسته. پر ذهن فشار راوله”.

“نه. ما داسي کوم عمل نه دی کړی”.
“تا پرخپله شا باندي څوک نه دی وړی؟ ګورديني وايي چي تا څو نفره پر خپله شا باندي انتقال کړل. خو په لمړی پوسته کي، ميډيکل جګړن وايي، دا کار ناشونی دی. هماغه بايد همدا پيشنهاد تصديق کړي”.

“ما څوک پر شا نه دی انتقال کړی. زه خپل د حرکت او خوځښت نه وم”.

ريناليډي “پروا نه لري”.

له لاسونو څخه يې دستکشې ايسته کړې.

“زما په نظر زه به وکولای شم چي له دوی څخه ستا لپاره د سپينو زرو مډال درواخلم. ته خوښ نه يې چي له نورو وړاندي ستا درملنه وشي؟”
“نه، بيا هم نه”.
“هيڅ خبره نه ده. خپلو زخمو ته دې وګوره. خپلي وياړلي قوماندې ته دي وګوره. او له دې ورهاخوا ستاسي عمليات برياليي هم ول”.

“هغوی له سينده پورېوتل؟”
“په بشپړ ډول. نژدې زر نفره بنديان يي له ځان سره راوستل. په خبرونو کي شته. تا نه دي ليدلي؟”

“نه”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"زه به يې درته راوړم. په هرصورت دا باید ووایم چې یوه بریالۍ حمله وه".

"اوس حالات څنګه دي؟"

"ډیر ښه دي. موږ ټوله ښه یو. موږ ټول په تا ویاړو. ښه ته ما ته دا ووایه چې دا هرڅه، څه ډول پېښ شول؟ زه خوشبین یم چې ته به د سپینوزرو مډال ګټې. ښه، ادامه ورکړه. ټوله پېښه ټکي په ټکي راته واوره وه". شیبه يې فکر وکړ او بیا يې وویل "کیدای شي یو بریتانوی مډال هم وګټې. هلته یو بریتانوی هم شته. زه ځم ورسره وینم چې تا ته یو تصدیق درکړي. کیدای شي چې یو څه وشي. درد شدید دی؟ یوڅه څیښاک به نوش جان کړو. خادمه، تاسي ورشئ کیلۍ[10] راوړئ. اوه، کاشکي ته هم واي چې ما له یوه نفر څخه درې متره وړوکې کولمه په عملیاتو کې پرې کړل. هغه ناروغ اوس تر پخوا ډیر ښه دی. دغه یو مضمون د "لانسیټ". مجلې لپاره دی. ته به يې ما ته وژباړې. له هغه وروسته به يې زه د خپرولو لپاره وه لانسیټ مجلې ته ورولیږم. زما تجربه ورځ په ورځ پرمختګ کوي. بیچاره، ته څنګه يې؟ دا کیلۍ بدبخته چیرې ده؟ ته ډیر زړور او صابر يې. زما خو ستا درد بیخي له یاده ووت". خپلې دستکلې يې راواخیستې او د کټ پر څنډه بې ووهلې. خادم "ښاغلی بریدمنه کیلۍ حاضره ده".

"بوتل خلاص کړه. یو ګیلاس راوړه. واخله ګرانه دغه ګیلاس پرسر پورته کړه. سر بیچاره دې څنګه دی؟ ما ستا اسناد وکتل. کوم کسر نه لري. په هغه لمړی پوسته کې چې کوم جګړن دی، هغه بیخي یو عجبه غوندې قصاب دی. که چیرې ما ته عملیات کړي وای، هیڅ به راسره په تکلیف شوی نه وای. ما تر اوسه هیڅوک نه دې په تکلیف کړي. زه د عملیاتو په طریقه ډېر ښه پوهیږم. په دې کار کې زما تجربه ورځ په ورځ وړاندې ځي. خو ته باید ما ته زما د ډیرو خبرو له امله بخښنه وکړې. کله چې ستا له سخت ژوبلېدو نه خبر شوم، ډیر خواشینی شوم. واخله دغه ښکلی ګیلاس پر سر پورته کړه. د دې بیه پنځلس لیرې ده. باید ښه وي ځکه پنځه ستوریزه دي. زموږ له مجلس وروسته سیده وه بریتانوي ته ورځم، چې ستا لپاره مډال ترې واخلم".

"د مډال ورکول او اخیستل دومره اسانه هم نه ده لکه ته چې فکر کوې".

"ته ډیر شرمیدوکی يې. زه ورځم یو ژباړن راولم. هغه له بریتانویانو سره په ژبه ښه پوهیږي".

[10] هغه اله چې د بوتلانو خولپوټی یا هم سرپوښ ورباندې خلاصوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

"له مس بارکلي سره دي لیدلي؟"

"هغه به دلته راولم. زه به همدا اوس پسي ورشم".
ما ورته وویل "نه. مه پسي ورځه. د ګوریزیا په اړه راته ووایه، نجونې پر کوم خیال دي؟"
"نجونې نشته. دوې اونۍ کیږي چي تبدیلي کړي یې نه دي. زه اوس هلته نه ځم. چنداني ځای نه دی. هغوی هیڅ د نجونو په څېر نه دي. داسي دي، لکه د جنګ پخواني ملګري".

"ته ګردسره نه ورځې؟"
"یوازي د یوه نوي شي په طمعه ورځم. سم له ورتلو سره ټولې درباندي راجمعه شي. دا بیخي شرم دی چي له یو چا سره دومره پاتي شې، تر څو هغوی ستا د ملګرو په څېر شي".

"کیدای شي، نجونې د جګړې لمړۍ کرښي ته راتګ نه غواړي".

"ولي نه. ډیري نجونې شته. خو دا اوسنۍ حالت د یوې خرابي رهبرۍ له لاسه دی. هغوی یې یوازي وه شا ته د خزه والو د خوښۍ لپاره ساتلي".

ما ورته وویل "بیچاره رینالډي. په جګړه کي ټوله، خو له زړو نجونو سره".
رینالډي خپل ځانته یو بل ګیلاس کوګناک واچاوه.
"فکر نه کوم چي کوګناک دي ستا د صحت لپاره مضر وي. در ویې نیسه".

یو بل ګیلاس مي هم وڅیښه. معدې ته تر تګ پوري مي یې تودواله حس کړل. رینالډي ځانته یو بل ګیلاس واچاوه. اوس د پخوا په نسبت غلی وو. ګیلاس یې پورته کړ."ستا د توریالیو زخمونو د شفا لپاره! د سپینو زرو د مډال په ویاړ! خوارکی، بیچاره. ته ما ته دا ووایه ته چي تل په دې ګرمه هوا کي پروت یې، غصه نه درځي؟"
"ځیني وختونه".

"زه خو په دغسي ځای کي د پروتي تصور لا نه شم کولای. زه به لیونی شم".
ما ورته وویل "ته خو اوس هم لیونی یې".

"هیله من یم چي روغ او صحت مند له خیره راشي. اوس د شپې له خوا څوک نه وي، چي د زړه خواله ورسره وکړم. هیڅوک نشته، چي باندار ورسره وکړم. څوک نشته چي پیسې په قرض راکړي او په وینه شریک ورور او هم کوټه ملګری هم راسره نشته. ولي دي ځان زخمي کړ؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

"پادري مه پرېږده، هغه راتينګ کړه".

"پادري؟ زه له هغه سره ټوکې نه کوم. هغه خو تورن دی چې پادري ځوروي. پر ما خپله پادر ګران دی. که څوک د يو پادري ارمان لري، نو همدا پادري سم دی. نيت يې کړی، چې ستا پوښتنې ته راشي، خورا په تياريو بوخت دی".
"پر ماخپله ګران دی".
"اوه، زه پوهيږم. ځيني وختونه فکر کوم چې ته او هغه، يو څه هغه بل ډول واست! ته خو پوهيږې".

"نه، ته نه پوهيږې".
"هو، ځيني وختونه. داسي لکه د بريګاټا انکونا د لمړي غونډ".

"اوه، ورک شه".

پاڅېد او دستکلې يې په لاسو کړې.

"اوه، ما ته ستا، پادري او ستا د انګليسۍ ملګرې ځورول خوند راکوي او ته په باطن کي خاص زما په څېر يې".

"نه. زه ستا په څېر نه يم".
"هو. موږ يو شان يو. ته په حقيقت کي يو ايټالوی يې. اور او دود زيات دي، خو هغه پروا نه لري. ته يوازې ځان امريکايي ګڼه. موږ ورونه يو او يو له بل سره مينه لرو".
ما ورته وويل "زما په نه موجوديت کي پر ځان پام کوه".

"زه مس بارکلې راليږم. چې زه نه يم، ښه باندار به وکړئ. ته ډېر ښه او خوږ يې".
"اوه، ځه ورک شه".

"زه به هغه راوليږم. ستا ښکلې او بريتانوی الهه درته راليږم. زما خدايه سړی به د ښځو له لمانځلو پرته بل څه کوي؟ بېله هغه هم انګليسۍ ميرمنې بل د څه لپاره دي؟"

"ځه ورک شه، بدخولې ايټالويه".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"څه شي؟"
"بد، ایټالوی احمق".
"بد ایټالوی، بد امریکایي........ بې ډوله".

"ته ناپوه او جاهل". پوه شوم چې دې خبرې اغېز پرې وکړ. خبره مې وغځول."جاهله، بیکاره او ناپوه".
"رینیتیا؟ ښه نو اوس به زه تا ته ستا د ښو میرمنو او ستا د الهه په اړه یو څه ووایم. د دوی تر منځ یوازې یو توپیر شته. هغه دا چې له یوې نجلۍ سره ټول وخت تېرول ما په تکلیفوي، همدا هغه څه وه چې زه پرې پوهېږم". شیبه وروسته یې په لاس کې نیولې دستکلې له کټه ووهلې.

"سمه ده. اوس غصه مه کوه".

رینالډي "زه په غصه نه یم. دا هرڅه زه ستا د ښېګڼې لپاره وایم، چې تا له راتلونکو ستونزو وژغورم".
"ته ډېر ښه یې".

"موږ جګړه نه کوو. راباندې ګران یې، خو ته نه باید دومره بې عقل شې".
"سمه ده. زه به هم ستا په څېر له ځان څخه نابغه جوړ کړم".

"ګرانه، مه په غصه کېږه. وخانده. یو څه وڅیښه. نور نو باید ولاړشم".

"ته ډیر ښه هلک یې".

"اوس دې عقل سر ته راغلی. موږ په باطن کې یو شان یو. وروڼه یو. ښکل مې کړه او د خدای په امان".
"ته ډیر رزیل یې".
"نه. داسې نه ده. ته پر ما ډېر ګران یې".

د ده ساه مې حس کړل چې زما وه لور ته راتېره شول. "د خدای په امان. ملاقات ته دې بیا له خیره راځم". ساه یې کرار راڅخه لیرې شول. "که دې خوښه نه وي، نه دې ښکلوم. بریتانوي نجلۍ دې درته رالیږم. ګرانه د خداي په امان. د کوګناک بوتل تر کټ لاندې دی، ژر جوړ شه، سمه ده".

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیبه وروسته رینالډي ولاړ.

یوولسم فصل

نژدې ماښام وو چي پادري راغلی. د روغتون خادم سوپ راوړی وو، لوښي یې هم بیرته وړي ول. په کټ کي پروت وم او په وارډ کي پرتو کټانو او دباندي مي د ونو وه سرونو ته چي د ماښام نري شمال ښورول، کتل. د نري شمال یوه څپه کوټې ته هم راغلل، له دې سره هوا یخه او ښکلې شول. په چت کي پر لګېدلو ګروپانو باندي مچان راټوله شوي ول.
ګروپان به یې هغه وخت لګول، چي یا به یې څوک کوټې رادننه کړ او یا به یو چا دلته کار درلود. د تره غوني له راتلو او بیا یې له دوامداره کیدو سره به د ورکوټوالي احساس راته ورېد. شپه به دومره اوږده شول، لکه څوک چي د ماښام ډوډۍ وختي وخوري او سمدستي بیده شي. خادم د کټانو له مینځه راتېر شو او ما ته نژدې ودرید. له ده سره یو بل څوک هم ورسره وو. هغه ته چي ځیر شوم، پادري وو. وړوکی، خړرنګه او ننوتی ښکاریده.

پادري "څنګه یې؟" زما تر کټ لاندي یې یو څه شیان کښېښوول.

"شکر دی جوړ او روغ یم، پلاره".

پر هغه چوکۍ، چي د ریناډي لپاره یې راوړي وه کښېناست او په شرمیدلي بڼه یې د کړکۍ لور ته وکتل. د څېرې له ګونجو څخه یې پوه شوم چي ستړی دی.

پادري "راباندي ناوخته دی، یوازي د یو څو شېبو لپاره تم کیدای شم".

"ډېر وخت پاتې دی. د خوړنځای ملګري څنګه دي؟"

له دې خبرې سره مسکی شو "زه اوس هم د دوی د ټوکو یو ښه مضمون یم". د خبرو له انداز څخه یې پوه شوم چي ستړی دی "د خدای شکر دی، ټول ښه دي".

شیبه وروسته یې وویل "ډېر خوشاله شوم، چي تاسي په یوه ښه حالت کي وینم. خدای مهربان دی ژر به له خیره ښه شې". دی ډېر ستړی ښکاریده، زه د ده په دې ډول لیدو باندي عادت نه وم.
"هو. اوس د په خوا په نسبت ښه یم".
پادري "په خوړنځای کي دي تشه محسوسیږي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وويل "کاشکي زه هم هلته واي. ستا سره مجلس ډېر خوند راکوي".
پادري "يو څو ناڅېزه شيان مي درته راوړي". غوټې يې راپورته کړې "يوه پشه خانه ده. دا يو بوتل ورموت دی. ورموت دي خوښېږي؟ او دا هم انګريزۍ ورځپاڼې".

"مهرباني وکړه، خلاص يې کړئ".

طبعيت يې برحاله شو او خلاص يې کړل. پشه خانه مي راپورته کړه، د ورموت بوتل يې ما ته د ښودلو په نيت په لاس کي نيولی وو. شيبه وروسته يې بيرته پر مځکه کښېښود. ما يو بنډل انګليسۍ ورځپاڼې راپورته کړې. د کړکۍ له لوري په راتلونکي رڼا کي مي د ورځپاڼو غټ سرليکونه لوستلای شوای. د نيوز اف د ورلډ ورځپاڼه وه.

"تصويري ورځپاڼې هم پکښې شته".

"په لوستلو ارزي. دا دي له کومه کړې؟"
"له ميسترې څخه مي راوړې. زه به د ځان لپاره نوري رانيسم".
"پلاره، زما پوښتنې ته ستاسي راتګ، خو زه تر احسان لاندي راوستم. له ورموت سره څنګه يې؟"

"مننه. هغه له ځان سره وساته. هغه مي ستا لپاره راوړی".
"نه، يو ګيلاس ښه دی".

"سمه ده. ستا لپاره به بيا زه نور راوړم".

خادم ګيلاسونه راوړل او بوتل يې خلاص کړ. د بوتل خولپوټی يې ترې ايسته کړ. پادري ته مي پام شو، د ناخوښۍ نښې يې پر څېره ښکاره شوې "ښه دی پروا نه لري".

"ستا د روغتيا په هيله، پلاره".

"ستا د لا ښې روغتيا په هيله".

بيا يې ګيلاس راپورته کړ او يو بل ته مو وکتل. ګړی ګړی به مو خبرې کولې او ښه ملګري وو، البته نن شپه نه.

" نن ډېر ستړی ښکارې، څه خبره ده؟"

"هو ستړی يم. خو حق يي نه لرم چي ستړی وه اوسم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"هوا هم گرمه ده".
پادري "نه، اوس خو پسرلی دی. یخ مي کیږي".

ما ورته وویل "نو بیا له جګړې څخه د نفرت په مرض اخته شوی یې".

پادري "نه داسي خبره نه ده. البته جګړه مي ښه نه ایسي".

"زه هم خوند نه ځیني اخلم". سر یي وښوراوه او له کړکۍ څخه یې دباندي وکتل.
"ته مه خپه کیږه. اوس د جګړې په ډګر کي نه یې. زما معذورت باید ومنې. او په دې هم خبر او پوه یم چي ژوبل شوی یې".
"دا هر څه یو تصادف او یوه پیښه وه".

"ژوبل شوی یې، خو بیا هم د جګړې له آره ناخبره یې. زه درته وایم، زه خپله په جګړه ناخبره یم، خو لږ لږ یې په تصور کي احساسوم".
ما ورته وویل "وړاندې تر دې چي ژوبل شم، بانډار مو کاوه. پر جګړه مو خبرې کولې او نوبت هم د پاسیني وو".

پادري ګیلاس لاندي کښېښود او فکر یووړ.

پادري "زه هغوی پیژنم، ځکه زه هم د هغوی په څېر یم".

"بیا هم له هغوی سره توپیر لرې".

"خو په واقعیت کي زه هم د هغوی په څېر یم".
"مشران هم د جګړې له آره ناخبره دي".
"ځیني یې پوهیږي. ځیني یې ډېر حساس او تر موږ زیات په پوهیږي".

"خو بیا هم ډېری یې توپیر سره لري".
"خبره د پیسو یا علم نه ده. خبره په یوه بل شي کي ده. د پاسیني په څېر خلک که پیسي یا علم هم ولري، بیا یې هم زړه نه غواړي، چي مشر یا هم افسران شي. زه خپله نه غواړم چي افسر شم".

"ستا رتبه او زما رتبه، خو د افسرۍ ده".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"زه نه يم. ته اصلاً ایټالوی نه يې. ته يو بهرنی يې. خو بيا هم وه افسرانو ته تر خلګو نژدې يې".

"توپير يې په څه کي دی؟"
"زه يې توپير په اسانۍ سره نه شم بيانولای. په دې نړۍ کي داسي خلک هم شته چي جګړه غواړي او کوي يې او دغه ملک هم په استثنا کي نه دی. البته داسي خلک هم شته، چي د زړه له تله جګړه نه غواړي".

" داسي خلک هم شته چي نور خلک، وه جګړې کولو ته اړ باسي".

" همداسي ده".
"او زه له هغوی سره مرسته کوم".

"ته يو بهرنی يې. له دې سره په ځنګ کي يو هيوادپال هم".

"او هغه څوک چي جګړه نه غواړي هغه څنګه؟ دوی نه شي کولای چي جګړه بنده کړي؟"

"نه پوهيږم".

پادري کړکۍ ته او ما د ده وه څېرې ته وکتل.

" ايا دوی تر اوسه په دې نه دي توانيدلي چي جګړه بنده کړي؟"
"دوی تراوسه د جګړې د بندولو قابل شوي نه دي، خو کله چي بيا د جګړې د بندولو شي، نو وړاندي تر دې چي يو څه وکړي، د دوی مشران يې وپلوري".

"نو بيا خو وضعيت او حالات خورا مايوسونکي دي؟"
"حالات مايوسونکي نه دي. خو ځيني وختونه زه هم ناامیده شم. تل هڅه کوم چي هيله مند اوسم، خو ځيني وختونه مي تر واک ووزي".

"اميد شته، چي جګړه دي بنده شي".

"زه هم په همدې هيله يم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

پادري "له جګړې وروسته به څه کوې؟"
ما ورته وویل "که چیري ممکنه شول، نو ابروزي[11] ته به ولاړ شم".

خړرنګه څېره یې یو دم له خوښۍ څخه وځلېدل.
"ستا ابروزي خوښه ده!"

"هو، ابروزي مې ډېره خوښه ده".
پادري "نو بیا باید خامخا هلته ولاړ شې، خوند به وکړې. که چیري هلته ژوند وکړم، د خداې په عبادت او تابعداري مشغوله شم".

"او عزت دې وشي".

"هو. عزت به مو کیږي. ولې؟"
"د ولې جواب دې نه لرم، خو باید عزت مو وشي".
"کومه خبره نه ده، خو زموږ په سیمه کې پر خدای عقېده، باور او له هغه سره مینه درلودل، ډېر مهم دي او دا خبرې ټوکې نه دي!"

"سر مې خلاص شو".

پادري راته وکتل او مسک شو.
"ته پوه شوې، خو له خدای سره مینه نه لرې".

"نه".

پادري پوښتنه وکړل "ستا ورسره هیڅ مینه نشته؟"

"زه ځیني وختونه د شپې له خوا ترې بیریږم".
"ته باید ورسره مینه ولرې".
"ډیره مینه ورسره نه لرم".

"البته مینه ورسره لرې او کومه خبره چې د شپې اړوند تا وکړل، هغه مینه نه ده، هغه یوازې غوښتنه او خواهش دی. کله چې ته له چا سره مینه ولرې، د هغه لپاره بیا یو څه هم

---

[11] ابروزي ؛ په ایټالیا کې ده یوه ښار نوم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوې. ستا هیله وي چي ځان ورته قرباني کړې او خوشاله يې چي خدمت ورته وکړې”.
“زه مینه نه ورسره لرم”.

“ته به مینه ورسره پیداکړې. زه پوهیږم چي همداسي به کیږي، بیا به نو ته خوشاله شې”.

“زه خوشاله یم، زه تل خوشاله یم”.

“دا خوشالي نه ده، بل څه دي. تر څو چي پوه نه شې درک کولای يې هم نه شې”.
ما ورته وویل “سمه ده. هر وخت چي مي يې بیا مزه وڅکل، بیا درته وایم”.
پادري وویل “ډېر وخت مي درسره تېر کړ او ډېر بانډار مو هم وکړ”. دی ډیر وارخطا وو، لکه په ریښتیا چي ورباندي ناوخته شوی وي.

“نه، مه ځه. ستا په نظر له ښځي سره مینه څنګه کار دی؟ که زه په ریښتیا سره له یوې ښځي سره مینه ولرم، هغه به هم همداسي وي”.
“په دې اړه نه پوهیږم. ما تراوسه له کومي ښځي سره مینه نه ده کړې”.

“د مور په اړه څه وایې؟”

“بلي، زما په شمول هر يو باید له مور سره مینه ولري”.

“ته تل له الهه سره مینه لرې؟”
“له پیدایښته نیولې تراوسه مینه ورسره لرم”.
ما ورته وویل “ښه.” نه پوهېدم چي په جواب کي يې څه ووایم ”تاسي ډیر ښه هلک یاست”.

پادري “زه هلک یم؟! خو تا ما ته په پلار خطاب کاوه”.
“ستا د احترام په خاطر مي درته ویل”.

مسکی شو.

“اوس نو زما د تګ وخت په ریښتیا هم رارسیدلی”. بیا يې په هیله منده لهجه وویل ”له ما څخه خو کوم شی نه غواړې؟”

“نه، خو یو شی درڅخه غواړم، هغه هم مجلس”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

“ستا سلامونه به د خوړنځای تر ملګرو پوري ورسوم”.
ما ورته وویل “ستا له ډیرو او ښکلو تحفو څخه زیاته مننه”.
پادري “هیڅ خبره نه ده”.

“وه لیدو ته مي، بیا له خیره راشه”.
“سمه ده. د اوس لپاره د خدای په امان”. پر اوږه یې لاس راکښېښود.

ما پخپله لهجه کي ورته وویل “تر بیا دي پر خدای سپارم”.

ده راغبرګه کړل”Ciaou”.

په کوټه کي تیاره وه، له کټ سره ناست خادم، پاڅېد او له ده سره بهر ولاړ. دی راباندي ګران وو او دا ارمان مي درلود، چي یوه ورځ به خپل کلي، ابروزي ته ځي. په خوړنځای کي به ملګرو دی ډېر ځوراوه، خو ده به حوصله ورته کول، زه به ځیني وختونه فکر یووړم، چي په کلي کي به یې ژوند څه ډول وو؟ د مجلس په بهیر کي یې راته ویلي ول، چي د کاپراکوټا[12] په څنډو کي ګنې ویالې شته، چي تراوټ[13] په زیاته کچه پکښې پیداکیږي. په شپه کي چا ته د شپېلی ږغولو اجازه نه وه، البته په شپه کي د مجنون او لیلا تر مینځ په راز و نیاز کي یوازي شپېلی ممنوع وه. ما ورته وویل ولې؟ پادري “ځکه چي په شپه کي د نجونو لپاره د شپېلی اورېدل ښه نه دي”. د خبرو په ترڅ کي یې دا هم راته وویل چي کله د دوی په کلي کي کلیوال له سیاح سره مخ شي، خولۍ له سره ایسته کړي او د (مشر) خطاب ورکوي. د ده پلار به هره ورځ ښکار کاوه او ډوډۍ به یې له کلیوالو سره خوړل. کلیوال به په دې کار ډېر خوشحالیدل. دلته د ښکار لپاره یو سند ته اړتیا وه، چي دا یې ثابتولای چي ته نه یې بندي شوی. په (ګران ساسو دي ایټالیا) کي خرسان هم پیدا کیدل، خو هغه ځای ډیر لیري وو. اکوایلا هم ښکلی ښار وو، د ګرمۍ په موسم کي به یې د شپې له خوا هوا ډیره یخه وه او د ابروزي چینه بیا په ټوله ایټالیا کي بې ساري وه. په مني کي د شاه بلوط د ونو په ځنګله کي ښکار ډیر ښه خوند کاوه. د دې ځنګله مرغان به ډېر ښکلي ول، ځکه خوراکه یې انګور ول. د ښکار پر مهال څوک اړ نه وو، چي ډوډۍ له ځانه سره یو سي، ځکه کلیوال ډېر مېلمه پال خلک ول او په مېلمنو ډېر خوشالېدل. ګړی وروسته بیده شوم.

---

[12] په ایټالیا کي یو ښار دی
[13] تراوټ یو ډول ماهی دی چي په اروپا او شمالي امریکا کي په پراخه کچه پیداکیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دولسم فصل

کوټه ډېره پراخه وه. په راسته اړخ کي يې کړکۍ او په پای کي يې دروازه وه، چي پټۍ ځای ته ورخلاصيدل. په کوم قطار کي، چي زما کټ پروت وو، هغه د کړکۍ پر مخامخ وو. بل قطار تر کړکۍ لاندي، د ديوال سره په څنګ کي پروت وو. زموږ قطار داسي وو که به پر چپ اړخ پرېوتي نو پټۍ ځای دي ليدلای شوای. په پای کي يوه بله دروازه هم وه، چي ځيني وختونه به تګ راتګ پرې کېده. که به د يو چا ځګندن وو، نو پر کټ به يې پرده راچاپېره کړل، چي څوک يې ونه ويني، يوازي به د ډاکټرانو و نرسانو بوټونه او د دوی ګلګل معلومېدل. ځيني وختونه به دوی په خپل مينځ کي په پسپسکو شول. شيبه وروسته به پادري له پردې راووت، ورپسې به نرسان راووتل، مړی به يې په ټوکرانو کي پيچلی راوايست او زموږ مخي ته به يې تېر او له هغه وروسته به يې دباندي يووړ.

د هماغي ورځې په سهار د وارډ مسؤل جګړن پوښتنه راڅخه وکړل "سفر کولای شې؟" ما د هو په دود ورته سر وښوراوه. ده وويل سبا سهار وختي به دي له دې ځايه نقل مکان کړو. په وروستيو کي يې دا هم راته وويل چي هر څومره وختي وي ښه دی ځکه چي د هوا ګرمېدو شونتيا هم شته.

پټۍ ځای ته چي به تلو تر کړکۍ لاندي به مي په باغچه کي هدېرې ته کتل، چي څو نوي قبرونه به پکښې زيات شوي ول. هماالته د باغچې په دروازه کي به يو عسکر ناست وو او صليبونه به يې جوړول. د دفن شوي کس نوم، رتبه او د غونډ نوم به يې پر همدې صليب کښل. همدا عسکر په عين حال کي د وارډ پياده هم وو. په خپل فارغه وخت کي به يې وه ما ته د اتريشي مرميو او تولکو څخه ښکلی د سګريټو لايټر جوړاوه. ډاکټران ډېر خوش اخلاقه او قابل ښکاريدل. دوی غوښتل چي ما وه ميلان ته وليږي، ځکه چي هلته د اکسرې ماشين او تر عملياتو وروسته د ميکانو ترافي[14] سهوليات هم وو. زما هم خوښه وه، چي ميلان ته ولاړ شم. دوی هم غوښتل چي موږ ښه ليري وليږي، ځکه چي حمله شروع کيدونکې وه او د دوی هم کټونه او بسترې په کار وې.

زما له تګه يوه شپه وړاندي ريناالدي او زموږ د خوړنځای ملګری، جګړن زما پوښتني ته راغلل. په خبرو خبرو کي د دوی له خولې خبر شوم، چي په ميلان کي به مي يوه نوي جوړ شوي امريکايي روغتون ته وليږي. ټاکل شوي وه چي ځيني امريکايي امبولانسونه هم د جګړې ميدان ته واستول شي، تر څو د هغو امريکايانو چي په ايټاليا کي داخل خدمت دي

---

[14] ميکانو ترافي يوه فزيکي عمليه ده چي رنځور د ځينو خاصو حرکاتو په اجرا کولو سره ژر صحت پيداکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځارنه او پالنه وکړي. ګڼ شمېر امریکایانو له سره صلیب سره کار کاوه. امریکا د جرمني په وړاندې جګړه اعلان کړې وه خو تراوسه یې لا اتریش ته د جګړې اعلان کړی نه وو.

ایټالویان خوشبینه ول، چې امریکا به د اتریش په وړاندې هم جګړه اعلان کړي، دوی په عین حال کې په امریکایانو خوشاله ول، چې له دوی سره یو ځای کیږي آن په سره صلیب کې هم. دوی زما څخه پوښتنه وکړل چې امریکا به د اتریش په وړاندې کله د جګړې اعلان وکړي؟ دوی ته مې وویل بس، په یو څو ورځو کې به یې د هغوی پر وړاندې هم اعلان کړي. نه پوهیدم چې موږ له اتریش سره کومه دښمني لرو؟ خو زما په نظر دا منطقي ښکاریدل چې که د جرمني په وړاندې جګړه اعلان شي، نو بیا خو د اتریش پر وړاندې هم باید د جګړې اعلان وشي[15]. د ترکیې په اړه یې پوښتنه راڅخه وکړل، امریکا به د ترکیې په وړاندې کله جګړه اعلان کړي؟ ما ورته په جواب کې وویل، په دې اړه شکمن یم، ځکه چې ترکیه[16] زموږ ملي مرغه دی. دې ټوکې بد تاثیر پرې وکړ او ګنګس یې کړل. زه یې دې ته اړ کړم، چې (هو) ورته ووایم. او د بلغاریا په اړه؟ د برانډي د څو پرلپسې ګیلاسو له څیښلو وروسته مې ورته وویل، هو که خدای کول نه یوازې د بلغاریا په وړاندې به جګړه اعلان شي، بلکې د جاپان پر وړاندې به هم د جګړې اعلان وکړو. دوی راته وویل چې جاپان خو د انګلیستان متحد دی، هیڅوک باید پر دې لاکتابه انګرېزانو اعتبار ونه کړي. ما ورته وویل جاپانیان (هاوایي) غواړي، اوس بیا (هاوایي) چیري وه؟ په پاسفیک سمندر کې. جاپانیان ولې هاوایي غواړي؟ ما ورته وویل جاپانیان اصلاً هاوایي نه غواړي، دا محض اوازې دي. جاپانیان ښکلي کوتاه قده خلک دي او د رقص و شرابو شوقیان دي. جګړن وویل "لکه فرانسویان". ریناڵډي "موږ به د فرانسویانو څخه، نیس، ساویا، کورسیکا او د ادریاتیک بحر ټول سواحل له خیره؛ ونیسو". جګړن "ایټالیا، به که خدای کول؛ بیرته خپل پخواني عظمت او شان و شوکت ته ستنه شي". ما ورته وویل "زما د ایټالیا پلازمینه، روم نه دی خوښ. ډېر ګرم او مچان پکښې ډېر وي. ستا روم خوښ دی؟" جګړن "هو. روم زما د خوښې ښار دی. په ام البلاد باندې یادیږي. د رومولوس تی رودل له تیبر څخه به مې هیڅکله له یاده ونه وزي". ما ورته وویل "څه دې وویل؟" جګړن "هیڅ نه. راځئ ټول روم ته ولاړ شو. راځئ همدا نن شپه روم ته ولاړ شو او بیا به هیڅکله نه راځو. روم ډېر ښکلی ښار دی". ما ورته وویل "د ملتونو مور او پلار". ریناڵډي وویل "روم خو مونث دی، له دې امله روم پلار کیدای نه شي، نو بیا پلار څوک دی؟ روح القدس؟" جګړن ریناڵډي

---

[15] اتریش او جرمنی په نړیواله جګړه کې سره ملګري وه او د متحدینو پر ضد یې جګړه کول یعنې امریکا، روسیه انګلستان .....

[16] په انګلیسي کې ترکیه په ۲معناو باندې راځي.۱ترکیه(هیواد)۲ ترکیه(مرغه، چې په پښتو کې ورته فیل مرغ)وایي. د دوی هدف هیواد وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخاطب کړ "چټيات مه وايه". رينالډي ورته وويل "چټيات نه وايم. ما يوازي د معلوماتو د زياتوالي له امله پوښتنه وکړل. ګرانه نشه دي کړم. چا نشه کړم؟" جګړن وويل" ما نشه کړې، ځکه له تا سره مينه لرم او ځکه چي امريکا هم په جګړه کي ورګډه شول". ما ورته وويل "هو". رينالډي وويل "ته خو سبا له خيره د دې ځای څخه ځې". ما ورته وويل "هو. له دې ښاره له خيره ځم، خو روم ته نه، بلکي وه ميلان ته". جګړن وويل "وه ميلان، کريستال پالاس، کووا، کامپاري بيفي، ګالريا دې ټولو ځايو ته ولاړ شه. ته ډير بختور يې". ما ورته وويل "ګران ايټاليا هوټل ته هم ځم. هلته به زه له جورج څخه پيسې په پور واخلم". رينالډي وويل "سکالا ته هم ولاړ شه ". رينالډي ته مي وويل "هره شپه، به سکالا ته ځم". جګړن وويل "دومره پيسې نشته، چي هره شپه سکالا ته ولاړ شې".

دوی ته مې وويل"د هغه ځای ټکټونه ډير ګران دي. زه به زما د نيکه له خوا راليږل شوې، حواله له بانکه راوباسم". "څه شي راباسې؟" ما ورته وويل"حواله. نيکه به مي يا پيسې راکوي يا به زندان ته ځم. زما د حوالې کارونه ښاغلی کننګهم کوي. که ريښتيا درته ووايم، زه خپل ژوند د حوالو په وسيله کوم. ايا يو نيکه خپل هغه هيوادپال لمسی، چي د ايټاليا د بقا لپاره جنګيږي، بندي کولای شي؟" رينالډي وويل"ژوندی دي وي، امريکايي ګريبالډي!" ما ورغبرګه کړل "حواله دي ژوندۍ وي!" جګړن وويل "شورماشور بند دئ. څو ځلي يې غوښتنه راڅخه وکړل، چي ورو ورو خبرې وکړو. په هرصورت، ته ريښتيا هم سبا ځې؟" رينالډي يې په جواب کي وويل"زه درته وايم! دی امريکايي روغتون ته ځي. هغه هم ښکلو نرسانو ته!" جګړن وويل" هو، هو، زه خبر يم چي ته امريکايې روغتون ته ځې. که څوک غواړي چي خپله ږيره غټه کي پروا نه لري. ښاغلې ته ولي ږيره نه پريږدې؟" ما ورته وويل "ضد ګاز ماسک بيا نه شم اغوستلای". جګړن زه مخاطب کړم "ولي نه. هرڅه ورسره کيدای شي. يوځلي خو مي په ماسک کي قی هم وهلی". رينالډي وويل"په لوړ اواز خبرې مه کوه. موږ ټول پوهيږو چي ته يو وخت په جبهه کي وې. اوه، ته ډير ښه کوچنی يې، اوه، که ته ولاړې، زه به څه کوم؟" جګړن وويل"نور نو، موږ ته رخصت راکړه، ځکه ورو ورو احساساتو ته ورداخليږو. غوږ شه تا ته مي يو زيری راوړئ! ستا بريتانوی ملګرې. په ياد دي شول؟ هغه ستا انګليسی ملګرې، چي ته به يې هر ماښام ليدو ته ورتلې. هغه هم ميلان ته ځي. هغه له يوې بلې ملګرې سره يو ځای امريکايي روغتون ته ځي. تراوسه لا امريکايي نرسانې نه دي رارسيدلي. ما نن د دوی له مشر سره خبرې وکړې، په دغه جبهه کي د دوی د نرسانو شمېر زيات دی، ځکه يې نو يو شمېر هلته واستول. څنګه شو دا خبر دي خوښ شو؟ ډير ښه که څنګه؟ ته له بريتانوی نجلۍ سره يوه ستر ښار ته ځې. هلته به ماحول ټوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه ناکه وي. اخ، زه ولي نه زخمي کیدم؟" ما ورته وویل "کیدای شي ته هم زخمي شې." جګړن وویل "د تګ وخت دی. اجازه راکړه. ځېښناک مو وکړ، غالمغال مو وکړ او فریډریکو مو هم وځوراوه." ما ورته وویل "مه ځئ." جګړن "نه موږ باید ولاړ شو. د خدای په امان، ښه بخت ولرې". دوی ته مي وویل "په مخه مو ښه. په مخه مو ښه. په مخه مو ښه". رینالډي ما ته وویل"په میلان کي ډېر و خت مه تېروه. بیرته ژر راشه." رینالډي له خپل عادت سره سم ښکل کړم "اوه، څنګه د لایسول بوی دي ځي. د خدای په امان". جګړن پر اوږه وټکولم. دوی د ګوتو پر سرونو رهي شول او له کوټې ووتل. ځانته مي پام شو، شخت نشه وم، خو ډیر ژر بیده شوم.

سبا سهار وختي د میلان په لور رهي شوو او اته څلویښت ساعته وروسته ورسیدو. چنداني سفر نه وو. په مسترې کي اورګاډي ښه ډیر وخت تم شول. کوچنیان به راتلل او تر سوریانو به یې دننه راکتل. همالته مي یو کوچنی په یو بوتل کوګناک پسي ولیږه، خو هغه بیرته خالي لاس راستون شو، ویل یې یوازي ګراپا شته. د ګراپا د راوړو مي ورته وویل، کله چي بیرته راغلی، پاته پیسې مي وه هغه ته ورکړې. ځان او ګاونډی مي نشه کړ او بیا بیده شوم، تر وایسینزا پوري بیده وم. کله چي راپاڅیدم ستومانه غوندي وم. خو ډېر داسي کسان هم ول، چي حالت یې تر ما خراب وو. له خوب نه چي راپاڅیدم، له ډیري تندې څخه مي طاقت نه کیده. له پټلۍ سره ولاړ عسکر ته مي چي همدلته نژدې ګرځېده د اوبو راوړلو وویل. هغه ولاړ او شیبه وروسته له اوبو سره راستون شو. زما څنګته نفر جورجیتي، چي هغه هم نشه وو راپاڅید، اوبه مي ورکړې، خو ده د څیښلو پر ځای پر ملا توی کړې او بیرته بیده شو. کوم عسکر چي اوبه یې راوړي وې زما څخه یې انعامي پیسې قبولی نه کړې او لا دا چي یو ښه اوبه نارنج یې هم راته راکړ. نارنج مي زبېښه، تلوف مي یې توف کول او هغه عسکر ته مي، چي له یوې باربرې ډبې سره پورته کښته کېده، کتل. شیبه وروسته اورګاډي وخوځېدل او بیا رهي شوو.

## دیارلسم فصل

سبا سهار وختي میلان ته ورسیدو او په منډیې کي یې کښته کړو. وروسته د امریکایي روغتون په امبولانس کي روغتون ته ورغلم. په امبولانس کي په تذکیره کي پروت وم او نه پوهیدم چي د ښار له کومي برخې څخه تیریږو، خو کله چي له امبولانس څخه راکښته شوم، بازار غوندي یو ځای وو. همالته نژدې یوه ساقي خانه خلاصه وه، چي یوه نجلۍ یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

جارو کولو بوخته وه. مامورین د واټو په ابپاشۍ اخته ول او د ګهیځ بوی ترې راته. تذکیره یې لاندي پر مځکه کښېښول، دننه ولاړل او له هاخوا له یوه چوکیدار سره چي خر بریتونه، د چوکیدارۍ خولۍ یې پر سر او لستوني لرونکي کالي یې اغوستي ول، راغلل. تذکیره په لفټ کي نه ځایېدل، نو په مینځ کي یې مشوره وکړل چي ما له تذکیرې پورته کړي او په لفټ کي مي لوړ یوسي او که مي د زینو له لارې د تذکیرې سره، لوړ وخیژوي. د دوی خبرو ته مي غوږ وو، فیصله یې پر دې شول، چي ما به په لفټ کي پورته کوي.

ما ورته وویل "کرار، احتیاط کوئ".

لفټ تنګ وو، پښه مي هم کات وه او بد درد یې کاوه.

ما ورته وویل"زما پښې سیده کړئ".

"نه شي کیدای ښاغلی بریدمنه. ځای تنګ دی". کوم سړي چي دغه جواب یې راکړ، هغه پر ماباندي لاسونه راچاپیره کړي ول او ما د ده پر غاړه باندي لاسونه نیولي وه. د ده ساه، چي پر ما به راتلل د سرو شرابو او هوږې بوی به ترې راته.

یوه بل وویل "ارام اوسه".

"د سپي بچیه، څوک نه دی ارام".

"وایم ارام اوسه". پښو ته ولاړ سړي دا خبره بیا تکرار کړل.

د لفټ دروازې، ته مي کتل چي بنده شول. خادم د څلورم پوړ بټن وواهه او روان شو. خادم اندېښمن ښکارېده. او لفټ هم ورو ورو روان وو.

له هغه سړي څخه، مي چي د خولې یې د هوږې بوی تلی پوښتنه وکړل "درونډ یم؟"

ده وویل "نه". پر تندي یې خولې راایله وې او د ډېرې ستړیا له امله یې خرهارۍ کیده. لفټ همداسي لوړ ولاړ او بیا ودرید. هغه سړي چي زه یې له پښو نیولی وم دروازه خلاصه کړل او ووت. موږ هم وه برنډې ته ور ووتو. دلته مي ګڼې دروازې، چي ژړ دستګیرونه یې درلودل، ولیدې. د دروازې زنګ مو وواهه، خو چا جواب رانه کړ. ګړی وروسته چوپړوال په زینو کي راپورته شو او راغلی.

تذکیره والاو پوښتنه ځیني وکړل "دوی چیري دي؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

چوپړوال "خبر نه یم، کیدای شي لاندي بیده وي".

"ورشه یو څوک راوله".

چوپړوال لمړی زنګ وواهه، دروازه پسي وروټکول. بیا یې دروازه خلاصه کړل او دننه ورننوت. دی له هاخوا له یوې عینکې بوډۍ سره راستون شو. وریښتان یې ایله او نیمه راځوړند وه. د نرسي کالي یې په تن وه.

نرسه "زه نه پوهیږم، زما ایټالوي نه ده زده".

ما ورته وویل "زه په انګلیسي پوهیږم، دوی غواړي ما همدلته یو ځای پرېږدي".

"روغتون لا تراوسه د ناروغانو قبلولو لپاره نه دی اماده. د ناروغانو راتګ ته مو تراوسه هیڅ ترتیبات نه دي نیولي".

وریښتانو ته یې پاس اړخ ته ټک ورکړ او ما ته یې له نژدې راوکتل.

ما ورته وویل "اوس یو ځای وروښیه، چې ما هلته پرېباسي".

"ما ته ځای نه دی معلوم. تاسي بیخي نابېره راغلاست. زه تاسي ته دلته اجازه نه شم درکولای".

ما ورته وویل "هره کوټه چې وي". د چوپړوال په لور مي مخ وروګرځاوه او په ایټالوې کي مي ورته وویل "ورشه، یوه تشه کوټه ولټوه".

چوپړوال "کوټې ټولي تشي دي، تاسي لمړنی ناروغ یاست". خولۍ یې له سره ایسته کړل، په لاس کي یې ونیول او نرسې ته یې وکتل.

"د خدای لپاره اوس مي په یوه کوټه کي بستر کړئ". په لفټ کي مي پښه کاټ شوي وه، درد یې اوس راپورته شو. خادم پر دروازه ورننوت، په ده پسي د خړو وریښتانو لرونکې میرمن ورغلل. چوپړوال په بیړه راستون شو "په ما پسي راځئ". له یوه اوږده دهلېز څخه له تیریدو وروسته یې وه یوې پنجره بندې کوټې ته چې نوې جوړه شوې وه، وردننه کړم. له پرتو فرنیچرو څخه داسي بوی راته لکه تازه چي جوړ شوي وي. په کوټه کي یو غټ کټ او یوه غټه هنداره لرونکې الماری پرته وه. زه یې پر کټ باندي څملولم.

میرمنې وویل "روجایانې نه شم راخیستلای، ټولي یې قلف کړي دي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ته مي څه ونه ویل، چوپړوال ته مي وویل ”زما په لاندني بټن لرونکي جیب کي پیسي شته راوایې باسه.“ چوپړوال پیسې راوایستې. دواړه تذکیره والا د کټ وه څنګته خولی په لاس ولاړ ول“. دوی دواړو ته پنځه پنځه لیرې ورکړه. خپله هم پنځه لیرې واخله، اسناد مي په جیب کي دي، هغه نرسې ته ورکړه.“

تذکیره والاو له سلامی وروسته مننه وکړل.

ما ورته وویل “په مخه مو ښه، ډیره زیاته مننه.“ له بیا سلامی کولو سره ووتل.

نرسې ته مي وویل “اسناد مي هغه دي. زما حالت او د زړې درملنې په اړه ټول معلومات پکښې واضح شوي“. دې اسناد راپورته کړل او د عینکو له شا څخه یې ورته وکتل. درې پیچلي کاغذان وو. میرمنې وویل ”زما په دې سر نه خلاصیږي. په دې څه وکړم؟ زما ایټالوې نه ده زده او بله خبره دا چي زه د ډاکټر د لارښوونې پرته هیڅ نه شم کولای“. له دې ویلو سره په ژړا شول. په لاس کي نیولي اسناد یې خپل مخکني جیب کي کښېښوول. په ژړا کي یې پوښتنه را څخه وکړل. “ته امریکایي یې؟“

“هو. زما اسناد له کټ سره پر مېز باندي پرېږده“. کوټه تیاره او هوا یخه وه. په کټ کي له څملاستو سره مي هنداره لیدلای شوای خو هغه څه چي منعکسول یې هغه مي نه لیدل. چوپړوال له کټ سره په څنګ کي ولاړ وو، نرم او مهربان انسان ښکاریده.

ما ورته وویل “ته تلای شې.“ نرسې ته مي وویل ”ته هم تلای شې. ستا نوم څه دی؟“

“مس واکر“.

“مس واکر تاسي تلای شئ. زه بیدېږم“.

په کوټه کي یوازي وم او هوا یخه وه. دغه ځای له روغتون سره چنداني شباهت نه لاره. توشکه ښه محکمه او پسته وه ښه په ارامه پکښې وغځیدم. پر له پسې مي یو څو ژورې ساه ګانې واخیستې او خوشاله وم، چي د پښې درد مي ورو ورو کمیږي. ګړی وروسته تږی شوم، د اوبو راغوښتو په نیت مي د کټ پر ژۍ باندي نښتی زنګ وواهه، خو څوک راښکاره نه شو. اوبه مي ونه څیښلې همداسي تږی بیده شوم.

له راپاڅیدو سره مي شاوخوا وکتل. له خلاصو کړکیو څخه لمر دننه کوټې ته راته. لویه الماری، تش تور دېوالونه او دوې چوکیانې مي لیدې. په خیرن بنداژ کي تړلې پښه مي شخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړه وه. احتياط مي کاوه چي وه نه ښوري. تږی وم، بيا مي لاس د زنګ تر بټنه ورساوه او زنګ مي وواهه. د دروازې د خلاصېدو ږغ مي واورېد، چي ورته ومي کتل يوه نرسه ولاړه وه. ځوانه او ښکلې ښکارېدل.

دې ته مي وويل "سهار په خير".

"ستا يې هم سهار په خير". دا يې وويل او د کټ په لور راتېره شول "تراوسه لا ډاکټر نه دی رارسېدلی. ډاکټر (لېک کومو) ته تللی. موږ د ناروغانو راتګ ته تمه نه درلودل. په هر صورت، په تا څه شوي؟"

" زه په لينګيو، پښو او پر سر باندي زخمي شوی يم".

"ستاسي نوم څه دی؟"

"هنري. فريډريکو هنري".

"اوس به تاسي ولمبول شئ. خو تر څو چي ډاکټر راځي موږ ستا په زخمو او پټيو باندي کوم څه نه شو کولای".

"مس بارکلي همدلته ده؟"

"نه، دلته په دې نامه څوک نشته".

"زه چي کله دلته راغلم يوې ښځې ژړل، هغه څوک وه؟"

نرسې وخندل "هغه مس واکر وه. د شپې نوکري وه، اوس بيده ده. تاسي بيخي نابېره راغلاست".

د خبرو په جريان کي مي د بنداژ پرته کالي وکښل. پاک او صاف شوم. ډېر خوشحاله شوم چي ولمبېدم. سر مي هم په بنداژ تړلی وو، خو يوازي يې هغه برخه راپرېولل چي لوڅه وه.

"چيري زخمي شوې؟"

"د پلاوا په شمال، ايسونزو کي".

"دا پلاوا بيا په کوم ښار کي ده؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

“په شمالي ګوريزيا کي ”.

يوه شوم چي يوځای هم نه دی ورمعلوم.

“درد ډير په تکليف کړي؟”

“نه. اوس ډير نه”.

ترماميتر يې په خوله کي راکښېښود.

ما ورته وويل “ايټالويان يې تر بازو لاندي ږدي”.

“خبري مه کوه”.

ترماميتر يې چي راوکيښ، ورته ويې کتل او بيا يې سر وخوځاوه.

ما ورته وويل “د بدن تودوخه مي څومره ده؟”

“ضرور نه ده، چي پوه شې”.

“راته ووايه، زما د معلوماتو لپاره”.

“عادي ده”.

“تراوسه مي تبه نه ده شوې. پښې مي له زړو اوسپنو ډکې دي”.

“مطلب دي څه دی؟”

“پښې مي د توغندئ د ټوټو، له زړو ميخونو، پيچو او نورو شيانو څخه ډکي دي”.

سر يې وښوراوه او مسکئ شول.

“که دي په بدن کي يوه پرزه هم واي، التهاب يي کاوه چي ورسره تبه هم منځته راتلل”.

ما ورته وويل “سمه ده. وبه ګورو چي څه شي تري راوزي”.

دا له کوټې ووتل او له سهارنۍ بوډۍ نرسې سره بيرته راستانه شول. په دواړو يي کټ منظم کړ البته ما ته يې کوم تکليف رانه کړ. دغه طريقه يې راته په زړه پوري ښکاره شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ددې ځای مسول څوک دی؟"

"آغلې وان کمپن".

"دلته څومره نرسانې شته؟"

"يوازي موږ دوې".

"نور څوک نه راځي؟"

"ځيني پر لاره دي، رابه شي".

"څه وخت رارسيږي؟"

"خبره نه يم. ته اوس ناروغ يې، خو بيا هم يوه پلنده پوښتنې کوې".

ما ورته وويل "زه ناروغ نه يم. زخمي يم".

د دوی دنده پايته ورسيدل. پر يوه پسته روجايي باندي پرېوتم او بله پسته روجايي مي پرځان واچول. مس واکر ووتل او له هاخوا له يوه پايجامه لرونکي جانکټ سره راستنه شول. په ما يې واغوستل ورسره مي ځان ډير نفيس او پټ احساس کړ.

ما ورته وويل "تاسي خو زما ډېره ښه پالنه کوی". نرسې چي نوم يې مس ګيج وو، په زوره وخندل. پوښتنه مي ترې وکړل "يو ګيلاس اوبه څيښلای شم؟"

"ولي نه. شيبه وروسته به ناشته هم وکړې".

"زه ناشته نه کوم. که تکليف نه وي کړکۍ خلاصې کړئ". د کړکۍ تر خلاصيدو وړاندي دننه په کوټه کي تياره وه. خو د کړکی له خلاصيدو سره يوڅه روښنايي شول. د کړکۍ دباندي له برنډې ورهاخوا د کورونو کاشي شوي بامونه او دودکښان ښکاريدل. وه کاشي شوي بامونو ته مي وکتل، په اسمان کي مي سپينه وريځ وليدل.

" تاسي د نورو نرسانو د راتګ په اړه معلومات لری؟"

"ولي؟ موږ ستا سمه پالنه نه کوو؟"

"نه زما هدف دا نه وو. تاسي ډير ښه ياست".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"کموډ خو نه استعمالوې؟"

"امتحان يې ښه دی".

دوی له ما سره کموډ ته په ورختو کې مرسته وکړل، خو ګټه يې ونه کړل. شيبه وروسته بيرته پرېوتم او له خلاصو دروازو څخه مي وه برنډې ته کتل.

"ډاکټر به څه وخت راشي؟"

"هر وخت چي راورسېد. موږ هڅه کوو، چي لېک کومو ته ټيلفون وکړو".

"دلته بل ډاکټر نشته؟"

"دی د همدې روغتون يوازينی ډاکټر دی".

مس ګيج د اوبو يو منګی او يو ګيلاس له ځان سره راوړ. درې ګيلاسه اوبه مي وڅيښلې. دوی هم بيرته ولاړې. څو شيبې تر کړکۍ دباندي په منظره باندي بوخت وم، په همدې حالت کي د خوب يوه ابيسمه راغله او بيده شوم. غرمه مي يو څه ډوډۍ وخوړل. ماپيښين وو، چي د روغتون مسؤله، ميس وان کمپن مي ليدو ته راغلل. زموږ دواړو يو له بل څخه ښه رانغلل. کمپن يوه کوتاه قده، پاکيزه او په عين حال کي يوه بدګمانه ميرمن وه، خو پر خپله دې دنده ډيره جوړه وه. له ما څخه يې ګڼې پوښتنې وکړې. د دې له خبرو او اوضاع څخه داسي راته معلومه شول، چي له ايټالويانو سره زما په يوځای کيدو خوښه نه شول.

له دې مي وپوښتل "له خوړو سره شراب څيښلای شم؟"

"د ډاکټر په اجازه کولای شې".

"يعني د ډاکټر تر راتلو پوري يې نه شم څيښلای؟"

"بلکل همداسي ده".

"تاسي پلان لری چي تر هغو منتظر شی، تر څو ډاکټر په خپله خوښه راشي؟"

"موږ په هغه پسي وه لېک کومو ته ټليفون کړی".

دا ولاړل او مس ګيج بيرته راستنه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغه وروسته چي يو ماهرانه کار يې راته وکړ، له ما يې وپوښتل "له آغلې وان کمپن سره ولې دومره رډ شوې؟"

"ما نه غوښتل چي داسي څه وکړم، خو دا ډيره مغروره وه".

"په هرصورت، هغې ويل چي تاسي بداخلاقه ياست".

"زه بداخلاقه نه يم. البته روغتون بېله ډاکټره څه معنی لري؟"

"هغه پر لار دی. په هغه پسي يې وه لېک کومو ته ټليفون کړی".

"هغه هلته څه کوې؟ لمبيږي؟"

"نه. هغه هلته کلينيک لري".

"يو بل ډاکټر ولې نه راولئ؟"

"چپ چپ. غلی اوسه. او هغه به ډير ژر راستون شي".

په چوپړوال پسي مي يو نفر وليږه، کله چي راغلی په ايټالوي کي مي ورته وويل "يو بوتل بير، يو بوتل شراب او تازه اخبارونه راوړه". دی ولاړ او ګړی وروسته يې بوتلان په اخبارو کي پيچلي راوړل. په کوټه کي يې بوتلان له اخبارو راوايستل. چوپړوال ته مي وويل "کيلۍ دلته ما ته راکړه، شراب او بير تر کټ لاندي کښېږده". دوی له کوټې ووتل او زه په کوټه کي يوازي پاتې شوم. په کټ کي پروت وم، اخبارونه مي مخي ته ونيول او ګړی مي ولوستل. د جبهې اړوند خبرونه او د وژل شوو افسرانو نومونه مي ولوستل. بيا مي د بير په بوتل پسي لاس وروغځاوه، راپورته مي کړ، پر سينه مي کښېښود او په غوړپ غوړپ مي ځيني څښنل. د بوتل يخې ښېښې زما پر سينه ارغړۍ ارغړۍ تغمې جوړې کړې. دباندي ورو ورو تياره کېدل. د کړکۍ له لارې مي د کورو د بامو له پاسه الوتونکو توتکيانو او شوپرکانو ته کتل او بير مي څښنل. مس ګېج کوټې ته راننوتل او په يوه ګيلاس کي يې اګ نوګ[17] رواړل. د دې له راتګ سره مي د بير بوتل تر کټ لاندي کښېښود.

راته ويې ويل "آغلې وان کمپن يو څه شري[18] هم درته راليږلي. ته بايد له هغې سره دغه ډول رډ وه نه اوسې. هغه اوس سپين سرې ده. د په خوا په شان حوصله نه لري، بله دا چي

[17] اګ نوګ يو ډول خوږې شيدې دي، چي هګۍ يې هم ورسره ګډې کړي وي، په لويديځو ممالکو کي کاريږي
[18] يو ډول قوي اسپانوي مشروب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د روغتون درونډ پېټۍ هم ورپه غاړه دی. مس واکر هم اوس دومره سپين سرې شوې، چې هيڅ کار نه شي کولای".

ما يې په جواب کې وويل"هغه ډېره ستړه ميرمن ده. زه يې ډېر مننداوی يم".

"زه اوس بيرته ځم او ستا ماښامنۍ به درته راوړم".

ما ورته وويل "سمه ده، خو زه چنداني وږی نه يم".

دا ولاړل له هاځو له يوه پتنوس سره راغلل. پتنوس يې له کټ سره نژدې پر مېز باندې راته کښېښود. له دې څخه مې مننه وکړل او له خوړو څخه مې يو څو ګولې وخوړې. شيبه وروسته تياري ښار په خپلو منګولو کې ونيو او د لټون څراغانو رڼاګانې له ورايه ښکاريدې. همدې رڼاګانو ته مې کتل او وروسته خوب وړی وم. ډېر درونډ خوب وړی وم، يوازې يو ځلې په خولو کې غرق او بيريدلی راپاڅيدم، خو هڅه مې وکړل چې خوبونه هېر کړم. سهار ښه وختي راپاڅيدم، د چرګانو اذانونه مې واورېدل او بيا تر رڼا کيدو پورې ويښ پاته شوم. خسته شوم او له رڼا کيدو سره يو ځلي بيا خوب وړی وم.

## څوارلسم فصل

کله چې راپاڅيدم لمر کوټه نيولې وه. فکر مې وکړ چې بيرته جبهې ته تللی يم. په کټ کې اوږد اوږد وغځېدم، پښې مې څړيکه وکړل، هغې ته چې مې وکتل په هماغه خيرن بنداژ کې لا تړلې وه، پوه شوم چې په روغتون کې يم. د زنګ په بټن پسې مې لاس وروغځاوه او زنګ مې وواهه. د زنګ اواز په دهلېز کې انګازه وکړل. ګړی وروسته مې د پلاستيکي چمپلانو اواز تر غوږو شو، مس ګېج وه. د لمر په روښنايي کې لږ څه عمر خوړلې او سيينه ښکاريدل.

ګيج "سهار په خير. شپه په خير شول؟"

"هو. مننه. سلمان مې په کار وو، کولای شې چې رايې ولې؟"

"زه دې ليدو ته راغلم، خو ته بيده وې. له تا سره مې دغه وموندل. په کټ کې ورسره بيده وې".

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الماریٔ دروازه یي خلاصه کړل او د شرابو بوتل راوایست. هغه تقریبا تش وو. ”تر کټ لاندي بل بوتل هم پروت وو، هغه مي هم دلته ایښی دی. ما ته به دي ویلي وای، چي یو ګیلاس مي درته راوړی وای“.

”له بیرې مي تا ته نه شوای ویلای“.

”په ګډه به مو څیښلي وای“.

”ته ډېره مهربانه یې.“

ګیج ”په یوازي سر څیښل یې تا ته ښه نه دي. په راتلونکي کي احتیاط کوه“.

”سمه“.

بیا یې وویل ”ستاسي ملګرې، مس بارکلي راغلي ده“.

”ریښتیا؟!“

”هو، خو زما خوښه نه شول“.

”خوښه به دي شي، ډیره خوش طبعه ده“.

سر یې وښوراوه او وې ویل ”زه یې پر ښه والي ډاډه یم. لږ پر دا یوه اړخ کرېدای شې؟ ډیر ښه. تر سهارنیٔ پوري به تیار شې“. په یوه ټوټه ټوکر، صابون او تودو اوبو یې پریولم ”اوږې پورته کړه. ډیر ښه“.

”له ناشتې وړاندي سلمان راتلای شي؟“

”زه به چوپړوال پسي ولیږم“. ولاړل او شیبه وروسته راستنه شول ”په سلمان پسي مي سړی ولیږه“. دا یې وویل او په لاس کي نیولی ټوکر یې بیا په اوبو کي لاهو کړ.

چوپړوال له سلمان سره یوځای راستون شو. تقریباً پنځوس کلن ښکاریده. بریتونه یې پاس اړخ ته تاو کړي ول. د میس ګېج وظیفه نوره خلاصه شول او ووتل. سلمان مخ رالوند کړ، وروسته یې چاړه پسي راسمه کړل او ږیره یې راوخرول. سلمان تریو تندی او غلی سړی وو.

پوښتنه مي ځیني وکړل ”حالات څنګه دي؟ کوم نوی خبر درسره شته؟“

(c) ketabton.com: The Digital Library

“ده څه شي خبر؟”

“هر خبر چي وي. په ښار کي څه کيسې دي”.

په جواب کي يې وويل“حالات جګړه ايز دي. د دښمن غوږونه هر ځای وي”.

پاس مي ده ته وکتل. بيا يې وويل “مهرباني وکړه سر دي مه سره ښوروه”. دی په خپل کار بوخت وو “معلومات نه شم درکولای”.

پوښتنه مي ځني وکړل “په تا څه شوي؟”

“زه ايټالوی يم. له دښمن سره مي خبرې کول نه دي خوښ”.

دی مي خپل کار ته پرېښود. که دی ليونی وای، نو چي هر څومره ژر بې د چړې له تيغه وتلای ښه وو. يو ځلي مي هڅه وکړل، چي څيرې ته يې ښه په دقت وګورم.”احتياط کوه، چاړه تيره ده”.

د کار له خلاصيدو سره مي يې مزد ورکړ. نيمه ليره مي هم د انعام په توګه ورکړل. سکې يې بيرته راواپس کړې.

“زه يې نه اخلم. که څه هم په جبهه کي نه يم، خو ايټالوی يم”.

“ځه ورک شه!”

ويې ويل “ستاسو په اجازه”. خپل سامانونه يې راټول کړل او له کوټې ووت. د تګ پر وخت يې پنځه واړه سکي له ما سره نژدې پر مېز کښېښودې. د زنګ بټن مي کښېکاږه. ميس ګېج راننوتل. “که زحمت نه وي، چوپړوال يو ځلي ما ته راوليږئ”.

“سمه ده”.

چوپړوال کوټې ته راننوت. کوښښ يې کاوه، چي خپله خندا پټه کړي.

“سلمان خو به ليونی نه وو؟”

“نه. ښاغلې، ستا او د ده تر مينځ سوءتفاهم راغلی وو، هغه فکر کاوه، چي ته اتريشی يې”.

ما وويل “اوه!”

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چوپړوال له واکه ووتل او په خندا شو "ها، ها، ها! سلمان بیخي ساده وو. که دي محض ښور خوړلی وای نو ــــ". خپله ګوته یې پر ستوني باندي راتېره کړل.

"ها، ها، ها". هڅه یې کول، چي خندا راکنټرول کړي "کله چي مي ورته وویل چي تاسي اتریشی نه یاست نو، ها، ها،ها".

په پسخند مي ده ته وویل "ها، ها، ها! که یې زما غاړه راپرې کړې واي، نو څومره به دي خندلي وای؟ ها، ها، ها".

"نه ښاغلي. نه. نه. له اتریشیانو څخه بیخي ډارېدلی وو. ها، ها، ها".

ده ته مي وویل "ها، ها، ها! له مخي مي ورک شه!"

ووت، خو په دهلېز کي یې اوس هم خندل. په دهلېز کي مي د یو چا د پښو کړپهار واورېد. سترګې مي دروازې ته سیخي کړې. کاترین بارکلي وه.

کټ ته ته راتېره شول.

کاترین "سلام". تازه، ځوانه او د پخوا په نسبت ښکلې ښکارېدل. فکر مي وکړ چي داسي ښکلا مي له وړاندې لیدلي نه وه.

"سلام". په محض لیدو پرې مین شوم. دنني حالاتو مي ټول متغایر شول. د دروازې لور ته یې وکتل، څوک نه وو. بیا د کټ پر څنډه کښېنستل، راخمه شول او ښکل یې کړم. دا هم ښکل شول، ما یې د زړه درزا محسوسول.

ورته ومي ویل "ګرانې. ښه وشول چي راغلې".

"راتګ مي هم له ستونزو خالي نه وو. البته دلته پاتېدل مي هم کیدای شي له ستونزو خالي نه وي".

"ته باید همدلته پاتې شې. ډیره ښه یې". په دې پسي مجنون وم. هیڅ یقین مي نه کاوه، چي زما په خوا کي دي ولاړه وي.

"نه، ته لا تراوسه ښه نه یې".

"زه ښه یم. راشه".

"نه، ته لاتراوسه روغ شوی نه یې".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"دا اوس ته څه وايې؟ زه رک روغ يم".

"مينه راسره لرې؟"

"په رښتيا مينه درسره لرم. زه درپسي مجنون وم".

" د زړه وه دربا ته وګوره".

"زه د زړه په کيسه کي نه يم. زه درسره مينه لرم. په تا پسي ليونی وم".

"ته رښتيا مينه راسره لرې؟"

"خبرې مه کوه. کاترين مهرباني وکړه".

"سمه ده، خو يوه شيبه".

"سهي ده. د کوټې دروازه بنده کړه".

"نه. داسي نه شي کيدای".

"پرېږده يې. خواهش کوم".

کاترين پر څنګ چوکۍ باندي راته کښېنستل. د دهلېز لور، ته دروازه خلاصه وه. وحشت هم له پخوا څخه کم شوی وو، زه هم اوس تر پخوا ښه شوی وم.

بيا يې پوښتنه راڅخه وکړل " اوس دي زما پر مينه يقين راغلی؟"

"اوه، ولي نه. ته بايد همدلته پاتې شې. دوی تا له ما نه ګردسره نه شي بېلولائ. زه ستا په مينه کي ليونی يم."

"له احتياطه بايد کار واخلو، په تېره بيا زما و ستا تر مينځ راشه درشه بايد پټه وي".

"په شپه کي به سره وينو".

"په هرصورت، بايد محتاط واوسو. په تيره بيا د نورو خلکو په مخ کي".

"سمه ده".

"بايد همداسي وي. ته ډير ښه يې. ته له ما سره مينه لرې. همداسي نه ده؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

"داسې څه بیا مه وایه، ته یې په معنې نه پوهیږې".

"زه به احتیاط کوم. نور نه غواړم چې یو څه وکړم. زه باید نوره ولاړه شم".

"بیرته بیا ژر راشه".

"هر وخت چې فارغه شوم، راځم".

"په مخه دې ښه".

"د خداي په امان ګرانه".

ووتل. خدای پوهیږي، ما نه غوښتل د مینې په جال کې یې ځان راګیر کړم. له هیڅ چا سره مې د مینې کولو هوډ نه وو. خو خداي پاک پوهیږي چې اخر د مینې په جال کې راګښېوتم او د میلان په یوه روغتون کې یوازې پر کټ غځېدلی پروت وم. او ډول ډول خیالات مې په دماغ کې اخوا دېخوا کیدل. او په اخره کې میس ګیج راننوتل.

ګیج "ډاکټر پر لار دی. له لېک کومو څخه یې ټیلفون راوکړ".

"څه وخت راځي؟"

"نن غرمه له خیره".

## پنځلسم فصل

تر غرمې پورې کومه خاصه پېښه ونه شول. ډاکټر ډنګر، غلی او کوچنی سړی وو. د ده له خبرو څخه معلومېدل، چې له جګړې څخه تر پزې راغلی. څو اوسپنیزې ټوټې یې زما له ورنو څخه په ډیره نفیسه او خاصه بې میلۍ وه ایستلې. د زخم د تسکین لپاره یې یو ډول محلي درمل چې "سنو" یې بلل، کارول. له دې سره به عضله یخی شول او تر څو چې به یې په پروب، انبور او یا چاړه د یخي ناحیې تر پایه نه وه تللې، درد به یې نه کاوه. ناروغ ته بې هوښه شوې ناحیه ډیر ژر ورمعلومیدل. شیبه وروسته د ډاکټر نفیسه تګلاره پایته ورسیدل او ویې ویل د ایکسرې معاینه ښه ده. داسې ښکاریده، لکه له خپلو هڅو څخه چې راضي نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اکسرې معاینه یې په اوسپیډل مګوري[19]راته وکړل. د اکسرې ډاکټر یو چالاک، پوه او په عین حال کې زړه راښکونکی وو. دا معاینه داسې کېدل، چې ناروغ به اوږې پورته کولې داسې چې د ماشین له لارې هغه غټ بهرني اجسام کوم چې د ده په بدن کې دي، ووینې. کوم عکسونه یې چې له ما نه اخیستي ول، وروسته یې راپسې رالیږل. ډاکټر راته وویل چې د ده په جیبي کتابچه کې زما خپل نوم، غونډ او ځیني خاطره یې جملې ولیکم. زما په بدن کې موجود بهرني اجسام یې پست، ناوړه او وحشي وبلل. اتریشیان بې غیرته. ما څو نفره اتریشیان ووژل؟ یو مې هم نه وو وژلی. خو د ده د خوشالۍ لپاره مې ورته وویل بیخي ډېر اتریشیان مې د مرګ غیږې ته ورواستول. له ما سره میس ګیج هم راغلې وه. ډاکټر لاسونه پرې راچاپیره کړل او وې ویل له (کلیوپاترا) څخه هم ښکلې ده. د دې په دې خبره سر خلاص شو ؟ کلیوپاترا د مصر پخوانۍ ملکه وه. ریښتیا هم دا ښکلې وه. شیبه وروسته په امبولانس کې وه وړوکي روغتون ته راستانه شوو او له ډېر پورته کښته کېدو وروسته یو ځلې بیا پر هماغه پخواني کټ و بستره وغځېدم. عکسونه یې د هماغې ورځې له غرمې وروسته راولیږل. ډاکټر له ما سره ژمنه کړې وه، چې عکسونه به غرمه رالیږي او خپله ژمنه یې پر ځای کړل. عکسونه په سرو پاکټو کې ول او کاترین بارکلي راښکاره کړل. موږ دواړو په ګډه عکسونه رڼا ته وکتل.

وېې ویل "دادي راسته پښه ده". بیا یې عکس په پاکټ بیرته کښېښود "دا دي چپه پښه ده".

"عکسونه هلته کښیږده او دلته راشه".

"نه. زه یوازې تا ته د عکسونو د ښوولو لپاره راغلم".

کاترین بهر ولاړل. زه پر خپل کټ پروت وم. له غرمې وروسته هوا ګرمه شول. په کټ کې له ډیرې پروتې څخه بیخي خسته شوی وم. چوپړوال مې راوغوښت او ورته ومې ویل چې بازار کې دي هر څومره اخبارونه لاس ته درغلل، ټول له ځان سره راوړه.

د ده له راستنېدا وړاندې درې ډاکټران راغلل. په دې ځای کې مې دې خبرې ته پام شو، چې کله یو ډاکټر په یوه قضیه کې پاتې راشي، نو له خپل سیال نه مشوره اخلي. یو ډاکټر چې د اپنډکس عملیات په سمه توګه نه شي کولای، هغه یو داسې ډاکټر درته توصیه کړي چې هغه ان د تانسلونو عملیات لا په سهي ډول نه شي اجراکولای. دغه درې ډاکټران همداسې ول.

---

[19] دا د ایټالیا په میلان ښار کې یو لرغونی او تاریخي روغتون دی، چې تراوسه فعالیت کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د روغتون ډاکټر پخپلو نفیسو لاسو ما ته اشاره وکړل او وې ویل "دغه دی، هغه ځوان."

قدبلنده او ږیره لرونکي ډاکټر وویل "تاسي څنګه یاست؟" دریم ډاکټر چي د اکسرې عکسونه یې په سره پاکټ کي رااخیستي ول، پر خپل ځای غلی ولاړ وو.

ږیره لرونکي ډاکټر وپوښتل "پټی ځیني ایسته کړي؟"

د روغتون ډاکټر وه میس ګیج ته وویل "هو. نرسي مهرباني وکړئ، د ده له پښي پټۍ ایسته کړئ". مس ګیج دا امر عملي کړ. خپلو پښو ته مي وکتل. په ساحوي روغتون کي داسي ښکاریدې لکه یو مړاوی شوی همبرګر. اوس یې پوست نازک شوی وو. د ځنګانه غوښه مي هم سره تللې او بي رنګه شوي وه، خو چرک یې نه وو کړی.

د روغتون ډاکټر وویل "ډېر پاک، افرین".

ږیره لرونکي ډاکټر وویل "ممم". دریم ډاکټر د روغتون د ډاکټر له شا څخه راوکتل.

ږیره لرونکي ډاکټر وویل "که زحمت نه وي، ځنګون ته یې حرکت ورکړئ".

"زه یې نه شم کولای".

ږیره لرونکي ډاکټر وپوښتل "مفصل یې نه ګورو؟" د ده پر لستوڼي باندي له درو ستورو سره یوه پټه هم وه، چي د تورنی نښه وه.

دروغتون ډاکټر وویل "ولي نه". دوو نفرو په بیره تر پښه ونیولم او را کت یې کړل.

ما ورته وویل "درد کوي".

"نور هم. نور هم. ډاکټره، یو څه نور هم".

ما ورته وویل "بس یې ده. بس یې ده. تر همدې ځایه کتیږي".

تورن وویل "مفصل یې لږ څه بي ځایه شوی دی." سیخ ودرید "داکټر صاحب کولای شم چي عکسونه یو ځلي بیا وګورم؟" دریم ډاکټر له عکسو څخه یوه دانه وه ده ته ورکړ "نه د چپې پښي دا یې راکړه".

"همدا د چپې پښي عکس دی، ډاکټر صاحب".

(c) ketabton.com: The Digital Library

”اوه، ریښتیا هم. ما له یوې بلې زاویې څخه ورته کتل“. عکس یې بیرته راوسپاره. بل عکس یې هم تر څو شیبو پورې تر نظر لاندې نیولی وو. په رڼا کې یې وه یوه بهرنې جسم ته، چې ډېر واضح ښکاریده اشاره وکړل ”ډاکټره، تاسې یې وینئ؟“ عکس ته یې څو شیبې په نېغو سترګو وکتل.

ږیره لرونکې تورن وویل ”زه یوه خبره په ډاګه ویلای شم، هغه دا چې د دې درملنه وخت ته اړتیا لري. کیدای شي درملنه یې درې یا هم شپږ میاشتې وخت په بر کې ونیسي“.

”همداسې ده. مفصلي مایع باید بیا له سره جوړه شي“.

”بلې. وخت ته اړتیا شته. بله خبره دا ده، تر څو چې یو دننی دیوال جوړ نه شي زه وجداناً نه شم کولای، چې دغه څنګون عملیات کړم“.

”ډاکټر صاحب، ستا خبره منم“.

پوښتنه مې ترې وکړل ”شپږ میاشتې د څه لپاره؟“

”له دې وړاندې چې څنګون دې، په محفوظ ډول خلاص کړو، اړینه ده چې دننی دیوال بیا ځلې خپل ځان ورغوي“.

ما ورته وویل ”دا خبره ما ته قابل قبول نه ده“.

”ځوانه، پر تا خپل څنګو ګران دی؟ ته غواړې ستا څنګون ستا سره وي؟“

ما ورته وویل ”یا“.

”څه شي؟“

ورته ومې ویل ”زما څنګون پرې کړئ. بیا پلاستیکې پښه کاروم“.

”هدف دې څه دی؟ پلاستیکې پښه؟“

د روغتون ډاکټر وویل ”دی ټوکې کوي“. ډېر په لطیف انداز سره یې پر اوږه باندې وټکولم ”دی نه غواړي خپل څنګون له لاسه ورکړي. دی ډېر زړور ځوان دی. ټاکل شوي، په جګړه کې د زړورتیا د ښوولو په خاطر د زړورتیا مډال هم ورکړي“.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تورن وویل "مبارکي يې درته وايم". زما لاس يې راوښوراوه "زه يوازې د احتياط له مخې تاسي ته د شپږو مياشتو د انتظار مشوره درکوم. له شپږو مياشتو وروسته به ستاسي عمليات کيږي. که تاسي کوم نظر ولرئ مهرباني وکړئ".

ما ورته وويل "ډيره زياته مننه، ستاسو نظر ما ته قابل احترام دی".

تورن ډاکټر خپل لاسي ساعت ته وکتل، بيا يې وويل "موږ ځو له خيره. ښه بخت ولرې".

ما ورته وويل "له تاسو ټولو يوه نړۍ مننه". له دريم ډاکټر سره مي هم خدای په امانی وکړ. دوی درې واړه له کوټې نه ووتل.

وروږ.غ مي کړل "مس ګيج!" دا بيرته راستنه شول."يو ځلي خو د روغتون ډاکټر راغواړئ".

د روغتون ډاکټر ګړی وروسته کوټې ته راننوت. خولی په لاس له کټ سره نژدې راته ودرېد. ډاکټر "ستا زه په کار وم؟"

"هو. زه د عملياتو لپاره شپږ مياشتي انتظار نه شم کولای. اوه، زما خدايه! ډاکتره ته خپله تراوسه شپږ مياشتي په کټ کي پرېوتی يې؟"

"ته به هروخت په کټ کي نه يې. له هر څه نه وړاندي لمرينه درملنه اړينه ده. له لمريني درملني وروسته لکړه هم کارولای شې".

"يعني تر شپږ مياشتني ځنډ وروسته به زما عمليات کيږي؟"

"همدا يې ښه لار ده. بله دا چي ستا په بدن کي موجود بهرني اجسام بايد يو ديوال تشکيل کړي او له هغه وروسته د ليګامينټ جوړيدل هم اړين دي".

"زه به شپږ مياشتي په کټ کي پروت يم؟!"

"همدا يې تر ټولو خوندي او محفوظه طريقه ده".

"دا تورن څوک وو؟"

"هغه د ميلان تر ټولو تکړه جراح دی".

"دی تورن دی، که څنګه؟"

"هو، البته دی يو تکړه جراح هم دی".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“زه نه غواړم چي پښه مي د يوه تورن له امله له لاسه ورکړم. که دی ريښتيا هم دومره تکړه وای، دی به اوس جګړن وای، زه پوهيږم چي تورن څه شي دی”.

“خو يوه خبره شته، د هغه پر لياقت سترګي نه شي پټيدای. زه خپله تر نورو جراحانو، چي پيژنم يې، د ده وه نظر ته تر جيح ورکوم”.

“ته يو بل جراح پيژنې؟”

“هو. که ستا خوښه وي، زه به شخصاً د ډاکټر (واليرا) نظر هم راواخلم”.

“تاسي له يو بل جراح سره په دې اړه اړيکه نه شی نيولای؟”

“سمه ده. زه به ډاکټر (والنتيني) راوغواړم”.

“دا بيا څوک دی؟”

“ډاکټر والنتيني په اوسپيډل مګوري روغتون کي کار کوي”.

“ډير ښه، مننه. ته پوهيږې ډاکټر صاحب، زه شپږ مياشتي انتظار نه شم کولای”.

“ته به هر وخت په روغتون کي نه يې. له هر څه وړاندي لمرينه درملنه اړينه ده. له هغه نه وروسته سپک تمرينات. او د ديوال له تشکيل سره به ستاسي عمليات هم اجرا شي”.

“په هر حال، شپږ مياشتي انتظار زما تر توان لوړه خبره ده”.

ډاکټر په لاس کي نيولي خولۍ باندي ګوتې راتېرې کړې او مسک شو ”جبهې ته د ستنېدو لپاره مو ډېره بېړه ده”.

“هو”.

“په تا وياړو. تاسي ډير دلاور ياست”. پر کټ باندي راخم شو او ښکل يې کړم ”زه به يو څوک په والنتيني پسي وليږم. تشويش او غصه مه کوه. حوصله کوه”.

ده ته مي وويل “يو ګيلاس څښناک کوو؟”

“نه. مننه. ما تراوسه شراب نه دي څښلي”.

“يوازي يو ګيلاس”. په خادم پسي مي زنګ وواهه، چي ګيلاسونه راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"نه مننه، ډاکټران ما ته منتظر دی".

ورته ومي ویل "په مخه دي ښه".

"د خدای په امان".

دوه ساعته وروسته ډاکټر والنټیني راغلی. خورا په بېړه کي وو. بریتونه یې شخ درولي ول. جګړن وو. په رنګ توربخون وو. خندان شخصیت وو.

ډاکټر والنټیني وپوښتلم "څنګه ټپي شوې؟ عکسونه راکړه. هو، هو. همدا دې. د سیرلي په څېر روغ رمټ یې. دغه ښکلې نجلۍ څوک ده؟ ستا انډیواله؟ ما خو همداسي فکر کاوه. بیخي بې ځایه او ناوړه جګړه نه ده؟ دا ځای دي څنګه دی؟ ته ډېر ښه هلک یې. زه به دي تر پخوا لا سم کړم. دغه ځای دي درد کوي؟ هو، خامخا به درد کوي. د دې ډاکټرانو څنګه زړه کیده چي تا ژوبل کړي. ډاکټران دي د کوم درد دوا شول؟ دغه نجلۍ په ایټالوې ګړېدای شي؟ باید زده یې کړي. ډېره ښکلې نجلۍ ده. زه به ایټالوي وروښیم. زه راځم په دغه روغتون کي ځان بستروم. نه، خو ستا د لنګول کارونه مفت درته اجرا کوم. دا په پوهیږي؟ دا به له تا څخه یو ښه هلک جوړ کړي. خاص د دې په څېر. بیخي سم. څه یوه مینه ناکه نجلۍ! له دې څخه وپوښته چي له ما سره ماښامنۍ خوري. نه. زه نه غواړم چي دا له تا څخه بوزم. مننه. ډېره زیاته مننه، اغلې. بس همدومره وه".

پراوړه یې وټکولم "مننه. ما همدومره غوښتل چې پوه شم، پټۍ ته اړتیا نشته".

ده ته مي وویل "ډاکټر صاحب، څښاک ته دي زړه نه کیږي؟"

"څښاک؟ ولي نه. په لسګونه ځلي. چیري دی؟"

"په الماری کي. مس بارکلي به بوتل راواخلي".

"اوه، ډېر اعلی، ستا د روغتیا لپاره. ډېره ښکلې نجلۍ ده. زه به تر دې ښه کوګناک در ته راوړم". پر خپلو بریتونو یې لاس راتېر کړ.

"عملیات کله کیږي؟"

"سبا سهار له خیره. له عملیاتو څخه مخکي باید ستا معده تشه وي. باید پاک هم یې. زه به کښته له زړې ښځې سره ووینم او ستا په اړه به ځیني لاربښووني هم ورته وکړم. تر سبا د خدای په امان. زه به تر دې ښه کوګناک درته راوړم. ته دلته ډېر ښه یې. تر سبا د خدای په

(c) ketabton.com: The Digital Library

امان. ښه خوب وکړه، ځکه زه وختي له خیره ځان رارسوم". په دراوزه کي يې لاس راته وښوراوه. بریتونه يې سیده پاس خوا ته شخ درولي ول. پر څېره يې اوس هم مسکا خپره وه. پر لستوڼي يې يوه خانه وه، په هغه کی بیا یو ستوری وو چي د ده پر جګړنی رتبه يې دلالت کاوه.

## شپاړسم فصل

په هغه شپه د هغې دروازې له لارې چي برنډې ته ورخلاصېدل، یو شوپرک کوټې ته دننه راغلی او الوتنې يې شروع کړې. د همدې دروازې څخه مو د ښار پر بامونو د شپې د تیارې سیل کاوه. په کوټه کي تاریکه وه، یوازې د ښار له رڼاګانو څخه لږ لږ رڼا دننه کوټې راتلل. شوپرک دننه په کوټه کي له کومي بیرې پرته، د دباندي په څېر خپل ښکار کاوه. زه په کټ کي پروت وم او ده ته مي کتل، خو فکر نه کوم چي ده دي موږ لیدلي وو، ځکه موږ بیخي ساکن پراته وو. شوپرک چي له کوټې ووت پر آسمان باندي مي د لټون څراغانو رڼاګاني ولیدې، ګړی وروسته روښنایې ورکه شول او بیا تیاره شول. بهر نری شمال چلیده، پر څنګلوري بام باندي د هوایي مدافع پرسونل یو له بل سره خبرې کولې. موږ يې خبرې لږ لږ اورېدې. هوا یخه وه، دوی خپلي برساتی پر ځان ټینګي راتاو کړي وې. په شپه کي د یو چا د راتګ بیره په زړه کي راسره وه، خو کاترین ډاډ راکړی وو، چي ټول بیده دي. یو ځلي ماښام چي کله راپاڅیدم، دا مي ونه لیدل، البته په دهلېز کي مي د دې د پښو کړپهاری واورېد چي راروانه وه. له راتلو سره يې دروازه خلاصه کړل او ویې ویل چي څوک نه شته. ټول بیده دي. کاترین د آغلې وان کمپن وه کوټې ته هم غوږ نیولي وو، د هغې خرهاری يې هم اوریدلی وو. له ځان سره يې میوه هم راوړې وه، هغه مو په ګډه وخوړل. تږي هم وو، نو ورموت مو راواخیستل. په عین حال کي کاترین دا یادونه هم راته وکړل، چي سهار ته مي معده باید تشه وي، ځکه سهار زما عملیات کېدل. تر رڼا کیدو وړاندي خوب راباندي غالب شو. څنګه چي راپاڅېدم، کاترین مي ونه لیدل. خو وروسته چي بیا کله راستنه شول، له وړاندي تازه او ښکلې ښکاریدل. ترمامیټر يې په خوله کي راکښېښود. لمر هم ورو، ورو په راپورته کیدو وو، نری وږم چلیده او په دې سهار وختي کي له څنګلورې بام څخه د توپچیانو د قهوې بویان راتلل.

کاترین "زړه مي غواړي چي د قدم وهلو لپاره دباندي ووزو، که مو یوه ویلچیر وموندل زه به ټیله درکړم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وويل "زه به په چوکۍ کي څنګه سپور شم؟"

"يوه لاره به ورته وسنجوو".

"دباندي به پارک ته ووزو. همالته به ناشته هم وکړو". له خلاصي دروازې څخه مي دهلېز ته وکتل.

کاترين "تر ټولو اړين کار اوس زما لپاره دادی، چي تا ستا ملګري والنټيني ته اماده کړم".

ما ورته وويل "زما کوپړۍ راته وايي، چي دی تکړه ډاکټر دی".

"هومره چي ستا خوښ دی، زما نه دی خوښ. خو کيدای شي ښه ډاکټر وي".

"مهرباني وکړئ دلته راشئ".

"نه، ښه شپه نه وه؟"

"نن به بيا د شپې نوکري نه يې؟"

"کيدای شي يم، خو فکر نه کوم چي دلته دي زما راتګ ته اړتيا وي".

"زه تا ته اړتيا لرم".

"نه کومه اړتيا نشته. ته تراوسه عمليات شوی نه يې او بله دا چي ته تراوسه په دې نه يې خبر چي څه به پېښ شي؟"

"په لنډو کي به دي سر درخلاص کړم، زه به تر عملياتو وروسته بشپړ روغ شم".

"نه، ته به بيا ناروغ شې او بيا به نو زه هيڅ نه شم کولای".

"بيا به د بيا سره ګورو، ته اوس دلته راشه".

"نه. زه بايد اوس چارټ بشپړ کړم او تا د عملياتو لپاره تيار کړم".

"که راستنه نه شوې، نو دا به په دې معني وي، چي ته له ما سره مينه نه لرې".

ښکل يې کړم "ته ډير بي عقل هلک يې، ستا د بدن تودوخه تل عادي وي. ډير ښه حرارت لرې."

ما ورته وويل "ته ډيره ښکلي يې".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“اوه، نه. ستا د بدن حرارت په ډېره ښه اندازه دی او زه په دې ویاړم”.

“کیدای شي، همدا بدني حرارت ارثي شي”.

“کیدای شي، زموږ د کوچنیانو د بدن حرارت ډېر لوړ وي”.

“والنټیني ته باید کوم تیاری ونیول شي؟”

“کار لږ دی، خو اسان هم نه دی”.

“پر تا مي دا تکلیف نه پېرزو کیږي”.

“داسي مه وایه. زه نه غواړم چي یو بل ځوک تا ته ان لاس لا هم دروړي. زه ډېره بدمغزه یم. که چیري دوی داسي وکړي زه به ډېره په قهر شم”.

“فرګوسن هم؟”

“په خاص ډول فرګوسن، ګیج او هغه بله، څه نومیږي؟”

“واکر؟”

“هو، هماغه. اوس په روغتون کي د نرسانو شمېر زیات دی، که نور ناروغان رانه شي، شونتیا شته؛ چي ما له دې ځایه یو بل ځای ته تبدیله کړي. في الحال دلته څلور نرساني شته”.

“کیدای شي ناروغان راشي. او بله خبره دا، چي د دومره ستر روغتون لپاره خو ګڼې نرساني په کار دي”.

“امید لرم، چي ناروغان به راشي. په هرصورت، که یې زه له دغه ځای څخه ولیږلم نو؟ که نور ناروغان رانه شي، د دې شونیتا شته، چي ما واستوي”.

“که خبره وه دې ځایته ورسیدل، بیا خو نو یوځای ځو”.

“بې عقلي مه کوه. ته تراوسه د تګ نه یې. خو ګرانه ته ژر جوړ شه، بیا به له خیره یوځای ولاړ شو”.

“ له هغه وروسته به څه کیږي؟”

“کیدای شي، جګړه ختمه شي. جګړه خو به نو هم تل تر تله نه وي”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وويل "زه به ژر له خيره روغ شم. والنيتيني مي علاج راکوي".

"ستا درملنه به ولي نه کوي، دا دومره لوی بريتونه يې د څه لپاره پرې ايښي. او مهمه خبره گرانه، کله چي دي عملياتوي، زما و ستا پرته د يوه بل څه په اړه فکر وکړه، ځکه کله چي څوک بيهوښه شي بيا اپلتی ځيني ويل کيږي".

"نو بيا بايد د څه شي په اړه فکر وکړم؟"

"له موږ. ښخه پرته بل د هرڅه په اړه. د خپلو ملګرو په اړه. ان د يوې ملګرې په اړه دي هم".

ما ورته وويل "نه".

"نو بيا دعاوې کوه. دعاوې به ډيره فايده درته وکړي".

"شايد هيڅ خبرې ونه کړم".

"ډير ښه، ډيری خلګ خبرې نه کوي".

"نو سمه ده، له خيره زه به له خبرو سره خدای په امانی وکړم".

"ګرانه، ځان ستاينه مه کوه. لطفاً ځان ستاينه مه کوه. ته دومره ښه يې، چي ځان ستاينې ته هيڅ اړتيا نه لرې".

"زه به يوه کلمه خبره هم ونه کړم".

"بيا ځان ستاينه! ما درته وويل، چي ځان ستاينې ته هيڅ اړتيا نه لرې. کله چي دوی تا ته د ژورې ساه اخيستو امر وکړي، ته سمدستي په دعاوو، بيتونو او يا هم په يو بل څه باندي پيل وکړه. بيا به نه کومه ستونزه وي، نه سرخوږی او زه به په تا وياړم. په هرصورت زه په تا په هر حالت کي وياړم. ستا د بدن حرارت ډير ښه دی. او ستا خوب هم د هغه ماشوم په څېر دی، چي د بيديدو پر مهال بالښت په غيږ کي نيسي، بيديږي او په فکرو کي وي. ستا په فکرو کي زه يم که يوه بله نجلۍ؟ که يوه ښکلې ايټالوی نجلۍ؟"

"زما په فکرو کي ته يې."

"هو، البته زه يم. اوه، مينه درسره لرم، او والنټيني به د پښې علاج هم درته وکړي. او زه په دې هم خوشحاله يم، چي ستا عمليات به ونه وينم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“او ته به نن بیا د شپې نوکري یې”.

“هو، خو ته تشویش مه کوه”.

“ته تم شه او ورته ګوره”.

“ ګوره ګرانه، ته اوس بشپړ پاک او صاف شوې. اوس داراته ووایه، له ما پرته دي بل له چا سره مینه کړې؟”

“ما تراوسه له هیڅ چا سره مینه نه ده کړې”.

“ان له ما سره هم؟”

“زما مینه، ته یې”.

“ریښتیا ووایه، بل دي له چا سره مینه کړې؟”

“له تا پرته مي له بل چا سره مینه نه ده کړې”.

“له څو نفرو سره.... هغه څه شي ورته وایاست؟...پاتې شوي یې؟”

“له هیڅ چا سره”.

“ته ما ته درواغ وایې”.

“همدا ریښتیا دي”.

“سمه ده، ته خپلو درواغو ته ادامه ورکړه. زما همداسې خوښه ده. په هرصورت دارته ووایه، هغوی ښکلې وې؟”

“تر اوسه له هیڅ چاسره نه یم پاتې شوی”.

“ښه سمه ده. داراته ووایه چی هغوی ډیر دلچسپې وي؟”

“زما نه په دې شیانو سر خلاصیږي او نه پرې پوهیږم”.

“ته یوازي زما ملکیت یې او دا د لمر په څېر یو ښکاره حقیقت دی. وایم، ته زما یې. که تا له دې وړاندي له یو بل چا سره مینه کول، زه یې په کیسه کي نه یم. زه له هغو ښځه نه ډاریږم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د هغوی په اړه ما ته کوم څه مه وایه. کله چي یو نارینه له یوې ښځې سره پاتې شي، د پیسو خبره څه ډول سره خلاصوي؟"

"زه نو، څه په خبر یم."

"یا. ته پوهېږې. هغه نجلۍ ورته وایي چي زه مینه درسره لرم؟ راته ووایه، زه غواړم چي پوه شم".

"هو، په هغه صورت کي که ځیني وغوښتل شي."

"ایا دی ورته وایي چي مینه درسره لرم؟ راته ووایه. دا ډیره مهم خبره ده."

"هو، که سړی وغواړي، بیا ورته وایي".

"نارینه ورته وایي، چي مینه درسره لرم؟ خامخا راته ووایه."

"که یې زړه وغوښت، خود یې ورته وایي".

"تا خو به تراوسه چا ته نه وي ویلي؟ ریښتیا ووایه".

" نه".

"ته ما ته ریښتیا نه وایې. ریښتیا راته ووایه".

درواغ مي ورته وویل "زما خبره ومنه."

کاترین وویل "زه پوهیدم، زه پوهیدم چي تا چا ته نه دي ویلي. مینه درسره لرم".

بهر د بامو له پاسه او د کلیسا پر منارو باندي لمر ښکارېده. اوس لاندي باندي پاک وم او ډاکټر ته منتظر وم.

کاترین "ښه نو خبره داسې ده؟ دا ښځه د نارینه په اشاره نڅیږي".

"نه. هر وخت بیا داسي نه وي".

"خو زه به تل همدا وایم. زه به ستا په خوښه خبرې کوم ستا په خوښه به کارونه کوم، بیا به ته هیڅکله د بلي ښځې غوښتونکی نه یې، که څنګه؟" په خوښۍ سره یې راته وکتل "زما کړني او ګفتار به ټول ستا په خوښه وي. هغه مهال به نو بیا زه ستا د زړه په ګټلو بریالۍ شم، که څنګه؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

“هو، ته به بریالۍ شې”.

دې راته وویل “اوس ستا لپاره څه کولای شم؟”

“دلته راشه”.

“ورته وګوره، زه هر هغه څه کوم چې ته وایي”.

“ته ډیره ښه یې”.

“زه بیریږم چې لا تراوسه به ښه نه یم”.

“نه. ته ډیره ښه یې”.

“ستا خوښه زما خوښه ده. په موږ کې زه او ته نشته. یوازې هغه څه چې ته یې غواړې”.

“ زما مینه یې”.

“ زه ښه یم. همداسې نه ده؟ ته خو به اوس د بلې میرمنې هیله نه لرې. که څنګه؟”

“نه”.

“ اوس دې ولیدل؟ زه ښه یم. هر څه چې ته وایې کوم یې”.

## اولسم فصل

له عملیاتو څخه وروسته، چې کله راپاڅیدم بې حاله نه وم. څوک نه بې حاله کیږي. یوازې خفه کیږي. دا خفه کېدل له مرګ سره توپیر لري. دغه خفه کېدل او بېهوښه کېدل یوازې یوه کیمیاوي عملیه ده، کله چې څوک بېهوښه شي، په هیڅ شي یې سر نه خلاصیږي. داسې وي لکه مست او نشه. د کټ په اخره کې پر پرتو د ریګو پر بوجیو مې سترګې ولګیدې، چې له دیوال څخه پر راوتلو پایپونو باندې یې ایښې وې. شیبه وروسته مس ګیج راغلل او زما د صحت په اړه یې پوښتنه راڅخه وکړل ”څنګه یې؟”

“ښه یم، شکر”.

“د ځنګانه عملیات دې بیخي خوندور وه”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"عملياتو څومره وخت ونيو؟"

"دوه نيم ساعته".

"ما خو به اپلتې نه يې ويلي؟"

"نه يوه خبره دي هم ونه کړل او اوس هم خبرې مه کوه. غلی اوسه".

وضعيت مي چنداني ښه نه وو. کاترين سهي وه. خو ما ته دا مهمه نه وه، چي څوک د شپې نوکري دی.

روغتون ته يې درې نور ناروغان هم راوستل. يو وچ کلک هلک، چي ملاريا او د جورجيا وو، د سره صليب لخوا دلته راوستل شو. يو بل بيا ډنګری هلک وو، چي د نيويارک څخه يې راوستی وو، ښه هلک وو. دی هم ملاريا او هم ژړی وو او يو بل ښکلی هلک راسره وو. ده هڅه کول، چي له يوې تيرې مرمۍ څخه يو فيوز راوکاږي او د يادګار په ډول يې له ځان سره يوسي. دا يوه تيره ټوټه وه په سر کي يې يوه خولۍ درلودل چي اتريشيانو به په غرو کي تری کار اخيست. پر مځکې د راايله کيدو سره جوخت به چاوديدل.

کاترين په لږ وخت کي د ټولو نرسانو په زړو کي ځای ونيو. لامل يې دا وو چي دې به ښېله کوم محدوديت څخه شپنۍ دنده يا هم نوکريوالې کول. کاترين به ډيری وختونه په ملاريا د اخته ناروغانو سره وه. هغه هلک چي د خولۍ د خلاصولو په هڅه کي وو زموږ ملګری وو. په شپه کي به يې يوازي هغه وخت زنګ واهه چي ډير به ضرور شو. د کار په جريان کي به موږ سره يو ځای وو. کاترين له ما سره او ما له کاترين سره بېحده مينه لرل. ډيری وختونه به د ورځې په جريان کي بيده وم، خو که به ويښ وم، نو به مو د فرګوسن په لاس يو بل ته ليکونه ليږل. هغه ښه نجلۍ وه. هيڅکله د دې په اړه په شي خبر نه شوو، ماسيوا له دي چي يو ورور يې په ۵۲واحد کي او بل يې هم په عراق کي دنده لري. پر دې کاترين ډيره ګرانه وه.

يو ځلي مي ورته وويل "فرګي، زموږ واده ته راځې؟"

"ستاسي واده به هيڅکله ونه شي".

"نه. زموږ واده به خامخا کيږي".

"نه. زه خو داسي فکر نه کوم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ولي يې نه کوو؟"

"وړاندي تر دې، چي يو له بل سره واده وکړئ، ستاسي تر منځ به ټکر رامنځته شي".

"زموږ ترمنځ به هيڅ ټکر رامنځته نه شي".

"تر اوسه خو لا وخت شته".

"نه، هيڅ ټکر به رامنځته نه شي".

"نو بيا به مړ شې. ټکر يا مرګ. او دا هغه کار دی چي خلک يې کوي. واده نه کوي".

لاس مي يې لاس ته ورنژدې کړ. وې ويل "لاس مه راوړه، زه نه ژاړم. کيدای شي چي ستاسي دوو کار جوړ شي، خو ګوره کاترين په ستونزو کي ونه غورځوې. که دي دا په کوم مصيبت يا هم ستونزو سره مخ کړل، بيا دي نو خير نشته".

"زه به يې هيڅکله په ساړه باد لا ونه وهم".

"سمه ده. وړاندي به ګورو. هيله لرم، چي کومه ستونزه به نه رامنځته کيږي. ته ښه ژوند لرې".

"موږ په ګډه ښه ژوند لرو".

"نو بيا يو له بل سره جګړې مه کوئ او دا په مصيبت کي مه غورځوه".

"سمه ده".

"په همدې هيله يم. زه نه غواړم چي دا د دې جګړې له جګړه مارو سره وه اوسي".

"فرګي، ته ډيره ښه يې".

"نه، نه يم. زما چاپلوسي نه خوښيږي. پښه دي اوس څنګه ده؟"

"ښه ده".

"سر دي څنګه دی؟" پر تندي يې ګوتې راتېرې کړې. سر مي داسي وو لکه پښه چي بيده وي، ورته ومي ويل "سر مي نه په تکليفوي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“هغه ضربه چي تا پر سر خوړلې وه شونې وه، چي ستا اعصابو ته يې سخته صدمه رسولې وای. تا نه په تکليفوي؟”

“نه”.

“ځوانه، ته ډير نېکمرغه يې، ليک دي ليکلی؟ زه کښته ځم”.

ورته ومي ويل “واخله، دغه دی”.

“کاترين ته ووايه، چي تر يو وخته له نوکرېوالی څخه لاس واخلي. د ډېرو کارو له لاسه بيخي ستړې وي”.

“سمه ده، زه به ورته ووايم”.

“زه خپله غواړم، چي د شپې نوکريوالي وکړم، خو دا مي نه پرېږدي. هغه نورې نرسانې د دې په دغه کار خورا خوشاله دي. ته کيدای شي دې ته لږ شان استراحت ورکړې”.

دې ته مي وويل “سمه ده”.

فرګوسن “آغلې وان کمپن ستا په اړه ويل، چي دی هر وخت ځاښتي خوب کوي”.

“څه پروا لري، بيا دي ووايي”.

”که ته يو څو شپې هغې ته د هوسايي ووايې، ډېر به ښه وي”.

“زه خپله غواړم، دا ارام وکړي”.

“زما خو ستا په خبره باور نه کيږي، بيا هم که دي دا کار وکړ زه به ډيره درڅخه خوشحاله شم”.

“له خيره همداسي به وشي”.

“باور مي نه کيږي”. ليکونه يې له ځان سره واخيستل او بهر ولاړه. زنګ مي وواهه شيبه وروسته مس ګيج دننه راغلل ”څه خبره ده؟”

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ما ویل یو څه خبرې به سره وکړو. آ ښه که آغلې بارکلي د یوڅه وخت لپاره شپنۍ نوکریوالي پرېږدي نو څه به وشي؟ د ډېري نوکریوالۍ له لاسه بیخي ستړې وي. علت یې څه دی، چې تر ډیره ویښه پاتیږي؟"

مس ګیج لمړی ما ته وکتل او بیا یې وویل "ته زما ملګری یې. د دغه ډول خبرو اړتیا نه لرې".

"هدف دي څه دی؟"

"ځان مه اچوه. همدا خبره دي ما ته کول؟"

"ورموت څیښې؟"

"سمه ده. خو له هغه وروسته باید ولاړه شم". له الماری څخه یې بوتل راواخیست او له ګیلاس سره یوځای راغلل.

ما ورته وویل "ګیلاس ته واخله. زه یې په بوتل کې څیښم".

مس ګیج "ستا د صحت په خاطر".

"آغلې وان کمپن زما د ځانښتي خوب په اړه څه ویلي ول؟"

"یوازې یې یوه یادونه وکړل. دا تا یو خاص مریض ګڼې".

"مخ دي یې پرته شي".

مس ګیج " کمپن بده ښځه نه ده. له یوې خوا زړه او د دماغ له خوا پاته او بل له تا یې له لمړي سر څخه ښه نه راتلل".

"زه یې په کیسه کې نه یم".

"په هرصورت، زما خوښه ده. زه دي ملګرې یم او دا خبره په ذهن کې کښېنوه".

"ته ډیره ښه یې".

"مننه. زه پوهیږم، ستا په نظر ښه څوک دی؟ خو زه دي ملګرې یم. پښه دې څنګه ده؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ښه ده".

"زه به يو څه يخي اوبه راوړم، پرې توی يې کړه. لاندې به خامخا کا کوي. دباندي هوا ګرمه ده".

"ته ډېره ښه يې".

"زه به دغه دريګو بوجی سره سمې کړم". پر کټ راخم شول "زه دې ملګرې يم".

"خبر يم".

"نه، ته نه يې خبر، خو يوه ورځ به خامخا خبر شې".

کاترين د درو شپو لپاره له شپنۍ دندې څخه رخصت شول. خو له درې ورځنۍ رخصتۍ وروسته بيرته راغلل. زموږ بيا ځلې ليدل داسې ول، لکه دوه د ډېر وخت مسافر چې تر ښه ډېر بېلوالي وروسته بيا سره ويني.

## اتلسم فصل

په دوبي کې مو ښه ساعت تېر شو. کله چې د دباندې تګ جوګه شوم، يوه ورځ په بګۍ کې پارک ته ولاړو. د هماغې بګۍ تصوير مې تراوسه په ذهن کې شته. آس ځوړند سر ورو ورو روان وو. د بګۍ په مخکنې سيټ کې ګاډيوان، چې تازه پالش شوې خولۍ يې پر سر وه، ناست وو. زه او کاترين څنګ پر څنګ د شا په سيټ کې ناست وو او په يوه بله خيالې نړۍ کې ګرځېدو. وروسته چې بيا کله پر لکړو د تګ شوم، ماښام ماښام به وه (بيفي) يا هم(ګران ايټاليا) ته د ماښامنۍ خوړلو لپاره تلو او د هوټل په برنډه کې، په آزاده فضا کې به پر يوه مېز چاپېره ناست وو. د هوټل چوپړوالان به د خپلو مېلمنو په پالنه اخته ول. بل اړخ ته بيا نوي مېلمانه راتلل او زړو ميلمنو به ځای خالي کاوه. د مېزو له پاسه روښانه شمعې پرتې وې او د مېز پر سر به يې سايه اچولې وه. څو ورځې وروسته مو پرېکړه وکړه، چې زموږ لپاره(ګران ايټاليا) هوټل وړ دی. د دې هوټل د خادمانو مشر، جورج به موږ ته وختې لا يو مېز راخوندي کړی وو. دی ښه ځوان وو. ده ته به مو وويل، څه چې ستا زړه وي، هغه د ماښامنۍ لپاره راوړه او خپله به مو په دې تياره ماښام کې په برنډه کې ګرځېدونکو خلکو او يو بل ته کتل. له يخې څخه د ډک سطل په مينځ کې، به سپين کاپري شربت پراته ول، هغه به مو څښل. نور ډول ډول او رقم په رقم شربتان مو هم وکتل، لکه فريسا،

(c) ketabton.com: The Digital Library

باربیرا او ځیني نور. حالات جګړه ایز ول، په هوتل کي ساقي هم نه وو، جورج ته چي به مي کله د شراب راوړلو وویل، له خجالت څخه به یې پر شونډو مسکا خپره شول.

په ورځو کي یوه ورځ جورج مخاطب کړو "ستاسي په اند کله چي یو هیواد داسي شراب جوړ کړي، چي هغه د سرو توتو خوند ولري، نو ایا هغه هیواد شراب جوړونکی شو؟"

کاترین "ولې نه؟ باید تولید یې ډېر عالي وي".

جورج "اغلې! که یې تاسي څښنئ پروا نه لري، خو زه به وه ښاغلي ته یو بوتل مارګو شربت راوړم".

"جورجه، زه به هم هماغه وڅښنم".

"ښاغلې! زه خو وایم تر هغوی تېر شه. ان د سروتوتو خوند هم نه کوي".

کاترین "کیدای شي ښه خوند وکړي. البته که مو په طبعه ولګیدل، ډېر به ښه وي".

جورج "سمه ده زه به یي راوړم. خو کله چي اغلې قانع شول بیرته به یې یوسم".

لکه څنګه چي ده ویل وه، دې شربتو چنداني خوند ونه کړ. ریښتیا هم د سرو توتو خوند یې لا ونه کړ. بیرته مو کېږي راوغوښتل. په شپو کي یوه شپه مفلسه شوو. جورج سل لیرې پور راکړ او وې ویل "ښاغلي، کومه خبره نه ده. ما ته معلومیږي، انسان کله کله مفلسه کیږي. واورئ! هر وخت چي مو پیسې په کار شوې، زه مو په خدمت کي یم".

ډوډۍ چي مو وخوړل، دباندي راووتو په پیاده رو کي رهي شوو. له مېلمستونو او تړلو دوکانو څخه تېر او یوه وړوکي دوکان ته، چي سنډویچونه یې پلورل ودرېدو. ډول ډول سنډویچونه یې درلودل؛ غوښې والا، کاهو والا او ماهي والا. د ګوتې په شان اوږده ول او په برشته ډوډۍ کي به یې نغښتي ول. ماښام چي به کله وږي شوو، بس دوی به مو خوړل. له دوکانه چي راووتو، د کلیسا په مخکي په یوه سرخلاصه بګۍ کي کښېناستو او روغتون ته رهي شوو. بګۍ چي د روغتون دروازې ته راورسیدل، چوپړوال زما سره د مرستې لپاره راغلی. د ګاډیوان مزد مي ورکړ او بیا لوړ په لفټ کي سپاره شوو. کاترین زموږ تر پوړ لاندي کښته شول، په همدې پوړ کي د نرسانو هستوګنځای وو. له لفټ څخه راووتم او پر لکړو باندي د خپلي کوټې په لور رهي شوم. ځیني وختونه به مي جامې وکښلې او په کټ کي به پرېوتم، خو ځیني وختونه به بیا په برنډه کي کښېناستم؛ پښې به مي پر یوه بله چوکۍ تکیه کړې، په آسمان کي الوتونکو توتکیانو ته به مي کتل او کاترین ته به سترګې په لار وم. کله چي به

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلل او په وړاندي به مي ودرېده، داسي به مي احساس کړل، لکه له پيريو وروسته چي يې وينم. بيا به زه او دا تالی په لاس تلو، د دروازې شا ته به يا تم شوو يا به سيده ورننوتو؛ البته دا نو بيا په کوټه کي په موجودو ناروغانو پورې مربوطه وه، چي ملګري مو وه که يا؟ کله چي به ټوله کارونه خلاص شول، نو زما د کوټې په برنډه کي به په سرخلاصه فضا کي کښېناستو. وروسته به بسترې ته تلم، کله چي به دوی ټول بيده شول او دا به ډاډه شول، نو به راغلل. د دې په وريښتانو کي لاس وهل مي عادت غوندي ګرځېدلی وو. هر څه به غلي وه. د دې له وريښتانو څخه به مي سنجاقونه يو يو دانه ايسته کول بيا تر اخره دانه پوري؛ بيا به يو ناڅاپه د دې په ورېښانو کي پټ شوم داسي لکه په يوه خيمه يا هم ابشار کي.

د دې ورېښتان ډېر ښکلي ول. ډيری وختونه به مي لوبې پرې کولې. ورېښتان به يې د دروازې له لارې په راتلونکې رڼا کي، پړکېدل. ورېښتان يې ان په شپه کي هم ځليدل لکه اوبه، چي سهار وختي له رڼا کيدو وړاندې، ځليږي. خدای ورکړی وجود مي يې په نظر ډېر ښه وه ايسېد. کله چي به مي لمس کړل ورته وبه مي ويل "داسي نرمه يې لکه د پيانو کيلۍ". زه به يې پر زنه ووهلم وه به يې ويل "داسي لکه د پيانو پر کيليو باندي د ايمري کاغذ".

"زيږه ده؟"

"نه، ګرانه. ټوکې مي کولې".

موږ به په خپلو مينځو کي ويل، په کومه ورځ چي مو يو له بل سره وليدل، په هماغه ورځ مو واده شوی او د خپل واده شپې او ورځې مو شمېرلې. ما ريښتيا هم غوښتل چي واده سره وکړو، خو کاترين به ويل چي که موږ واده وکړو، نو ما به بيرته خپل هيواد ته وليږي. دې به ويل که محض زموږ د واده په مراسمو خبر شول، کيدای شي له ربړو سره مخ شو. موږ تر ايټالوي قانون لاندي واده کاوه، چي په دې برخه کي يې ډېر ښه قوانين درلودل. ما ريښتيا هم غوښتل چي واده وکړو، ځکه د ماشوم د زيږيدو بيره راسره وه؛ خو موږ خپل منځي داسي ټپيلي وه، چي واده مو شوی او دومره يې په انديښنه کي هم نه وو. خو دا چي واده مو سره کړی نه وو فکر کوم چی خوښ وو. ياد مي دي، يوه ورځ مو په دې اړه يو له بل سره بحث کاوه. کاترين وويل "خو ګرانه، د دولت پر ګدۍ ناست واکمنان به مي له تا څخه بېله کړي".

" کيدای شي پر موږ يې زړه وسوځي او داسي ونه کړي".

"زه په ډاډ ويلای شم که چيري دوی په موږ خبر شي، يو له بله به مو بېل کړي او بيا چي جګړه خلاصه نه شي، زما و ستا د وصال خوند نشته".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“رخصتي به واخلم او کور ته به درشم”.

“رخصتي به دي دومره نه وي، چي وه سکاټلنډ ته راشي او بيرته ولاړ شي. بېله هغه هم نه غواړم له تا بېله شم. زموږ واده به اوس څه فايده ولري؟ موږ ريښتيا هم واده کړی. نه غواړم چي بيا ځلي واده شم”.

“زه دا هر څه يوازي ستا لپاره وايم”.

“دلته زه او ته نشته. زه ته يم. ما له خپل ځانه مه بېلوه”.

“ما چي ويل نجونې تل د واده په فکر کي وي”.

“همداسي ده، خو ګرانه ما واده کړی. ما له تا سره واده کړی. زه ستا يوه ښه ميرمن نه يم؟”

“بلکل ته مي يوه ښه ميرمن يې”.

“زما مجنونه ته خبر يې؟ ما يو ځلي واده ته انتظار تجربه کړئ!”

“ زه نه غواړم په دې اړه څه واورم”.

“واوره! زه له تا پرته بل څوک نه غواړم او ته بايد په دې خفه نه شي، چي يو بل چا له ما سره مينه کړې وه”.

“کيږم”.

“له مردګانو سره بخل ښه نه دی او دا دی ته اوس هرڅه لرې”.

“زما هدف هغسې نه دی، لکه ته چي وايې، خو د زړو کېسو بيا تازه کول مي نه خوښېږي”.

“بيچاره، خوارکی. زه خبره يم چي تا له څه ډول نجونو سره ژوند تېر کړئ، خو زه ستا پر تېر باندي کومه نيوکه نه لرم”.

“د دولت په پټه واده نه شو کولای؟ له هغه وروسته که په ما يا په تا يو څه وشول، کومه خبره به نه وي”.

“د دولت يا هم کليسا پرته واده نه شو کولای. ګرانه ته زما خبره واوره، موږ واده کړی. که چيري زه پر يوه دين باندي وای بيا ما ته اړينه وه، خو زه اوس مذهب نه لرم”.

“تا ما ته د روحاني مشر انتوني نخښه رانه کړل؟”

(c) ketabton.com: The Digital Library

"هغه د بخت لپاره وه. يو بل چا ما ته راکړې وه".

"نو بيا تشويش ولې کوې؟"

"يوازې د فراق په تشويش کې يم. ته زما مذهب يې. زما هرڅه يې".

"سمه ده. بيا نو چې هر وخت تا وويل واده به وکړو".

"ته نه بايد داسې خبرې وکړې، چې ما د خپلې وفادارۍ ثابتولو ته اړباسې. زه يوه وفاداره ميرمن يم او کوم څه چې ته پرې وياړې او پرې نازيږې، نه بايد په هغه وشرميږې. ته خوشاله نه يې؟ "

ما ورته وويل "مګر ته به ما د يو بل چا په اسره نه پرېږدې".

"نه. دغه خيال په فکر کې لا مه راګرځوه. زه به له تا سره د ژوند په هره لوړه ژوره کې يم. انديښنه مه کوه".

ما يې په جواب کې وويل "سمه ده. البته ما په خپل ژوند کې يو ځلې مينه کړې، هغه هم ستا سره او تا له دې وړاندې له يو بل چا سره هم مينه کړې".

"او په هغه څه وشول؟"

"مړ شو".

"هو، خو که هغه ژوندی وای ما به له تا سره ليدلې نه وای. زه بې وفا نه يم. که څه هم ما ګڼې غلطيانې کړې، خو بې وفا نه يم. زه به تا په خپله وفادارۍ موړ کړم".

"زه په دا نژدې راتلونکې کې کيدای شي وه جبهې ته ولاړ شم".

"تر ځو چې زه او ته سره يو ځای يو، په زړه کې انديښنو ته ځای مه ورکوه. ته متوجه يې؟ زه اوس ډيره خوشاله يم او ښکلی ژوند هم لرو. په ژوند کې له ډېره وخته لالهانده وم او که مې له تاسره ليدلې نه وای، زه به ليونۍ شوې وای، خو اوس خوشاله يو او يو له بل سره مينه کوو. ته هم خوشاله يې همداسې نه ده؟ ايا اوس داسې څه شته چې زه يې کوم او هغه دې ستا ناخوښه وي؟ ايا ستا د راضي کولو لپاره يوڅه کولای شم؟ غواړې چې په وربېښتانو مې لوبه وکړې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

“هو راشه”.

“سمه ده، خو لمړی باید د ناروغانو وه لیدو ته ورشم”.

## نولسم فصل

دوبی دغه شان تېر شو. د هغو ورځو څخه مي چنداني خاطرې یاد نه دي پرته له دې، چې ګرمې زیاته وه او د بري خبرونه زیات اوریدل کیدل. صحت مي ډېر ښه وو، پښې مي هم ژر جوړې شوې. یعني د لکړو له کارولو څخه ډېر وخت نه وو تېر شوی چې، وتوانیدم د لرګي په وسیله تګ وکړم. له هغه وروسته یې په اوسپیډل مګوري روغتون کي د ځنګانه د کتولو عملیات راوکړل. درملنه عبارت وه: میخانیکي درملنه، په یوه ښیښه یې جابه کي چي د ماوراالنفش وړانګې هم پکښې وې تودوخه ورکول، مساج او لمبا. مګوري روغتون ته به له غرمې وروسته ورتلم. له دې ځایه تر راوتو وروسته به سیده یو ځلي وه ساقي خانې ته ولاړم، هماالته به مي یو څه ځیښاک میښاک وکړ او د نړۍ له حالاتو به مي هم ځان خبر کړ. په ښار کي ډېر نه ګرځیدم. بس دا مي خوښه وه، چي له ساقي خانې څخه نېغ د روغتون وه کوټې ته ځان ورسوم. څه چي ماغوښتل هغه د کاترین لیدل وو. پاته وخت چي هر ډول وو، تیریده. ډیری وختونه به سهار او ځیني وختونه به غرمه مهال بیدېدم. ځیني وختونه به آس لوبو ته تلم او بیا به له هغه ځایه ناوخته د میکانوترافۍ درملنې لپاره روغتون ته تلم. یو وخت وخت به مي (امریکایي انګرېز) کلب ته هم سر ورښکاره کاوه. هماالته به د کړکۍ پر برابري پر یوه چرمي چوکۍ کښېناستم او مجلې به مي لوستلې. له هغه وروسته چي لکړې مي ایسته کړې، ما او کاترین ته اجازه نه وه، چي په ګډه بهر ولاړ شو او وګرځو، ځکه یوه نرسه هغه هم پرته له کوم سرپرسته له یوه داسي ناروغ سره چي په ښکاره کوم مرستندویه ته اړتیا نه لري، یو ځای ګرځېدا چنداني منطقي نه ښکاریده. ډیری وختونه به غرمه مهال یو له بله بېل وو، خو ماښام که به فرګوسن راسره وه، بیا مو کولای شوای ووزو اوماښامنۍ دباندي په هوټل کي وخورو. آغلې وان کمپن ته مو ویلي وه، چي موږ دواړه ډېر ټینګ ملګري یو. دې هم دا خبره ځکه منلې وه، چي د کاترین پر اوږو یې یوه پلنډه کارونه وربار کړي ول. کمپن په دې عقیده وه چي کاترین له یوې درنې کورنۍ څخه ده. وان کمپن پر کورنې نظام سخته عقیده درلودل، دا خپله هم له یوې درنې کورنۍ څخه وه. په روغتون کي اوس د پخوا په پرتله ګڼه ګوڼه زیاته وه او دا به یې بوخته ساتلې وه. په میلان کي ګرمې زیاته وه. د ملګرو شمیر مي هم ورځ تر بلې ډیرېده، خو زما به تل

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا بېره وه، چي د روغتون وه کوټې ته ژر ځان ورسوم. د کارسو په جبهه کي د پرمختګ خبرونه تا و بالا کېدل. له پلاوا څخه ورهاخوا يو ځاى چي په کوک مشهوره وو، فتح شوى وو او اوس د باينسيزا دښتي نيولو لپاره عمليات روان ول. په لوېديځه جبهه کي له ډېره وخته جګړه روانه وه، خو چنداني په مزه کي نه ښکارېدل. موږ اوس په جګړه کي ښکېل وو، زما د اټکل له مخي د يوه ستر لښکر تيارول، مجهزول او د بيا د جګړې ډګر ته د هغوى سوقول به يو کال وخت په بر کي ونيسي. دا امکان هم وو، چي راتلونکى کال دي تر دې ناوړه واى. خو دا امکان هم وو، چي حالات دي سم شي. ايټالويانو بې حده پوځيان د جګړې ډګر ته راوړاندې کړې ول، خو دا چي اوس حالات کوم لور ته روان ول، نه پرې پوهيدم. ان که ايټالويانو د باينسيزا ټوله دښته او د سان ګبريل غر هم نيولې واى، ورسره بيا هم د اتريشيانو په اړخ کي زيات غرونه پاتېدل. ما خپله ليدلي ول. اوس هم دنګ او جګ غرونه د اتريشيانو په واک کي وه. په کارسو کي پرمختګ دوام درلود خو همالته بيا د سيند لوخې او خټينه مځکه، د پوځيانو د پرمختګ خنډ ګرځېده. که ناپليون هم واى اتريشيان به يې په دښته کي تس نس کړى واى، خو په غرونو کي به هيڅکله ورسره جنګيدلى نه واى. لمړى به يې هغوى ته موقع ورکړې واى، چي له غرو څخه لاندي راکښته شي او بيا به يې د جګړې په هوار ډګر کي هغوى تار و مار کړي واى. خو اوس هيڅ چا، په لويديځه جبهه کي څوک نه تس نس کول. شونې وه، چي نور په جګړو کي د بري لفظ له منځه تللى واى . د جګړې د دايمي کيدو شونتيا هم وه. شونې وه، چي دا دي يوه بله سل کلنه جګړه[20] واى. اخبارونه مي بيرته د مېز پر سر کښېښول او راووتم. په زينو کي په احتياط سره راکوز شوم او د ويا مانزوني لورې ته رهي شوم. د ګران هوټل په مخکي مي بوډا ميرز وليد، چي له خپلي خانمې سره يوځاى له بګۍ څخه راکښته کېده. دوى دواړه د اس ځغلوني له لوبو څخه راستانه شوي وه. خانمه يې د يوه غټ هيکل لرونکې وه. تور ساټن يې اغوستى وو، خو ميرز خپله کوتا قده، بوډا او سپين بريتونه يې پرې ايښي ول. دى به تل لکړه په لاس ګوډ ګوډ روان وو.

خانمې يې ما ته لاس راکړ "څنګه ياست؟ صحت مو څنګه دى؟ " ميرز "سلام".

"لوبې څنګه رواني دي؟"

"ښې دي. تفريح مو وکړل. درې ځلي بريالى شوم".

[20] سل کلنه جګړه يوه اصطلاح ده، چي د فرانسې او انګلستان ترمنځ شوې جنګ ته کارول کيږي، چي له ۱۳۳۷ نه تر ۱۴۵۳پورې يې دوام وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له میرز څخه مي پوښتنه وکړل " تاسي څنګه؟"

"بده نه وه، ما هم یوه وګټل".

د میرز میرمنې وویل "زه هیڅکله د ده په کارو کار نه لرم، دی په دې اړه ما ته هیڅ نه وایي".

میرز وویل "زه ښه کوم". دی ښه صمیمی شخصیت وو "ته باید اوس د هوا خوردنی لپاره دباندي راووزې". د خبرو پر مهال به مخاطب کس داسي فکر کاوه، چی دی ما ته نه ګورې یا یې هم په یو بل چا غلط کړي یې.

ده ته مي وویل "سمه ده له خیره".

د میرز خانمې وویل "که مي له خیره وخت پیداکړ، د پوښتني لپاره دي روغتون ته درځمه. د خپلو اولادو لپاره مي یوڅه اماده ګي هم نیولې. تاسي ټوله زما بچیان یاست. ته رېښتا هم زما ګران بچی یې".

"هغوی به دي په لیدو ډیر خوشاله شي".

"هغوی ټول زما خواږه بچیان دي، ته له هغو څخه یو یې".

ما ورته وویل "نور، نو ما ته اجازه راکړئ".

"زما پر کوچنیانو مي سلامونه وایه. هغوی ته مي ښه ډیر شیان برابر کړي. خوندوره مارسلا او کیک".

ما ورته وویل "تر بیا د خدای په امان. هغوی به دي، په لیدو ډیر خوشحاله شي".

میرز "الله مو مل شه. ګالیریا ته بیا له خیره راشه. همالته خو زموږ مېز درته معلوم دی. هره غرمه همالته یو". پاس په کوڅه کي روان شوم. هوډ مي وکړ، چي په کووا کي د کاترین لپاره یو څه وپیرم. همالته مي یوه خلته چاکلیټ رانیول، څو چي دوکانداري نجلۍ خلته په کاغذ کي پیچل، زه وه بار ته ولاړم. هلته څو نفره بریتانویان او څو پیلوټان ناست ول. فقط مي یو ګیلاس مارتیني وڅیښی. پیسې مي یې ورکړې، د چاکلیټو کڅوړه مي ترې واخیستل او د روغتون په لور رهی شوم. له سکالا ورپورته له څو ملګرو سره مخ شوم. (مرستیال کونسل)، دوه د موسیقۍ زده کونکي او (ایتور موریتي) چي په اصل کي د ایټالیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو، خو په سانفرانسیسکو کي اوسیده. په ایټالوي پوځ کي یې دنده درلودل. له دوی سره مي یو څه ځیشاک وکړ. یو سندرغاړی (رالف سیمونز) وو، چي د اینریکو ډیلکریډو تر مستعار نامه لاندي یې سندرې ویلې. د ده د سندرو طرز مي هیڅکله تجربه نه کړ. خو تل به یې ځان داسي ښوده، لکه ډیر کارونه چي په مخ کي ورته پاتې وي. په بدنه چاغ او د پزې په شاوخوا کي چیچک وهلی ښکاریده، د پزې او خولې په شاوخوا کي به داسي معلومیده لکه زکام چي وي. دی له پایسنزا څخه د سندرو ویلو وروسته راستون شوی وو.هلته یې په توسکا ویلو سره خورا شهرت موندلی وو.

وې ویل "تا به تراوسه زما سندرې نه وي اوریدلې؟"

"دلته څه وخت سندرې وایې؟"

"په مني کي وه سکالا ته ځم".

ایټور "شرط تړم چي هلته به تا په چوکیانو  وولي، په موډینا کي چي یې دی په چوکیانو باندي وویشت تاسي په خبر شوی؟"

"دا سراسر درواغ دي".

ایټور"دی یې په چوکیانو وویشت. زه خپله همالته وم. ما په خپله شپږ چوکیانې پرې ورخیر کړې".

"ځه ورک شه، درواغجنه".

ایټور "د ده سمه ایټالوې نه ده زده. په هرځای کي به یې ښه راغلی په چوکیانو کیږي".

هغه بل سندرغاړي وویل "پایسنزا په شمالي ایټالیا کي د سندرو ویلو لپاره ترټولو ښه ځای دی، زما په خبره باور وکړئ، چي هغه ښه ځای دی." دغه سندرغاړی (ایدګرساندرز) نومیده. د ایډوارډو ګیواني ترمستعار نامه لاندي یې سندرې ویلې.

ایټور "زړه مي غواړي چي هغه صحنه ووینم چي کله تا په چوکیو باندي ولي. ستا خو ایټالوي سندرې نه دي زده".

"دی محض ټمبل دی، د ده د میزو د غورځولو پرته بل څه نه دي یاد".

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایټور "هغوی پوهیږي، چې کله ته سندرې ویل پیل کړې باید څه وکړي. او بیا چې کله امریکا ته ستون شې په سکالا کې به د خپل بریالیتوب خبرونه هر چا ته وایې. د نور څه ویلو موقع به ګرد سره پیدا نه کړې".

سیمونز "زه په اکتوبر کی په سکالا کې سندرې وایم، هغه هم د توسکا".

ایټور وه مرستیال کونسل ته وویل "همالته ځو. که څنګه مککه؟ خو د دوی د ساتنې او دفاع لپاره باید یو څوک موجود وي".

مرستیال کونسل وویل "کیدای شي د ده د ساتنې لپار د امریکا پوځ راشي. سیمونزه ته بل ګیلاس څښې؟ ساندرزه ته بل ګیلاس څیښې؟"

ساندرز "هو، راډک یې کړه".

ایټورما ته مخ راوګرځاوه "اوریدلي مې دي چې د سپینوزرو مډال درکوي. له څه ډول ستاینلیک سره؟"

"نه پوهیږم، معلومات نه پرې لرم. خو رابه یې کړي".

"اوه، تا ته به مډال درکړي! او له هغه وروسته به د ښار نجونې دا فکر کوي، چې ته یو اتل یې. هغوی به فکر کوي، چې تا په یوازې سره دوه سوه اتریشیان وژلي او یا دي هم یو مورچل د خپلو مټو په زور فتح کړی. پر ما باور وکړئ، زه هم باید د خپلو مډالو لپاره لاس په کار شم".

مرستیال کونسل "ایټوره، تراوسه دي څومره مډالونه ګټلي؟"

سیمونز "مډالونه ټول ده وړي او بله خبره دا چې د جګړې اصلي جرړه همدی دی".

ایټور "زه دوه د برونزو او درې د سپینوزرو مډالونه لرم. خو تراوسه ده یوه مډال هوکړه رارسیدلې".

"نو هغه پاتې یې چیري دي؟"

ایټور"عملیات بریالي نه ول. کله چې عملیات بریالي نه وي ټوله مډالونه بیرته ترې اخلي".

"ایټوره، تراوسه څو ځلي ژوبل شوی یې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

"درې ځلي سخت ژوبل شوی یم. درې د زخم لیکي لرم، ورته وګورئ!"

لستونې يې راوښرخاوه. درې نقره يي موازي کرښې پر يوه ټوټه چي تور شالید يې درلود بخې شوي وې. نژدې اته انچه تراوږې لاندي بخې شوي وې.

ایټور ما ته وویل "ته به هم له خیره د یوه ښکلي مډال څښتن شې. زما خبره واوره! مډال درلودل یو بېل خوند لري. درې داني چي ولرې بیا نو یوشی کیږي. ته ژوبل شوې، درې میاشتې په روغتون کي پروت وې او اوس به له خیره د مډال څښتن شې".

مرستیال کونسل "پر کوم ځای ولګېدې؟"

ایټور لستونې رابډ واهه او وې ویل "دلته". ژور او سور ځای يې په نښه کړ."دلته په ورون کي، اوس يې ځکه نه شم درښکاره کولای چي ګلګل مي په پښو دی. بل دلته په پښه کي. همدا اوس مي پښه کي اضافه هډوکي شته او بوی کوی. هره ورځ کوچنۍ کوچنۍ ټوټې ځیني راباسم، پښه مي هر وخت بوی کوي".

سیمونز "په څه شي ژوبل شوې؟"

"لاسي بم. ډېر ناوړه او خطرناک بمان دي. له پټاوېدو سره يې سمدستې ژوبل کړم. تا لاسي بمان لیدلي؟" له ما څخه يې پوښتنه وکړل.

ما جواب ورکړ "هو".

ایټور "بم غورځونکي بي غیرته ته مي کتل، چي بم يې راباندي راوغورځاوه. له پټاو سره سمدستي يې پر مځکه راغوځار کړم او فکر مي وکړ، چي له نړۍ څخه ولاړم، خو دې د روس زامنو په ما هیڅ ونه کړل او ژوندی پاتې شوم. بم غورځونکی د شیطان زوی مي په بیره د خپل ټوپک په ډز هغې ته نړۍ ته ورواستاوه. ما به تل له ځان سره ټوپک ګرځاوه، تر څوی هغوی راپوه نه شي، چي زه افسر یم".

سیمونز وپوښتل "هغه څنګه ښکاریده؟"

ایټور"همدا یوه دانه ورسره پاتې وو. خو نه پوهیږم، ولي يې راوغورځاوه. فکر کوم بم غورځولو خوند ورکاوه، یا کیدی شوه، له ریښتوني جګړې سره مخ شوی نه وو. په هرصورت ما هم هغه د سپي زوی د مردک تر خولې تیر کړ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمونز "کله چي دي وویشت، څیره یې څه ډول شول؟"

"ځغله! زه یې بیا په څیرې څه خبر یم. په دا ګېډه کي مي دروویشت. ډارېدم چي که یې پر سر وولم، نښه راڅخه خطا نه شي".

ما پوښتنه ځیني وکړل "څومره وخت کیږي، چي افسر شوی یې؟"

"دوه کاله. زه به له څیره وه تورنی ته ارتقاع وکړم، ستا څومره وخت کیږي چي بریدمن یاست؟"

"دا مي دریم کال دی".

ایټور "ته تورن نه شې کیدای، ځکه ایټالوي ژبه دي بشپړه نه ده زده. ته خبرې پرې کولای شې، خو لیک لوست دې سم نه دی. بله دا چي د تورنی لپاره زده کړې اړیني دي. تاسي د امریکا پوځ ته ولي نه ځئ؟"

"زړه خو مي غواړي چي ولاړ شم".

"کاشکي زه تلای شوای. آ ښه مککه، د تورن تنخوا څومره وي؟"

"دقیق نه شم ویلای. خو فکر کوم چي د دوه نیم سوه ډالرو په شاوخوا کي به وي".

"اوه، خدایه! زه به په دوه نیم سوه ډالره څه کوم؟ فریډه، څومره چي ژر شوني وي د امریکا پوځ ته ولاړ شه. وروسته بیا معلومات وکړه، چي زه هم کولای شم درشم؟"

"سمه ده".

"زه په ایټالوي کي پوځیانو ته هدایات کولای شم، خو انګلیسي به هم ژر زده کړم".

سیمونز "ته به که خدای پاک غوښتل یو لوی جنرال شې".

"نه، زه لا تراوسه د جنرالی لیاقت نه لرم. جنرال باید په یوه نړی شیانو پوه وي. ته فکر کوې، چي جګړه یوه لوبه ده. ته د یوه پېرکمشر لیاقت لا نه لرې".

سیمونز "شکر خدایه، چي زه خو نه یم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“ته صبر شه یو ځلي ستاسو لټانو نوبت راشي. غواړم، چي له تاسو څخه دوه زما په پلټن کي راشئ. مک هم. مککه، زه به له تا څخه خپل چوپړوال جوړ کړم”.

مک “ایټوره، ته خو بیخي ستر سړی یې. خو زه ستا پر نظامیتوب بیریږم”.

ایټور “زه به د جګړې له پایته رسیدو وړاندي ډګروال شم”.

“که ژوندی پاتي شوې، نو به ډګروال شې”.

“ما څوک نه شي وژلای”. پر لستوني ټومبل شوي ستورو ته یې اشاره وکړل “تاسي پوهیږی چي ما څه کړي؟ هر وخت چي د وژل کیدو خبره کیږي، موږ خپل ستوري لمسوو”.

ساندرز “سبمه، درځئ له خیره”.

“درځئ”.

ما ورته وویل “په مخه مو ښه. زه هم باید ولاړ شم”. په بار کي موجود ساعت پنځلس بالا شپږ بجي ښوولې.“ایټوره، د خدای په امان”.

ایټور “په مخه دي ښه، فریډه. ډیر خوشاله شوم، چي تاسي ته مډال درکوي”.

“زه لا تراوسه ډاډه نه یم، چي رابه یې کړي”.

“مه نااميده کیږه، فریډه. زه ډاډه یم، چي تا ته به مډال درکوي”.

ما ورته وویل “مننه، ښه وخت ولرې. او ایټوره، له تکالیفو څخه ځان ساته”.

“زما په اړه تشویش مه کوه. زه نه څه څیښم او نه هم دېخوا اخوا ګرځم. زه نه پوډري یم او نه هم مرده ګو. پخپل خیر او شر پوهیږم”.

ما ورته وویل “کامیابه اوسئ. وه تورنی ته دي د رتبې په جګېدو ډیر خوښ شوم”.

“زما تورني په شک کي نه ده. زه به په جګړه کي د ښه کارکردګی له امله تورن شم. ته پوهیږې، درې ستوري له ورغلو تورو او له پاسه یو تاج څه معنی؟ هغه یعني زه”.

“بریالي اوسئ”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

“تاسي هم. جبهې ته کله ځې؟”

“ډېر ژر”.

“سمه ده. بیا به سره ګورو”.

“د خدای په امان”.

“په مخه مو ښه”.

د شا په کوڅه کي چي د روغتون وه څلور لاري ته تلل رهي شوم. ایټور درویشت کلن وو. له خپل تره سره د امریکا په سانفراسیسکو کی اوسیده. تورینو ته د خپل مور و پلار لیدو ته ورغلی وو. دی لا په تورینو کي وو، چي جګړه پیل شول. یوه خور یې هم درلودل چي له ده سره امریکا ته استول شوې وه. دا هم له خپل تره سره اوسیدل. سږکال له ښوونځی څخه فارغیدل. ایټور د جګړې یو ریښتینی اتل وو او له چا سره چي به مخ شو، ډېر به یې ځوراوه. کاترین د ده خبرې نه شوای زغملای.

دې به ویل “موږ هم اتلان لرو. خو ګرانه، هغوی ډیر ارام او غلي وي”.

ما به ورته ویل “زما پر طبیعت جوړ دی”.

“که دی مغروره او ازاري نه وای زما هم بد نه ځیني راتلل”.

“هغه ما هم ځوروي”.

“ګرانه، ته ډیر ښه کوې چي داسي وایې. خو اړتیا یې نشته. ته کولای شي چي دی په جبهه کي وه ازموېې. ښه انسان دی، خو له هغو خلکو څخه نه دی چي زما ښه ځیني کیږي”.

“پوهیږم”.

“ډیر ښه کوې، چي پوهیږې. هڅه کوم، چي له نفرت څخه ځان لیري وساتم. خو دا کار بیخي ناشونی ښکاریږي”.

“له ایټور سره مي باندار وکړ. ما ته یې وویل چي وه تورنی ته ارتقاع کوم”.

“په اوریدلو یې خوشاله شوم، دی به هم خوشاله شوی وي”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

“ستا په نظر زه باید نوره ارتقاع وکړم که یا؟”

“نه، ګرانه. زه غواړم چې ته دومره رتبه ولرې، چې لویو مېلمستونو ته د تګ اجازه ولرې”.

“نو بیا همدغه رتبه سمه ده”.

“ته ډېره ښکلې رتبه لرې. نه غواړم چې له دې څخه لوړه رتبه واخلې. اوه، ګرانه زه ډېره خوشاله یم، چې ته مغروره نه یې. که  ته مغروره هم وای، بیا به مې هم له تا سره واده کړی وای. خو د یوه ساده خاوند درلودل ډېر ښه وي”.

په برنډه کې مو نرم باندار اچولی وو. د سپوږمۍ د راختلو اټکل شوی وو. خو ګرد د ښار فضا نیولې وه. سپوږمۍ نه ښکاریدل. شیبه وروسته څاڅکي ورو ورو په وریدو شروع شول او موږ دننه راغلو. دباندې وړوکي څاڅکي د باران په لویو څاڅکو تبدیل شول. شیبه وروسته ښه ټینګ باران په ورېدو وو. پر بام باندې د باران لوی لوی څاڅکي لوېدل او موږ یې ټکهاری اورېده. زه دروازې ته ورغلم، چې وګورم باران خو دننه نه راځي، دننه نه راتلی، نو دراوزه مې همداسې خلاصه پرېښوول.

کاترین ”بل دې له چا سره ولیدل؟”

“میرز او د هغه له خانمې سره”.

“دوی دواړه هم عجبه انسانان دي”.

“میرز باید اوس په کور کې په ریاضت اوعبادت مشغول وای، خو دوی له کوره ایستلی، چې همالته دباندې پسې مړ شي”.

“له هماغه وخته په میلان کې ښه خوشاله ژوند لري”.

“نور یې نو د خوشحالۍ په اړه معلومات نه لرم”.

“بلې، فکر کوم له زندانه وروسته په کافي اندازه خوشحاله ژوند کوي”.

“د میرز خانمې نیت کړی، چې روغتون ته به له تحایفو سره راځي”.

“هغه ډېر ښه شیان راوړي. ته د دې په ګرانو بچیانو کې وې؟”

(c) ketabton.com: The Digital Library

"یو له هغو څخه".

"تاسي ټوله ورته محبوب یاست. له ګرانو بچیانو سره ډیره مینه کوي. باران ته غوږ شه".

"ټینګ باران اوري".

"او ته به تل له ما سره مینه کوي. که څنګه؟"

"هو".

"او باران به کوم توپیر رامنځته نه کړي؟"

"نه".

"ډیر ښه. ځکه زه له باران څخه بیریږم".

"ولي؟" زه خوبوړی وم او دباندي بیا باران ښه په شړپا وریدی.

"نه پوهیږم، ګرانه. زه هر وخت له بارانه بیریږم".

"زما خوښ دی".

"په باران کي له قدم وهلو سره مینه لرم. خو پر میني سخت تامیږي".

"له تا سره به زما مینه مدام وي".

"زه در سره په باران، واوره او ږلۍ کي مینه لرم.ــــ بل څه شته؟"

"نه پوهیږم. داسي ښکاري لکه زه چي خوبوړی یم".

"بیده شه ګرانه. خو زه به مینه درسره لرم، توپیر نه لري هغه چي هر ډول وي".

"ته ریښتیا له باران څخه بیریږې؟"

"که له تا سره یم، بیا نه ځیني بیریږم".

"ولي ځیني بیریږې؟"

کاترین "نه پوهیږم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وویل "راته ووایه".

"مه مي مجبوروه".

"راته ووایه".

"نه یې درته وایم".

"یا راته ووایه".

"سمه ده. زه له باران څخه څکه بیریږم،چي ځیني وختونه خپل جسد پکښې وینم".

"نه".

"ځیني وختونه ستا جسد هم پکښې وینم".

"د دې امکان یې زیات دی".

"نه، ګرانه. څکه چي زه دې د سلامت ساتلو هڅه کوم، زه پوهیږم چي زه دي ساتنه کولای شم. خو هیڅوک نشته چي د خپل ځان ساتنه لا وکړي".

"بس یې کړه. زه نه غواړم چي نن شپه لیونۍ شې. فکر کوم چي وه بېلیدو ته مو ډیر وخت نه دی پاتې".

"یا. زه سکاټلنډۍ یم او لیونۍ یم. خو نور به یې بس کړم. دا ټوله چټیات وه".

"هو، ټوله چټیات".

"ټوله چټیات، ګرده چټیات. زه له باران څخه بیریږم. زه له باران څخه بیریږم. اوه، اوه، خدایه.کاشکي نه بیریدلای". کاترین په سلګو شول. دلاسا مي کړل، څو چي ارامه شول. خو باران تراوسه وریده.

## شلم فصل

یوه ورځ ماپښین مهال د اسانو وه مسابقي ته ولاړو. فرګوسن او کراول راجرز هم راسره وه. دی هماغه ځوان وو، چي د توپ خولۍ ژوبل کړی وو. نجونې د غرمنۍ خوړو وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کالو اغوستو لپاره ولاړې. زه او کراول د ده په کوټه کې پرکټ کښېناستو او د اس لوبو په ورځپاڼو کې مو د اسانو شالید او د دوی په اړه مو د ورځپاڼو والا نظریات ولوستل. د کراول سر په سپین بنداژ کې تړلی وو. له دغو سیالیو سره یې چنداني علاقه نه وه، خو د ځان لپاره د یو مصروفیت په توګه به یې تل د اس لوبو ورځپاڼې لوستې او د هغوی ریکارډ به یې له ځان سره ساته. ده به ویل چې اسان ډېر زیات دي. خو همدا ټوله وه او له دوی پرته نور نه ول. د بوډا میرز، له کراول سره جوړه وه او له وړاندې به یې لا د ګټونکو اسانو نومونه وه ده ته په پټه ښودل. میرز به تل ګټونکی کیده، خو طبیعتاً یې دا نه خوښیدل چې د ګټونکي اس نوم له وړاندې وه چا ته وښیي. علت یې دا وو چې که یې چاته ښولی وای بیه یې راټیټېدل. یاده لوبه ډېره چمبازه وه. هغو ورزشکارانو چې وړاندې یې په نورو ډګرونو کې خپل هنر ښوولی وو، تازه یې دلته په ایټالیا کې لوبې کولې. د میرز معلومات دقیق وه، خو زما نه خوښیدل چې پوښتنه ځیني وکړم؛ ځکه ځیني وختونه به یې زما له پوښتنې ځان تیراوه. له ورایه به پوهیدې چې د پوښتنې له جواب ورکولو څخه یې ښه نه راځي، خو د ځینو اړتیاو پر اساس یې ځان اړ ګاڼه چې جواب ورکړي. خو له کراول سره بیا داسي نه وو. کراول په سترګو زخمي وو، خو د یوې سترګې زخم یې شدید وو. میرز هم له سترګو څخه کړېده، له همدې امله یې له کراول سره مینه وه. میرز به خپلې میرمنې ته نه ویل چې کوم اس لوبوي. میرمنې که به یې بایلل که به یې ګټل البته ډیری به یې بایلل او تل به یې جروبحث کاوه.

موږ څلور واړه په یوه سرخلاصه بګۍ کې وه سان سیرو ته ولاړو. ښکلې او بوختنه ورځ وه. د پارک او ترامو له کرښې تېر او له ښاره دباندې پر یوه سړک، چې په دوړو مالامال وو روان شوو. د سړک له څنډو څه ورهاخوا ښکلې او دنګې ماڼۍ له اوسپنیزو پنجرو سره، ګڼ او لوی بڼونه، له اوبو څخه ډکې ویالې او د سبزیجاتو ښکلي کروندې وي، چې د پاڼو له پاسه یې دوړې پرتې وي. په شمال کې تر غونډیو ورهاخوا کلیوالي کورونه، شنه او ګڼې فصلونه او له اوبو څخه غورېدونکي ډکي ویالې لیدل کیدې. په لار کي له ګڼو بګیانو سره، چې د لوبغالي په لور رواني وې،مخ په مخ شوو. دا چې موږ په یونیفورم کي وو، ځکه نو د لوبغالي ورساتونکو د ټکټ غوښتنه راڅخه ونه کړل. د لوبغالي په دروازه کي له بګۍ څخه راکښته او دا مو رخصت کړل. همالته مو د لوبې اړوند پاڼې وپیرلې. په میدان کي دننه روان شوو او بیا د آسانو له ځغاست لیکي سره تېر شوو. د تماشچیانو تمځای زوړ او له لرګو څخه جوړ شوی وو. د شرط بندی غرفې د تماشاچیانو له تمځای نه کښته له کمند سره نژدې، په یوه قطار پرتې وي. د میدان پر شاوخوا راچاپیره شوو کټارو سره د پوځیانو ګڼه ګونه زیاته وه. په څرځای کي هم د خلکو له لاسه د پښې ایښوولو ځای نه وو. آس ځغلونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تماشاچیانو د تمځای شا ته، تر ونو لاندي له آسانو سره یوځای ګرځیدل. همالته په لوبغالي کي مي له څو زړو اشنایانو سره لیدنه وشول. د فرګوسن او کاترین لپاره مو څوکیاني راوړې او د اسانو په لیدو مصروفه شوو.

اسان یو په بل پسي ځړیدلي سرونه د روزونکو په رهبری میدان ته راروان ول. په دوی کي یو چونیا او تور رنګ ته نژدې اس باندي کراول قسم وخوړ چي هغه اس رنګ شوی دی. موږ هم هماغه اس ته ځیر شوو، د ده خبره هم شوني راته ښکاره شول. د زینولو له خبرتیا سره فورا بهر راووت. موږ په پانه کي د همدې اس په شمیره پسي وکتل، دی د یو تور اس په توګه د جاپلاک په نامه ثبت شوی وو. دغه لوبې د هغو اسانو لپاره وې چي تردم ګړی یې له زرو یا هم تردې د زیات قیمت لوبه نه وه ګټلې. کاترین ویل ریښتیا هم جاپلاک یې رنګ کړی، فرګوسن په دې اړه له څه ویلو ډډه وکړل او زه خپله بیا پکښې دوه زړی وم. په ګډه مو پرېکړه وکړل، چي پر همدې اس به شرط تړو او سل لیرې مو جمعه کړې. د جدول له لیکنې څخه داسي ښکارېدل، که دغه اس بریالی شي نو یو پر پنځه دیرش به یې ورکوي. کراول د ټکټانو په راوړو پسي ولاړ او موږ د اسانو په تماشه شوو. سپړو د میدان پر شاوخوا یو دور بل هم وخوړ او بیا د ونو د سایې لاندي راتېر شول او د لوبې پر پیل کرښه باندي منتظر ودریدل.

موږ د لوبې کتلو لپاره د تماشچیانو وه تمځای ته ورپورته شوو. په سان سیرو کي له دوی سره کوم ربړي مانع موجود نه وو. اسان پر پیل کرښه باندي ډېر واړه ښکاریدل. دوی ټول د متروکې له یوه شړک سره په ځغاسته شول، راغلل او زموږ مخي ته تېر شول. په دوی کي تور اس له ټولو څخه مخکي او وړاندي روان وو. دوی له موږ څخه ښه لیري شول، ما دوربین سترګو ته ونیو، تور اس ته مي وکتل سپور یې هڅه کول، چي په خپل قابو کي یې وساتي خو پاتې پکښې راغلی. البته دوی چي کله وه پیل کرښې ته راورسیدل نو تور اس له خپلو سیالانو څخه پنځلس طوله لیري وو. له پای کرښې څخه تر تیریدو وروسته یې یو بل دور هم وخوړ.

کاترین "څومره ښه! موږ خو له درو زرو څخه زیاتي لیرې وګټلې. دغه اس مي ډېر خوښ شو."

کراول "خدای دي وکړي، ترڅو چي موږ ته یې زموږ پیسې نه وي راکړي رنګ یې ولاړ نه شي".

کاترین "ریښتیا چي غښتلی اس وو. خدای دي وکړي، چي میرز شرط پرې تړلی نه وي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

له میرز څخه مي وپوښتل "ته ګټونکی شوې؟" سر  يې وښوراوه.

د میرز میرمن وويل "ما خو بايلودل. بچيانو تاسي پر کوم اس شرط تړلی وو؟"

"جاپلاک".

"ریښتیا؟ هغه يو پر پنځه دیرش دی".

"زموږ يې رنګ خوښ شو".

"زما نه دی خوښ. ما فکر کاوه چي هغه به ناروغ وي. يو چا راته وويل چي شرط مه پرې تړه".

میرز "فکر نه کوم چي ستاسي پیسې دي پوره درکړي".

ما ورته وويل "په پانه کي خو يو پرپنځه دیرش لیکل شوي".

میرز "بشپړي پیسې نه درکوي. دوی پر هغه ډیري پیسې ایښي دي".

"چا؟"

"کیمپټن او د هغه ملګرو. اوس به يې ووينې، نه يې درکوي".

کاترین "نو بیا زموږ د درو زور لیرو خوب نه ریښتیا کیږي. زما خو دغه چلبازه لوبه خوښه نه شول".

"دوه سوې لیري راکوي".

"دوه سوه لیرې نو څه شي دي. د هیڅ رنځ نه دوا کیږي. ما خو د درو زرو لیرو خوب لیده".

فرګوسن "دا یوه فریبناکه او نفرتي لوبه ده".

کاترین "ریښتیا هم. که داسي نه وای موږ به يې هیڅکله ملاتړ نه وای کړی، خو زما يې هغه درې زره لیري خوښي شوې".

(c) ketabton.com: The Digital Library

کراول "راځئ لاندي ولاړ شو او وه به ګورو چي څومره راکوي".  د پیسو د ورکولو زنګ ووهل شو. پر جاپلاک یې له ګډلو څخه وروسته ۱۸،۵ ایښې وي. یعني پر جاپلاک یې له ګډلو څخه وروسته تر لس لیرې هم کمي ایښې وي.

موږ د تماشچیانو تر تمځای لاندي وه ساقي خانې ته ولاړو. همالته مو في نفر سوډا او ویسکي وڅیښل. له څو ایټالوي ملګرو سره مخ شوم. مک اډمز هماغه مرستیال کونسل مو هم ولید. کله چي د نجونو وه لور ته راتېر شوو، دوی هم راپسي راغلل. ډیر اخلاقي او تشریفاتي ایټالویان ول. د بیا ځلي لپاره کله چي د شرط بندی لپاره ولاړو مک اډمز له کاترین سره په خبرو پیل وکړ. میرز هم له دوی سره په خوا کي ولاړ وو.

کراول ته مي وویل "له میرز څخه معلومات وکړه، چي پر کوم اس یې شرط تړلی".

کراول میرز ته وویل  "تاسي پر کوم اس شرط تړلی؟"

میرز خپله پاڼه راوایستل. او پنځمه شماره یې په نښه کړل.

کراول "ستاسي خوښه ده، چي موږ هم پر همدې اس شرط وتړو؟"

"ولي نه. کولای شئ، خو میرمنې ته مي مه وایاست، چي شماره ما درته ښوولې".

ما پوښتنه ځیني وکړل "یو څه څیښی؟"

"نه مننه. له څیښاک سره مي چنداني علاقه نشته".

موږ پر پنځمه شماره سل لیرې د ګډلو لپاره او سل لیرې هم د دوهم یا دریم مقام د خپلولو په موخه کښېښودې. بیا ځلي مو سږي سر یو، یو ګیلاس ویسکي او سوډا وڅیښل. تر پخوا روحاً یو څه ارام وم. څو نفره نور ایټالویان هم راغلل او له هغو سره مو په ګډه څیښاک وکړ او بیرته وه خپل پخواني ځای ته راغلو. دوی هم په کړو وړو کي زموږ وه هغه نورو ایټالوي ملګرو ته شوي ول. شیبه وروسته ناسته ناشوني شول. ټکټان مي وه کاترین ته ورکړل.

کاترین راته وویل "کوم اس دی؟"

"ما ته نه دی معلوم. میرز انتخاب کړی".

"نوم یې څه شي دی؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

"په پانه کې شته. فکر کوم پنځمه شماره نوم دی".

کاترین "تاسې هم عجبه باور لرئ".

پنځمه شماره ګټونکې شو، خو ګټه يې ډېره نه وه. میرز ډېر په قهر وو.

میرز وویل "د شلو لیرو د ګټلو لپاره باید دوه سوه لیرې ولګوې. بیا لس لیرې د دولسو په وړاندې هیڅ ارزښت نلري. میرمنې مې شل لیرې بایلودې".

کاترین "زه هم ستا سره لاندې ځم". ایټالویان هم له موږ سره په ګډه راپاځیدل. لاندې څړځای ته کوز شوو.

کاترین ما ته وویل "د اسانو لوبې دې خوښیږي؟"

"لږ، لږ".

کاترین "ډېر ښه. زه هم همداسې یم. خو زه بیا د دومره خلکو د لیدو حوصله نه لرم".

"موږ خو اوس له ډېرو خلکو سره نه دي لیدلي".

"ولې نه، میرز او میرمن يې، د بانک مامور سره له میرمن او اولادو".

ما ورته وویل "هغه زما د حوالې کارونه سر ته رسوي".

"هو، خو که يې هغه يې ونه کړي ګڼ نور خلک شته، چې وه يې کړي. او هغه وروستي څلور هلکان مې په طبیعت ښه نه لګیدل".

"همدلته له بهر څخه به د سیالیو په ننداره وکړو".

"ښه نظر دی. ګرانه، راشه پر یوه داسې اس شرط وتړو چې تراوسه مو يې د نامه هم نه وي اوریدلي او میرز هم تر اوسه پرې شرط نه وي تړلی".

"خوښه مې ده".

پر یوه اس مو، چې (لایټ فور مي) نومیده شرط وتاړه. په پنځو اسانو کې يې څلورم مقام خپل کړ. موږ پر کټاره ځنګ وهلي او د لوبو په ننداره بوخت وو. کله چې به زموږ مخې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېریدل، پر مځکه د لګېدونکو سومانو دربهاری به یې زموږ تر غوږو رارسېدل. په شاوخوا سیمه کې له ولاړو ونو او دښتې ورهاخوا د میلان غرونه ښکاریدل.

کاترین "طبیعت مې سم شو". اسان د ګېټ له لارې په خولو کې غرق راستانه شول، سپاره یې هم تر ونو لاندې له دوی څخه د هوسایې په نیت راکښته شول.

"یو شی نه څیښنو؟ همدلته به بهر کښېنو او د اسانو ننداره به هم وکړو".

ما ورته وویل "زه به یو شی راواخلم".

کاترین "خادم به یې راوړي". کاترین لاس د اشارې په دود پورته کړ. له هاخوا د پودګا د کمند له بار څخه یو هلک راښکاره شو. موږ د یوه اوسپنیز میز پر شاوخوا کښېناستو.

"خوښه دې نه ده، چې له خلکو څخه بېل، زه او ته دوه په دوه وګرځو؟"

ما ورته وویل"ولې نه".

"ستا له ملګرو سره، چې وم ځان مې بیخې یوازې ګاڼه".

ما ورته وویل "او اوس زموږ د خوښۍ په ځای کې یو".

"هو. اوس ډېر ښه خوند کوي!"

"په زړه پورې ځای دی".

"ما ته غوږ شه زما ګرانه، زه نه غواړم ستا تفریح درضایع کړم، ستا چې هر چیرې نیت وي، تلای شې".

دې ته مې وویل "نه. دغه ځای مې په طبیعت جوړ دی، همدلته به یو شی مې وڅیښنو بیا به لاندې ولاړ شو او د اسانو ټوپ وهلو ننداره به وکړو".

کاترین وویل "ستا له حقه به زه څه کوم".

له څو ورځو وروسته له ملګرو سره لیدو ښه خوند وکړ او پام مو په بله شو.

## یوویشتم فصل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سپټمبر میاشت له یخو زمرینو شپو او یخو سهارو سره راورسېدل. په پارک د ولاړو ونو زرغوني پاڼې ورځ تر بلې ژړېدې. اوړي له موږ سره مخه ښه وکړل. د جګړې د ډګر خوند نه وو، پوځ ونه شوای کړای، چې سان ګبریل په خپله ولکه کې راولي. د باینسزا جګړه پایته رسېدلې وه او د سان ګبریل جګړه هم مخ په ختمېدو وه. البته په فتح کولو کې یې پاتې راغلل. ایټور جبهې ته ولاړ. آسونه هم روم ته تللې ول، نور آس لوبې نه وې. کراول یې هم روم ته لیږلی وو، چې بیا له هغه ځایه امریکا ته واستول شي. په ښار کې دوه ځلې د جګړې پر ضد لاریونونه وشول. یو لوی لاریون هم په تورین کې وشو. یوه ورځ کلب ته ولاړم همالته یوه بریتانوي جګړن راته وویل چې ایټالویانو د باینسزا په لوړو ژورو او سان ګبریل کې یو لک او پنځوس زره تلفات ورکړي او له دې سره په ځنګ کې یې په کارسو کې څلویښت زره پوځیان له لاسه ورکړي. د یوه ګیلاس څیښاک په جریان کې مو ښه ډېر بانډار او تبادله نظر وکړل. په خبرو خبرو کې یې راته وویل، چې د سږ کال لپاره جګړه همدومره وه. ده راته وویل، چې ایټالویانو لویه ګوله پورته کړې، خو اوس یې هضمولای نه شي. په بانډار بانډار کې یې وویل چې په فلاندرز کې د دوی حمله د ناکامیدو وه لور ته درومي. که د ایټالویانو مرګ ژوبله همداسې روانه وي، نو د متفقینو کار د بل کال لپاره خلاص دی. ویل یې زموږ ټولو کار خلاص دی، خو تر هغه وخته چې خبرېږو ښه یو. زموږ ټولو کار خلاص دی. اړینه خبره داده، چې څوک له اوضاع څخه ځان ناګومانه واچوي. هر هیواد چې له ټولو وروسته پوه شي چې کار یې خلاص شوی، هغه به جګړه وړي. یو بل ګیلاس مو هم ډک کړ. ایا زه د یو چا مرستیال وم؟ زه نه، خو دی وو. کلب تش وو. موږ ښه په ارامه په یوه غټه چرمي چوکۍ کې ناست وو. بریتانوي جګړن چرمي او تازه پالش شوي بوټونه په پښو کړي ول، چې تر سترګو مې ښه وایسېدل. ایټالویان یوازې د لښکر پر شمیر او انساني قواو باندې حساب کوي. ټوله د لښکر پر شمیر باندې په جر و بحث اخته دي. دوی ته چې کله سرې په لاس ورسي سمدلاسه یې وه وژلو ته لیږي. د ټولو کار خلاص دی. بریالیتوبونه ټوله د جرمنیانو په برخه شول. په خدای قسم چې وه جرمنیانو ته عسکر ویل کیږي. زوړ هن ته هم عسکر وایي؛ خو د هغوی کار هم خلاص دی. زموږ ټولو کار خلاص دی. د روسیې په اړه مې پوښتنه ترې وکړل، ویل یې د هغو کار له وړاندې لا خلاص شوی دی او ډېر ژر به د دوی دغه حال زه پخپله ووینم. له دې څخه وروسته نوبت د اتریشیانو دی. که یې د هندنبورګ یو څو قطعې درلودلای بیا یې یو څه کولای شوای. د ده په نظر ایا هغوی به په دغه مني کې حمله وکړي؟ ولې. خامخا. د ایټالویانو خبره نوره خلاصه ده. ټوله پوهیږي چې د هغوی کار خلاص دی. هندنبورګ د ترینټینو له لارې راځي او په وایسنزا کې د ریل کرښه پرې کوي او هغه وخت به نو بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایټالویان چیري پاته شي؟ ما ورته وویل دوی په شپاړس کال کي یو ځلي دغه کار وکړ، خو بغیر له جرمنیانو څخه. ورته ومي ویل هو، خو د ده په وینا چي ددې شونیټا ځکه کمه ده چي ډیر ساده دی. خو په وینا یې دوی به یو داسي کار وکړي چي هغه ډیر پیچلی وي، تر څو ښه سم یې کار خلاص شي. ګړی وروسته یې د رخصتېدا پر مهال راته وویل "په مخه دي ښه". بیایي په ورین تندي وویل "ښه بخت ولرې". د بدبینی او خوشروی تر منځ یې خورا ډیر توپیر تر سترګو کیده.

په لاره کي یوې سلمانی ته وروګرځیدم. ږیره مي وخریل او بیرته روغتون ته راغلم. پښه مي ورځ په ورځ د رغېدو په حال کي وه. درې ورځي وړاندي د معاینې لپاره تللی وم. په اوسپیډل مګوري روغتون کي د درملني له ختم څخه وړاندي، یو څه نوره درملنه پاتې وه. پلی به ګرځېدم او تمرین به مي کاوه، تر څو په لاره کي بیله ګوښیدلو ولاړ شم. یوه ورځ په لار کي پر یوه سپین ږیري سړي پیښ شوم، چي تر یوه میل لاندي یې نیم مخي جوړول. زه یې د سیل لپاره ودریدم. دوو نجونو د نیم مخي د جوړولو لپاره ځانونه تیارول. بوډا خپل سرلاندي اچولی وو، یو ځلي به یې وه دوی ته کتل بیا به یې په تیزی د دوی نیم مخي غچي کول. نجونو ورته په کړس کړس خندل. بوډا له دې څخه وړاندي چي د دوی نیم مخي وه دوی ته ورکړي، ما ته یې راښکاره کړل.

ویې ویل "بیخي ښکلي راغلل، تاسي یې هم غواړی، ښاغلي؟"

دواړې نجونې، پرخپله لار رهي شوې، خو په تګ تګ کي به یې وه خپلو نیم مخو ته کتل او خندل به یې. ښې ښکاریدې. له دوی څخه یوې د روغتون پر مخامخ په ساقي خانه کي کار کاوه.

"سمه ده. یو دانه به جوړ کړو".

"خولۍ دي ایسته کړه".

"پروا نه لري. له همدې خولی سره سم دی".

بوډا "له خولی سره به خوند ونه کړي. خو،" څیرې ته یې بریښ ورکړ "هغه بیا ډیر نظامي ښکاري".

تور کاغذ یې د غچي په څوکه پرې کړ. بیا یې دواړې ورقې یو له بل څخه بېلې کړې، دوه نیم مخي یې پرې کښېښول او ما ته یې راکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ځومره شوې؟"

دواړه لاسونه یې وپړکول "پروا نه لري. دا مي ستا لپاره جوړ کړل."

یو څو سکې مي له جیبه راوایستې "خواهش کوم. زما لپاره یې واخلئ".

"نه، ما هم د تفریح لپاره درته جوړ کړل. وه خپلو نجونو ته یې ورکړه".

"تر بیا د خداي په امان".

"په مخه دي ښه".

له ده نه رارهي شوم او روغتون ته راغلم. ځیني لیکونه راغلي ول. یو رسمي او یو څو نور لیکونه. ټاکل شوي وه، چي د درو اونیو له استراحتي رخصتۍ څخه وروسته به وه جبهې ته ځم. لیک مي بیا ځلي ښه په غور سره ولوست، دا هم یو څه وه. رخصتي مي د اکتوبر له څلورمي چي درملنه مي پایته رسیدل، پیلېدل. درې اونۍ یوویشت ورځې کیږي، یعني د اکتوبر تر پنځه ویشتمي نیټې پوري. روغتون والاو ته مي خبر ورکړ، چي ماښام به دباندي یم او په هماغه کوڅه کي له روغتونه لږ څه لیري، د ماښامنۍ لپاره وه یوه ریسټورانټ ته ولاړم. لیکونه او "کوریره ډیلا سیرا" ورځپاڼه مي راواخستل. یو لیک مي نیکه رالیږلی وو. د کورنی حال و احوال، وه وطنپرستۍ ته تشویق، یوه دوه سوه ډالریزه حواله او ځیني ورځپاڼې پکښې وې. څو لیکونه نور هم وه چي یو د خوړنځای د پادري بدخونده لیک بل هم د فرانسې په هوایي قواو کي زما د یوه ملګري. دی هم له یوې عجیبي ډلي سره ملګری شوی وو. د هغې ډلې په اړه یې یو څه معلومات راسره شریک کړي ول. رینالډي بیا په لیک کي لیکلي ول، چي په میلان کي ځومره خت تم کیږم؟ په میلان کي اوضاع څنګه ده؟ او د یوه پونوګراف د راوړلو غوښتنه یې هم راڅخه کړې وه. ډوډۍ چي مي وخوړل، له پاسه مي پرې یو وړوکی بوتل چیانتي او یو ګیلاس قهوه وڅښل. ورځپاڼې مي ولوستې، لیکونه مي په جیب کي واچول، ورځپاڼې مي له انعام سره یوځای پر میز کښېښودې او راووتم. روغتون ته راغلم او په کوټه کي مي جامې وکښلې او شپني کالي مي واغوستل. له هغې دراوزې نه مي، چي برنډې ته ورخلاصېدل پرده پورته کړل. راغلم او پر کټ باندي کښېناستم او د هغه بنډل ورځپاڼو نه مي، چي میرمن میرز په روغتون کي د خپلو بچیانو لپاره راوړي وې، یو څو ورځپاڼې راوخیستې او مخي ته مي ونیولې. (شکاګو وایټ ساکس) په امریکایي لیګ کي د بري بیرغ وړی وو او (نیویارک جیانټ) بیا په ملي لیګ کي مخکښ وه. (بیب رت) د باسټن لخوا د توپ وهونکي په حیث برخه اخیستې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځپاڼې بيخي بې خونده او ټولې زړې وې. جنګي خبرونه يې هم ټول زاړه ول. امريکايي خبرونه ټول د پوځيانو د روزنيزو کمپونو په اړه وو. خوښ وم چې په روزنيزو کمپونو کې نه يم. هغه څه چې مې لوستلای شوای هغه يوازې د بيس بال لوبې خبرونه وو، چې لږه ليواليتا مې هم ور سره نه وه. کله چې به د ورځپاڼو شمېر زيات شو، هغه وخت به بيا زما علاقه د دوی له ويلو سره کمه شوله. که څه هم ورځپاڼې زړې وې، خو يو څو شيبې مې ځان بوخت پرې وساته. په دې فکرو کې ډوب وم، چې امريکا به هم په دې جګړو کې راګډه شي که يا؟ که چيري دوی عمده ليګونه وتړي نو؟ شوني وه، چې امريکا داسي کار ونه کړي. مسابقې اوس هم رواني وې او حالت هم تر دې نور ناوړه کيدای نه شوای، خو په فرانسه کې همدا مسابقې پايته رسيدلې وې. زموږ جاپلاک هم فرانسوی وو. کاترين تر نهو بجو کومه دنده نه لرل. همدا چې دندې ته راستنه شول. د روغتون په دهلېز کې مې يې د پښو کړپهار واوريد. څو نورو کوټو ته يې هم سر ورښکاره کړ او په پای کې زما کوټې ته راغلل.

کاترين "نن راباندي ناوخته شو، ډير کارونه مي درلودل. ستا صحت څنګه دی؟"

دې ته مي د ليکو او رخصتۍ په اړه وويل.

کاترين "ډير ښه. رخصتي له خيره کوم ځای کي تيروې؟"

"هيڅ چيري. بس دا غواړم، چي همدلته پاتې شم".

"دا خو بيخي بي عقلي ده. يو ځای وټاکه، بيا به له خيره په ګډه ولاړ شو".

"ته له ما سره څنګه ځې؟"
"په څنګه يې نه پوهيږم، خو په ګډه به ولاړ شو".

"ته ډيره ښه يې".

"نه، نه يم. خو کله چي له يو چا سره د يو شي دبايللو بيره نه وي، د ژوند مخته بيول دومره سخت کار نه دی".

"هدف دي څه دی؟"

"هيڅ نه. البته هغه خنډونه چي يو وخت ډير ستر ښکاريدل، اوس څومره واړه ښکاري".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"فکر نه کوم، چې زموږ ګډ تګ دې دومره اسان وي".

"نه، هيڅ ستونزه نشته. که اړتيا شول، دا روغتون به لا ورپرېږدم، خو خبره دې ځايته نه رسيږي".

"چيري به ولاړ شو، له خيره؟"

"هرځای چې ستا خوښ وي. داسي ځای چې نه څوک پيژنو او نه مو څوک پيژني".

"د ځای ټاکنه ما ته راپرېږدې؟"

"هو. هر ځای چې تا وټاکه زما خوښ دی".

کاترين پريشانه او تر فشار لاندي راته ښکاره شول.

"څه خبره ده کاترين؟"

"هيڅ نه. هيڅ خبره نه ده".
"نه. خامخا يوه خبره شته".

"هيڅ خبره نشته. رېښتيا وايم هيڅ خبره نشته".

"زه پوهيږم، يوڅه خامخا شته. راته ووايه. ما ته يې ووايه".

"کومه خاصه خبره نشته".

"خامخا شته. له ما سره يې شريک کړه".

"نه يې درته وايم، ډارېږم که يې درته ووايم خفه به شې".

"نه. نه خفه کيږم".

"رېښتيا وايې؟ دا خبره ما نه پريشانه کوي، خو بيريږم چې تا پريشانه نه کړي".

"که تا پريشانه نه کړي، ما هم نه پريشانه کوي".

"زړه مي نه غواړي، چې درته ويې وايم".

"يا. راته ووايه".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“خامخا؟”

“هو”.

“زه کوچنی لرم. اوس به يې درې مياشتې کيږي. ته پريشانه نه شوې. که څنګه؟ لطفاً مه کيږه. ته نه بايد پريشانه شې”.

“سمه ده”.

“سمه ده؟”

“هو”.

“ډير څه مې وکړل، خو ګټه يې ونه کړل”.

“زه پريشانه نه يم”.

“ګرانه، ما هيڅ ونه شوای کړای او زه خپله دې موضوع نه يم پريشانه کړې. ته هم نه بايد غمجن او پريشانه شې”.

“زه يوازي ستا په اړه فکرمنده يم”.

“همدا. همدا خبره ده چې بايد نه وي. خلک تل اولاداره کيږي. ټوله اولادونه لري. دا يوه طبيعي خبره ده”.

“ته ډيره ښه يې”.

“نه. نه يم. خو ته بايد دې موضوع ته ډير اهميت ورنه کړې. زه به هڅه وکړم، چې وه تا ته کومه ستونزه جوړه نه شي. پوهيږم چې اوس مې هم وه تا ته ستونزه جوړه کړې، خو ايا زه تراوسه يوه ښه ميرمن نه وم؟ ته خو تراوسه په دې نه وې خبر، که څنګه؟”

“نه”.

“هرڅه به عادي وي. ته بايد ګردسره پريشانه نه شې. زه دې پر مخ د پريشانۍ نښې وينم. بس يې کړه. همدا اوس پريشانې له ځانه ليرې کړه. يو ګيلاس څښناک ته دې زړه نه کيږي؟ زه پوهيږم چې څښناک تا خوشحاله کوي”.
“نه. زه اوس هم خوشحاله يم او ته ډيره ښه يې”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"نه. نه یم. په هر صورت، که ته اوس د تلو لپاره یو کوم ځای وټاکې، زه به هڅه وکړم، چې دواړه په ګډه ولاړ شو. اکتوبر میاشت باید ډیره ښکلې وي. ګرانه په دې رخصتۍ کې به مو ډېر ساعت تېر شي او چې کله ته جبهې ته ولاړ شې، زه به هره ورځ ستا لپاره لیکونه لیکم".

ما ورته وویل "تاسې به چیرې یاست؟"

"تراوسه نه پوهیږم، خو یو ښکلی ځای به وي. پاته کارونه به ټوله زه پر غاړه واخلم".

شیبه قدر غلي ناست وو. کاترین پر کټ ناسته وه، دې ته مې کتل خو لمس نه وو. سره جلا وو، لکه یو څوک چې کوټې ته راننوزي او هغه په ځان کې شکې شي. کاترین خپل لاس رااوږد کړ او زما لاس یې ونیو.

"ګرانه، طبیعت خو دې خراب نه شو؟"

"نه. سم یم".

"ځان خو به ښکیل نه احساسوې؟"

"لږ، خو لامل یې ته نه یې".

"هدف مې زه نه یم. ته نه باید ځان ناګومانه واچوې. په عمومي ډول ښکیلیدل".

"ته تل ځان جسماً ښکېل احساسوې".

کاترین بېله دې، چې لاس وښوروي یا هم لاس ایسته کړي، ښه قدر پر شا ولاړل.

"(تل) یوه ښه کلمه نه ده".

"بخښنه غواړم".

"سمه ده. خو ته پوهیږې، زه تراوسه حامله شوې نه یم. ان تراوسه مې له چا سره مینه هم نه ده کړې. هڅه مې کړې او کوم یې، چې ستا په خوښه خپل ژوند عیار کړم او ته بیا د تل په اړه خبرې کوې".
ما ورته وویل "که دې خوښه وي، خپله ژبه به پرې کړم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“اوه ګرانه”. په کوم ځای کي، چي وه له هغه ځایه بیرته راستنه شول ” ته نه باید له ما څخه خفه شي”. بیرته وه خپل عادي حالت ته راوګرځیدو او خفګان له منځه ولاړ ”موږ ریښتیا هم یو وجود یو، نه باید د سوء تفاهم ښکار شو”.

“نه کیږو”.

“خو خلک بیا کیږي. یوله بله سره مینه لري، په مینځ کي یې سوء تفاهم رامنځته کیږي او بیا یو ناڅاپه هغه پخوانی حالت نه وي”.

“موږ به اختلافاتو ته موقع ورنه کړو”.

“همداسي ده. باید خپل منځي اختلافت له منځه یوسو، ځکه په دې نړۍ کي زه او ته بل هیڅوک نه لرو او له نړیوالو څخه بېل یو. که مو ترمنځ اختلافات پیدا شي، هغه مهال به بیا موږ هم د دوی په ډله کي ورګډ شو”.

“نه، نه کیږو. ځکه چي ته ډیره زړوره یې. په زړورو هیڅ نه کیږي”.

“بیله مرګه”.

“هو. خو مرګ هم یوازي یو ځلي راځي”.

“داخبره چاکړې؟”

“بي زړه زر ځلي مري، خو زړور یوځلي؟”

“هو همدا. دا چا ویلي؟”

“نه یم خبر”.
کاترین “کیدای شي دی خپله بي زړه وو. ځکه د بې زړه والا خلکو په اړه تر زړورو ډیر پوهیده. زړور که چیري هوښیار وي کیدای شي دوه زره ځلي مړ شي. یوازي یې په خوله نه وایي”.

“نه پوهیږم. فکر کوم د یوه زړور شخص په دماغ کي کتل به مشکله وي”.

“هو. غښتلي خلک تل همداسي وي”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

“هو ريښتيا دادي ښه خبره وکړل”.

“ته زړوره يې”.

کاترين “نه، خو غواړم له ځانه زړوره جوړه کړم”.

ما ورته وويل “زه نه يم. ما ته خپل ځان معلوم دی. يوازې همدومره چي خپل ځان وپيژنم. زه د يوه توپ وهونکي په څېر يم چي دوه سوه ديرش وهي. خو پوهيږي چي وړاندي تګ يې نه دی کړی”.

“توپ وهونکی چي دوه ديرش وهي دا بيا څه دی؟ ډېر جالبه”.

“هيڅ جالبه نه ده. يعني په بيس بال کي يو منځنی توپ غورځونکی”.

کاترين په سوک ووهلم “خو اخر به يې غورځوي”.

“فکر کوم چي موږ دواړه مغروره يو. خو ته زړوره يې”.

“زه نه يم، خو زړه مي غواړي چي، زړوره شم”.

ما ورته وويل “موږ دواړه زړور يو، خو زه چي څېښاک وکړم ډېر زړور شم”.
“موږ ډېر ښه خلک يو”. الماری يې خلاصه کړل له يوه بوتل کوګناک سره يې ګيلاس هم راوړ. راغلل او ويې ويل “واخله ګرانه. وې څېښه. ته ډېر ښه يې”.

“زه ريښتيا وايم زړه مي نه ورته کيږي”.

“يو ګيلاس”.

“سمه ده”. د اوبو ګيلاس مي يو پر دريمه ډک کړ او تر ستوني مي کړ.

کاترين” دا بيخي ډېر وه. زه پوهيږم چي کوګناک د اتلانو څېښاک دی، خو ته نه بايد ډېر افراط پکښې وکړي”.

“له جګړې وروسته به چيري اوسو؟”

(c) ketabton.com: The Digital Library

“کيدای شي د بوډاګانو په کور کې. درې کاله د کوچنيانو په څېر منتظر وم، چي جګړه د کرسمس پر وخت ختمه شي. اوس د هغې شيبې انتظار باسم چي زوی مو د بريدمنۍ رتبه اخلي”.

“کيدای شي جنرال شي”.

“که چيري دا جګړه سل کلنه شي، هم به بريدمن شي او هم به جنرال شي”.

“ته يو ګيلاس نه څيښې؟”

“نه. دغه تل تا خوشاله کوي. خو ما ګردسره ليونۍ کوي”.

“براندي دي تراوسه څيښلي؟”

“نه، ګرانه. زه ډيره پخوانۍ ميرمن يم”.

لاس مي لاندي وه بوتل ته وروغځاوه او يو بل ګيلاس مي ډک کړ.
کاترين “زه بايد يو ځلي ستا د هيوادوالو وه پوښتنې ته ورشم، تر هغو چي راځم ورځپاڼې ولوله”.

“خامخا ځې؟”

“اوس ولاړه شم که وروسته؟”

“سمه ده اوس ورشه”.

“بيرته راځم”.

ما ورته وويل “تر هغه وخت به ما هم ورځپاڼې پايته رسولي وي”.

## دوه ويشتم فصل

ماښام هوا يخه شول او ورسره په دا سبا سهار باران پيل شو. له اوسپيډل مګوري څخه چي د خپل روغتون په لوري راتلم باران ښه په شړپ ورېده. روغتون ته چي راورسيدم لوند خيشت وم. کوټې ته چي راوختم، په برنډه کي د باران لوی لوی څاڅکي ښه په شړپ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

رالوېدل او باد د ښېښه يي دروازو پر کړکيو باندي لګېده. کالي مي تبديل کړل او يو څه کوګناک مي وڅيښل، خو چنداني خوند يې ونه کړ. د شپې مي اوضاع چنداني ښه نه وه. سهار چې مي ناشته وکړه، ګړی وروسته مي استفراق وشو.

د روغتون جراح وويل "په دې کي هيڅ شک نشته، آغلې د ده د سترګو سپينو ته وګورئ".

ميس ګيج زما سترګو ته ځير شول. هنداره يې راکړل او ځان سترګو ته مي پکښې وکتل. د سترګو سپين مي ژړ شوي ول، چي ورځيني ښکارېدل چي ژړی شوی يم. دوې اونۍ ناروغ وم. نتيجه يې دا شول، چي زما او د کاترين هغه پلان، چي رخصتي به په ګډه تيروو، له منځه ولاړ. هوډ مو کړی وو، چي پالنزا ته به ځو. په مني کي چي کله د پاڼو رانګ اوړي، هغه ځای ډېر ښکلی ايسي. همالته مو د ماهيانو مېله هم کولای شوای. پالنزا تر ستريسا په دې هم ښه وه، چي خلک يې لږ ول. د ميلان او ستريسا ښارونو تر مينځ واټن ډير نه وو، ځکه مو نو ملګري هم پکي ډير ول.  په پالنزا کي يو ښکلی کلی وو، هر چا کولای شوای په کښتۍ کي سپور شي او د ماهي نيونکو جزيرې ته ولاړ شي. همالته په لويه جزيره کي يو ريسټورانت هم وو، خو نصيب مو نه و شوی.

يوه ورځ د همدې ژړي پر مهال په کټ کي پروت وم، چي اغلې وان کمپن کوټې ته راغلل. څنګه چي راننوتل، سمدستي يې د الماری دروازه خلاصه کړل او پکښې پراته تش بوتلونه يې وليدل. ما چوپړوال راغوښتی وو او هغه ته مي له دې تشو بوتلونو څخه يو څه ورکړل چي له روغتونه يې وباسي، به ګمان اغلب چي هماغه بوتلونه يې له ده سره ليدلي ول او اوس راغلې وه، چي نور هم ولټوي. ډيری بوتلان د ورموت، مارسالا، کاپري د چيانتي خالي فلاسکونه او څو د کوګناک بوتلونه هم وو. خادم لوی بوتلونه، د ورموت او د چيانتي بوتلونه وړي وه، يوازي يې د کوګناک بوتلونه بيا ځلي ته پرې ايښي ول. اغلې وان کمپن د کوګناک بوتلونه له يوه بل بوتل سره چي خرس شکل پرې وو او کومل شراب پکښې وه، پيدا کړ. همدې بوتل دا ډيره په غصه کړل. بوتل يې راپورته کړ خرس پر ګونډو ناست او پنجې يې پر مځکه د ځان د تکيه لګولو لپاره ايښي وې. د بوتل په سر کي يولرګين سرپوښ او په پای کي يې سريښناکه مواد نښتي ول. ما ورته وخندل.

ورته ومي ويل "د کومل بوتل دی. په دې خرس شکله بوتلانو کي ډېر خوندور روسي شراب راځي".

مس وان کمپن وپوښتل "دا نور ټوله د کوګناک بوتلونه دي، که څنګه؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وويل "ټول يې نه وينم، خو کيدای شي چې همدا ټوله وي".

"دا هر څه له څه وخته روان دي؟"

دې ته مې وويل "خپله مې رانيولې او خپله مې راوړې. ځيني وختونه مې ملګري پوښتنې ته راځي، د هغوی لپاره مې راسره ايښې دي".
دې وويل "ته يې خپله نه څښې؟"

"خپله يې هم څښم".

"کوګناک، يوولس د براندې تش بوتلونه او هغه خرس شکله بوتل".

"کومل".

"زه يې د وړلو لپاره يو څوک راليږم. تش بوتلونه همدا دي که نور هم شته؟"

"د اوس لپاره خو همدومره دي".

"پر تا مې زړه سوځېده، چې ژيړی شوی يې، خو افسوس چې پر تا مې ناحقه زړه وسوځيده".

"مننه."

"زما په اند ته بايد وه جبهې ته په نه تګ ګرم نه شې. فکر کوم تا بل څه هم کولای شوای، نه دا چې د شرابو په زور دې ځان ژيړی کړ او جبهې ته له تګه پاتې شوې."

"بل د څه شي په زور؟"

"د شرابو. تا زما خبره واوريده". څه مې ونه ويل. "که دې له يوې بلې حيلې څخه کار وانخيست، نو له رغيدو سره به ځان سمدستي جبهې ته ورسوې او فکر نه کوم چې قصدي ژيړی دې، استراحتي رخصتي ولري".

"تاسې فکر نه کوی؟"

"نه".
"اغلې وان کمپن، ايا تاسې تراوسه ژيړی شوې ياست؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

"نه، خو د ژړي ډيري واقعې مي ليدلې".

"تراوسه دي پام کړی چي په ژيړي اخته ناروغان له دې ناروغۍ څخه څومره کړېږي؟"

"فکر کوم چي دغه ناروغې به تر جبهې اسانه وي".

"اغلې وان کمپن، ايا تراوسه د هغه سړي په حال پوه شوي ياست، چي خپل ځان په خپله په خوټلون کي له کاره واچوي؟"

ميس وان کمپن له اصل سوال څخه ځان ناګومانه کړ. دا اوس مجبوره وه، چي ځان ناګومانه واچوي يا هم له کوټې ووزي او ميدان ايله کړي، خو دا په دومره اسانۍ د ميدان ايله کولو ته اماده نه وه، ځکه ما ته يې له ډېره وخته زړه ډک وو او اوس يې غوښتل چي د خپل زړه براس ښه راباندي وکاږي.

"ما ګڼ کسان ليدلي، چي ځانونه يې قصداً ژوبل کړي او بيا په همدې طريقه له جبهې څخه پاتې شوي."

"زما د سوال جواب دا نه وو. ما خپله قصدي ژوبل کسان هم ليدلي. زما سوال دادی، ايا تراوسه دي هغه خلک ليدلي چي خپل ځانونه پخپله په خوټلون کي له کاره اچوي؟ ځکه چي په خوټلون کي ځان له کاره اچول له هرڅه څخه د ژيړي سره ورته والی لري. زه فکر نه کوم چي يوې ښځې دي هم داسي څه زغملي وي. له همدې امله مي پوښتنه درڅخه وکړل چي تاسي تراوسه ژيړی شوي ياست که يا، ځکه چي...." مس وان کمپن ووتل. شيبه وروسته ګېج راغلل.

"اغلې وان کمپن ته دي څه ويلي؟ له ډيري غصې څخه يې ځيره تکه سره وه".

"موږ احساسات يو له بل سره پرتله کول. ما غوښتل دې ته ووايم، چي دې هيڅکله د زيږون تجربه نه ده....".

مس ګيج "ته نادان يې. هغه تا ته بهانې لټوي".

ما ورته وويل "بهانه يې ولټول. زما رخصتې يې رالغوه کړل او اوس کيدای شي چي نظامي محکمې ته مي کش کړي، همدومره پست فطرته ده".

مس ګيج "د هغې له تا څخه هيڅکله ښه نه کيدل، اوس څه خبره وه؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

“ویل يې چي ما ځان په قصده ژړی کړی، څو له جبهې څخه ځان پاته کړم”.
ګیج “وا وا! زه به قسم ورته واخلم چي تا یو ځاڅکی هومره هم نه دی څیښلی. تېوله به قسم یاد کړي چي تا یو ځاڅکی لا هم نه دی څیښلي”.

“هر څه يې په خپلو سترګو ولیدل”.

“شل واره مي درته وویل چي دا بوتلونه له دې ځایه وباسه. اوس څه شول؟”

“په الماری کي”.

“بسته لرې؟”

“نه، په چانټه کي يې کښېږده”.

مس ګیج بوتلان په چانټه کي واچول “چوپړوال ته به يې ورکړم چي هغه يې دباندي وغورځوي.” دا يي وویل او د دروازې په لور ولاړل.

اغلې وان کمپن “یوه شیبه تم شئ. دا بوتلان وه ما ته راکړئ”. له ځانه سره يې چوپړوال هم راوستی وو. وه هغه ته يې وویل “واخله دا یوسه. کله چي رپیورټ ورکوم، غواړم وه ډاکټر ته دا هم ورښکاره کړم”.

اغلې وان کمپن له کوټې ووتل. چوپړوال هم پسي ور ووت. هغه پوهېده، چي په چانټه کي څه شي دي. نور هیڅ ونه شول، یوازي زما رخصتي لغوه شول.

## درویشتم فصل

په هاغه شپه چي وه جبهې ته ستنېدم، چوپړوال مي د اورګاډي تمځای ته ولیږه، چي له تورین څخه په راروانه اورګاډي کي زما لپاره ځای یوه چوکی ونیسي. اورګاډي د شپې پر دوولس بجي باندي حرکت کاوه. دا له تورین څخه پر لس نیمي بجې پر وه میلان ته رارسېدل او د تګ تر مهاله همدلته تمېدل. په اورګاډي کي د چوکی نیولو لپاره د یوه نفر شتون اړین وو. چوپړوال له ځان سره یو ملګری، چي د پوځ په سلاح سقیله برخه کي يې کار کاوه، اوس په رخصتی راغلی وو او د خیاطۍ په یوه دکان کي يې کار کاوه له ځان سره تمځای ته بوت. دوی دواړه ډاډه ول، چي په دوی کي به یو خامخا چوکی نیسي. دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته مي د ټکټ رانيولو لپاره څه خوشمزي ورکړي او ورسره مي خپل يو څه سامانونه ور له غاړې کړل. په سامانو کي يوه چانټه او دوې نورې کوچنۍ غوټي وي.

شاوخوا پنځه بجې به وي، چي په روغتون کي مي له دوی سره خدای په اماني وکړل او ځيني رارهي شوم. چوپړوال زما سامانونه واخيستل او خپلي کوټې ته يې يووړل. ده ته مي وويل چي له دوولس بجو څخه مخکي زه ځان وه تمځای ته در رسوم. ميرمنې يې ما ته "سيګنورينو". ويل او ژړل يې. سترګې يې له اوښکو وچي کړې، له ما سره يې خدای په امانۍ وکړ او بيا په ژړا شول. د دلاسايي په دود مي پر اوږه لاس ورکښېښود، دې نور هم ژړا ته زور ورکړ. په روغتون کي به دې زما خدمت کاوه. ګردۍ، پنډه، او په عين حال کي خنده رويه ميرمن وه. سپين وريښتان يې درلودل. کله چي به په ژړا شول، څيره به يې سره توی شول. له دوی څخه رارخصت شوم او د رغتون په کناره کي يوې ساقې خانې ته ورپورته شوم او همالته کښېناستم. په کړکۍ کي مي دباندی کتل، تياره وه هوا هم باراني او يخه وه. يو څه قهوه او ګراپا مي وڅيښل، پيسې مي يې ورکړې او د کړکۍ څخه په وتونکې رڼا کي تېريدونکو خلکو ته په تماشه شوم. دباندي مي پر کاترين سترګې ولګيدې، کړکۍ مي وټکول. ويي ليدم او راته مسکۍ شوه. زه هم دباندي ورووتم. تيزه شين رنګه برساتۍ يې اغوستې وه او يوه نرمه خولۍ يې په سر کړې وه. موږ دواړه يو ځای پلي روان شوو. د پياده رو په اوږدو کي د ساقي خانو له مخي تير شوو. له هغه وروسته د مارکيټ له څلورلارې تير او د کليسا وه څلورلارې ته وربرابر شوو. په کوڅه د ښاري بسونو له کرښې ورهاخوا کليسا موقعيت درلود. په دې باراني موسم کي سپينه او لنده غوندي وه. د ښاري بسونو له کرښې واوښتو. په چپ اړخ کي مو دوکانونه وه، د دوکانو رڼاګاني تر کړکيو بهر راتلې. په څلور لاره کي ګرد او غبار زيات وو، کله چي وه کليسا ته ښه ورنژدې شوو غټه وه او ډبرې يې لندې ښکاريدې.

"دننه ورځې؟"

کاترين"نه". په ګډه همداسې وړاندي ولاړو. په تګ تګ کي پر يوه نجلۍ او عسکر ورپيښ شوو، عسکر خپله برساتۍ پرنجلۍ غوړولي وه او له ديواله سره نژدې ولاړ ول، له دوی څخه تيرشوو.

دې ته مي وويل "دوی هم زموږ په څېر دي."

کاترين "زموږ په څير څوک نشته". هدف يې زموږ خوښي نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

“کاشکي د دوی د ورتګ لپاره یو ځای وای”.

“کیدای شي ځای لرل ورته فایده نه کول”.
“نه پوهیږم. البته یو پناه ځای لرل ښه دي”.

کاترین “کلیسا شته”. موږ اوس د کلېسا له حدودو څخه راتیر شوي وو. د څلور لارې له وروستیو څخه له تیریدو پر مهال مو یو ځلي بیا وه کلیسا ته وکتل، په دې باراني هوا کي ښکلې ښکاریدل. د یوې پلورنځی مخي ته چي چرمي اجناس یې پلورل ودریدو. د پلورنځی په کړکی کي د ځغاستي بوټونه، چانټې او د سکي بوټونه اېښوول شوي ول. هرڅه داسي اېښوول شوي ول، لکه یوې ننداري ته چي یې وړاندي یې کوي. د سکي بوټونه یوه څنګته ، د ځغاستي بوټونه بل څنګته او چانټې یې په مینځ کي پرتې وي. چرم یې تک تور او داسي غوړ شوي وو لکه ځین. د څراغ په رڼا کي یې یو ډول پړکا کول.

“یو وخت به سکې لوبه کوو”.

کاترین “دوې میاشتي وروسته په مورین کي د سکي لوبې پیلیږي”.

“هلته به ولاړ شو”.

“سمه ده”. همداسي روان وو. له یوې بلي کړکی څخه هم تیر شوو او یوې بلي فرعي کوڅې ته ورداخل شوو.

“تراوسه پر دې لار نه یم راغلې”.

ما ورته وویل “زه به هره ورځ پر همدې لار روغتون ته تلم و راتلم”. لاره کم سوره وه، موږ یې په راسته اړخ کي روان وو. د اسمان مخ وریځې نیولی وو او پر ځمکه ګڼ خلک اخوا دیخوا کیدل. د شاوخوا دوکانو څراغان اوس هم لګیدل. له یوې کړکی څخه مو د پنیرو وه یوې ټوټې ته وکتل. زه د وسلو پلورنځی مخي ته ودریدم.

“دلته راشه. یوه توپنچه رانیسم”.

“څه ډول توپنچه؟”

“پیستول”. موږ دواړه پلورنځی ته دننه ورغلو او خپل خالي کمربند مي د کاونټر پر سر کښېښود. د کاونټر شاته ولاړو دوو میرمنو څو بېلابیل ډوله توپنچې مخي ته راقطار کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کمربند کي مي د توپنچې خانچه خلاصه کړل او ورته ومي ویل "له دې سره باید سمه وي". خانچه له خړرنګه چرم نه جوړه شوې وه. په ښار کي د ګرځولو په خاطر مي له یو بل چا څخه رانیولې وه.

کاترین "ښې توپنچې لری؟"
"دا خو ټولي یو شان دي. دغه دانه کتلای شم؟"

دې په جواب کي راته وویل "د ویشتلو لپاره ځای نشته، خو دغه توپنچې ډیرې ښې دي. د دغې توپنچې نښه نه خطا کیږي".

ګیټ مي یې کش کړ، فنر یې یو څه قوي وو خو ښه کار یې کاوه.

"دغه توپنچه که څه هم استعمالي ده، خو د یوه ماهره نښه ویشتونکي د لاس ده".

"تاسې پرې خرڅه کړې وه؟"

دوکاندارې وویل "هو".

ما ورته وویل "نو بیا چا درته راوړل؟"

"د هغه خادم".

ورته ومي ویل "کیدای شي زما توپنچه هم یو څوک درته راوړي. د دې قیمت څومره دی؟"

"پنځوس لیرې. ډیره ارزانه ده".

"ډیر ښه. دوه اضافي شاجورونه او یو بکس مرمۍ مي هم په کار دي".

د کومو شیانو غوښتنه چي مي ځیني کړې وه، ټول یې د کاونټر له شا څخه راپورته کړل.

بیا یي پوښتنه وکړل"تورې خو نه غواړی؟ له موږ سره ځیني ارزانه تورې هم شته".

ما ورته وویل"د جګړې ډګر ته ځم".

"اوه، نو بیا تورې ستا په درد نه خوري".

د توپنچې او مرمیو پیسې مي ورکړي. د توپنچې شاجور مي ډک کړ، دا مي راواخیستل او په خالي خانچه کي مي کښېښوول. په اضافه مرمیو مي پاتې شاجورونه ډک کړل او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمربند کي پسي مي وتړل. ورسره مي کمربند هم د روند شو. البته پيستول مي ځکه خوښه شول، چي مرمۍ يې هر ځای پيدا کيدې.
کاترين ته مي وويل "ډير ښه. موږ اوس په بشپړ ډول مسلح شوو. دا يو له هغو کارونو څخه وو چي بايد کړی مي وای. زما پيستول، روغتون ته د راتللو په وخت کي يو چا راڅخه کښلې وه".

کاترين "خداي دي وکړي چي دا توپنچه سمه وي".

دوکانداره "بل څه خو نه غواړئ؟"

"نه. زموږ همدا شيان په کار وه".

"توپنچه تسمه هم لري".

"هو، ورته فکر مي دی". دې غوښتل نور شيان هم راباندي خرڅ کړي.

"شپيلکان هم شته".

"مننه. هغه مو نه دي په کار".

له دوی سره مو مخه ښه وکړه او دباندي راووتو. کاترين کړکۍ ته وکتل. دواړو ميرمنو هم سرونه راښکاره کړل او تعظيم يې وکړ.

"په دا لرګيو کي چي يې هنداري نيولې، دا بيا ده څه لپاره دي؟"

"دا د مرغانو د راجذبولو لپاره دي. دغه هنداري په کښتونو کي ږدي، سپيرکونډکې يې په ليدو ورته راټوليږي او بيا ايټالويان خپله ښنه پرې پخوي."

"دا خو ډير پوهان خلک دي. امريکايان د سپيرکونډکو ښکار کوي؟"

"ډير نه".

له کوڅې نه تير شوو او يوه پياده رو ته وربرابر شوو.

کاترين "اوس مي طبيعت يو څه سم شو، په اول سر کي چي راروان شوو وضعه مي چنداني ښه نه وه".
"زه او ته چي سره يو ځای شو، خوشالي خود بخوده راشي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

"موږ به هر وخت یو ځای یو".

"هو، خو نن به زه پر دوولس بجې درځخه ولاړ شم".

"د هغه په اړه اندیښنه مه کوه".

موږ دواړه په کوڅه کې نور وړاندې ولاړو. ګرد او غبار د څراغو رڼاګانې ژړبخونې کړې وې.

کاترین "ستړې خو نه شوې؟"

"تاسې د خپل ځان حال راته ووایاست".

"زه ښه یم. پلې تګ مې خوښ دی".

"ډیر پلې تګ هم ښه نه دی".

" بلې".

په همدې کوڅه کې نور هم وړاندې ولاړو، تر څو یوې لارې ته، چې د ویالې په خوا کې وه، ورسیدو. د کوڅې په هاغه بل اړخ کې د خښتو یو دیوال او څو پاخه تعمیرونه ښکاریدل. د کوڅې په سر کې مې ښارې بس ولید، چې د پله له پاسه تیر شو.
ما ورته وویل "د پله له پاسه به یوه ټکسې ته ورپورته شو". د پله د پاسه په ګرد کې ټکسې ته په تمه شوو. مخې ته مو څو ټکسیان تیر شول، خو هغوی ټول ډک ول. شیبه وروسته یوه بګۍ راغلل او له موږ څخه تېره شول، په همدې حال کې بیا خوپ په باران بدل شو.

کاترین "پلې به ولاړ شو، که نه نو ښارې بس به راتېنګ کړو".

ما ورته وویل "یو ګړی به لا تم شو. د بګیانو د تګ راتګ لار همدا ده".

کاترین "هغه د یوه راغلل".

بګۍ والا خپل آس ودراوه او فلزې کیلومتر شمار یې لاندې کښته کړ. د بګۍ سایوان پورته وو. د ګاډیوان کوټ ته مې وکتل، باران له لاسه لوند شوی وو. توره خولۍ یې لنده او بریښیدل. موږ د بګۍ د شا په سیټ کې د سایوان تر تیارې لاندې څنګ په څنګ کښېنستو.

"پته دې وروښوول؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

“تمځای ته. تر تمځای ورهاخوا یو هوټل شته، همالته به ولاړ شو”.

“په همدې شکل، له سامانو پرته هوټل ته تلای شو؟”

ورته ومي ویل “هو”.

له کوڅې څخه تیریدل او بیا تر تمځایه تګ هغه هم په باران کي، لار ډیره اوږده شول.

کاترین “ډوډۍ نه خورو؟ داسي نه چي بیا وږې شم”.

“د ماښام ډوډۍ به په خپله کوټه کي وخورو”.

“زه د اغوستلو څه نه لرم. آن شپني کالي مي هم نشته”.

ما ورته وویل “دا خو کومه ستونزه نه ده. په لار کي یوې پلورنځۍ ته ورکښته شه او رایي نیسه”. ګاډیوان ته مي وروږغ کړل.

“ پر دغه لار باندي وه ویامانزوني ته درځه”. سر یي وښوراوه او چپ لوري ته وګرځېد. په دې لویه کوڅه کي، کاترین د یوه پلورنځي په لټه شول.

کاترین “هاغه ده”. بګۍ ودریدل او کاترین ځیني راکښته شول. له پیاده رو څخه تیره او پلورنځي ته وردننه شول. زه په بګۍ کي ورته تم شوم. په شړپ او تیز باران وریده. د باران خوشبو او د اس ساه تر ما پوري رارسیدل. کاترین له هاخوا په لاس کي یوه غوټه نیولي وه، بګۍ ته راپورته شول او په حرکت مو پیل وکړ.

کاترین “بدخرڅي مي وکړل، خو ښه شپني کالي دي”.

د هوټل مخي ته چي راورسیدو، کاترین ته مي په بګۍ کي د انتظار وویل او زه خپله د هوټل له منیجر سره د خبرو لپاره دننه ورغلم. ډیري کوټې خالي وي. زه بیرته بګي ته ورغلم. د ګاډیوان مزد مي ورکړ زه او کاترین په ګډه هوټل ته ورننوتو. یوه هلک، چي بټن لرونکي کالي یې اغوستي ول، د کاترین غوټه یې راوړل. منیجر موږ ته ښه راغلاست ووایه او لفټ یې راته وښود. سور بخمل او ژیړ رنګ ډیر تر سترګو کیده. منیجر له موږ سره یوځای پورته ولاړ.

“ښاغلی او آغلې ډوډۍ په خپله کوټه کي خوري؟”

(c) ketabton.com: The Digital Library

"بلې. د خوړو منيو کتلای شو؟"

"په دې خاص ماښام کې خاص خواړه هم شته. ښکار او سوفله".

لفټ درې پوړه پورته شو. له هر پوړ سره به يې اواز کاوه. وروستی ځل يې اواز وکړ او ودريد.

"د ښکار څه ډول خواړه لرئ؟"

"د صحرايي چرګ غوښې او وډکوک[21]"

ورته ومې ويل "وډکوک راوړه". له دهليز څخه تېر شوو. په دهليز کې يې يو خوړين کارپيټ هوار کړی وو. ډېرې دروازې ښکارېدې. منيجر ودرېد، قلف يې خلاص کړ او دراوزه يې پرانيستل.

"مهرباني وکړئ. ښکلې کوټه ده".

ماشوم غوټه د کوټې په مېنځ کې کښېښوول. منيجر له کړکيو پردې پورته کړې.

وويې ويل "دباندې لنده بل زيات دی". کوټه په سره بخمل ښکلې شوې وه. ګڼې هندارې، دوې چوکۍ او يو لوی کټ چې يوه ساټېنې روجايې پرې غوړېدلې وه، پروت وو. يوه دروازه د تشناب لور ته خلاصيدل.

منيجر "زه به منيو درته راوليږم". له تشريفاتو څخه وروسته بهر ولاړ.

د کړکۍ لور ته ورتېر شوم او دباندې مې وکتل. وروسته مې د سرې پردې تقمه ووهل او پرده راکش شول. کاترين پر کټ ناسته وه او قنديل ته يې کتل. خولۍ يې له سره ايسته کړل وريښتانو يې وه رڼا ته پړکا وهل. ځان يې په يوه هنداره کې وليد او پر وريښتانو يې لاس راتير کړ. ما دا په نورو درو هندارو کې هم ليدل. خوابدې ښکاريدل برساتۍ يې پر کټ باندې کښېښوول.

"څه خبره ده؟"

---

[21] يوډول مرغه دی چې ښکار يې کيږي او خوړل کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

“ما تراوسه دغه ډول احساس نه وو کړی”. دکړکۍ وه لورې ته ولاړم پرده مي یوې خواته کړل او دباندي مي وکتل. فکر مي نه کاوه چي داسي به وشي.

“ته کاسیره نه یې”.

“پوهیږم ګرانه، خو د یو چا لپاره د دا ډول احساس لرل ښه نه دي”. اواز یې وچ او بیروحه وو.

ما ورته وویل “په ښار کي تر ټولو ښه هوټل همدا دی”. له کړکۍ څخه مي دباندي وکتل. له څلور لارې ورهاخوا د تمځای د څراغانو رڼاګانې تر سترګو کیدې. په کوڅه کي اوس هم بګیانې اخوا دیخوا کیدلې او په پارک کي ولاړې ونې مي هم لیدلې. د هوټل څخه راوتونکو رڼاګانو پیاده رو روښانه کړی وو. له ځان سره مي وویل اوه، دا وخت نو د جنجال دی؟

کاترین “دلته راشه. زه بیا ښه میرمن شوم”. له اواز څخه یې هغه پخوانې وچواله کوچ کړی وو. وه کټ ته مي وکتل کاترین راته مسکۍ شول.

ورغلم وه څنګ ته یې پر کت باندي ورسره کښېناستم.

“ته زما ښه میرمن یې”.

کاترین “بیله شکه چي ستا یم”.

له ډوډۍ خوړو وروسته حالات بیرته عادي شول. دواړه بیرته خوشاله شوو او د هوټل دغه کوچنۍ شان کوټه مو د خپل کور په څیر وګڼل. په روغتون کي چي په کومه کوټه کي زه بستر وم، هغه کوټه مي خپل کور ګڼلی وه او دا کوټه مي هم د خپل کور په څیر وګڼل.

د ډوډۍ خوړلو پر مهال کاترین زما کورتۍ واخیستل او پر خپل ځان یې واچول. ډیر وږي وو او خواړه هم ښه خوندور وه. پر ډوډۍ سربیره مو یو بوتل کیپرې او یو بوتل سنت استف وڅیښل. د کاترین په نسبت ما ډیر څیښاک وکړ، خو پر دي یې ډیر اغیز وکړ. په ماښامنۍ ډوډۍ کي مو وډکوک له سوفله پټاټو او د شاه بلوط اوبو له مخلوط سره وخوړل. سلاد او جوس مو پرې له پاسه نوش جان کړل.

کاترین “ښکلې او شانداره کوټه ده. تر هغو چي په میلان کي یو، همدلته به اوسو”.

“ریښتیا هم عجبه کوټه ده”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاترین "نه پوهیږم په دغه ډول کوټه کي چي څوک سهار راپاڅي څه ډول وي. په هرصورت ښه ځای دی". د ځان لپاره مي یو بل ګیلاس له شربتو څخه ډک کړ.

کاترین "ګناه کولو ته مي زړه غواړي. موږ چي هرکار کوو هغه راته ساده او بې ګناه ښکاري. زما خو هیڅ زړه ته نه لویږي، چي موږ دي ګناه کوو".

"ته ډیره ښه یې".

"زه یوازې وږې یم. بیخي ډیره وږي کیږم".

ما یې په جواب کي وویل "ته ډیره ښه او ساده یې".

"هو، زه ساده یم. خو تراوسه له تا پرته په دې خبره بل هیڅوک نه دي خبر شوي".

"په لمړي ځل چي مي ولیدې، بشپړه غرمه مي په دې فکرو کي تېره کړه، چي کاور هوټل ته به ځنګه ځو او څه ډول به وي".

"ډیر بدسترګی یې. دا کاور هوټل نه دی که ځنګه؟"

"نه. موږ هلته نه پرېږدي".

"یو وخت خو به مو لا پریږدي. زما و ستا تر مینځ توپیر همدا دی، زه هیڅکله د یو شي په اړه فکر نه کوم".

"تراوسه دي د یوه شي په اړه هم فکر نه دی کړی؟"

کاترین وویل "ډیر لږ".

"اوه، ته ډیره ښه یې".

یو بل ګیلاس مي هم ځانته ډک کړ.

کاترین "زه بیخي ساده نجلی یم".

"په لمړي سر کي ما داسي فکر نه کاوه. فکر مي کاوه چي ته لیونۍ یې".

"لیونۍ وم، خو ډیره نه. خسته خو نه شوې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وویل "ځیشناک عالي دی".

کاترین "ښه دی. خو زما پلار یې په ناوړه نقرص ناروغۍ مبتلا کړ".

"پلار لرې؟"

کاترین "هو، په نقرص اخته دی. مهمه نه ده چې ورسره ووینې. ته پلار لرې؟"

"نه، پلندر لرم".

"زما به ورسره جوړه شي؟"

"مهمه نه ده چې ورسره ووینې".

کاترین "موږ سره خوشحاله یو. نور مې له هیڅ شي سره مینه او علاقه نشته. زه ډیره بختوره یم چې ستا میرمن یم".

خادم راغلی او لوښي یې یووړل. شیبه وروسته چوپه چوپتیا خپره شول او د باران د څاڅکو اواز مو اورېده. د هوټل مخې ته یوه موټر هارن وواهه.

ما وویل:-

تل یې د شا له لورې اورم

چې د وخت وزرې په بیړه کې دې.

کاترین "دا شعر مې اوریدلی. د (اندري مارول) دی. دغه شعر یې د هغې نجلۍ په اړه ویلی چې له نارینه وو سره یې حساسیت درلود".

اوس مې دماغ ډیر ارام او مستریح وو، غوښتل مې چې د حقایقو په اړه څه ووایم.

"ماشوم به په کوم ځای کې دنیا ته راشي؟"

"نه پوهیږم، خو یو ښه ځای به وي".

"د لنګول کارونه به څنګه سره تنظیم کړې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

“خبره تر وسه پوري ده، خو ته فکر مه خرابوه. د جگړې د پايته رسيدو وړاندي به موږ ځو ماشومان ولرو”.

“فکر کوم د تګ وخت راورسېد”.

“پوهيږم. که دي خوښه وي، نو درځه له خيره”.

“نه”.

“نو زما مجنونه ځان په اندېښنو کي مه غورځوه. تراوسه خوښ خوشاله وې، خو په دا يوه ګړي کي بيا بيرته د اندېښنو په سمندر کي لاهو شوې”.

“نه، داسي نه ده. په څومره وخت کي به خطونه راستوې؟”

“هره ورځ. ستا ايټالوي ملګري ستا ليکونه وايي؟”

“انګليسي يې دومره نه ده زده چي کومه ستونزه ځيني جوړه شي”.

“زه به دوی سربداله کړم”.

“خو چي ډير سربداله کونکي نه وي”.

“دوی به لږ غوندي سربداله کړم”.

“داسي ښکاري لکه د تګ وخت چي راورسيد”.

“سمه ده. درځه له خيره”.

“زه نه غواړم چي زموږ دا ښکلی کورګی پريږدم”.

“زه هم نه غواړم”.

“خو بايد ولاړ شو”.

“سمه ده. خو په خپل دې کور کي مو ډېر وخت تېر نه کړ”.

“که ژوند وو، بيا به يو بل وخت ورته راشو”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

“کله چي له جبهې څخه راستون شوې، يو ښکلی کور به ولرې”.

“کيدای شي ډېر ژر بيرته راستون شم”.

“کيدای شي چي پښه دي لږ غوندي زخمي شي”.

“يا هم کيدای شي چي د غوږ پيڅکی مي زخمي شي”.

“نه. غوږونه دي لا اوس سم دي”.

“او زما پښې؟”

“پښې دي وختي لا زخمي شوي”.

“زما مجنونه، د تګ وخت راورسېد”.

“سمه ده، لمړی تاسي ولاړ شئ”.

## څلرويشتم فصل

د لفټ پر ځای په زينو کي راکښته شوو. زينې يې په خوړين فرش باندي فرش کړې وې. د خوړو پيسې مي يې کله چي يې ډوډۍ راوړه، ورکړي وې. هماغه خادم چي ډوډۍ يې راوړې وه د دروازې په خوله کي پر يوه چوکۍ ناست وو. زموږ له ليدو سره پاڅېد احترام يې وکړ. څنګ کوټې ته ورسره ولاړم او د کوټې کرايه مي ورکړل. منيجر زه خپله ملګری ګڼلی وم او کرايه يې رانه په پيشکي کي وانه خيستل، خو کله چي له کوټې څخه وتلی وو، ياد شوي يې ول چي بايد خادم په دروازه کي کښېنوي، څو زه همداسي د پيسو له ورکړي پرته ولاړ نه شم. فکر کوم چي له يوې دغسي پيښې سره مخ شوی وو، کيدای شي ملګری يې وو. ډيری وختونه په جګړه ايزو حالاتو کي د ملګرو شمېر زياتيږي.

خادم ته مي د بګۍ د راوستو وويل. هغه هم د کاترين غوټه ورسره واخيستل او سايوان په لاس دباندي ووت. موږ په کړکۍ کي ورته کتل په باران کي له کوڅې څخه تير شو. همالته په څنګلوري کوټه کي تم شوو او له کړکۍ نه مو دباندي کتل.

“کاترين، طبعيت دي څنګه دی؟”

(c) ketabton.com: The Digital Library

"بیخي ډېر خوب راځي".

"زه خو اوس لا وږی یم".

"د خوراک لپاره یو شی درسره شته؟"

"هو. زما په غوټه کي شته".

بګۍ مي ولیدل، چي زموږ پر لور راروانه وه. ودرېدل. آس په باران کي څوړند سر ولاړ وو. خادم ځیني راکښته شو، سایوان یې خلاص کړ او د هوټل په لور راروان شو. له دراوزې سره مخ په مخ شوو تر سایوان لاندي په چکړ کي د بګۍ په لور روان شوو. د لارې په څنګ کي ډم اوبه ولاړي وې.

خادم "ستاسي سامان په سیټ کي پروت دی". بګۍ ته ورپورته شوو، خادم لا تراوسه سایوان په لاس ولاړ وو. یوڅو نوټونه مي یې په لاس کي ورکښېښودل.

وې ویل "ډېره زیاته مننه، ښه سفر ولرئ". ګاډیوان د اس کیزه راکش کړل ورسره آس په حرکت راغلی. خادم له خپل سایوان سره وڅرخید او د هوټل په لور روان شو. موږ همداسي د کوڅې په اوږدو کي وړاندي ولاړو بیا چپ خواته وګرځیدو له هغه وروسته له تمځای سره وه راسته اړخ ته راوګرځیدو. یو څه ورهاخوا دوه عسکر ټوپک په لاس په رڼا کي وه باران ته ولاړ ول. خولۍ یې په رڼا کي بریښېدلې. له تمځای نه په راوتونکو رڼاوو کي باران صاف او شفاف ښکاریده. له تمځای څخه یو پلنډي د غوټو وړلو په نیت راووت، پر اوږو یې د باران څاڅکي لګیدل.

ورته ومي ویل "مننه. پلنډي ته اړتیا نشته".

بیرته وه خپل پخواني ځای ته ستون شو. ما وه کاترین ته چي پر مخ یې د بګۍ د سایوان سایه وه، مخ ورواړاوه.

"نور نو د مخه ښې وخت رارسیدلی".

"زه درسره تللای شم؟"

"نه".

"ستا یې په مخه ښه".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ګاډيوان ته د روغتون پته وروښيه".

"سمه ده".

ګاډيوان ته مي د روغتون پته وروښوول. سر يې وښوراوه.

ما ورته وويل "د خدای په امان". له بګۍ څخه لاندي وه باران ته راکښته شوم او بګۍ په خپله مخ په حرکت شول. کاترين دباندي راوکتل، په رڼا کي مي يې مخ وليد. مسکۍ شول او لاس يي راته وښوراوه. بګۍ په کوڅه کي مخ په لوړه روانه وه. دې طاق ته اشاره وکړل، وه هغه ځای ته چي مي وکتل يوازي طاق او دوه عسکر ولاړ ول. زه يې په مقصد پوه شوم. د دې مقصد دا وو، چي زه تر طاق لاندي ودريږم، څو د باران له څاڅکو څخه محفوظه واوسم. زه ولاړم همالته ودريدم او بګۍ ته مي تر هاغه مهاله کتل چي پر کونج باندي راتاو شول. له دې وروسته وه تمځای ته ورتېر شوم. پلنډي په برنډه کي په ما پسي راکتل. په ده پسي وه اورګاډي ته ورغلم. د يوې له ګڼي ګوڼې ډکي لارې څخه تېر شوم او په يوه دروازه ورننوتم. په ډبه کي مي د چوپړوال پر ملګري باندي سترګې ولګيدې. د يوې ډکي ډبې په يوه کونج کي ناست وو. زما چانټه او غوټې د ده له پاسه په سرتاخ کي پرتې وې. زموږ له ورننوتو سره ټولو موږ ته سترګې راواړولې. په ډبه کي بيخي تنګه تنګستي وه او ټول يو له بل سره جوخت او پيوست ناست ول. د چوپړوال ملګری پاڅيد او زما لپاره يې ځای خالي کړ. زه لا پر خپل ځای ولاړ وم، چي پر اوږه يو چا لاس راکښېښود، ما چي ورته وکتل مخي ته مي يو قدبلنده د توپچي قواو تورن چي پر زنه باندي يې يو سور داغ هم وو ولاړ، وو. د ډبې ورهاخوا يې په هنداره کي راته وکتل او بيا راننوت.

ده ته مي وويل "څه خبره ده؟" مخ مي ورته راوګرځاوه او مخ په مخ ورسره ودرېدم. تر ما په قد جګ وو. د نقاب په سايه کي يې مخ ډنګری ښکاريده. د زني زخم يي تازه او بريښېده. په ډبه کي موجودو ټولو خلکو موږ دواړو ته په ځير ځير کتل.

راته ويې ويل "ته دلته نه شې کښېنستلای. هيڅوک حق نه لري، چي د چوکۍ نيولو لپاره يو بل څوک راوليږي".

"زه دا حق لرم".

ناړې يي تېرې کړې. کرنکې ته مي يې کتل، غوټو يې پورته او کښته شو. د چوپړوال ملګری د چوکۍ وه مخې ته ولاړ وو. د ښېښې ورهاخوا خلک زموږ په تماشه ول. په ډبه کي ولاړ خلک ټول چپ ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ته په هيڅ صورت داسي نه شې کولای. زه تر تا دوه ساعته وړاندي راغلی یم".

"اوس څه غواړې؟"

"چوکۍ غواړم".

"زه هم چوکۍ غواړم".

څېرې ته مي یې وکتل او داسي احساس کړل لکه ټوله دېبه چي زما پر ضد وي. زه دوی نه ملامتوم. دی پر حق ول، خو زما له چوکۍ سره کار وو. خلک تر اوسه د بټانو په څیر پر خپلو ځایو باندي غلي ولاړ ول.

له ځان سره مي وویل اوه، خدایه دا بیا څه غضب دی.

ما ورته وویل "مهرباني وکړئ. ښاغلی تورن". د چوپړوال ملګری له چوکۍ څخه رادېخوا شو او قدبلنده تورن پرې کښېناست. بیا یې ما ته وکتل څیره یې زهیره راته ښکاره شول، خو چوکۍ یې وګټل. د چوپړوال ملګري ته مي وویل "زما سامان راواخله". له دهلېز څخه راووتو. اورګاډي ډکه وه او ښه پوهېدم چي اوس د چوکۍ پیداکول ناممکنه ده. وه چوپړوال او د هغه ملګري ته مي لس لس لېرې ورکړې. دوی له دهلېز څخه کښته شول او له برنډې څخه یې وه کړکیو ته راکتل، خو ځای نه وو.

چوپړوال "کیدای شي په راروان تمځای کي ځیني خلک پلي شي".

ملګري یې وویل "دا هم کیدای شي، همالته ګڼ نور پسي وروخیژي". له دوی سره مي په همدې ځای کي مخه ښه وکړل او پر خپله مخه ولاړل، خو دوی دواړه د چوکۍ د نه پیداکېدو له لاسه خوابدي ول. کله چي اورګاډي حرکت کاوه، زما په شمول ګڼ نور کسان د ډبې په مینځ کي ولاړ ول او د تمځای څراغانو او د ډبې غولې ته مو کتل.

باران تراوسه وریده. یو ګړی وروسته د ډبې ښیښې لندې خیشتې شوې او دباندي مو هیڅ شی نه شوای لیدای. څو لحظې وروسته د ډبې پر غولي باندي خوب یووړم، خو له خوبه وړاندي مي خپله بټوه چي پیسې او اسناد پکښې وه د پښو په مینځ کي کښېښوول او بیا بیده شوم. ټوله شپه بیده وم یوازې په بریشیا او ورونا کي چي ځیني کسان کښته او پورته شول راویښ شوم او بیرته ژر خوب یووړم. پر یوه غوټه مي سر ایښی وو او پر هغه پاتې غوټو مي لاسونه راګرځولي ول. دوی به که زه په پښه نه وای وهلی نه یې شوای کولای چي تېر شي. د ډبې په غولي کي زما په ګډون ګڼ نور خلک بیده ول. ځینو بیا د کړکیو پر دستکانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسونه ټینګ کړي او ولاړ ول. ځینو نورو بیا له لاچارۍ څخه وه دروازو ته تکیې لګولې وې. په دغه اورګاډي کې به تل ګڼه ګونه ډېره وه.

## پنځه ویشتم فصل

د مني موسم راپیل شوی وو. ټولې ونې سپېرې او له زرغونو پاڼو سره یې مخه ښه کړې وه. لارې، ګودرې له خټو مالامال وې. له یوډېن نه تر ګوریزیا پورې په لارۍ کې ولاړم. په لار کې له نورو موټرو څخه وړاندې شوو. ما تر کړکۍ دباندې شاوخوا سیمو ته کتل. د توتو خړې ونې او خړ خړ کښتونه مې لیدل. د سړک پر څنډو ولاړو ونو له خپلو پاڼو سره ښېلتون کړی وو او پاڼې یې لاندې پر مځکه ورته نڅېدې. یو شمېر خلک د سړک له پاسه په کار بوخت ول. دوی د ونو له منځه ماتې تیرږې راخیستې او د سړک ډبونه یې پرې ډکول. د دوو غرو په مینځ کې پراته ښار ته مې وکتل خوپ په خپله غېږ کې راچاپېره کړی وو. موږ پر سیند باندې، چې تر غاړې غاړې پورې بهیده، پوریوتو. په غرونو کې باران شوی وو. ښار ته چې راداخل شوو، له فابریکو، کورو او ماڼیو څخه راتېر شوو. په لار کې مې ځینې داسې کورونه هم ولیدل چې تازه په تازه د توپو نښه ګرځول شوي ول. په یوه نرۍ کوڅه کې مو د بریتانیا د سره صلیب یو موټر ولید، یو تور مخې او ډنګر موټروان پکښې سپور وو. خولۍ یې په سر کړې وه. دی له دې وړاندې مې نه وو لیدلی. د ښار د غټې څلورلارې په مینځ کې د ښار د جګړن د کور مخې ته له موټره راکښته شوم. موټروان مې غوټه راکړل، هغه مې پر اوږه کښېښوول. لاسي بکسه مې په لاس کې واخیستل او د خپلې کلا په لور روان شوم. داسې مې نه ګڼل لکه وه کور ته چې روان یم.

پر تازه ابپاشي شوي پیاده رو باندې روان شوم. د ونو له مینځ څخه مې کلا ته وکتل. کړکۍ ټولې بندې وې، خو دروازه خلاصه وه. وردننه شوم. جګړن دننه په یوه تشه توره کوټه کې، چې د دیوالونو له پاسه یې نقشې راځوړند وې، ناست وو.

څنګه چې یې زه ولیدم راته وې ویل "سلام، جوړ په خیر، څنګه یې؟" تر پخوا زوړ او سپین ښکاریده.

ما ورته وویل "ښه یم. ستاسې مصروفیتونه څنګه روان دي؟"

راته ویې ویل "خبره خلاصه ده. غوټه دي پر مځکه کښېږده او کښېنه".

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوټه او دوې بستې مې پر غولي کېښېښودې او له پاسه مې پرې خپله خولۍ کېښېښوله. د دیوال وه لور ته پرته چوکۍ مې راکش کړل او له میز سره په څنګ کې پرې کېښېنستم.

جګړن "اوړی په ډېر تکلیف راباندي تېر شو. اوس ښه یې؟"

"هو".

"مډالونه یې درته درکړل؟"

"هو. رایې کړل مننه".

"ته راکړه، چي ویې ګورم".

کوسۍ مي خلاصه کړل او پر سینه ځوړند مډالو ته یې وکتل.

"له مډالو سره یې بکسونه درکړل؟"

"نه، یوازې اسناد یې راکړل".

"بکسونه بیا وروسته درکوي. هغه وخت په بر کې نیسي".

"که کوم کار شته، زه تیا ریم؟"

"موټرونه یې ټول بیولي دي. شپږ داني په شمالي کارپوریتو کې دي. کارپوریتو دي لیدلې؟"

ما ورته وویل "هو". یو وړوکی سپین ښار مي ذهن ته راغلی. د درې په مینځ کي یې یو ځلی ولاړ وو. یو کوچنی او ښکلی ښار وو، د ښار په مینځ کي یې یوه زړه راښکونکې فواره جوړه کړې وه.

"دوی اوس همالته کار کوي. د ناروغانو شمېر هم ډېر شوی. جګړه ختمه شوې".

"هغه پاتې موټرونه چیري دي؟"

"دوه لوړ په غره کي دي او څلور اوس هم په باینسیزا کي دي. او د امبولانسونو دوه برخې په کارسو کي له دریم پوځ سره دي".

"زه څه خدمت کولای شم؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

“که دي خوښه وي، ته باینسیزا ته ولاړ شه او هغه څلور موټرونو په خپله کنټرول کي واخله. جینو له ډیره وخته همالته دی. تراوسه به باینسیزا ته نه تللی؟”

“نه”.

“همالته اوضاع ډیره بدخونده شول، درې موټرونه مو تباه شول”.

“خبر شوم”.

“هو، رینالډي درته لیکلي وه”.

“رینالډي چیري دی؟”

“همدلته په روغتون کي دی. اوړی او منی یې دواړه همدلته تېر کړل”.

“بیشکه”.

جګړن “اوضاع بېحده ډېره خرابه شول. له ځان سره مي فکر کاوه، چي ته ډېر نېکمرغه وي چي ژوبل شوې”.

“درسره موافق یم”.

جګړن “راروان کال به تر دې لا ناوړه وي. کیدای شي همدا اوس حمله وکړي، داسي ګنګوسې دي، چي دوی د حملې نیت لري، خو باور مي نه کیږي ځکه اوس ډېر ناوخته دی. سیند دي ولید؟”

“هو، هغه خو له وړاندي لا تر غاړې بهیده”.

“اوس موسم باراني دی او فکر نه کوم، چي دوی دي اوس حمله وکړي. کیدای شي له بارانه وروسته واوره هم پیل شي. ستا د هیوادوالو په اړه څه خبرونه دي. ستا په شمول نور امریکایان شته؟”

“هغوی د یو میلیوني پوځ په روزلو بوخت دي”.

“خدای دي وکړي، چي یو جوپه یې دلته هم راشي. خو تر رارسیدو وړاندي به پر هغوی ټولو فرانسویان غیږ راتاو کړي؛ موږ ته به هیڅ رانه شي. په هرصورت، ته نن شپه همدلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتې شه، سبا له خیره کوچنی موټر درسره واخله، ولاړشه او جینو بیرته راولیږه. زه به یو په لاره بلد سړی درسره واستوم. جینو به دې په هرڅه پوه کړي. اتریشیان اوس هم بمبار کوي خو اوس يې کار خلاص دی. باینیسیزا به هم وویني".

"د لیدو ارمان يې لرم. ښاغلی جګړنه، خوشاله شوم، چې یو ځلي مو بیا سره ولیدل".

مسکی شو او ويې ویل "دا ستاسي لطف دی. زه خو له جګړې څخه تر پزې راغلی یم؛ که زه له دغه ځایه تللی وای، فکر نه کوم چې بیا دې راستون شوی وای".

"ستا له خبرو داسې ښکاري، چې حالات ډیر ناوړه دي".

"هو. ناوړه او بیا هم ډیر ناوړه. ځه ورشه، ځان پاک کړه او رینالډي ولټوه".

له کوټې راووتم او غوټه په لاس لوړ وه کوټې ته ولاړم. رینالډي په کوټه کې نه وو، خو شیان يې پراته وه. پر کټ کښېنستم، ګلګل مې خلاص کړل او د ښی پښې بوټ مې وکیښ او پر کټ اوږد اوږد وغځیدم. ستړی وم او ښی پښې مې درد کاوه. یو بوټ کښلی او بل بوټ په پښو پر کټ باندې پروتې خوند رانه کړ. نو پاڅیدم، تنۍ مې خلاصه کړل، بوټ مې پر غولې باندې وغورځاوه او بیرته پر کټ باندې پرېوتم. کړکۍ بندې وې. هوا يې تربخته کړې وه. زه هم دومره ستړی وم چې دا مې په وسه نه وه، تر څو پاڅیږم او کړکۍ پرانیزم. زما شیان ټول د کوټې په یوه کونج کې پراته ول. بهر ورو ورو تیاره خپرېدل. په کټ کې پروت وم، د کاترین په اړه مې سوچونه وهل او د رینالډي په تمه وم. هڅه مې کول، چې د کاترین په اړه له فکرو ځان خلاص کړم، پرته په شپه کې، هغه هم له خوبه وړاندې. خو اوس ستړی وم او بې وسه پروت وم. ځان مې وه فکرونو ته وروسپاره. په همدې فکرو کې وم، چې رینالډي راننوت. د پخوا په څېر ښکاریده خو لږ ډنګر شوی وو.

رینالډي "اوه، زما له غرونو پناه یاره!" زه راجګ شوم. رانژدي شو، کښېناست او لاسونه يې راباندې راچاپیره کړل."زما خوږ انډیواله!" پر اوږه يې وټکولم او زما دواړه لاسونه يې په خپلو لاسو کې ونیول.

رینالډي "ته رانژدې شه، ماشومه ځنګون دي راته ښکاره کړه".

"پایڅه باید پورته کړم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"سمه ده، زما ورکوټې. زه او ته ملګري یو. پردي انسانان مو په مینځ کي نشته. ته دي دا ښه رادېخوا کړه، چي څنګه یې درعملیات کړې". زه پاڅېدم. پایڅه مي راونغاړل او د ځنګانه سترګه مي ورښکاره کړل. ریناللډي لاندي پر مځکه کښېناست او ورو یې ځنګون ته حرکات ورکړل. پر ژوبل ځای باندي یې ګوتې کښېښودې او بیا یې د ځنګانه سترګه په خپله بټه ګوته باندي وموږل.

"بس همدومره؟ عملیات همدومره وه؟"

"هو".

"په دې اوسني حالت کي جبهې ته ستا لیږل جرم دی. ته یې باید بشپړ عملیات کړی وای".

"ځنګون مي د پخوا په نسبت اوس ډېر ښه دی. په اول سر کي د تختې په څېر کلک وو".

ریناللډي زما ځنګون راکت کړ. ما یې لاسو ته کتل، د یوه تکړه جراح په شان ول. سر ته مي یې وکتل، وریښتان یې جلا جلا او برېښېدل. ځنګون یې نور هم کت کړ.

"اخ!"

ریناللډي "نیمګړې یې تداوي کړی یې".

"د پخوا په نسبت ښه یم".

"زما جانانه، ځنګون دي مي معاینه کړ. دا خبره دي په دماغ کي نوټ کړه، په دې طبي مسایلو کي زه تر تا ډېر معلومات لرم". پاڅېد او پر کټ کښېناست "ځنګون یې ښه عملیات کړی". لاس یې پر ځنګانه ایښی وو "په هرصورت اوس غوږ راته وکړه".

ما یې په جواب کي ورته وویل "کوم خاص څه نشته، چي په اړه یې درته ووایم".

"ته د یوه واده شوي سړي په څېر چمونه کوي. په تا څه شوي؟"

ما ورته وویل "هیڅ نه دي راشوي. په تا څه شوي؟"

"له دې نادودي جګړې نه موړ شوی یم. له سختو ربړو سره یې لاس و ګریوان کړی یم". لاسونه یې پر ځنګانه باندي راغونډ کړل.

"اوه!"

(c) ketabton.com: The Digital Library

"څه خبره ده؟ ایا زه د انساني احساساتو د درلودو حق نه لرم؟"

"نه. ستا له کړو ځخه داسي معلومیږي، چي سات دي تېر شوی. هله ژر کوه ما ته یې وو ایه. څه لیدلي یا څه خوړلي".

ریناللډي "اوړی او منی مي ګرده د انسانانو په عملیاتولو باندي تېر کړل، هر ژوبل به یې تر ما پور ي رارساوه. ټول سخت عملیات یې په ما کول. په خدای چي زما ځخه اوس ډېر تکړه جراح جوړی شوی!"

"مبارکي یې درته وایم".

"زما هیڅ زړه ته نه لوېدل، خو اوس په خدای چي بیخي ته تکړه جراح شوی یم".

"نام خدا".

"خو زما ورکوټې، اوس ژوبل نشته او عملیات نه کوم، ځکه نو سخت نفس تنګه شوی یم. ډېره بدمخې جګړه ده. زما ملګري، ته باید زما پر خبرو باور وکړې. په هرصورت، راشه اوس به یو ګړی طبیعتونه سم کړو، د فونوګراف ریکارډ دي راووړ".

"هو".

په بسته کي دننه، د یوه کاغدي کاټن په مینځ کي په یوه اخبار کي پیچل شوی وو. ډیر ستړی وم، دومره مي په وسه نه وه، چي رابهر یې کړم.

ریناللډي راته وویل "ستا طبیعت ځنګه دی؟"

"د طبیعت پوښتنه مي مه کوه. فکر مي بیخي خراب دی".

ریناللډي "ګوزڼ وهلي جګړه! خیر، ته راشه دواړه به ځیښاک وکړو. خپل ځانونه به خپله خوشاله کړو او تر یو ځو ګړیه پوري به نړی هیره کړو".

ما ورته وویل "زه ژړی یم، ډاکټرانو له ځیښاکه منعه کړی یم".

"اوه، زما ملګري، ته ما ته په کوم شکل راغلې؟ له تروش تندي او خرابي اینې سره؟ زه درته وایم چي جګړه منحوسه ده. نو بیا ولي خپل ځانونه پرې مبتلا کوو؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

"سمه ده، خو زه نه غواړم ډیر ځیښاک وکړم، ستا لپاره یوڅه ځیښنم".

ریناللډي پاڅید، دوشی ته ورتېر شو، دوه ګیلاسه او د کوګناک بوتل یې راواخیسته.

ریناللډي "دا اتریشي کوګناک دي. اوه ستوریز. دا ټول یې له سان ګبریل څخه په غنیمت راوړي".

"ته هلته تللی وې؟"

"نه تراوسه نه یم تللی. ټوله عمر مي همدلته په عملیات کولو باندي تېر کړ. ته وګوره ګرانه، دا ستا زوړ د غاښو برس دی. ستا د یادګار نښې په حیث مي هروخت له ځان سره ګرځاوه".

"چي خپل د غاښ پریولل دریاد کړي".

"نه. زه خپل برس لرم. ستا برس مي د دې لپاره راسره ایښی وو، چي تا پر یاد کړم. تا به سهار وختي په دې برس له غاښو څخه د ویلاروسا اثار پاکول. قسمونه به دي اخیستل او اسپرین به دي خوړی، بیا به دي ښکنځل کول. هرکله چي دغه ګیلاس ووینم ستا هغه وخت مي راياد شي چي هڅه به دي کول تر څو خپل افکار په برس پاک کړي". د کټ په لور رانژدې شو "هله ژر کوه یو ځلي مي ښکل کړه او راته ووایه چي ته خوشاله یې".

"هیڅکله به دي ښکل نه کړم. بې لکی بیزو".

"خبر یم، ته یو ښه انګلوساکسون ځوان یې. پوهیږم چي اوس پیښېمانه یې. خبر یم. زه به اوس تر هغه وخته تم شم تر څو انګلوساکسون ځوان په برس فحش لیري کوي".

"ګیلاس ته یوڅه کوګناک ورواچوه".

ګیلاسونه مو سره وجنګول او پر سر مو پورته کړل. ریناللډي راباندي وخندل.

"زه به تا په ډیر ځیښاک نشه کړم، بیا به دي اینه در څخه راوباسم، یوه نوې ایټالوی اینه به درته پیوند کړم او بیا ځلي به یو روغ انسان درنه جوړ کړم".

ګیلاس مي د کوګناک په تمه لاس کي نیولی وو. بهر تاریکي خپل راج چلاوه. ګیلاس په لاس د کړکی په لور تېر شوم او خلاصه مي کړل. باران دریدلی وو، خو بهر یې یخ جوړ کړی وو. ونې په خوپ کي پټې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رينالډي وويل "کوګناک بهر مه تويیوه. که يې نه شي څښلای، ما ته يې راکړه".

ما ورته وويل "خپل کار دي کوه". د رينالډي په بيا ليدو خوشاله وم. ده دوه کاله زما په ځورولو تېر کړي ول. راباندې ګران وو. د يو او بل په خوی و خاصيت ښه پوهېدو.

په داسي حال کي چي په کټ کي پروت وو پوښتنه يې راڅخه وکړل "واده دي وکړ؟"

ما پر دېواله تکيه اچولې وه.

"نه، تراوسه مي لا نه دی کړی".

"له يو چا سره په مينه کي يې؟"

"هو".

"له هماغې بريتانوۍ نجلۍ سره؟"

"هو".

" بېچاره. هغه ستا وړ ده؟"

"هو، ولي نه".

"مطلب مي دادی يعني عملاً په ژوندانه کي؟"

"ځغله ورک شه".

"سمه ده. تا ته به معلومه شي چي زه د څه ډول خوی او عادت څښتن يم. ايا دا...؟"

ما ورته وويل "رينالډي، د خدای لپاره چپ شه. که غواړي ملګرتيا مو پر ځای پاتې شي، چپ شه".

"زه نه غواړم، ستا ملګری وه اوسم. زه ستا ملګری يم".

"نو بيا چپ شه".

"سمه ده".

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کټ په لور ورتیر شوم او په څنګ کي ورسره کښېناستم. ده خپل ګیلاس په لاس کي نیولی وو او مځکې ته یې کتل.

"ریناللډي، ته پوهیږي چي دا هرڅه څه ډول دي؟"

"اوه، هو. زما ټول ژوند له همدې ډول شیانو سره تېر شوی، خو ته په دې برخه کي کم تجربه یې. او زه غواړم ته هم پکښې ماهره شې". دی تراوسه څوړند سر ناست وو.

"ته یې نلري؟"

"نه".

"ګرد سره؟"

"نه".

"ایا زه دا خبره ستا د مور او خور په اړه ویلای شم؟"

ریناللډي کرار وویل "ستا د خور په اړه هم". مورڼ دواړو وخندل.

"زوړ اتله!"

ریناللډي "کیدای شي زه بخیل یم".

"نه، ته بخیل نه یې."

ریناللډي "زما هدف هغه نه وو، هدف مي بل څه وو. ته واده لرونکی ملګری لرې؟"

"هو".

ریناللډي "زه یې نه لرم، هغه چي یو له بل سره مینه ونه لري؟"

"ولي؟"

"د دوی له ما څخه بښه نه کیږي".

"ولي؟"

"زه مار یم. زه د منطق مار یم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ته يې سره يوځای کوي. منه يې سبب وه".

"نه، هغه مار وو. هغه ډېر ښه وو".

ما ورته وويل "ته چي غلی ناست يې، ډېر ښه معلومېږې".

"مينه درسره لرم، زه چي کله له ځانه يو ستر ايټالوی مفکر جوړ کړم، ته مي غرور بيرته رامات کړي؛ خو زه په ډېرو هغو خبرو پوهېږم چي ويلای يې نه شم. په هر صورت زه تر تا ډېر پوه يم".

"هو. ريښتيا هم".

"او ته به له خيره يو ښه ژوند ولرې. له پښېمانتيا سره سره به بيا هم ښه ژوند ولرې".

"زه خو داسي فکر نه کوم".

"اوه، ريښتيا وايم. ته به ريښتيا هم ښه ژوند ولرې. زه چي کله مصروفه يم ډېر خوشاله يم". ده بيا سر ځوړند کړ.

"ته به يې هم ښېښتن شې".

"نه. زما ګرد سره دوه شيان خوښ دي. يو يې زما د کار لپاره مضر دی او هغه بل يې نيم ساعت، پنځلس دقيقې او ځيني وختونه تر دې هم لږ وخت نيسي".

"ځيني وختونه تر هغه هم لږ".

"بلې، لږ پرمختګ مي کړی. ته نه يې خبر. لنډه دا چي هماغه دوه شيان او زما کار".

"ستا په ژوند کي به يو انقلاب او نوي شيان رامنځته شي".

"نه، زموږ په ژوند کي نوي شيان هيڅکله نه راځي. موږ کامل پيدا شوي يو. نوی شی مو په ژوند کي نه راځي. موږ بشپړ يو. ته بايد په دې ووياړې، چي لاتين نه يې".

"د لاتين په نامه کوم شی نشته. لاتين خپله يو فکر دی. ته پخپلو نميګړتياو خورا وياړې." رينالډي لوړ وکتل او په خندا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"بس یې ده ملګرې. د ډېرو فکرو له لاسه خسته شوی یم". دی چی کله اول کوټې ته راننوت، له څیرې یې پوه شوم چې ستړی دی "د ډوډۍ وخت دی. زه ډېر خوشاله یم چې بیرته راغلې. ته زما بهترین ملګری او د جګړې د وخت ورور یې".

"د جګړې د وخت ملګري څه وخت ډوډی خوري؟"

"همدا اوس. ستا د اینې په ویاړ به یو وروستی جام پر سر پورته کړو".

"د سیانټ انتوني په څیر".

"غلط. هغه موضوع د شرابو او معدې مربوط وه. لږ شراب د خپلې معدې په ویاړ وڅیښه".

"سمه ده، ستا په خاطر به ټوله بوتل وڅیښم".

رینالډي "ستا د میرمنې په ویاړ". خپل ګیلاس یې پورته کړ.

"سمه ده".

"زه به هیڅکله د هغې په اړه کومه ناوړه خبره ونه کړم".

"پر ځان فشار مه راوله".

کوګناک یې وڅیښل "زه پاک و ساده یم. خاص ستا په څېر یم. زه به هم له خیره، له یوې بریتانوۍ سره یارانه واچوم. که ریښتیا درته ووایم، ستا له نجلۍ سره لمړی زما پیژندګلوي وشول؛ خو هغه تر ما یو څه په ونه جګه وه. قدبلنده نرسه!"

ما ورته وویل "ته ډیر پاک ذهنه یې".

"هو، هغه خو زه یم. ټوله نړۍ ما ته په پاک ذهنه وایي".

ما ورته وویل "رینالډي خاک به سر".

"د نن لپاره همدومره کفایت کوي. راځه په همدې پاک ذهن به ښکته شو او ډوډۍ به وخورو".

له تګه وړاندي ولمبیدم، سر مي ږمنځ کړ او بیا ښکته ولاړو. رینالډي لږ نشه غوندي وو. موږ چې خوړنځای ته ورغلو، ډوډۍ لا نه وه تیاره شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رينالډي "زه به ولاړ شم او يو بوتل به راړم." د زينو له لاري پاس ولاړ. زه پر ميز کښېناستم. رينالډي ګړی وروسته له بوتل سره راستون شو. ګيلاسونه مو نيم نيم ځيني ډک کړل او مخې ته مو کښېښوول.

ما ورته وويل" ډير دي". ګيلاس مي راپورته کړ او د ميز له پاسه پر پرتې شمعې مي سترګې ښخي کړې.

"د تش نس لپاره دا نيم ګيلاس هيڅ شی نه دی. دا ډير خوندور شربت دي. معده په مکمل ډول سوځي. ستا لپاره هيڅ شی تاواني نه دی".

"سمه ده".

رينالډي "تدريجي ځان وژنه. دغه څيښناک معده بشپړه تباه کوي. انسان ته لاس رېږدېدا وراچوي او په پای کي يې ګټه يوازي وه جراح ته رسيږي".

"ته يې توصيه کوي؟"

"د زړه له اخلاصه. زه ګردسره بل شی نه څيښم. ويې څيښه او ناروغي ته سترګې په لار شه".

ما چي خپل نيم ګيلاس ختم کړ، په دهلېز کي مي د خادم نارې واورېدې "سوپ! سوپ اماده دی!"

جګړن راننوت، موږ ته يې سر وښوراوه او کښېناست. پر ميز باندي ډير کوچنی ښکاريده.

پوښتنه يې وکړل "همدا ټوله يو؟" خادم د سوپ پياله پر ميز کښېښوول او جګړن خپل غاب ځيني ډک کړ.

رينالډي "هو. همدا ټوله يو، خو پادري تراوسه نه دی راغلی. هغه که د فريدريکو له راتګه خبر شو، هغه به هم په ځغاسته ځان راورسوي".

رينالډي مي وپوښت "هغه چيري دی؟"

"هغه اوس په ۳۰۷کي دی". دی په سوپ خوړلو مصروفه وو. خوله يې په احتياط پاکه کړل "کيدای شي اوس راشي. هغه ته مي ټليفون ور وکړ او ستا له راتګه مي خبر کړ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وویل "د خوړنځای شورماشور مي خورا ارمان وو".

جګړن "د شور ماشور وختونه ولاړل. اوس هغه شور ماشور نه دی پاتې".

رينالډي "زه به شورماشور جوړ کړم".

جګړن وویل "شراب درواخله". خپل ګيلاس يې ډک کړ. آش هم راورسيدل او ټوله يې په خوړو مصروفه شوو. آش پر خلاصيدو ول، چي پادري هم راورسېد. دی د پخوا په شان وړوکی، تور او سره ننوتلی ښکاريده. زه پاڅيدم او ستړي مشي مي ورسره وکړل.

لاس يې زما پر اوږه کښېښود.

پادري "ځنګه چي مي ستا د راتګ واورېدل، سمدستي رارهي شوم".

جګړن ورته وویل "کښېنه، اوس دي لا ناوخته کړ".

رينالډي په انګليسي ورته وویل "ماښام په خير". دغه، څو جملې يې له هغه تورن څخه زده کړي وې، چي هر وخت به يې پادري ځوراوه. پادري وویل "رينالډي، ماښام په خير".
خادم وه ده ته سوپ راوړ، خو ده غوښتل چي په آش يې پيل کړي.

له ما يې پوښتنه وکړل"تاسي ځنګه ياست؟"

"شکر دی ښه يم. ستاسي کارونه ځنګه دي؟"

رينالډي وویل "پادري شراب دراواخله، لږ شراب ستا د معدې په وياړ درواخله. دا د سيانټ پاول وينا ده".

پادري ورو ورته وویل "خبر يم". ريناالډي خپل ګيلاس ډک کړ.

ريناالډي بيا وویل "ټوله ګناه د سيانټ پاول په غاړه ده، ټوله مشکلات د همده له لاسه دي".
پادري ما ته وکتل او مسک شو. زما ورته پام شو د پخوا په نسبت اوس لغازي خبرو چندان اثر نه پرې کاوه.

ريناالډي وویل "همدا سيانټ پاول يو راوندړ او چيسر وو. بيا چي کله يې نشه سر شول ويل يې دا ښه نه دي او کله چي بيا د ده خبره خلاصه شول د پاته خلکو لپاره يې قوانين وضعه کړل.همداسي نه ده فريدريکو؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړن وخندل. اوس مو کباب راپیل کړی وو.

ما ورته وويل "زه تر غروب وروسته د مقدساتو په اړه خبرې نه کوم". پادري سر راپورته کړ او راته مسک شو.

رینالډي وويل "ده ته بیا وګوره، د پادري اړخ يې ونیو. آ خلکو، څه شول هغه د پادري څورونکي؟ کاوالکانتي چیري دی؟ بروندي چیري دی؟ سزار چیري دی؟ ستاسي رایه داده چي زه پادري په یوازي سر وځوروم؟"

جګړن "دی یو ښه پادري دی".

رینالډي وويل "دی ښه پادري دی، خو بیا هم یو پادري دی. زه غواړم خوړنځای پخواني حالت ته وګرځوم. زه غواړم فریډریکو خوښ وساتم. پادري مرداباد!"

ما جګړن ته وکتل، چي وه رینالډي ته يې کتل؛ دی هم پوه شوی وو، چي رینالډي نشه دی. رینالډي څیره الوتی ښکاریده. پر تندي يې خپاره وریښتان ډیر تور ښکاریدل.

پادري "همداسي ده لکه تاسي چي وایاست، ریناله‌و. تاسي صحیح وایاست".

رینالډي "پادري مرداباد. وایم مرداباد". چوکی ته يې تکیه ووهل.

جګړن موږ ته وويل "رینالډي له څه وخته راپه دېخوا تر فشار لاندي دی. کارونه يې زیات دي". ده خپله برخه غوښې خلاصي کړې او غاب يې په ګوله پاک کړ.

رینالډي ناستو خلکو ته مخ راوګرځاوه "زه چټیات نه وایم، وایم پادري مرداباد!" ناستو خلکو ته يې په یوه فاتحانه انداز وکتل، د ده سترګي لویدلي او څیره يې الوتي ښکاریده.

ما ورته وويل "سمه ده، دی مرداباد".

رینالډي "نه، نه، ته د دې ډول خبرو حق نه لرې. ته دغه ډول ادعا نه شي کولای. وایم ته يې د ویلو حق نه لرې. ته خالي او کار دي خلاص دی. بس خبره خلاصه ده. د ویلو لپاره بل څه شته هم نه".

پادري سر وښوراوه. خادم زموږ میز ته راغلی او د میز له سره يې غابونه پورته کړل.

رینالډي پادري ته مخ وروګرځاوه "ته غوښې ولي خورې؟ نن جمعه نه ده؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

پادري "نه، نن پنجشنبه".

"درواغ، نن جمعه ده. زه په دې هم پوهیږم کومي غوښې چي ته يې خورې، هغه د یوه اتریشي پوځي مړ جسد دی".

ما ورته وويل "دغه ډول سپيني غوښې د افسرانو وي". غوښتل مي چي هماغه پخوانۍ ټوکه بشپړه کړم.

رينالډي وخندل او خپل ګيلاس يې بيا ډک کړ.

رينالډي "زما په خبرو خفه نه شې، زه يو څه ليونی غوندي يم".

پادري رينالډي مخاطب کړم "ستا لپاره د يو څو ورځو رخصتې ښه ده".

جګړن پادري ته سر وښوراوه. رينالډي بيا وه پادري ته و کتل.

رينالډي "ته وايې چي زه په رخصتۍ ولاړ شم؟"

جګړن وه پادري ته سر وښوراوه، خو رينالډي بيا پادري ته رډ رډ کتل.

پادري "چي څنګه ستا خوښه وي، که نه ځې، مه ځه".

رينالډي "پر تا دي د خدای غضب وشي. دوی غواړي، چي ما له دغه ځایه وشړي. دوی شپه او ورځ په دې هڅه کي دي چي ما وشړي، خو زه ورسره مبارزه کوم. څه پروا لري چي زه پرې اخته يم، دا نو څه خبره ده، هر څوک يې لري. په نړۍ کي هر څوک په اخته کيږي. لمړی خو" د خپل ليکچر او بيان په خلاصه کولو باندي شروع شو "دا يوه وړوکې زخه ده، بيا د اوږو په مينځ کي يوه ګرمکه ځيني جوړه شي او له هغه وروسته بيخي له منځه ولاړه شي. بيا مو نو عقيده وه سيمابو ته جوړه شي".

جګړن کرار وويل "يا هم سالوارسان[22]".

رينالډي وويل "د سيمابو توليد". په يوه مغروره لهجه يې وويل "پادري، زه داسي څه پيژنم چي د دواړو ارزښت لري، دا يوه ساده صنعتي پيښه ده".

[22] دا يو ډول درمل دي چي د سفلس ناروغی په وړاندي کارول کيږي. رينالډي فکر کاوه، چي دی په سفلس اخته دی. د دې ناروغی په اړه ګډ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خادم له خوړو او قهوې سره یوځای راداخل شو. خواړه یو ډول ډوډی والا پوډینګ وو چې له پاسه پرې غلیظ ساس اچول شوی وو. د میز له پاسه پرتې لمپې لوګی کاوه، د دودکښ منځ له تور لوګي څخه ډک وو.

جګړن خادم ته وویل "دا لمپه ایسته کړه، پر ځای یې دوه شمعان راوړه". ده هم له هاخوا دوه لګیدلي شمعان په جلا جلا نعلبکیو کې راوړل. لمپه یې واخیستل او مړه یې کړل. رینالډي اوس غلی ناست وو، سم ښکاریده. موږ باندار وکړ او د قهوې له څیښلو وروسته ټوله وه دهلیز ته ور ووتو.

رینالډي "دا چې تاسي غواړئ، د پادري سره مجلس وکړئ، نو زه به وه ښار ته ولاړ شم. ښه شپه ولرئ، پادري".

پادري "تاسي هم ښه شپه ولرئ".

رینالډي "فریده، یار زنده، صحبت باقي".

"بامان خدا. ماښام بیا ناوخته مه راځه". رینالډي پیښنې وکړې او ووت. جګړن چې له موږ سره ولاړو، ویې ویل "دی ډیر ستړی وي، کاري بوج پرې زیات دی. ده ته دا وسوسه ورلوېدلي، چې ګني دی په سفلس ناروغی اخته دی. زما خپله یقین نه کیږي، خو کیدای شي چې وي. اوس یې درملنه پیل کړې. په هرصورت ښه شپه ولرې او سهار وختي به له خیره حرکت وکړي".

"سمه ده".

بیا یې وویل "د خدای په امان. بریالی اوسې. سهار به له خیره (پیدوزي) ږغ درباندي وکړي او له هغه سره به په ګډه ولاړ شې".

"ښه وخت ولرئ".

"په مخه مو ښه. د اتریشیانو د حملې اوازې دي، خو زه باور پرې نه لرم. خدای دي وکړي چې داسي نه وي. په هر صورت هغه به دلته نه وي. جینو به دي په هرڅه پوه کړي. پوځي مخابره د پخوا په پرتله اوس سمه شوې".

"زه به تاسي د هرې واقعې څخه په جریان کې ساتم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“ډیر ښه. ښه شپه ولرئ. او بله خبره، رينالډي ته اجازه مه ورکوه، چې ډېر ځيښاک وکړي”.

“زه به يې د منعه کولو هڅه وکړم”.

جګړن پادري مخاطب کړ “ښه شپه او ښه خوب ولرې”.

پادري ورته وويل “همچنان. ښاغلي”.

جګړن د خپل دفتر په لور رهي شوو.

شپږويشتم فصل

زه دراوزې ته ورتېر شوم او دباندي مي وکتل. باران اوس له برمه لوېدلی وو، خو میده میده څاڅکي اوس هم ووريدل.

ما پادري ته وويل “لوړ کوټې ته ځو؟”

“زه تر ډيره نه شم پاتيدای”.

“ته راځه”.

په زينو کي وختو او زما کوټې ته ولاړو. زه د رينالډي پر بستره وغځيدم او پادري بيا زما پر سفري بستره چي خادم غوړولې وه، کښېناست. کوټه تياره وه.

پادري “ښه، تاسي جوړ ياست؟”

“شکر دی. نن شپه ستړی يم”.

“زهم ستړی يم، خو ناحقه”.

ما ورته وويل “د جګړې په اړه دي څه نظر دی؟”

“زما په نظر په دې نژدې راتلونکي کي به ختمه شي. دا چي ولي؟ زه خپله هم نه يم پرې خبر، خو زما زړه همداسي راته وايي”.

“زړه دي څه درته وايي؟”

(c) ketabton.com: The Digital Library

“ستا په نظر جګړن په دې شپو و ورځو کي څه ډول دی؟ ارام او غلی؟ اوسمهال ګڼ شمیر هم دا ډول دي”.

ما ورته وویل “زه خپله همداسي یم”.

پادري وویل “ډیر خطرناکه اوړی وو”. د پخوا په نسبت یې پر ځان باور زیات شوی وو ”ستا به هیڅ باور ونه شي. پرته له دې چي هر څه دي پخپلو سترګولیدلي وای. ګڼ شمیر خلک سږ اوړی د جګړې په حقیقت و ماهیت پوه شول. هغه افسران چي ما یې د پوهیدلو هیڅ تصور نه کاوه اوس د جګړې په حقیقت پوه شوي”.

توس مي لاس کي ټینګ ونیو “نو ستا په نظر له دې څخه وروسته به څه کیږي؟”

“نه پوهیږم، خو زما په نظر دغه اړودوړ به تر ډیره دوام ونه کړي”.

“ستا په نظر څه به وشي؟”

“هغوی به له جګړې لاس واخلي”.

“څوک؟”

“متفقین و متحدین”.

ما ورته وویل “خدای دي وکړي، چي همداسي وشي”.

“ستا باور نه کیږي؟”

“فکر نه کوم چي دواړه اړخه دي سملاسي او په یو ځل جګړه ودروي”.

“زه هم فکر نه کوم، خو دا یوه ستره هیله ده. په هر صورت کوم تغیرات چي زه اوس د خلکو په افکارو کي وینم فکر نه کوم چي دغه کمشکش او جګړه دي تر ډیره دوام وکړي”.

“سږ دوبی جګړه چا وګټل؟”

“هیڅ چا”.

ما ورته وویل “اتریشیانو وګټل. دوی د سان ګبریل کلکه دفاع وکړل. همدوی بریالي شول. دوی به جګړه ونه دروي”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"که چیري دوی زموږ په څیر فکر ولري، د جګړې د ختم شونتیا شته".

"بریالی او ګټونکی پوځ هیڅ وخت جګړه نه دروي".

"ته ما ناامیده کوې".

"زه یوازي هغه څه درته وایم، چي په ذهن کي مي راځي".

"نوبیا ستا په نظر دا هرڅه به تر قیامته روان وي؟ هیڅ به پیښ نه شي؟"

"نه پوهیږم. یوازي دومره ویلای شم کله چي اتریشیان پخپله بریا باندي ډاډ ولري، نو هغوی به هیڅکله جګړه ختمه نه کړي".

"اتریشیان د بوسنیایانو پرته ټول عیسویان دي".

"زما مطلب په نامه عیسویان نه دي. داسي لکه حضرت عیسی".

څه یې ونه ویل.

"موږ ټول اوس شریف یو، ځکه چي شکست مو وخوړ. که پیټر په بڼ کي حضرت عیسی نه وای ژغورلی څه ډول به وای".

"هغه به هم زموږ په څېر وای".

ما ورته وویل "فکر نه کوم".

پادري "ما درته وویل چي ته مي بي جراته کوې. زه خو خپله په همدې عقیده یم او دعا کوم چي یوڅه وشي. په دا ډیر نژدې کي زه د یوڅه پیښیدو توقع لرم".

ورته ومي ویل "یوڅه خو کیږي، البته هرڅه چي واقع شي، نتیجه به یې موږ په خپلو سترګو ووینو. که اتریشیان هم زموږ په څېر فکر او اراده ولري نو بیا خو کوم مشکل نشته. خو هغوی موږ ته ماته راکړل، ځکه نو دوی اوس یو بېل ډول احساس لري".

"ګڼ شمیر عسکر هم اوس بل ډول نظریات لري، خو علت یې دا نه دی چي دوی ماته خوړلي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"هغوی له پیله مغلوب ول. دوی له هغه راهیسي لا مغلوبه ول، کله چي دوی له باغ و کروندو څخه خلک په جبر راوستل او بیا یې په پوځ کي شامل کړل. د همدې کلیوالي شعور او فکر له وجهي څخه دوی مغلوبه شول. ته یوځلي دوی د واک پر ګدۍ کښېنوه بیا ورته وګوره".

څه یې ونه ویل همداسي غلی او په فکرو کي ډوب ناست وو.

ما ورته وویل "زه خپله اوس سرګردانه یم. لامل یې همدا دی چي په دې اړه مي تراوسه هیڅ فکر نه وو کړی. زه هیڅکله له وړاندي فکر نه کوم، څه چي مي پر خوله راځي هماغه وایم. پخپل ذهن کي داسي څه مومم چي له وړاندي مي لا وه سوچ ته راغلي وي".

"زه یوه شي ته هیله من یم".

"شکست ته؟"

"نه، له دې ورهاخوا".

"له بري پرته بل څه نشته، خو هغه هم کیدای شي چي ناوړه وي".

"له ډیره وخته د بري په هیله یم".

"زه هم".

"خو اوس عقیده پرې نه لرم".

"بالاخره، له دې دوو څخه به مو یو په قسمت کي راشي".

"زه خو له بري څخه ناهیلی شوی یم".

"زه هم، خو زه پر ماته او شکست معتقد نه یم. کیدای شي نتیجه له دې څخه یوڅه ښه وي".

"نو بیا تاسي پر څه شي معتقد یاست؟"

ما یې په جواب کي وویل "پر خوب باندي". له دې ویلو سره پادري پاڅید.

"دا چي تر ډیره درسره پاتې شوم بخښنه غواړم، خو ستا سره باندار کول مي په طبعه ښه لګیږي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“دعا کوه چي بیا مجلس سره وکړو. له خوب څخه مي چي کومه یادونه وکړل، کوم هدف مي ترې نه درلود”.

پاڅیدو او یو بل ته مو لاسونه سره ورکړل.

پادري “زه اوس په ۳۰۷ کي هستیږم”.

“زه سهار وختي دندې ته ځم”.

“چي راستون شوې، بیا به مجلس سره وکړو”.

تر دروازې پوري مي بدرګه کړ “یو ورځ به په ګډه قدم هم ووهو او باندار به هم سره وکړو”.

پادري وویل “راکښته کیږه مه. ډیر خوشاله شوم، چي بیا مو سره ولیدل او خدای پاک ډیر فضل درباندي وشو، چي بچ شوې”. لاس یې زما پر اوږه کښېښود.

ما ورته وویل “زه خو کوم مشکل نه لرم”.

“ښه شپه ولرئ”.

د خوب له لاسه مي سترګې پټي پټي کیدې.

## اوه ویشتم فصل

کوټې ته د رینالډي له راننوتو سره راپاڅیدم خو هغه همداسي غلی تېر شو او زه هم بیرته بیده شوم. سهار مي کالي واغوستل او له رڼا کیدو وړاندي روان شوم. له کوټې څخه چي راوتم، رینالډي لا بیده وو.

باینسیزا مي تراوسه نه وه لیدلي، ځکه نو یوې داسي ډډې ته تګ او سفر کول، چي د اتریشیانو په ولکه کي وه او زما د ژوبلیدو له ځای سره په څنګ کي وه بیخي عجبه غوندي راته ښکاره شول. یو بل ګړنګ وزمه سړک یې تازه په تازه ودان کړی وو، کڼ شمیر موټرونو تګ راتګ پرې کاوه. لږ وړاندي سړک پلن کېده له هماغه ځای مي ځنګل او غونډۍ ته وکتل، چي په خوپ کي پټ شوي ول. په ځنګل کي درنه جګړه نه وه شوې، ځکه نو کوم د پام وړ زیان

(c) ketabton.com: The Digital Library

وراوښتی نه وو. په کوم ځای کي چي نور نو سړک د غونډیو له منځه وتی او هواري ته داخلېده، دواړه اړخونه او سر يې د جورو ټانټو باندي پوښل شوی وو. سړک په يوه وران ويجاړ کلي کي پايته رسيده. لږ څه لوړ د جګړې لمړی کرښې وي. شاوخوا سیمه بېحده کنډ و کپړ شوې وه، خو کلک نظم پکښې موجود وو. په هرځای کي لوحې لګول شوي وي. جینو مو ولټوی له هغه سره مو کافي وخېښل او له هغه وروسته مو له يو شمير خلکو او پوستو څخه ليدنه وکړل. له جينو سره له خبرو وروسته يوه شوم، چي بريټانوي امبولانسونه تر بانيسيزا لاندي په (راون) نومي سيمه کي فعاليت کوي. د ده بريټانويان خورا په طبيعت لګيدل. په خبرو خبرو کي يې د اتريشيانو د سخت بمبار په اړه راته وويل. د ده په خبره اتريشيانو زموږ سيمه سخته بمبار کړي، خو چنداني مرګ ژوبله يې نه دي اړولې. داسي بيره وه، چي د باران له پيل سره به د ناروغانو شمېر زيات شي. داسي ګنګوسې وي، چي اتريشيان به حمله کوي، خو د ده زړه ته نه لوېدل. زموږ له خوا هم د يرغل هوډ شوی وو، خو د جګړې په ډګر کي د کافي شمېر عسکرو د نه شتون له امله دا حمله هم مخ په پاتېدو وه. دلته قحطي وه، له همدې امله د ده وه ګوريزيا ته تلوسه زياته وه. ما څه ډول خواړه خوړل؟ زما له جواب څخه ډېر خوښ شو. په خاص ډول بيا د ډولچ له نامه څخه متاثره شو. د ډولچ په اړه مي زيات توضيحات ورنه کړل. بس همدومره مي ورته وويل چي ډولچ مو وخوړل. په هر صورت، دغه نوي خواړه يې ښه خوښ شول.

ايا زه پوهيدم چي دی به چيري واستول شي؟ ما ورته وويل زه نه يم خبر، خو يو څو موټرونه په کاپوريتو کي ولاړ وه؛ ويل کاشکي مي هلته واستوي. کاپوريتو ښکلی او وړوکی ښار وو، د ده يې دنګ غرونه چي شاوخوا سيمه يې راچاپيره کړي وه، خوښيدل. دی خپله يو خوش اخلاقه ځوان وو او د هر چا په مزاج ښه لګيده. د ده په وينا د مځکې پر مخ جهنم په سان ګبريل کي وو او د (لورن) جګړې پايله بيخي ناشولته راووته. د ده په خبره اتريشيانو په غرو او ځنګلو کي، زموږ شاته ډيره نابوده توپخانه لګولې وه، چي ګرده شپه به يې پر لارو ګودرو باندي بې دريغه بمبار کاوه. د اتريشيانو سمندري توپخانې دی سخت په غصه کړی وو. د ده په خبره چي د ويشتن ليکي څخه ما ته معلوميدل لمړی به غږهاری شو او بيا به سمدستي يو لوی درز وشو. اتريشيانو په يوه وخت کي له دوو توپو څخه په مسلسل ډول ډزې کولې. توغندۍ به له يوه غړمب سره پر مځکه راپرېوتې او بيا چي به دي کتل، ستا تر ديده به د اوسپنو غټي او کوچنی ټوټې فرش شوي وې. له دغو ټوټو څخه يې يوه ستره، غاښوره او تيره ټوټه راښکاره کړل. بيخي نابوده او تيره پرزه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جینو "فکر نه کوم چي دا توغندۍ دي چنداني ویجاړونکي وي، خو زه ځیني بیریږم. ږغ یې داسي دی، خاص لکه ته چي یې په نښه کړی یې. اول غړمب شي او بیا له کړیکې سره یوه زوروره چاودنه وشي. خو د دې زهره چاودو ګټه څه ده؟ او بله خبره، اوس د جګړې په لمړۍ کرښه کي زموږ پر ضد کروشیایان او هنګریایان هم جنګیږي. زموږ سرتېري په تهاجمي حالت کي وه. که اتریشیانو حمله کړې وای، نه د مخابرې سیستم کار کاوه او نه هم یو داسي ځای وو چي سرتېرو عقب نشینې ورته کړې وای. د غره په ډډو کي د سنګر لپاره ښه ځایونه ول، خو دومره څوک پیدا نه شو چي هغه تیار او اماده کړي، تر څو پوځیانو کار ځیني اخیستی وای".

خیر، زما نظر د بانیسیزا په اړه څه ډول وو؟

زما په نظر هغه تر غونډیو ډیره هواره ده، زه خپله دومر باوري نه وم چي په دې اندازه دي ورانه شوي وي.

جینو "لوړي غونډۍ، خو نه مسطحه".

له ده سره د ده په کور کي په یوه وړوکې کوټه کي دیره شوم. ورتهومي وویل زما په نظر د یوه داسي غره چي ډیري لوړي و ژورې ونه لري، ساتل یې د یوه وړوکي غره په نسبت اسانه دي. ده ته مي وویل چي د هواري منطقې په پرتله پر غره باندي حمله ډیره سخته نه ده. ده په جواب کي راته وویل "دا نو بیا په غره پوري ارتباط لري، چي غر څه ډول دی، اوس بیا وه سان ګبریل ته وګوره".

ما ورپسي غبرګه کړل "هغه صحیح ده. خو هغه لوړ ځای چي په سر کي هوار وي د ستونزې جرړه شي، که نه په اسانۍ ختلای شوای".

ده وویل "په دومره اسانۍ هم نه، لکه تاسي چي وایاست".

ورته ومي ویل "هو. خو هغه یوه استثنا وه، بله دا چي سان ګبریل تر یوه غره وه لښکر کوټ ته ډیره ورته وه. په هر حال، اتریشیانو کلونه کلونه د هغه ځای په مستحکم کولو باندي تیر کړل". زما مطلب یو تکتیکي بحث وو، چي په هغه کي یو خوځښت وي.

ما ورته وویل د یوې غرنۍ لړۍ ساتل اسانه نه دی، ځکه ډیر ژر له لاسه وزي. د جګړې په میدان کي باید د حمل و نقل بشپړه اسانتیاوې وي، خو په غرو کي په اسانۍ سره د شیانو حمل و نقل امکان نه لري. ځیني پوځیان به د غره وه ډډې ته راشي، خو که دښمن پرې راسم شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو بیا خو ډېر مهم کسان لوړ په غره کې کلابند کیږي. جینو مې مخاطب کړ"زه له ډېر فکره وروسته دې نتیجې ته رسېدلی یم، چې په غرونو کې له جګړو باید ډډه وشي. په یوه غره کې ته سنګر نیسې او په مخامخ غره کې ستا دښمن سنګر نیسي او کله چې بیا جګړه په زور او شدت کې شي، بیا دواړه لوري له غرو راکښته کیږي او په هواره کې یو له بل سره ډغرې وهي".

ده زه وپوښتلم "آ ښه که ستا په لاس کې یو غرنی سرحد وای تا څه کول؟"

ما ورته وویل "تراوسه مې په دې اړه فکر نه دی کړی". موږ دواړو وخندل.

بیا مې ورته وویل "خو پخوا به اتریشیانو تل د ویرونا په څلور لاره کې له ماتې سره مخ کیدل. لمړی به یې وه هغو ته موقع ورکول چې لاندې راشي، بیا به یې نو کوتک پسې راسم کړ".

جینو وویل "هو، خو هغه وخت فرانسویانو په دوی دغه ډول کانې کولې. کله چې یو پوځې په پردې هیواد کې جنګیږي، هغه په ډېره اسانۍ جګړه ایز مسایل حلولای شي".

ورته ومې ویل "ریښتیا هم. پوځیان اړ دي، چې په خپل هیواد کې هر څه د قانون په چوکاټ کې وکړي".

"روسانو د ناپلیون د ښکېلولو لپاره همداسې وکړل".

"هو، خو روسانو بې حسابه مځکې درلودې. که تاسې هم د ناپلیون د ښکېلولو لپاره شاتګ کوی، یو وخت به مو دې ته پام شي، چې برینډیسي ته رارسیدلي یاست".

جینو "ډېر خطرناکه ځای دی. هلته یو وخت تللی یې؟"

"تللی یم، خو ګذاره مې پکې نه ده کړې".

جینو "زه یو هیوادپال یم. خو برینډیسي او تارانتو مې په طبعه ښه نه لګیږي".

پوښتنه مې ځینې وکړل "باینسیزا دې خوښه ده؟"

جینو "خاوره یې سپیڅلې ده. خو کاشکې چې ډېرې پټاټې پکښې کرل کیدای. ته پوهیږې موږ چې کله دلته راغلو د اتریشیانو د پټاټو ستر ستر کښتونه په لاس راغلل."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وویل "دلته ريښتيا هم خواړه نشته؟"

"ما خپله تراوسه په ماړه نس ډوډی نه ده خوړلې، خو زه ډېر خوراک کوم او په عين حال کي تراوسه وړی هم نه يم پاتې شوی. خوراکي حالت منځنی دی. د جګړې په لمړیٔ کرښه کي پرتو پوځيانو ته د هغوی تر بسه خواړه رسيږي، خو د مرستندويه ځواکونو حالت چنداني ښه نه دی. په هرصورت خبره يو ځای ورانه ده. خواړه بايد د پراخه لاسه وي".

"کيدای شي، په اعاشه والاوو کي يو موږک پيدا شوی وي".

"همداسي ده. د جګړې لمړیٔ کرښې ته هر څه من و خروار رسيږي، خو مرستندويه پوځيان د زړه سوي دي. هغوی د اتريشيانو ټولي کرل شوي پټاټې او د ځنګله شاه بلوط وخوړل. خواړه بايد متوسط وي. دلته ستونزه دا ده، چي زموږ ګېډې هم لږ شان غټي دي. زه ډاډه يم چي خواړه پرېمانه دي. د يوه عسکر د شان سره ډېره بده، چي د خوړو د قحط سره مخ وي. تراوسه دي دې ته فکر کړی، چي وږی نس څومره اغيز لري؟"

ما يې په جواب کي وويل "هو. په جګړه کي که موږ نس د بري لامل نه شي، خو وږی نس خامخا د ماتې لامل کيدای شي".

"د شکست په اړه خبري نه کوو، په دې اړه مو ډيري خبرې کړي. په هرصورت سږ دوبی چي هرڅه وشول هغه چټي نه ول".

ما څه ونه ويل. د سپيڅلي، وياړمن، ايثار او د بيځايه اصطلاحګانو تل حيرانولم. دغه الفاظ مو اوريدلي ول، ځيني وختونه تر باران لاندي، له ليري ځايه به مو يوازي هغه الفاظ اوريدل چي خطيب به په لوړ اواز ويل. لوستي مو هم ول، پر هغو اعلاميو باندي چي د نورو اعلاميو له پاسه سريښ شوي وي. له يوې اوږدې مودې راوروسته مي هيڅ سپيڅلی شی نه وو ليدلی، هغه څه چي وياړمن وه، په هغه کي وياړ پاتې نه وو او ايثار د شيکاګو د مسلخ په څېر وو. په غوښو يې بل کار نه کيده پرته له دې، چي دفن کړل شي. ډېر داسي الفاظ ول، چي سړی يې نور د اوريدو توان نه لري او په دې وروستيو کي ځايونو يوازي ظاهري نومونه او ظاهري برم درلود. حقيقي اعداد همماغسي د پخوا په څېر وه، د هري موخي او مطلب لپاره کاريدلای شوای. معنی يا ذهني نومونه لکه وياړ، وقار، زړورتوب يا نمانځل دغه ډول الفاظ د کليو، د سړکانو د شمېر، د ټوليو د شمېرو او د نيټي تر څنګ ليکل يو ډول سپک ښکاريدل. جينو يو هيوادپال وو، ځيني وختونه به يې داسي خبرې کولي چي زموږ د بېلوالي لامل به

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې. په هرحال دی ښه ځوان وو او زه د ده پر هیوادپالنه ډاډه وم. دی هیوادپال زیږیدلی وو. موټر یې وه پیدوزي ته تسلیم کړ او له موږ سره یې د ګوریزیا په نیت مخه ښه وکړل.

هغه ورځ خورا طوفاني تیره شول. له باد سره باران هم ملګری وو. په څو شیبو کي هر اړخ ته ډم اوبه ودریدې. د ویجاړو شوو کورو دیوالونه خړ او لانده ول. ماپښین ناوخته باران ودرید. په دوهمه شمیره پوسته کي ودرېدم، له هغه ځای مي لوند، خیشت او منی وهلی وطن لیده، چي د تپو او غونډیو له پاسه یې غونډۍ غونډۍ وریځې ګرځیدې. سړکونه په ټانتو پوښل شوي ول او له پاڼو څخه یې د باران څاڅکي راڅڅیدل. لمر له کوزیدو وړاندي یوځلي بیا ځیره راښکاره کړل او د غرنیزي لړۍ پر ځنګله باندی وبرښیده. په غرو کي ګڼ اتریشي توپونه اماده باش ولاړ ول، خو اوس یوازي یو څو توپو ډزې کولې. همدلته ولاړ وم، چي یو ناڅاپه مي د یوه وران ویجاړ کور له پاسه، چي د جګړې له لمړۍ کرښې سره په خوا کي وو یوه سپینه و ژړه دوړدوړکه ولیدل. اول یوه تېزه رڼا وشول، بیا یو درز وشو له درزه وروسته اسمان ته یو خړ لوګی پورته شو او د مځکې پر مخ د اوسپنو ټوټې خورې ورې وې. له پوستې سره نژدې په ورانو او تباه شوو کورو کي د توغندیو د پرزو ډیرۍ پرتې وې، خو په هماغه غرمه یې دغه پوسته تر اور لاندي ونه نیول. موږ له ژوبلو څخه دوه موټرونه ډک کړل او په لندو ټانتو د پوښل شوي سړک له لارې ولاړو. لمر د وروستي ځل لپاره، د ټانټو د چولو له لارې خپلې وړانګې پر موږ ولوریيلې. له همدې پوښلي سړک څخه د وتلو وړاندي لمر کښته شوی وو. له پوښل شوي سړکه چي راووتو د هغه وروسته پر سرخلاصه سړک باندي رهي شوو. ډېره لار مو لا نه وه وهلې، چي سړک راتاو شو، د غونډیو له مینځه راووتو او بیا وه پوښل شوي تونل ته ورننوتو. باران بیا پیل شو.

تاریک ماښام وو. سخت قهرجن باد لګېده او له بله اړخه به بیا اسمان هم خپل خروښ کښه او سخت باران ورېده. د سهار درې بجې به وې، چي کروشیایان پر غره باندي راتېر شول او د ځنګله له خوا یې د جګړې پر لمړۍ کرښې باندي سخته حمله وکړه. دوی په دې باران او تیاره کي جنګیدل. له دې خوا ډارېدلو پوځیانو متقابله حمله پرې وکړل او دښمن یې بیرته شاتګ ته اړ کړ. د جګړې له لمړۍ کرښې سره په باران کي سخت د توپو، راکټانو او ټوپکو ډزې روانې وې. کروشیایانو د بیا حملې هڅه ونه کړل، خو په دې سخته سیلۍ، باران او باد کي په شمال کي د سخت بمبار ږغونه اورېدل کېدل.

ژوبل پوځیان یې پوستې ته راوړل. ځیني یې په تذکیرو، ځیني په پښو او ځیني نور بیا د نورو پوځیانو پر شاګانو راوړل کېدل. دوی ټول لانده خیشته او ترهیدلي ول. د پوستې له زېرخانې څخه یې څو ژوبل پوځیان په تذکیره کي راپورته کړل؛ په هغوی مو خپل دوه موټره ډک کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګه چي مي د دوهم موټر دروازه بنده کړل، پر باړخو مي د باران زمرين غونډي ځاځکي ولګيدل. په ضرب د څو شېبو باران په واوره بدل شو. لوی لوی غټي په ډېره بېړه راکښته کېدل.

له لمر راختلو سره که څه هم طوفاني باد چلېده، خو واوره نه وه. واره پر لنډې مځکي له لګيدو سره ويلي شول او باران بيا پيل شو. لمر چي راپوته شو، دوی بيا حمله وکړل، خو دا ځلي هم بيرته شاتګ ته اړ شول او بيا يې د لمر تر کښته کېدو پوري د بلي حملې کولو هڅه ونه کړه. بل اړخ ته بيا اتريشی توپخانې چي د ځنګله په جنوبي برخه کي يې سنګر نيولی وو، تر ځنګله راکښته بمبار پيل کړ. موږ يې هم تمه ناست وو، خو څه پيښ نه شول. تياره هم په خپريدو وه. توپو د کلي په شا کي له کښت و کروندو څخه توغندۍ اورلې، توغندۍ به ليري له برهار او تيره اواز سره په اسمان کي تلې.

وروسته بيا خبر راورسېد، چي د جنوبي اړخ يرغل ناکامه شو، ځکه يې نو هغه شپه بيا حمله ونه کړل؛ خو په شمالي کرښه کي د درز پيداکېدو خبرونه مو تر غوږو راورسېدل. په شپه کي امر راورسيد، چي د شاتګ لپاره بايد تيار شو. دغه خبره د پوستې تورن راته وکړل. ده ته بيا دغه امر د غونډ له طرفه شوی وو. شيبه وروسته يو بل ټليفون راغلی چي دا خبره درواغ ده. دې غونډ ته په کلکه امر شوی وو، چي په هره شوني طريقه بايد د باينسيزا جبهه پخپل واک کي وساتي او د دښمن لاس ته ورتلو ته يې پرېنږدي. د شمالي اړخ د ماتې په اړه مي پوښتنه ځيني وکړل. ويې ويل"د غونډ په قومندانی کي خبر شوم، چي اتريشيانو اوه ويشتم لښکر په شا تنبولی او هغه يې کاپوريتو ته شاتګ ته اړ کړی". په شمال کي ټوله ورځ سخته جګړه وه.

زه يې مخاطب کړم "که شمالي والو رزيلانو ماته خوړلي وي، نو زموږ کار هم نور ختم دی".

يوه ډاکټر وويل "حمله کونکي جرمنيان دي". د (جرمني) د نامه له اورېدو سره ټول ډارېدل. موږ نه غوښتل له جرمنيانو سره ښکر په ښکر شو.

ډاکټر "په شمالي جبهه کي پنځلس فرقې جرمني پوځيان جنګيږي، په شمال کي زموږ ماته د همدې جرمنيانو له لاسه وه او کيدای شي له مرکز سره زموږ اړيکې هم قطعه شي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"د غونډ له خوا د کربښې د ساتلو امر شوی. دوی وايي، ماته دومره لويه نه ده، لکه ګنګوسي چې يې دي. موږ به يوه بله کربښه چې پر مونت مګيوري غره باندې سپره ده، ساتو".

"دا امر دې چيرې واورېد؟"

"په فرقه کې".

"د شاتګ امر هم له فرقې څخه راغلی وو".

ما ورته وويل "موږ د يوې پوځي قطعې تر امر لاندې کار کوو او دلته بيا ستاسي تر امر لاندې. طبعاً کله چې ته ما ته يو امر کوې، زه يې عملي کوم. البته د مشورې په ډول درته وايم، چې امرونه په مستقيم ډول اخله".

"امر دا دی چې موږ بايد همدلته تم شو. ته ټپيان له دغه ځای څخه مرکز ته ورسوه".

ما ورته وويل "ځيني وختونه ټپيان له مرکز څخه وه ساحوي روغتون ته انتقالوو. تاسي راته وواياست ما تراوسه شاتګ نه دی تجربه کړی. که د شاتګ پلان وي، نو دا دومره ټپيان به څه ډول له دغه ځای انتقالوو؟"

"تاسي به يې نه ليږدوئ. دوی به ژوبل تر خپله وسه وليږدوي، هغه چې پاته شول؛ هغه همدلته پرېږدي".

"نو په موټرانو کې څه شي ليږدوو؟"

"د روغتون سامانونه".

ما ورته وويل "سمه ده".

راروانه شپه زموږ له اړخه شاتګ پيل شو. داسي ګنګوې وې، چې جرمنيان او اتريشيان د شمالي درو له لارې د سيوايډل او يوډين په لور د لا پرمختګ په حال کې دي. شاتګ منظم، خو لوند او غمجن وو. په شپه کې ورو ورو پر سړک روان وو، له توپو، اسانو څخه چې ګاډيانې يې کشولې، قچرو او لاريو څخه چې ټوله تر باران لاندې له جبهې څخه د تللو په حال کې وې؛ تېر شوو. په پرمختګ کې اړ و دوړ وې، خو شاتګ کې خبره بل ډول وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هماغه شپه مو ساحوي روغتون، چي په يوه نسبتاً لږ ويجاړ کلي کي جوړ شوی وو؛ خالي کړ. ژوبل کسان مو پر سيند باندي وه پلاوا ته انتقال کړل. سبا ورځ مو هم ګرده ورځ تر باران لاندي په ځغستا تېره کړل، ترڅو روغتونونه او د پلاوا مرکزي روغتون خالي کړو. ډېر شديد باران وريده. د باينسيزا لښکر د اکتوبر تر باران لاندي له دښتې او سيند څخه چيري چي د هغه کال په پسرلي کي شانداره بريالیتوبونه ول، د تيريدو په حال کي وو. سبا غرمه مهال ګوريزيا ته راورسيدو. باران درېدلی وو. ښار ته چي دننه راغلو بيخي تش تور او خالي راته ښکاره شو. کوڅې ته له راداخلېدو سره مي پر هغو خلکو چي د عسکرو له کاسيره خانو څخه يې نجوني وه موټرونو ته ورپوته کولې؛ سترګې ولګېدې. د اوو واړو نجونو په لاسو کي وړوکي بستې وې. دوی خولۍ پر سر کړي او کوټونه يې ټينګ پر ځان راپېچلي ول. دوو پکښې ژړل. يوه يې موږ ته مسکۍ شول او ژبه يې راته وښورول. نري شونډان او تورې سترګې يې وې.

موټر مي بريک کړ او له مشرې سره د خبرو له پاره ورکښته شوم. دې راته وويل، د افسرانو کورونه مو وختي لا خالي کړي. دوی چيري تلې؟ د دې له قوله چي وه کونګليانو ته ځي. موټر يې چالان کړ. نجلۍ يوځلي بيا ژبه راوايستل او ويې ښورول. مشرې يې موږ ته لاس وښوراوه او هغه دوو، چي ژړل يې اوس هم په ژړا وې. هغه نورو نجونو په ارمان د ښار وه لورته راوکتل. زه بيرته وه موټر ته راتېر شوم.

بونلو وويل "له دوی سره به يوځای ولاړ شو، ساعت به مو تېر شي".

ما ورته وويل "له دوی ماسپوا به مو هم ساعت تېر شي".

"خاورې په سر پر داسي سفر".

ما ورته وويل "زما هدف هم همدا وو". د کلا وه سړک ته وربرابر شوو.

بونلو "زما خو دا زړه غواړي، چي له دوی سره ولاړ شم".

"نو دوی به دي پريږدي؟"

"سل فيصده. د دوهم لښکر هر سړی د دوی مشره پيژني".

موږ د کلا مخي ته ولاړ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بونلو "دا نجوني خپله مشره په (مور) رابولي. نجوني که څه هم تازه راغلي، خو ټوله دا پېژني. کیدای شي له شاتګه لږ وړاندي یې راوستي وي".

"دوی به یې وخت ولري".

"زه درته وایم چي دوی به وخت ولري. زړه مي غواړي د دوی په مینځ کي همداسي وړیا ورتوپ کړم. په هرصورت په هغه کور کي ډېري زیاتي پیسې اخلي. دولت زموږ وه چورولو ته ملا تړلې ده".

ورته ومي ویل "موټرونه درسره واخله او مستریان پرې وګرځوه. مبلین یې ور تبدیل کړه، ډیفرنشل یې وګوره، ټانکۍ یې ورډکه کړه او بیا بیده شه".

"سمه ده، ښاغلی بریدمنه".

کلا خالي وه. ریناللډي د روغتون سره تللی وو. جګړن هم د کاریګرو موټر له کاریګرو ډک کړی وو او په خپله مخه تللی وو. د کړکۍ په یوه کونج کي یې زما لپاره یو څو لاربښوونې پرې ایښی وې، چي پکښې لیکل شوي ول: زموږ سره، راسره موټرونه به په دهلیز کي له پرتو شیانو څخه ډکوم او پورډېنون ته به ځم. مستریان وختي لا تللي وه. زه بیرته وه ګاراج ته ولاړم. زه لا همالته ولاړ وم، چي هغه پاتي دوه موټرونه هم راورسیدل او موټروانان یې پلي شول. باران بیا په ورېدا شو.

پیاني "ما ته ډیر ..... ډیر خوب راځي. زه له پلاوا څخه تر دغه ځایه درې ځلي خوب یوووړم. بریدمنه موږ به اوس څه کوو؟"

"لمړی به د موټرو مبلین ورتبدیل کړو، ګریس به یې کړو، ټانکۍ به یې ډکي کړو او له هغه وروسته به هغه پاته میده ریزه شیان چي دلته پاتې دي، موټرونه به په ډک کړو".

"نو بیا لاس په کار کیږو؟"

"یا. اول به یو څو ساعته خوب وکړو".

بونلو "اوه، خدایه زه بیدیږم. زه په خوبوړي حالت کي موټر نه شم چلولای".

له ایمو څخه مي پوښتنه وکړل "ایمو، ستا موټر څنګه دی؟"

"هغه سم دی".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ما ته زما د کار کالي راکړه. زه به له تاسو سره مرسته وکړم".

ایمو "بریدمنه، تاسي هغه موږ ته راپرېږدئ. دا خو دومره کار نه دی. ته ورشه له کوټې نه دي خپل سامانونه راټول کړه".

ما ورته وویل "زما سامانونه ټوله، ټول او بسته دي. زه به ورشم هغه باقیمانده شیان به راټول کړم. څنګه چي موټرونه تیار شول دغلته یې ودروئ".

موټرونه یې د کلا وه مخي ته راوستل او د روغتون په سامونو مو ډک کړل. کله چي ټوله ډک شول درې واړه موټرونه مو په کوڅه کي لیک قطار ودرول او موږ دننه راغلو.

ما ورته وویل "په اشپزخانه کي اور بل کړئ او خپل کالي مو پرې وچ کړئ".

پیاني "زه د خپلو لندو کالو په کیسه کي نه یم. ما ته خوب راځي".

بونلو "زه غواړم د جګړن پر کټ بیده شم. زه غواړم په هغه ځای کي بیده شم چي بوډاګی به پکښې خمیر کېده".

پیاني "ما ته مهمه نه ده چي چیري بیده شم".

د یوې کوټې دروازه مي خلاصه کړل "هلته هم دوې بیسترې شته".

بونلو "اوه! زه تراوسه خبر نه وم، چي په دې کوټه کي څه شي دي".

پیاني "دا د هماغه زاړه سړي بستره ده".

ما ورته وویل "تاسي دوه هلته بیده شئ. زه بیا بِرغ درباندي کوم".

بونلو "بریدمنه، که ډیر بیده شي نو اتریشیان به راشي او موږ به راوبښ کړي".

ما ورته وویل "زه ډیر خوب نه کوم ایمو چیري څه شو؟"

"اشپزخانې ته ولاړ".

ما ورته وویل "تاسي بیده شئ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیاني "زه خپله بیدیږم. ټوله ورځ په ناسته بیده وم. اوس مي له ډیر خوب نه سترګې نه خلاصیږي".

بونلو "بوټونه دي وکاږه. دا د بوډا بستره ده".

پیاني په بستره کي اوږد وغځېد "بوډا ما ته هیڅ ارزښت نه لري". ختین بوټونه یې جګ ولاړ ول. لاسونه یې تر سر لاندي کړل او سر یې پرې کښېښود. دوی مي همدلته پرېښوول، زه ځیني راووتم او اشپزخانې ته ولاړم. ایمو اور بل کړی وو او له پاسه یې چایجوشه پرې ایښې وه.

زه چي یې ولیدم، وې ویل "یو څه مکروني پخوم. کله چي راپاڅیږو کیدای شي وږي یو".

"بارتولومیو، تاسي ته خوب نه درځي؟"

"زیات نه. چي اوبه پر جوش راشي، بیا ځیني ځم اور یې خپله مړ کیږي".

ما ورته وویل "زما په نظر که ته بیده شې، ښه به وي. کله چي راپاڅیدو، پنیر او د شادي غوښه به وخورو".

"تر هغو دا ښه خوند کوي. د هغه دوو انارشیستانو لپاره ګرم خواړه ښه دي. بریدمنه، تاسي بیده شئ".

"د جګړن په خونه کي یوه بستره شته".

"هلته تاسي بیده شئ".

"نه، زه زما وه پخوانۍ کوټې ته ځم، بورتولومیو، تاسي یو څه څیښئ؟"

"چي تلو بیا به یې وڅیښو. اوس فکر نه کوم چي د کوم څه ښه دي وي".

"که تر راتلونکو درو ساعتونو پوري راویښ شوې او ما تا ته ږغ ونه کړ نو بیا ما راپاڅوه. سمه ده؟"

"بریدمنه، له ما سره ساعت نشته".

"د جګړن د کوټې پر دیوال ساعت شته".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ډیر ښه".

دی مي همدلته پرېښود او ځیني راووتم. د ډوډۍ خوړو د کوټې او له دهلېز څخه د تیریدو وروسته پر ماربل زینو لوړ وه هغې کوټې ته چي زما او د رینالډي په ګډه وه، ولاړم. بهر باران وریده. کړکۍ ته ورتیر شوم او دباندي مي وکتل. ورو ورو تاریکه کیدل. موټرونو ته مي یو نظر ورواچاوه ټول لیک قطار تر ونو لاندي ولاړ ول. د ونو له پاڼو څخه څاڅکي راتوییدل. د یخي هوا له امله به څاڅکي پر څانګو یخی او ځوړند پاتېدل. زه د رینالډي د بستر په لور ورتېر شوم او ځان مي پر کټ ورایله کړ، چي خوب مي یوسي.

له تګه وړاندي په اشپزخانه کي ټول راجمع شوو او ډوډۍ مو وخوړل. ایمو یو غاب مکروني، چي پیاز او قوطۍ والا غوښې هم پکښې وي راوړل. موږ پر میز راچاپیره شوو او د زیرخانې څخه راپورته شوي دوه بوتله شراب مو پرې له پاسه وڅیښل. بهر تیاره وه او باران تراوسه وریده. پیاني خوبوړی پر میز ناست وو.

بونلو د خبرو سر کښېښود "زما تر پرمختګ شاتګ خوښ دی. په شاتګ کي باربرا څیښو".

ایمو "نن باربرا څیښو سبا کیدای شي د باران اوبه وڅیښو".

"سبا کیدای شي په یوډین کي یو. چامپن به څیښو. هماغه د لټانو ځای. پیاني پاڅه! سبا به په یوډین کي چامپن څیښو!"

پیاني "زه بیدار یم". خپل غاب یې له مکرونیو او غوښو څخه ډک کړ "بارتو، د رومیانو رب دي پیدا نه کړ؟"

ایمو "یا. شاوخوا مي پسي وکتل، خو پیدا مي نه کړ".

بونلو "په یوډین کي به چامپن وڅیښو". خپل ګیلاس یې له سرې باربرا نه ډک کړ.

پیاني "کیدای شي وه یوډین ته تر رسیدو وړاندي.......... وڅیښو".

ایمو "ګېډې مو ډکي شوې؟"

"ما ډیره ډوډۍ وخوړل. بارتولومیو یو بوتل ما ته راکړه".

ایمو "ما د هر یوه لپاره یو یو بوتل رااخیستی او په موټر کي مي ایښي دي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وویل "ته بیده شوې؟"

"زه ډیر خوب نه کوم، زما لپار لږ خوب هم بسنه کوي".

بونلو "سبا له خیره به په شاهي بستره کي بیده شو". طبیعت یې خورا سم وو.

پیاني "سبا کیدای شي په دغه کي......... بیده شو".

ایمو "زه له ملکې سره بیدیږم". ما ته یې وکتل چي ما یې ټوکه څه ډول برداشت کړل.

پیاني په خوبوړي انداز ورته وویل "ته له......... بیده شه".

بونلو "بریدمنه، دا درغلي ده. ایا دا درغلي نه ده؟"

ما ورته وویل "چپ شئ. تاسي خو له لږ څیښناک سره بي حاله شوی". بهر سخت باران وریده. وه خپل ساعت مي وکتل. نهه نیمي بجې وې.

ما ورته وویل "د تګ وخت دی". او پاڅیدم.

بونلو ما ته وویل "تاسي له چا سره سپریږی؟"

"اول له ایمو سره. بیا به ته راشې او په اخر کي له پیاني سره. پر همدې لار وه کورمونز ته ځو".

پیاني "زه بیریږم، چي خوب راته رانه شي".

"خیر، نو بیا به زه اول له تا سره سپور شم، بیا بونلو او بیا ایمو".

پیاني "همدا یې ښه لار ده. ځکه چي ما ته ډیر خوب راځي".

"زه موټر چلوم او ته یوه سترګه خوب وکړه".

"نه. زه تر هغه وخته پوري چي یو نفر وي ترڅو ما راپاڅوي، موټر چلولای شم".

"زه دي راپاڅوم. بارتو، څراغان مړه کړه".

بونلو "همداسي لګیدلي یې پریږدئ، بیله هغه هم دا کور نور موږ ته ګټه نه لري".

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وویل "زما په خونه کي یوه کوچنۍ بسته پرته ده، پیاني په راکښته کولو کي به یې مرسته راسره وکړې؟"

پیاني "موږ به یې راوړو. الډو، راپاڅه". دی له بوتلو سره پاس ولاړ، زه غونه مي یې تر غوږو شول چي پورته ولاړل.

بارتولومیو ایمو وویل "دغه ځای، ډیر ښه وو".

په خپله غوټه کي یې دوه بوتله شراب او نیمه ټوټه پنیر کښېښوول "د دغه ځای په شان به بل ځای پیدا نه کړو. بریدمنه، کوم ځای ته شاتګ کوو؟"

ما ورته وویل "داسي ویل کیږي چي د ټګلیامنتو وه شاته به وي. روغتون او زموږ هستوګنځای به په پورډینون کي وي".

"دغه ځای تر پورډینون غوره دی".

ما ورته وویل "ما پورډینون نه دی لیدلی. یوازي پکښې تیر شوی یم".

ایمو وویل "چنداني ځای نه دی".

اته ویشتم فصل

له ښاره د وتلو پر مهال مو شاوخوا کتل، په دې تیاره او باراني ماښام کي ښار تش تور او هدیره غوندي ښکارېده. د پوځیانو د اوږدو قطارو او له دوی سره د ورسره توپو پرته بل هیڅ نه وه پاتي. دوی هم له ښاره د وتلو تابیا نیول. ګڼي لاریانې او څه ناڅه په سامانو بار ګاډیانې هم وي، چي له فرعي کوڅو به راوتې او بیا به پر عمومي بایپاس سړک باندي تللې. له خورځای څخه له تیرېدو وروسته عمومي سړک ته وربرابر شوو. د پوځیان، موټرونو، آسي کراچیو او لویو لویو توپو یو غټ کاروان د میږي په قدم وړاندي روان وو. په دې لوی کاروان کي ورو ورو، خو مسلسل روان وو. زموږ د موټر راډیاتور د یوه بل موټر له شا سره چي بار کړی یې وو او ټاټ یې پرې اچولی وو؛ نژدې وو. ګړی وروسته یو موټر ودرېد، له دې سره ټول کاروان ځای پر ځای ودرېد. ګړی وروسته بیا، لږ لا وړاندي تللي نه وو، چي کاروان بیا جام شو. د خپل موټر دروازه مي خلاصه کړل او ځیني راکښته شوم. د موټرانو و ګاډیانو په مینځ او د اسانو تر غاړو لاندي وړاندي ولاړم. له موږ څخه ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندي کوم خنډ رامنځته شوی وو، چي له امله يې کاروان دريدلی وو. سړک مي پرېښود او پر يوه پله باندي له ويالي څخه د ويالي هاغاړې ته ورواوښتم. د ويالې پر دې غاړه د ويالې او کروندو تر مينځ رهي شوم. په باران او د ونو له مينځ څخه دغه په ټپه ولاړ کاروان ښه سم ښکارېده. نژدې يو ميل وړاندي ولاړم. که څه هم کاروان بې حرکته ولاړ وو، خو له دې ولاړ کاروان څخه ورهاخوا پوځيان معلومېدل چي وړاندي روان ول. زه بيرته خپل موټر ته راغلم. ممکنه وه، چي دغه کاروان تر يوډېن پوري همداسي ولاړ وو. پياني پر سټرينګ سر اېښی وو او بيده وو. زه هم ورپورته شوم او بيده شوم. څو ساعته وروسته مي له موړ څخه وړاندي د يوه موټر د چالانېدو ږغ واورېد، پر پياني مي ږغ وکړ، دی هم راپاڅېد او رهي شوو. څو قدمه لا وړاندي نه وو تللي، چي کاروان بيا ودريد. ورېځ تراوسه نښتېځل کيدل.

کاروان په شپه کي يو ځلي بيا ودريد، چي بيا يې نو ګرد سره حرکت ونه کړ. له موټره راکښته شوم، د ايمو او بونلو ليدو ته ورغلم. له بونلو سره د موټر په سيټ کي دوه سرپړکمشران انجنيران وه ناست ول. زه چي يې وليدم، سره ورټول شول.

بونلو "دوی يې د يوه پله د جوړولو لپاره پرې اېښي ول، خو اوس خپل ملګري ځيني ورک شوي، ځکه مي خپل موټر ته راپورته کړل".

"د ښاغلي بريدمن په اجازه".

ما ورته وويل "ورته اجازه ده".

بونلو "زموږ بريدمن امريکايي دی. له هر چا سره مرسته کوي".

يو سرپړکمشر مسکی شو. هغه بل يوه يې زما په اړه له بونلو څخه وپوښتل، چي دی د شمالي که د سهيلي امريکا له ايټالويانو څخه دی؟

"دی اصلا ايټالوی نه دی. د شمالي امريکا بريټانوی دی".

اخلاقي خلک ول، خو دا خبره يې هيڅ زړه ته نه لويدل. له دوی څخه د ايمو په لور ولاړم. هغه بيا له ځان سره دوې نجوني لوړ په سيټ کي کښېنولي وې. دی خپله د موټر د شا په سيټ کي ناست وو او سګرېټ يې څکاوه.

چي ورنژدې شوم ورته ومي ويل "بارتو، بارتو". ويې خندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته يې راته وويل "له دوی سره د زړه خواله وکړه. زه يې په ژبه نه پوهېږم. هې!"

ايمو د نجلۍ پر ورون لاس ورکښېښود او کښېيکښل. هغې پر ځان باندې پوړنی را کش کړ او د ده لاس يې پورې واهه. ايمو "اوهی! بريدمن ته د خپل نامه تر څنګ دا هم ووايه چې دلته ولې راغلې يې او څه کوې؟"

نجلۍ په ترهېدلې څېره ما ته وکتل، خو له دې سره ناست بلې نجلۍ لاندې مځکې ته کتل. هغې نجلۍ چې ما ته يې کتل يو څه وويل، خو په يوه خبره يې هم پوه نه شوم.

دا نجلۍ چاغه، توره او شپاړس کلنه ښکارېدل.

"خورکۍ؟" او هغې بلې نجلۍ ته مې اشاره وکړل.

سر يې وښوراوه او مسکۍ شول.

ورته ومې ويل "ډېر ښه". او پر زنګون مې وټکول. زما د لاس له لمس سره يې ځان راټول کړ. خور يې همداسې لاندې کتل. تر دې يوکال کشره ښکارېدل. ايمو د دې پر ځنګانه لاس ورکښېښود، خو هغې د ده لاس ورپورې واهه. ده پرې وخندل.

ايمو ځانته ګوته ونيول او ويې ويل "ښه سړی". بيا يې ما ته اشاره وکړل "ښه سړی. مه بېرېږه". نجلۍ ده ته هم په ترهېدلې څېره وکتل. دواړې د وحشي مرغانو په څېر ښکارېدې.

ايمو "که مو له ما ښه نه کېږي نو بيا په موټر کې ولې راسره سپرې ياست؟ ځنګه چې مې دوی ته (هو) وويل سمدستي موټر ته راپورته شوې". پر نجلۍ يې مخ راوګرځاوه او مخاطبه يې کړه " مه وارخطا کيږئ.. د دغه......خطره دلته نشته". مبتذله الفاظ يې استعمال کړل "دلته هيڅ څوک...." دې ته مې فکر وو، يوازې د جملې په معنا پوه شول او بس. له ډاره په ډکو سترګو يې ايمو ته وکتل او پوړنی يې نور هم پر ځان باندې راټينګ کړ. ايمو بيا ورته وويل "د بيرې هيڅ فکر مه کوئ. له چا مه بيرېږئ.....دلته تاسې له......خوندې ياست". ايمو چې به هر ځلې يوه خبره وکړه، دې به په پوړني کې نور هم ځان ټينګ ونيېچه. دا ځلي هم چې ده دا خبره وکړه، پوړنی يې پر ځان راټينګ کړ او په ژړا شول. شونډانو ته مې يې کتل، چې لړزېدل. له بلې خوا يې پر پنډو باړخوګانو باندې د اوښکو څاڅکي راتوی شول. خور يې چې لوړ يې ګرد سره نه کتل، د دې لاس ونيو او دواړې ځنګ په ځنګ کښېناستې. مشره خور يې چې ډارېدلې وه، په سلګيو پيل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایمو"داسي ښکاري، لکه دا چي له ما وډارېدل. ما نه غوښتل، تاسي وډاروم".

بارتولوميو ایمو له خپلي ورسره غوټې څخه پنیر راوکېښل او ټوټې ټوټې یې کړ "پنیر دروا‌خلئ. مه ژاړئ".

مشري یې له سر ښورولو وروسته خپلي ژړا ته نوره هم ادامه ورکړه، خو کشرۍ د پنیر ټوټې ته لاس کړ او په خوله یې کړ. ګړی وروسته کشري خور مشري ته د پنیر دوهمه ټوټه ورکړل او دواړو په خوراک پیل وکړ. مشره خور یې اوس هم لږ لږ سلګۍ وهلې.

ایمو"شیبه وروسته به د دې طبیعت هم سم شي".

ایمو لږ په فکر کي شو او بیا یې څنګناستي نجلۍ ته وویل "واده دي کړی؟" هغې د ده په جواب کي په زوره سر وښوراوه. "ستا خور هم نه دی کړی؟" د نجلۍ خور ته یې اشاره وکړه. دواړو نجونو سرونه وښورول. مشري خور یې په خپله لهجه کي یو څه وویل.

بارتولوميو "سمه ده. کومه خبره نشته".

دوی دواړې د پخوا په نسبت اوس خوشحاله ښکاریدې.

دوی دواړې مي پر خپل حال له ایمو سره، چي د شا په سیټ کي ناست وو، پرېښودې. بیرته پیاني ته ورغلم. د کاروان د ښور هیڅ څرک نه لګېده، خو پلي پوځیان لا روان ول. تراوسه ښه په شړپا باران ورېده. فکر مي وکړ چي د کاروان په ټپه درېدل به د ځینو موټرانو د ویرونو د لنډېدو له امله وو. دا هم کیدای شوه، چي دا ټولي ربړې د اسانو او خوبوړو موټروانانو له لاسه وې، خو بیا هم په ښارو کي چي ټول خلک ویښ هم وي، بیا هم سړکونه بنديږي. دلته آسان و موټران ګډوډ ول. دوی یو له بل سره مرسته نه شوای کولای. د کلیوالو ګاډیانو هم کومه مرسته نه شوای کولای. له ایمو سره ناستې جوړه نجونې ښکلي وې. عقب نشیني د پیغلو لپاره ښه خبر نه وو. حقیقي پیغلې. که جګړه نه وای، کیدای شوای موږ اوس پر نرمو نالیچکو پراته وای. په بستره کي به پروت وای او سر به مي پر بالښت باندي ایښی وو. بستر او تخته. په بستره کي به د لرګي په ختکي په څېر ارام پرات وای. کاترين به اوس په کټ کي د دوو روجاییو په مینځ کي پرته وه. یوه روجایي له پاسه او بله لاندي. پر کوم اړخ به پرته وه؟ البته دا هم شوني وه، چي دا دي ویښه وه. کیدای شوه، چي په کټ کي پرته وه او زما په اړه یې فکر کاوه. وچلیږه. وچلیږه. اې د مغرب باده. ستا خوښه ده، نور هم وچلیږه. باران وریده، خو څک څک نه وو بلکي په شړپي باران وو. ګرده شپه ورېدلی وو. پوهیدم چي دغه ډول باران به کيږي. آه، خدایه کاشکي اوس د خپلي مینې په غیږ کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وای. زما مینه کاترین. بارانه ووریږه او باده کاترین یو ځلي زما په ځولۍ کي راوچوه. په هرحال، له پیښي تېښته نشته او اوس په دې ربړه کي راګیر وم او د باران دې وړوکو څاڅکو هم څه نه شوای کولای. په لوړ اواز مي وویل "ماښام پخیر کاترین. په خوب ښه ارمان وکاږه. که په تکلیف یې اړخ تبدیل کړه. اوس یوڅه یخي اوبه دروړم. شیبه وروسته سهار کیږي. بیا به تکلیف نه وي. ډېره بخښنه غواړم چي دومره دي په تکلیف کوي. ګرانې هڅه وکړه چي بیده شې".

دې به ځیني وختونه په خبرو خبرو کي راته ویل، ته چي کله بیده یې، اوتي بوتي هم وایې. کومه ستونزه خو به نه وي؟

ته ریښتیا هم دلته یې؟

هو زه همدلته یم. زه له دغه ځایه نه ځم. دا موضوع زما او ستا ترمنځ فراق نه شي راوستلای.

ته ډېر مینه ناک او خوږ یې. ماښام خو به یو خوا ته نه ځې؟

نه زه به تل همدلته یم. هروخت چي مي وغواړې زه حاضر یم.

"....." پیاني وو. "دوی رهي شول".

ورته ومي ویل "خوب غلبه راباندي کړې وه". ساعت ته مي وکتل د سهار درې بجې وې. لاس مي د شا وه سیټ ته د باربرا په بوتل پسي وروغځاوه.

پیاني "د خوب په حالت کي بیخي په لوړ اواز ګډ وې".

ما ورته وویل "انګلیسي خوب مي لیده".

تر پستور باران لاندي وړاندي روان وو. له لمر راختو وړاندي یوځلي بیا ودریدو. د روښنایي له خپرېدو سره راته ښکاره شول، چي پر یوه نسبتاً لوړه منطقه باندي ولاړ یو. د عقب نشینۍ سړک ته مي وکتل، تر لیري لیري پوري غځیدلی وو. د پلي ځواکونو پرته نور ټول ساکن او پر خپل ځای ولاړ ول. کاروان بیا په ښور کي راغلی او په رڼا کي زموږ د تګ سرعت هم رامعلوم شو. له ځان سره مي فکر وکړ چي که غواړو ځانونه یوډین ته ورسوو، نو باید د عمومي سړک پر ځای فرعي لارې راخپلي کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شپې په اوږدو کې ګڼ کلیوال هم په کاروان باندې راګډ شول. له دوی سره د کور په سامانو بار په پېخر ګاډیانې ورسره وې. په ګاډیو پسې یې چرګان، هیلۍ ګانې او نور حیوانات غوټه کړي ول. له موږ څخه لږ څه وړاندې په یوه ګاډۍ کې د جامو ګنډلو ماشین تر باران لاندې پروت وو. قیمتي شیان یې ټول له ځان سره رااخیستي ول. د ځینو ګاډیانو له پاسه ښځې یو له بل سره جوختې جوختې تر باران لاندې ناستې وې او ځینې یې بیا له خپلو ګاډیو سره نژدې روانې وې. د تګ په ترڅ کې له کاروان سره سپیان یوځای شول، تر ګاډیو لاندې به یې ځغستل. سړک ختو پر سر اخیستی وو. د سړک د غاړې ویالې تر غاړې غاړې بهېدې، چې یوې خوا یا بلې خوا ته تېریدل یې سخت کړي ول. له موټره راکښته شوم یوڅه وړاندې ولاړم او د یوه لوړ ځای په لټه کې شوم، چې پرې ودرېږم او په شا وخوانژدې سیمه کې یوه فرعي لاره پیداکړم او له دې کاروانه ځانونه وباسو. د دې ځای ټولې لارې ګودرې رامعلومې وې، خو زما داسې لار نه وه په کار، چې په پای کې بنده وي. البته ټولې لارې مې هم په ذهن کې نه وې، په دې خاطر، چې موږ به ډېری وختونه پر عمومې لار تګ راتګ کاوه. ځکه نو فرعي لارې دومره نه وې رامعلومې او ټولې یو ډول راته ښکاریدې. له دې ځایه د وتو په اړه مې ښه په عزم فکرونه پیل کړل. د اتریشیان په رازو هیڅوک خبر نه ول، چې هغوی اوس چیرې او څه کوي؟ خو زه ډاډه وم چې د باران له درېدو سره به سمدلاسه پر کاروان الوتکې راپورته کړي او ټول به له یوې مخې له منځه یوسي. د همدې کاروان د ځنډولو لپاره یوازې د یو څو موټرو درول او یا هم د څو آسانو وژل کیدو کفایت کاوه.

باران اوس په خپل پخواني برم کې پاتې نه وو او فکر مې وکړ چې آسمان به هم ډېر ژر صاف شي. د سړک پر ژۍ باندې  وړاندې روان وم، تر څو یوې فرعي لارې ته چې دواړو اړخو ته یې ونې و کروندې ابادې وې او شمالي اړخ ته غځیدلې وه، ورسېدم. همدا لار مې خوښه شول. په بیړه وه خپلو موټرانو ته راستون شوم. پیاني ته مې وویل چې د موټر مخ راوګرځوي، له ده څخه رارهي شوم، د بونلو او ایمو په لور ورهي شوم.

بونلو ته مې وویل "که دغه لار یوه منزل ته ونه رسیدل کولای شو، بیرته راوګرځو".

بونلو "د دوی په اړه څه وایې؟" په خوا کې یې دوه سرپرکمشران د مخ په سیټ کې ناست ول. بریږې یې نه وې خریلې خو بیا هم ګهیځ مهال نظامیان ښکاریدل.

ما ورته وویل "د موټر ټیله کولو په وخت کې مو په درد خوري". بیرته وه ایمو ته ورغلم چې له حاله یې خبر کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایمووویل "د دې ناواده کورنۍ په اړه څه وایې؟" دواړې نجونې بیدې وې.

ما ورته وویل "دا د کوم درد نه دوا کیږي، یو څوک پیدا کړه چې ویې شړي".

ایمو "بیا به مو پیدا کړي. اوس خو په موټر کې ځای هم شته".

ما ورته وویل "هر څنګه چې دي خوښه وي، خو زه بیا وایم یو غټ سینه لرونکی راوله چې پسي ویي شړي".

ایمو مسک شو"برساګلیري به راولو. هغوی غټې سینې لري، سینې یې اندازه شوي. بریدمنه تاسي څنګه یاست؟"

"زه ښه یم. تاسي څنګه یاست؟"

"ښه یم. خو ډیر وږی یم".

"په لاره کې به د خوراک یو شی می پیدا شي".

"ستاسي پښه څنګه ده، بریدمنه؟"

ما ورته وویل "روغه ده". موټر ته د ختلو په حال کې مي د پیاني وه موټر ته پام شو، له کاروانه رابېل شو او پر وړوکې فرعي لار وربرابر شو. موټر یې د ونو له لغړو ښاخلو څخه ښکاریده. بونلو هم راوګرځید او په ده ورپسې شو. پیاني پر خپله لار روان وو، موږ هم په دوو امبولانسونو پسي وررهي شوو. دغه فرعي لار په یوه کلیوالي کور کې پایته رسېدل. پیاني او بونلو د کور په غولي کې ولاړ ول. کور کښته او اوږد وو. د دروازې په خوله کې د انګورو پر تاکانو باندي یوه منا جوړه شوي وه. په کور کې یو کوهی هم وو، پیاني د خپل ریډیټر لپاره اوبه ځیني راکښلې. په اول ګېر کې د تګ له امله د موټرانو ماشینونه ګرم شوي ول. کور خالي ولاړ وو. شا ته مي وه طی شوي سړک ته وکتل. کور لږ لوړ پر یوه غونډۍ باندي پروت وو شاوخوا سیمه ټوله ځیني ښکاریدل. سړک، باغ، پټي، د ونو قطارونه او د عقب نشینۍ سړک. دوه سرپرکمشران د کور په لیدو بوخت ول. نجوني هم راویښې شوي وې. د کور مخي ولاړو امبولانسو، د سرای غولي او څاه ته یې په ځیر ځیر کتل. یو ځلي د موټروانانو وه لورې ته هم ورتېرې شوې. یو سرپرکمشر، چي ساعت یې په لاس کي وو، بهر راووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وویل "بیرته یې پر خپل ځای کښېږده". ما ته یې وکتل، بیرته دننه ولاړ او له هاخوا خالي لاس راووت.

د ده څخه مي پوښتنه وکړل "ستا ملګری چیري دی؟"

"ټټی ته تللی". موټر ته ورپورته شو او په مخکي سیټ کي کښېناست. بیریده، چي ګني موږ به یې یوازي پرېږدو.

بونلو "د ناشتې په اړه دي څه نظر دی بریدمنه؟"

"یوڅه به پیدا شي. لږ صبر وکړه".

" ستا په نظر دا فرعي لار به مو یو ځای ته ورسوي؟"

"هو، زه باوري یم".

"ډیر ښه. نو راځه چي څه وخورو". پیاني او بونلو کور ته دننه ورغلل.

ایمو نجونو ته وویل "راځئ". د مرستي لپاره یې لاس وراوږد کړ. مشرې خور یې خپل سر وښوراوه. نه یې غوښتل چي تش کور ته ولاړه شي، په موږ پسي یې راکتل.

ایمو "دوی پر خپله خبره ولاړي دي". ټول یو ځای کور ته ورننوتو. کور غټ خو تاریک او د یوازیتوب له احساس سره مل وو. بونلو او پیاني په پخلنځي کي مصروفه شول.

پیاني "د خوراک لپاره څه نشته، پر کور یې جارو راتېر کړی".

بونلو د پخلنځی پر غټ میز باندي د پنیرو یوه غټه ټوټه څو ټوټې کړل.

"پنیر دي له کومه کړل؟"

"په زیرخانه کي ول. پیاني شراب او مڼي هم پیداکړې".

"اوس به نو ښه خوند وکړي".

پیاني د شرابو له کونجی څخه، چي په وښو کي پېچل شوې وه، کارک ایسته کړ. کونجی یې پر ګیلاس راپورته کړل او ډک یې کړ.

پیاني"سخته ښه بوی کوي! بارتو، ته ورشه یو څو جامونه راوړه".

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه سرپرکمشران دننه راغلل.

بونلو "پنیر درواخلئ".

یوه سرپرکمشر په داسي حال کي چي پنیر یې له شرابو سره خوړل وویل "مونږ غواړو نور له تاسي څخه بېل شو".

بونلو "تاسي مه پریشانه کیږئ، ټوله یو ځای ځو".

ده ته مي وویل "یو پوځي د خپلو متو په زور ځان تر مرامه رسوي".

سرپرکمشر "څه شي؟"

"خوراک کوه".

"سهي ده، خو وخت هم سره زر دی".

پیاني "زه ډاډه یم دې حرامیانو وختي لا ځان مونږ کړی". دوی دواړو وه پیاني ته وکتل. له مونږ څخه یې بیخي ښه نه راتلل.

یوه یې زه وپوښتلم "مونږ چي اوس پر کومه لار ځو، هغه تا ته درمعلومه ده؟"

ما یې په جواب کي وویل "نه". دواړو یو بل ته وکتل.

لمړي سرپرکمشر وویل "څه وخت رهي کیږو؟"

"بس په یو څو شیبو کي رهي کیږو". د سرو شرابو یو بل ګیلاس مي ډک کړ. تر منو او پنیرو وروسته یې ښه خوند کاوه.

ورته ومي ویل "پنیر راوړه". او ووتم. بونلو له هاخوا له یو غټ جیک سره راووت.

ده ته مي وویل "دا څونه غټ دی؟" په معذورانه انداز یې راوکتل.

ویې ویل "ریښتیا هم غټ دی. پتک راکړه چي ډک یې کړم". پتکان یې له هاخوا ډک راوړل زه او دی پر فرش شوې لار باندي د سرای غولې ته ور ووتو. بیا یې جیک راپورته کړ او د دروازې شاته یې کېښېښود.

پیاني "اتریشیان به یې د دروازې د ماتولو پرته ولټوي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده ته مي وویل "درځئ. زه او پیاني به لمړی ولاړ شو".

دوه انجنیران له وړاندي لا له بونلو سره په سیټ کي ناست ول. نجونو پنیر او منه خوړل. ایمو سګریټ څکاوه. پر نری لار باندي رهي شوو. شا ته مي دوو راروانو موټرو او کور ته وکتل، وړوکی، ښکلی او محکمه کور وو. اوسپنیزه پنجره یې ډیره ښکلې ایسېده. مخ په وړاندي لار مو تنګه، لنده او دواړو اړخو ته یې غټ غټ پټي پراته ول. شاته موټرونه په نژدې واټن کي راپسې وه.

## نهه ویشتم فصل

غرمه مهال له یوډېن څخه نژدې لس کیلومتري لیري په ختو کي بند شوو. له غرمې وړاندي وربښت هم ودرېد. درې ځلي مو د الوتکو ږغونه واوریدل چي زموږ له پاسه به تېري شوې، بیا به چپ لور ته تاو شوې او پر عمومي سړک به یې بمونه وغورځول. موږ خپله فرعي لارې پسي رااخیستي وې، هر ځلي چي به پر یوه بنده لار وربرابر شوو د یوې بلي لاري په لټه به شوو، خو په ورته وخت کي وه یوډېن ته هم ورنژدې کیدو. په لار کي روان وو، وړاندي چي مو وکتل لار بنده وه، موټرونه مو بیرته ریورس وکړ، چي یو ناڅاپه د ایمو موټر همالته په پسته مځکه کي بند شو. ده یې د راایستلو هڅه کول، چي نور هم ژور ولاړ، څو چي پر کومکونو باندي ودرېد. اوس کوم څه چي موږ باید کړي وای هغه دا وو چي د ټیرونو مخکي ځمکه مو غار کړې وای هلته مو خس و خاشاک ایښي وای څو ځنځیرونه یې خوله پرې ولګوي او بیا موږ تر هغه وخت ټیله ورکړې وای، چي بیرته راختلای. موږ ګرده له موټرو راکښته او د ایمو د موټر پر شاوخوا راګرځېدو.
سرپرکمشرانو به یوځلي موټر ته بیا به یې ټیرو ته وکتل او شیبه وروسته پرته له دې چي څه ووایي روان شول.

دوی ته مي وویل "دلته راشئ. یوڅه خس خاشاک راټول کړئ".

یوه یي وویل "زموږ و ستاسي لارې بیلي دي".

ما ورته وویل "هلئ، ژر په کار اخته شئ".

یوه یي بیا وویل "موږ ځو". هغه بل یي همداسي غلی ولاړ وو.

د دوی ډیر تلوار وو. ما ته یې هیڅ توجه نه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"زه تاسو ته امر کوم دلته راشئ او خاشاک راټول کړئ". یوه سرپړکمشر وویل "موږ څو. ته موږ ته امر نه شې کولائ. ته زموږ مشر نه یې".

ما ورته وویل"زه تاسې ته امر کوم چي خس راټول کړئ". مخ یې واړاوه او روان شول.

بیا مي ورته وویل "ودریږئ". پر ختین سړک باندي د پټیو ځنګ ته روان شول."زه وه تاسې ته د دریدو امر کوم". ما لا خبره پایته رسولي نه وه، چي نور هم چابک شول. ما خپله توپنچه راوایستل او هغه ډیرخبرې کونکی مي په نښه کړ او ټک مي پرې وکړ. د ټک له خطا کیدو سره دوی په ځغستا شول. درې ټکه مي نور پسي وکړل او یو مي ځیني راچپه کړ. هغه بل یي په پټیو کي ورک او له نظره نهام شو. په هغه پسي مي نور ټکان هم وکړل، خو د کښتو په مینځ کي په ځغاسته وو او سم نه ښکاریده. د توپنچي مرمۍ خلاصې شوي او یو بل شاجور مي ورته بسته کړ. دوهم سرپړکمشر د ویشتلو له ساحې څخه ډیر لیري وو. په کروندو کي یې سر لاندي ځړولی وو او ځغستل یې. بل شاجور مي ډکاوه، چي بونلو هم راورسېد.

بونلو "که ستاسي اجازه وي، زه به یې کار ورخلاص کړم". توپنچه مي ورکړل دی په سرپړکمشر انجینر پسي چي پړمخي پر مځکه پروت وو، ورغلی. دی ورخم شو توپنچه یې پر ککرۍ ورکښېښوول او ماشه یې کښېکښل خو ټک ونه شو.

ما ورته وویل "بیا یې لوډ کړه". لوډ یې کړل او ټک یې وربادي وکړ. سرپړکمشر یې تر پښو ونیو راکش یي کړ او له کروندې سره په څنګ کي یي وغورځاوه. بیرته راغلی او توپنچه یې ما ته راکړل.

ویې ویل "د سپي زوی". د سرپړکمشر په لور یي وکتل "بریدمنه، کله چي مي ویشتی راته کتل دي؟"

ما ورته وویل "خس و خاشاک باید ژر راټول کړو. هغه بل ویشتل شوی وو؟"

ایمو "فکر نه کوم. د پیستول له نښې څخه ډیر لیري وو".

پیاني "رزیلان، مرادرخواره". موږ ټول د ښاخ و ښاخلو په پرې کولو اخته شوو. له بند موټره مو ټول شیان راکښته کړل. بونلو د موټر د مخ له ټیرو څخه خاوره ایسته کول. کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي زموږ لخوا کار پایته ورسېد، ایمو موټر ته پورته شو او په ګیر کي یي کړ. ټیرونه پر مځکه ښوییدل خس و خاشاک او ختې يې پاشلې. ما او بونلو تر هغه وخته موټر ته ټېله ورکول چي هڅوکي مو سره تېر شول، خو موټر هيڅ بيځايه نه شو.

دوی ته مي وويل "بارتو، شا او مخ ته ټېله ورکړئ".

موټر يي مخته او شاته کړ، ټیرونه يې نور هم په مځکه ننوتل او بيا پر کومکو باندي ودرېد. د موټر ټیرونه په هماغه غار کي چي لا له وړاندي يې جوړ کړی وو، ازاد څرخيدل. زه راسيخ شوم او ودرېدم.

" دا ځلي به رسۍ امتحان کړو".

"فکر نه کوم چي هغه دي کار وکړي، ځکه په مستقيم ډول راکشول شونتيا نلري".

ورته ومي ويل "يو ځلي خو به يي امتحان کړو. په بله لار فکر نه کوم چي رابهر يې کړو".

په دې تنګه او کمبره کوڅه کي د پياني او بونلو موټرونه يوازي مخامخ تلای شوای. د دوی دواړو پر موټرو مو رسۍ وتړل او موټر يې کېبل کړ، خو موټر قسم اخيستی وو. ويل يې د چا پلار مي لا ونېکه له ځايه وښوروي.

ما ورناړې کړل "يارانو دا ډېره بنده بولۍ. هيڅ ګټه نه کوي. بس يې ده".

پياني او بونلو له خپلو موټرو راکښته شول او راغلل. ايمو هم له موټره راکښته شو. نجونې له موږ څخه لږ څه ليري پر يوه ډبرين دېوال راته ناستي وې.

بونلو "بريدمنه اوس به څه کوو؟"

"د وروستي ځل لپاره به لا يوه يوه طريقه پرې امتحان کړو. البته دا ځلي به تر ټيرو لاندي مځکه لا ژوره کړو او بيا به د خرپ بوټي و ښاخلې تر لاندي کړو". لاندي مي مځکې ته وکتل. د دې ټولو ربړو مسؤل زه وم، ځکه دوی ما دلته راوستي ول. لمر هم په ډوبېدو وو او د سرپړکمشر جسد د کروندې تر څنګ پروت وو.

"د ده کوټ او کوسۍ هم رواخلئ او تر ټيرو يې لاندي کښېږدئ". بونلو ولاړ او له هاخوا يې له ځان سره راوړل. زه په بوټو پسي ولاړم. پياني او ايمو د ډب په لا ژورولو باندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخته ول. د سرپېرکمشر کوسۍ مي دوې ټوټې کړه او تر ټيرو مي لاندي کړل، له پاسه مي پرې بوټې او ميده رېزه ښاخلې کښېښودې. زمونږ دا تجربه بيا ازمايښت ته تياره شول. ايمو موټر ته ورپورته شو او چالان يې کړ. ټيرونه يې په ډب کي څرخېدل او څرخېدل او مونږ له دې خوا په ټېله پسي ټېله ورکول، خو موټر پر خپل هماغه پخواني بوده سپور وو.

ما ورته وويل "ګټه نه لري. ايمو له موټره دي غوټې او بستره راکښته کړه".

ايمو له بونلو سره موټر ته وروخوت. له هاخوا يې پنير، دوه بوتله شراب او کوسۍ راکښته کړل. بونلو د ټير تر شا کښېناست او د سرپېرکمشر د کوسۍ د جېبو په لټولو مصروف شو.

ما ورته وويل "پرېږده يې. د بارتو سپين پايڅه باکره کورنۍ څه شول؟"

پياني"هغوی به د موټر د شا په سيټ کي کښېني. فکر نه کوم چي ډېره لار دي ولاړ شو".

د امبولانس د شا دروازه مي خلاصه کړل.

ورته ومي ويل "دلته راشئ. وررننوزئ". دواړې وررننوتې او په کونج کي غلي کښېناستې. پر سرپېرکمشرانو باندي د ټکانو په اړه يې ځانونه ناګومانه اچولي وه. شاته سړک ته مي وکتل. سرپېرکمشر له خپلي ختيني انګيا سره چي اوږده لستوڼې يې وه، پروت وو. زه له پياني سره سپور شوم او رهي شوو. هڅه مو کول، چي له کروندو څخه پورېوزو. څنګه چي لار په کښتو وربرابره شوه، له موټره راکښته شوم او وړاندي ولاړم. که له کروندو څخه پورېوتلي وای، دستي په هاغه اړخ کي يو سړک وو، خو بخت مو کار ونه کړ. د دغه ځای مځکه ډېره ختينه او نرمه وه. د موټرونو د تګ نه وه. کله چي موټرونه په بشپړ ډول ودريدل او ترسينې پوري په ختو کي غرق شول، نو هغوی مو پرېښوول او پلي د يوډين په لور رهي شوو.

وه هغې لاري ته چي له عمومي سړک سره نښليدل راورسيدو، وه نجونو ته مي اشاره وکړه.

ورته ومي ويل "پر دغه لار ولاړ شئ. په لار کي به له يو چا سره مخ شئ". ما ته يې وکتل، بټوه مي راوايستل او هرې يوې ته مي لس لس ليرې ورکړې."داسي ولاړ شئ. ملګري! کورنۍ!"

زما په خبرو پوه نه شوې، خو پيسې يې په لاس کي ټينګي ونيولې او رهي شوې. په تګ تګ کي يې شاته راکتل. وهم يې په زړه کي وو، داسي نه چي زه پيسې بيرته ځيني واخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوى ته مي کتل. پر خپله لار رواني وي او ځانونه يې په څادرونو کي تينګ پيچلي وه. دوى بيا بيا مور ته په ډارجنو سترګو کتل. درو واړو موټروانانو پرې خندل.

بونلو وپوښتل "بريدمنه، که پر دغه لار ولاړ شم څومره راکوې؟"

ما ورته وويل "که خبره د نيولو راشي، نو د يوه پرځاى ډله ښه ده".

بونلو "ما ته دوه سوه ليرې راکړه، مخامخ اتريش ته ځم".

پياني "اتريشيان به يې بيرته درڅخه واخلي".

ايمو "کيداى شي چي جګړه ختمه شي". تر وسه وسه مو هڅه کول، چي په بېړه ولاړ شو. لمر کوښښ کاوه، چي له وريځې خپل مخ راوباسي. د سړک دواړه اړخه د توتو ونو نيولي ول. د دې ونو له مينځه مي په ختو کي خپل بند موټرونه وليدل. پياني هم شاته کتل.

پياني "دولت بايد له ختو څخه د دې موټرانو د رااېستو لپاره نوي سړکان جوړ کړي".

بونلو "کاشکي بايسکلان راسره واى!"

ايمو "امريکايان بايسکلان کاروي؟"

"هغوى ورسره عادي دي".

ايمو "کاشکي راسره واى. اوس به پر پښو، نه پر بايسکلانو رهي واى".

بونلو "آه، خدايه! کاشکي خو مو بايسکلان درلوداى. زه نور پلى نه شم تلاى".

ما وپوښتل "ډزې دي؟" له ليري څخه مي د ډزو د تبادلې ږغونه اورېدل.

ايمو "ما ته خو نه ښکاري". ده هم غوږونه څرک کړل.

ما ورته وويل "ما ته خو همداسي ښکاري".

پياني "تر ټولو لمړى چي مور به ورسره مخ شو هغه به د آس سپرو ډله وي".

"فکر نه کوم چي اتريشيان دي اس سپاره ولري".

(c) ketabton.com: The Digital Library

بونلو"خدای دي وکړي چي آس سپاره ورسره نه وي. زه نه غواړم چي د سپرو د نیزو په منځ کي راګیر شم".

پیاني "بریدمنه، تا خو په ریښتیا سرپړکمشر وویشت". ډیر په بیړه روان وو.

بونلو "هغه ما وواژه. تراوسه مي په دې جګړه کي هیڅوک وژلی نه وو. په ژوند کي مي همدا یو ارمان وو، چي یو سرپړکمشر ووژنم".

پیاني "هغه په اسمان کي نه الوته، پر مځکه دي وویشت".

"فکر مه خرابوه. دغه خاطره به مي تل په ذهن کي وي. ما یو سرپړکمشر وواژه...."

ایمو "په تحقیقاتو کي به څه ورته وایې؟"

"زه به ورته ووایم، قاضي صاحب بخښنه راته وکړه، ما یو سرپړکمشر وژلی". له دې سره ټولو وخندل.

پیاني "دی انارشیست[23] دی، کلیسا ته نه ځي".

بونلو "پیاني هم انارشیست دی".

پوښتنه مي ځیني وکړل "تاسي ریښتیا انارشیستان یاست؟"

"نه بریدمنه. موږ سوسیالیستان یو، زموږ مرکز په ایمولا کي دی".

"تاسي تراوسه هلته تللې یاست؟"

"نه".

"په خدای قسم چي هغه یو ډیر ښکلی ځای دی. ته تر جګړې وروسته راشه، زه به ډیر ځایونه درباندي ووینم".

"تاسي ټوله سوسیالیستان یاست؟"

"هو".

---

[23] آنارشیستان پدې عقیده دي چي، چي د حکومت او دین شتوالی د انساني ټولني د پرمختګ لپاره مضر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ښکلی ښار دی؟"

"ډېر زيات. هغه د مځکې پر مخ جنت دی".

"تاسي څنګه سوسياليستان سواست؟"

"مور. ټوله سوسياليستان يو. هر يو مو سوسياليست دی. مور. تل سوسياليستان وو".

"بريدمنه، ته هم راشه. تا به هم سوسياليست کړو".

وړاندي لار چپ لورې ته ګرځېدل، په همدې اړخ کي يوه کوچنۍ تپه هم وه. يوڅه ورهاخوا د يوه ډبرين ديوال وه شا ته د منو يو بڼ وو. لوړ وه غونډۍ ته له ختو سره يې باندار بس کړ. مور. ټول په ډېره بېړه روان وو.

## ديرشم فصل

ګړی وروسته پر يوه داسي سړک باندي رهي وو، چي د سيند لور ته تلی. له همدې ځايه نيولي بيا د سيند تر پله پوري د ګاډيانو او موټرونو يو اوږد قطار پرېښوول شوی وو او د انسان ذات څرک نه لګېده. سيند تر غاړې بهېده او له پاسه پرې پروت پل په مينځ کي ويجاړ شوی وو. ډبرين ميل يې د سيند مينځ ته ورلوېدلی وو. مور. د سيند پر ژۍ ژۍ باندي روان وو او په يوه داسي ځای پسي مو سترګې رغړولې چي له سينده پرې پوربوزو. لږ څه وړاندي د اورګاډي کرښه تېره شوي وه. هيلمن وم، چي کيدای شي د هماغې کرښې په مرسته به پورېوزو. باران ورېدلی وو. مځکه يې لنده او خټينه کړي وه. د پرېښوول شوو موټرانو او د بار ګاډيو پرته؛ پر دې سرزمين باندي د بني ادم بوی لا نه وو. د سيند پر شاوخوا باندي له ختو او خاشاکو پرته بل څه نه وه. مور. د سيند پر ژۍ باندي نور هم وړاندي ولاړو، څو چي د اورګاډي پله ته ورسيدو.

ايمو "څومره ښکلی پل!" يو اوږد او ساده پل وو. د سيند پر هغي برخي باندي پروت وو، چي عموماً د اوبو جريان پکښې لږ. وو.

دوی ته مي وويل "وړاندي تردې چي دا پل هم ويجاړ کړي، بايد پرې پوريوزو".

پياني "څوک نشته چي ويجاړ يې کړي، ټول تښتېدلي دي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

بونلو "کیدای شي په ماینو یې فرش کړی وي. بریدمنه، لمړۍ تاسي پرې تیر شئ".

ایمو "د انارشیست زرینو اقوالو ته غوږ شئ! لمړی دی واستوئ".

ما ورته وویل "له تاسو ټولو وړاندي زه ځم. د یوه سړي په پوریوتو چاودنه نه شي کیدای".

پیاني "ورته وګوره! دې ته وایي دماغ. انارشیستانو تاسي ولي عقل نه لرئ؟"

بونلو "که ما عقل درلودای، زه به اوس دلته نه وم".

ایمو "بریدمنه، دا خوبیخي ښه خبره ده".

ما ورته وویل "ریښتیا هم ډیر ښه". نور نو اوس وه پله ته نژدې شوي وو. اسمان وریځو پوښلی وو. ورو ورو باران هم پیل شو. پل اوږد او محکمه وو. پاس پله ته وروختو.

ما ورته وویل "پر یوه ځای راشئ". او پر پله تېر شوو. ما تر پټلۍ او اړکی لاندي د بم یا چاودیدونکو موادو په نښو پسي وکتل، خو څه مي ترسترګو نه شول. له ګیپ سره جوخت تر پټلۍ لاندي خړې اوبه ډیري په تیزۍ سره رواني وې. له لرې وړاندي تلو وروسته مي له لانده کلي څخه تر باران لاندي یوډین ولید. له پله څخه مي بیرته وه شاته راوکتل. لرې هاخوا یو بل پل هم وو. څنګه چي مي ورته وکتل یو ژړ په ختو لړلی موټر مي ولید، چي د هماغه پله له پاسه روان وو. د پله اړخونه جګ ول له دې امله موټر یو ځلي له سترګو پناه شو، خو د موټروانانو سرونه یې ښکاریدل. یو په مخکني سیټ کي له موټروان سره او دوه یې هم شاته ناست ول. ټولو د جرمني پوځیانو خولۍ په سر کړي وې. موټر له پله تر پوریوتو وروسته په ونو او پریښودل شوو موټرانو کي ورک شو. ایمو او نورو ته مي لاس وښوراوه چي راچابک شي. زه تر پله راکښته شوم او پر ګونډو تر پټلۍ لاندي کښېنستم. ایمو له ما سره راکښته شو.

له ایمو څخه مي پوښتنه وکړل "موټر دي ولید؟"

"نه. موږ وه تا ته کتل".

"د جرمنیانو یو موټر د پله له پاسه تیر شو".

"د جرمنیانو موټر؟"

"هو".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"اوه خدایه!"

هغه نور هم لاندي راغلل او په ختو کي پر ګونډو کښېنستل او له پله ورهاخوا مو پټلۍ، ونې، ویاله او سړک تر نظارت لاندي ونیول.

"بریدمنه، موږ راګیر شوي یو؟"

"نه پوهیږم. یوازي دومره پوهیږم چي د جرمنیانو یو موټر مي ولید چي تر سړک واوښت".

"بریدمنه تاسي خو به مسخرې نه کوئ؟ تاسي ته عجبه خیالات نه راځي؟"

"بونلو، بیځایه خبرې مه کوه".

پیاني "د څیښاک په اړه څه وایي؟ که راګیر شوي یو ښه به وي چي یو څیښاک وکړو". خپل پتک یې رابهر کړ او سرپوښ یې ترې ایسته کړ.

ایمو "وګورئ! وګورئ!" سړک ته یې اشاره وکړه. د ډبرین پله له پاسه جرمنۍ خولۍ ښکاریدې چي په حرکت وې. دوی مخ په وړاندي ورو او په خارق العاده ډول روان ول. څنګه چي وه پله ته راورسیدل راته ښکاره شول. دوی بایسکل سپاره پوځیان ول. د لمړیو دوو څیرې مي یې ولیدې. سره و سپین او تندرسته ښکاریدل. خولۍ یې پر تندي او مخ خواته راځړېدلې وې. ټوپکان به یې له بایسکله سره جنګیدل او کړپهار به یې کاوه. لاسي بمونه یې پر کمربند باندي تړلي ول. خولۍ او خړرنګه یونیفورمونه یې لانده وه، خو ښه په طبیعت پر خپله لار روان ول. مخ او دواړو څنګونو ته یې پام کاوه. په لمړۍ لیکه کي دوه نفره، وروسته څلور نفره، بیا نژدې دولس نفره، بیا نور دولس نفره او له هغه څخه وروسته بیا یو نفر په ترتیب وړاندي روان ول. خبرې یې نه کولې. که یې کولای هم، موږ په سیند کي د اوبو د شورهاري له امله نه شوای اوریدلای. پر سړک باندي وړاندي ولاړل او له سترګو پناه شول.

ایمو "اوه خدایه!"

پیاني "دا خو جرمنیان ول. اتریشیان نه ښکاریدل".

ما ورته وویل "دلته ولي یو څوک نشته چي مخه یې ونیسي؟ پل یې ولي نه دی ویجاړ کړی؟ له پله سره ولي مشین ګڼ والا نشته؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

بونلو "ښاغلی بریدمنه، تاسي راته ووایاست ولي نشته؟".

ډیر په غوسه وم.

"ټوله کم عقلان دي. کښته یې یو وړوکی پل ویجاړ کړی، خو دلته یې بیا پر عمومي سړک باندي پل پرې ایښی. دا ټوله چیري ورک دي؟ دوی یې د مقابلې هڅه نه کوي؟"

بونلو "بریدمنه تاسي راته ووایاست". نور مي څه ونه ویل. دې موضوع په ما پوري اړه نه درلودل. زما دنده یوازي دا وه چي وه پورډینون ته هماغه درې امبولانسه ورسوم. چي زه پکښې بریالی نه شوم. اوس زما دنده دا ول، چي ځان وه پورډینون ته ورسوم. خو یوډین ته رسیدل لا په شک کي وه. بیخي بیچاره شوی وم. هغه څه چي باید کړي مي وای دا وه چي باید غلی وه اوسم تر څو ونه ویشتل شم او یا ګرفتار نه شم.

له پیاني مي وپوښتل "خلاص پتک درسره شته؟" ما ته یې راکړ. یو غټ غوړپ مي ترې وکړ. دوی مي مخاطب کړل "وړاندي ځو، خو تلوار ښه نه دی. ډوډۍ خورئ؟"

بونلو "دلته نه. یو خوندي ځای به پیدا کړو".

"سمه ده، نو بیا درځئ".

"زما په نظر که تر پټلۍ لاندي ولاړ شو ښه به وي. څوک به مو ویني هم نه".

"زه خو وایم، چي د پټلۍ له پاسه به روان شو. که لاندي رهي شو، کیدای شي د لوړ پله څخه مو په اسانی ووینې".

د اورګاډي پر پټلۍ باندي روان شوو. دواړه اړخو ته مو بې پایه لنده دښته او په وړاندي مو د یوډین تپه وه. د تپې له پاسه یوه لویه کلا وه، چي برجونه یې وران شوي ول. ناقوس او د ساعت برج راته ښکاریده. همالته په باغ و پټي کي ګڼې د توتو ونې ولاړي وې. وړاندي مي د اورګاډي یوه ورانه پټلۍ ولیدل. اړکی یې ویجاړ شوی او لاندي لویدلی وو.

ایمو وویل "پروت!پروت!" د پټلۍ یوه اړخ ته مو ځانونه وغورځول او پټ شوو. د بایسکلي پوځیانو یوه بله ډوله وه، چي د سړک له پاسه تیریدل. سر مي ورپورته کړ او پټ مي ور وکتل. پر خپله لار روان ول.

ایمو"موږ یې ولیدو، خو ځانونه یې ناګومانه واچول".

(c) ketabton.com: The Digital Library

بونلو "بریدمنه، که نور وړاندي ولاړ شو، د سر بایللو شونتیا زیاتیږي".

ما ورته وویل "هغوی له موږ سره کار نه لري. هغوی خپل دښمن پیژني. که یو ناڅاپه راباندي راشي، بیا د خطر امکانات زیاتیږي".

بونلو "زه خپله پر همدې لار له سترګو پناه ځم".

"سمه ده. خو موږ د پټلۍ له پاسه ځو".

ایمو وپوښتل "څه فکر کوې، موږ به له دغه ځایه بچ ولاړ شو؟"

"بلکل. تراوسه د دښمن شمیر زیات نه دی. په تیاره کي به له دغه ځایه ووزو".

"د پوځیانو موټر دلته څه کول؟"

ما ورته وویل "خداي پوهیږي". د اورګاډې پر پټلۍ باندي رهي شوو. بونلو لاندي په ختینه مځکه کي له تګه سترۍ شو او بیرته راپورته شو. پټلۍ اوس له عمومي سړک څخه بېلیدل او سهیل ته تاوېدل، ځکه نو موږ ته نه معلومېدل، چي پر سړک څه روان دي. لږ وړاندي د ویالې له پاسه یو ویجاړ پل وو. په کیسه کي یې نه شوو، ور وختو او پر پاتي شونو یې تېر شوو. د شا له خوا مو د ډزو ږغونه واورېدل.

د ویالې په خوا کي پټلۍ ته ورپورته شوو. د پټلۍ دغه کرښه د کروندو په مینځ کي سیده د ښار په لور تللې وه. شا ته مو یوه بله پټلۍ هم ښکاریدل. عمومي سړک په شمالي اړخ کي، چیري چي بایسکلي پوځیان لیدل شوي ول پروت وو. په سهیلي اړخ کي مو یو فرعي سړک غځېدلی وو، چي دواړو اړخو ته یې ونې ولاړي وې. له ځان سره مي وویل که پر همدې سړک ولاړ شو ښه به وي. د همدې سړک له لارې مو کولای شوای، چي د ښار له څنډو څخه له تیریدو وروسته وه کاموفورمیو ته او بیا له هغه ځایه د ټګلیامنتو وه عمومي سړک ته ځانونه ورسوو. هڅه مو کول د یوډین شا ته پر فرعي لارو باندي ولاړ شو او د شاتګ له عمومي کاروان څخه ځانونه ګوښه وساتو. د غونډیو په منځ کي ګڼې فرعي لارې رامعلومي وې. زه له پټلۍ څخه په راکوزېدو شوم.

ما ورته وویل "راکښته شئ". هوډ مو وکړ، چي د ښار په سهیلي اړخ کي به پر فرعي لارو باندي ځو. موږ ټول له پله څخه په راکښته کېدو شوو. په همدې حال کي له شا څخه د ټوپک ډز راباندي وشو. مرمۍ راغلل او په ختین پله کي ونښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی ته مي ورناري کړې "بیرته شا ته ولاړ شئ" . په ختو کي په ښوییدو پاس پله ته وختم. موټروانان تر ما وړاندي ول. څومره، چي مي وس کیده هغومره په بېړه پاس ولاړم. د کروندو له مینځه دوه ځلي بیا ډزې راباندي وشوې. ایمو له پټلۍ نه د رااوښتو هڅه کول، چي یو ناڅاپه ورغږېد پښه یې بنده شول او پړمخي راپرېوت. دی مو د پله دا بل اړخ ته لاندي راکش کړ او ستوني ستخ مو پرې ایسته. ما ورته وویل "سر یې باید لوړ اړخ ته وي". پیاني دی ځانته راکش کړ، ایمو په ختو کي پروت، پښې یې پر پله وراوښتې وې او په زوره زوره یې ساه کښل. له بارانه د ژغورولو په خاطر موږ درې واړه پر ده راچاپېره شوو او پټ مو کړ. دی تر ورمېږ لاندي په ملا کي ویشتل شوی وو. مرمۍ یې په اوږه کي لوړه تللې وه او تر ښۍ سترګې راوتې وه. زه یې لا په پټۍ بوخت وم، چي د اجل داعي ته یې لبیک وو‌ایه. پیاني د ده سر لاندي کښېښود، مخ یې په یوه ټوټه ټوکر ورپاک کړ او بیا یې یوازي پرېښود.

پیاني "حرامیان".

دوی ته مي وویل "ویشتونکي جرمنیان نه ول. د جرمنیانو شتون دلته هیڅ امکان نه لري".

پیاني په تحقیرآمیزه لهجه وویل "ایټالویان ول. ایټالیاویان!" بونلو د ایمو څنګته غلی ناست وو، خو د ده ته یې نه کتل. پیاني د ایمو خولۍ چي لاندي رغړېدلې وه راپورته کړل او پر مخ یې ورکښېښودل. پټک یې ځیني راپورته کړ.

پیاني بونلو ته پټک ونیو "اوبه څیښې؟"

بونلو "نه". ما ته یې مخ راوګرځاوه "که د پټلۍ له پاسه نور هم وړاندې ولاړ شو، کیدای شي موږ هم د ده په برخلیک اخته شو".

ما ورته وویل "داسي نه ده. لامل یې دا وو چي موږ غوښتل له هوارې نه پوریوزو".

بونلو سر وښوراوه. ویې ویل "ایمو مړ شو. بریدمنه له ده وروسته څوک مړ کیږي؟ اوس چیري ځو؟"

ما ورته وویل "ډزې کونکي ایټالویان ول، نه جرمنیان".

بونلو "زما په نظر که جرمنیان وای، موږ ټول یې وژلو".

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وویل "زموږ لپاره ایټالویان تر جرمنیانو ډیر خطرناک دي. شاتني پوځیان اوس له هرڅه نه په ډار کي دي. جرمنیان په خپل خیر و شر تر هر چا ښه پوهیږي".

بونلو "بریدمنه، ستاسي له نظر سره موافق یم".

پیاني وپوښتل "اوس چیري ځو؟"

"د تیارې تر خپریدو پوري به یوځای پټ شو. له هغه وروسته که مو په سهیلي اړخ کي یوه لار پیدا کړل ډیر به ښه وي".

بونلو "ډزې کونکي اوس اړ دي چي موږ ټوله ووژني تر څو دا ثابته کړي چي تېر ځل هم دوی نه وه خطاوتي. زه نه غواړم چي د دوی د مرمی ښکار شم".

"اوس چي هر څومره ژر شونې وي، باید د تیارې تر خپریدا پوري یوډین ته نژدې یو ځای ځانونه پټ کړو او بیا چي کله تیاره شول، په حرکت به پیل وکړو".

بونلو "نو بیا درځئ له خیره". پاڅیدو او د پله وه شمالي اړخ ته کوز شوو. شا ته مي وکتل. ایمو د پله پر یوه کونج باندي پروت وو. وړوکی ښکاریده، لاسونه یې په بغل کي پراته ول. ختین بوټونه په پښو او خولی یې پر مخ پرته وه. ارام پروت وو. باران بیا پیل شو. ایمو د نورو ملګرو په څېر راباندي ګران وو. د ده اسناد مي له ځان سره راواخیستل تر څو کورنۍ یې ترې خبره کړم. له ښکتو او کروندو لږ ورهاخوا یو کلیوالي کور وو. د کور چار چاپیره ونې راګرځیدلې وي او پر مخامخ یې څو کروندې وي. په دوهم چت کي یې پر ستنو تکیه، یوه برنډه درلودل.

دوی ته مي وویل "ټول باید یو ځای رهي نه شو، تر مینځ مو باید یو څه واټن وي. کور ته به لمړۍ زه ورشم". د پټیو په مینځ کي د کور په لور رهي شوم.

له پټۍ څخه تیریدم، د بل کوم څه په فکر کي نه وم، یوازې دا بیره راسره وه، چي اوس به د ونو له منځه یا هم مخامخ له کوره ډزې راباندي وشي. مخامخ پرې ور روان شوم هر څه مي تر نظر لاندې ول. برنډه په دوهم چت کي له بوس خونې سره وصل وه. د دوو ستنو له مینځه بوس بهر راوتي ول. د سرای غولۍ په ډبرو فرش شوی وو. د ونو له پاڼو څخه د باران اوبه څک څک راتوییدې. د کور په یوه کونج کي یوه لویه دوه ټیریزه ګاډۍ ولاړه وه. لاستې یې لوړې خواته تر باران لاندې جګ ولاړ ول. انګړ ته ورداخل شوم نور هم وړاندې ولاړم او تر برنډې لاندې ودریدم. د کور دروازه خلاصه وه دننه ورغلم. بونلو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پياني هم راپسي راغلل. دننه تياره وه. وه پخلنځۍ ته ولاړم. په يوه غټ سرخلاصي نغري کي د اور ايرې پرتې وي. د ايرو له پاسه پر سرتاخ باندي لوښي اينسوول شوي وو، خو پر ټولو يې لاس راتېر کړی وو. شاوخوا مي وکتل، خو د خوراک لپاره مي څه ونه موندل.

دوی دواړو ته مي وويل "بايد همدلته په غوجل کي پريوزو. پياني د خوراک لپاره به يو شی ونه لټوې؟"

پياني "زه به پسي وګرځم".

بونلو "درځه چي په ګډه يې ولټوو".

ما ورته وويل "سمه ده. زه به بيا پاس ولاړ شم او په بوس خونه کي به وګورم". تر طبيلې لاندي مي د زينو يوه لار چي پاس تللې وه، وموندل. په باران کي له طبيلې څخه وچ او وږم لرونکې بوی راته. رمه يې ګرده بېولې وه. کيدای شوه کله چي د کور انسان تلل، نو رمه به يې هم له ځان سره اخيستې وه. بوس خونه نيمايې له بوسو ډکه وه. د کوټې په چت کي دوه سوري ول، يو يې په تختو بند کړی وو او له هغه بله يې هم چي په شمالي اړخ کي وو د دريڅې کار اخيسته. يوه ناوه هم وه چي وه حيواناتو ته د وښو د وراچولو کار به يې ځيني اخيسته. د رڼا شغلې لاندي په دهلېز کي چيري چي وه حيواناتو ته واښه وراچول کيدل خپرې وې. پر بام مي د باران د څاڅکو شرپهاری اورېده او ورسره مي د وچو وښو بوی تر پزې راورسېد. لاندي ورکوز شوم همالته په طبيله کي مي د وچو خوشيو بوی تر پزې شو. موږ کولای شوای چي له تختو څخه يوه رابېله کړو او له هغه ځايه انګړ تر خپل نظر لاندي وساتو. هغه بله کړکۍ په شمال کي وه پټيو ته خلاصيدل. د دې دواړو کړکيو په مرسته موږ بام او لاندي تلای شوای. همداسي که زينه له کاره لويدلې وای کولای مو شوای چي په ناوه کي کوز شو. غوجل خورا پراخه وه که يوڅوک دننه هم راغلی وای، په اسانۍ يې لاسته نه ورتلو. په هر صورت، موږ پر ښه ځای باندي پيښ شوي وو.

زه ډاډه وم که پر موږ ډزې نه وای شوې، سهيل ته پرته له کومې ستونزې تلای شوای. د جرمنيانو شتون هلته ناشونی وو. هغوی له شمال او د سيوايډل له لوري پر راغلي سړک باندي راتلل. د سهيلي اړخ څخه د هغوی راتګ هيڅ شونتيا نه لرل. ايټالويان تر جرمنيانو ډير خطرناک ول. هغوی ترهيدلي ول، هرڅه چي به په مخه ورتلل پر هغه به يې ډزې کولې. تېره شپه د شاتګ پرمهال مو واوريدل، ويل يې چي ګڼ شمير جرمنيان د ايټالويانو په جامو کي شمال لور ته د شاتګ په قافله کي داخل شوي دي. هيڅ باور مي نه کيده. البته دغه ډول خبرې په جګړه ايزو حالاتو کي ډېرې اورېدل کيږي. همدا حيله په هره جګړه کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارول کیږي. فکر نه کوم چې یو څوک دي د جرمنیانو په جامه کې د هغوی د سرګردانه کولو لپاره د جرمنیانو وه منځته ورغلي وه. کیدای شي داسې خلګ به ول، خو دا کار له ربړو خالي نه ښکاریده. زما هیڅ زړه ته نه لوېده چې جرمنیانو دې داسې کړي وي. البته دوی به د دې حیلې کارولو ته کومه اړتیا هم نه لرل. جرمنیانو هیڅ اړتیا نه درلودل، چې زموږ په عقب نشیني کې کوم خنډ پیښ کړي. د پوځیانو د شمیر زیاتوالي او د سړکونو لړوالي پخپله ایټالویانو ته یو سرخوږی وو. څوک نه وو، چې یو چا ته وواییي دا کار وکړه یا دا کار مه کوه. بیا هم دوی پر موږ د جرمنیانو په شک ډزې کولې. ایمو په ډزو ولګېد. له وښو ډکه ښه بوی راته او په بوس خونه کې د وښو په مینځ کې پروتې کلونه کلونه واټن له منځه وړی. موږ په وښو کې څنګ وهلي او پراته، یو له بل سره مو باندار کاوه او چې کله به یوه چوغکه د بوس خونې د دیوال په سوري کې کښېنستل په بادي توپک به مو په نښه کړل. هغه بوس خونه اوس نشته، یوکال یې د شوکران ځنګل ټول له منځه یووړ او په هغه ځای کې چې ځنګل ولاړ وو، اوس یوازې د ونو تنې، د ونو ګوګ سرونه، ښاخلې او یو څه وابښه شنه ول. تېر وخت بیرته نه راګرځېده. که موږ همدلته پاتې شو، څه به وشي؟ هیڅکله وه میلان ته نه شو ستنیدلای. خو که میلان ته ستانه هم شو، نو څه؟ په شمال کې له یوډېن سره ډزې پیل شوې، غوړونه مې ورته څرک کړل. ډزې پرله پسې وې، خو بمبار نه وو. خپله همدا یوه ستونزه وه. ایټالویانو باید د سړک له پاسه څه عسکر ځای پرځای کړي وای. په نیمه روښنایې کې مې کښته ته وکتل، پیاني مې ولید. دی په دهلېز کې ولاړ وو. په لاس کې یې یو اوږد ساسیج، یوه مرتبانه او په بغل کې دوه بوتله شراب نیولي ول.

ده ته مې وویل "پاس راشه. زینه هلته پرته ده". له ځان سره مې وویل، د مرستې لپاره یې باید ورکوز شم. په وښو کې پروتې یو څه ګنګس کړی وم.

له ده مې وپوښتل "بونلو څه شو؟"

پیاني "یوه شیبه صبر. درته وایم". په زینو کې لوړ راوختو. د وښو له پاسه مو شیان کښېښوول. پیاني د بوتل د خولپوټې لیرې کولو آله راوکښل او د شرابو بوتل یې پرې خلاص کړ.

ویې ویل "سرپوښ خو یې ښه ټینګ پرې تړلی خدای دې وکړي چې ښه خوندور وي". مسک شو.

بیا مې پوښتنه ورځخه وکړل "بونلو چیرې دی؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

پياني ما ته وکتل.

ويې وويل "بريدمنه، هغه ولاړ. هغه غوښتل چي د پوځيانو په لاسونو زنداني شي".

څه مي ونه ويل.

"هغه د مرګ له بيرې له مورڼ څخه بېل شو او ولاړ".

ما د شرابو بوتل په لاس کي ونيو. او کوم څه مي ونه ويل.

"ته پوهيږې بريدمنه، له جګړې مو ګرد سره ښه نه راځي".

له ده نه مي پوښتنه وکړل "ته ولي له هغه سره نه ولاړې؟"

"ما نه غوښتل چي تاسي يوازي پريږدم".

"بونلو چيري ولاړ؟"

"خبر نه يم، خو له موږه يې لار بېله کړه".

ما ورته وويل "سمه ده. ساسيج به پرې کړي؟"

پياني په نيمه روښنايي کي راته وکتل.

ويې ويل "ما د خبرو په جريان کي ټوټې ټوټې کړ". په وښو کي ناست او ساسيج مو له شرابو سره يو ځای تر ستوني تير کړ. کيدای شي د کور خاوند دا شراب د خوښۍ د کومو مراسمو لپاره ساتلي ول. خو هغه دومره زاړه ول، چي رنګ يې هم بايللی وو.

ما ورته وويل "لويجي، ته په هغه کړکۍ کي وګوره زه به په دا بله کړکۍ کي وګورم".

موږ دواړو يو يو بوتل وخيښی. ما له ځان سره خپل بوتل واخيست پر وښو اوږد وغځيدم او په وړوکې کړکۍ کي مي دباندي وکتل. نه پوهيدم چي دا اوس زه څه وينم؟ خو د کروندو، د توتو د لښو ونو او بارانه پرته مي بل څه نه ليدل. شراب مي وڅيښل خو اغيز يې ونه کړ. د ډېر وخت ول اوس يې له رنګ سره سره خوند هم بايللی وو. دباندي چي مي وکتل، تيارې هر څه په غيږ کي نيولي ول. ډېر ژر تياره شول. باران او له تيارې ډکي شپې، دوی دواړه موږ ته په تمه ول. کله چي ښه تياره شول، اخوا ديخوا کتلو ګټه نه درلودل، نو پياني ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

نژدې ورغلم. دی بیده وو، راويښ مي نه کړ، خو یوه شیبه يې وه څنګته کښېنستم. دی په تنه غټ او ډېر درونډ خوب يې وو. شیبه وروسته مي راپاڅاوه او رهي شوو.

یوه عجبه شپه وه. له یوه نا اټکل کیدونکي حالت سره مخ وم. مرګ، په تیاره کي ډزې او یا هم ځغاسته، خو هیڅ پيښ نه شول. موږ دواړه له سړک سره د یوې ویالې په غاړه کي پټ شوو، کله چي د جرمني پوځیانو کنډک تېر شو، دواړه یوځای د شمال په لور رهي شوو. دوه ځلي په باران کي له جرمنیانو سره بیخي نژدې مخ شوو، خو موږ يې ونه لیدو. د کوم ایټالوي سره د مخ کېدو پرته له ښاره تېر او شمال ته واوښتو. له ښه مزله وروسته بیرته د شاتګ عمومي لارې ته ورسم شوو او ټوله شپه مو د ټګلیامنتو په لور مزل وکړ. د شاتګ غټواله او لوی واله مي هیڅ په تصور کي نه شوای راوستلای. د پوځ په ګډون ټول هیواد په خوځښت کي وو. شپه مو ټوله په ولاړه او تګ تیره کړل. د موټر په نسبت پلی تګ ښه وو. لینګي مي کا کول او ستړی هم وم، خو سفر مو ښه وو. د بونلو د ځان زنداني کولو پریکړه مي په نظر ډیره بې عقله ښکاره شول. هیڅ خطر نه وو. له کومي پیښې پرته له دوو پوځونو څخه تیر شوو. که ایمو وژل شوی نه وای، د خطر هیڅ نښه نه وه. موږ چي ان کله د اورګاډي پر پټلۍ روان وو، بیا هم هیڅ چا راته کوم ضرر ونه رساوه. مرګ ناڅاپه او بې دلیله راغلی. د بونلو په اړه اندیښمن وم. هغه به چیري وو؟

پیاني "بریدمنه، طبیعت دي څنګه دی؟" پر کوم سړک، چي موږ اوس روان وو، د موټرونو او پوځیانو ګڼه ګوڼه پکښې زښته ډیره وه.

"تراوسه خو لا ساه راپکښې چلیږي".

"دې پلي تګ خو له اخه و ټوخه واچولم".

"که مړه کیږو، که رغیږو اوس به ځانونه باسو، له دې پرته بله لار نه لرو. د اندیښنې کومه خبره نشته".

"بونلو بیخي نادان وو".

"ریښتیا هم ډیر نادان وو".

"بریدمنه، تاسي به د هغه په اړه څه وکړئ؟"

"تراوسه مي کوم تصمیم نه دی نیولی".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ته د ده نوم د بنديانو په ليست کي نه شي ليکلای؟"

"نه راته معلوميږي".

"دې خبرې ته دي بايد پام وي، چي که جګړه دوام وکړي، حکومت به يې پر کورنۍ زيات مشکلات او فشار راولي".

له موږ سره په خوا کي روان يوه پوځي وويل "جګړه نور دوام نه کوي. موږ کورونو ته ځو. جګړه پايته ورسيدل".

"ټوله کور ته ځي".

"موږ ټول کورو ته ځو".

پياني"بريدمنه، راځه". ده غوښتل چي له دوی څخه مي ليري کړي.

"بريدمن؟ کومه دی بريدمن؟ د خدای قهر و غضب دي وي پر افسرانو. مرګ پر افسرانو!"

پياني له بازو ونيولم."ښه به وي چي زه تا په خپل نامه وبولم. کيدای شي له دوی سره په ستونزه واوړو. ځيني افسران يې وژلي هم دي". چابک شوو او له دوی څخه تېر شوو.

وه خپل مجلس ته مو دوام پسي ورکړ"زه به داسي ريپورټ ونه ليکم، چي د ده د کورنۍ لپاره د ستونزو جرړه شي".

پياني وويل "که جګړه پايته ورسيږي بيا پروانه لري، خو فکر نه کوم چي همدا دی يې پای وي. البته که ختمه شي، بيا نو د زوی زيری دی".

ما ورته وويل "په ختم يا نه ختم به يې ژر پوه شو".

"د جګړې ختمېدل! زما خو زړه ته نه لوېږي. دوی ټول فکر کوي چي جګړه نوره پايته رسيدلې، خو ما ته خيال پلو ښکاري".

يوه عسکر نارې کړه "ژوندی دي وي سوله! موږ کورو ته ځو".

پياني وويل "که ټوله وه کورو ته تلای ښه به وای. ستا وه کور ته زړه نه غواړي؟"

"ولي نه".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“موږ به کله هم ولاړ نه شو. فکر نه کوم چې دغه به یې پای وي”.

یوه پوځي ناري کړې “موږ کورو ته ځو!”

پیاني “دوی خپل ټوپکان غورځوي. د نارو پرمهال خپل ټوپکان له اوږې رااېسته کوي او بیا یې ایسته غورځوي”.

“خپل ټوپکان باید له ځان سره وساتي”.

“دوی فکر کوي چې که خپل ټوپکان ایسته وغورځوي، بیا یې څوک جګړې ته نه شي مجبورولای”.

په تیاره، باران او شپه کې، چې نور هم وړاندې تلو اوس هم ډېر شمیر پوځیان ښکاریدل، چې وسلې اوس هم ورسره وې او د خپلو کوسیانو له پاسه یې جوخت نیولې ول.

یوه افسر وویل “تاسې د کومې لوا یاست؟”

زما پر ځای بل یوه جواب ورکړ “د سولې لوا! د سولې لوا”. افسر څه ونه ویل.

“څه وایي؟ افسر څه وایي؟”

“مړه دې وي افسران. سوله دې ژوندۍ وي”.

پیاني “راځه”. له دوو بریتانوي امبولانسونو څخه، چې د نورو موټرونو په منځ کې بند ول، تېر شوو.

پیاني “له موټرونو څخه یې ښکاري، چې د ګوریزیا دي”.

“دوی له موږ وړاندې راغلي دي”.

“هو، له موږ وړاندې رارهي شوي”.

“خبر نه یم چې موټروانان یې چیرې دي؟”

“کیدای شي وړاندې وي”.

ما ورته وویل“جرمنیانو له یوډېن بهر سنګرونه نیولي. دغه خلک ټول باید تر سیند پوریوزي”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیاني "هو، خو همدا لامل دی، چي وایم جګړه به نوره هم وغځیږي".

ده ته مي وویل "جرمنیان کولای شي، چي دلته هم راشي. خو نه پوهېږم، چي تراوسه لا ولې نه دي راغلي".

"زه هم نه پوهیږم. زما په دې ډول جګړو هیڅ سر نه خلاصیږي".

"فکر کوم، ترانسپورټ ته به منتظر وي".

پیاني "زیات مي سر نه په خلاصیږي". دی، چي به هر کله تنها شو، ډیر به غلی وو، خو د مجلس پر مهال به ډیر پوچ خولی وو.

"لوییجي، تا واده کړی؟"

"تاسي خو خبر یاست، چي ما واده کړی".

"ښه نو په همدې خاطر تا نه  غوښتل، چي زنداني شي؟"

"له لاملو څخه یې یو همدا وو. بریدمنه تاسي واده کړی؟"

"نه".

"بونلو هم واده نه دی کړی".

ما وویل که څه هم واده والا د خپل زړه خبره نه کوي، خو زما په ګمان د واده والا سړي بیړه وي، چي ځان ژر میرمنې ته ورسوي". دغه ډول مجلس مي په طبعه لګیده.

"هو".

"ستاسي پښه ځنګه ده".

"ډیره خوږینه شوې".

د رڼا تر خپرېدو وړاندي د ټګلیامنټو تر ساحله ورسیدو. د سیند په څنګ څنګ کي روان وو او هغه قطار ته مو ورو ورو ځان وردننه کاوه، چي د سیند له پاسه پر پله باندي تېریده.

پیاني "له دې سیند سره نو باید د دښمن مخه ډب کړي". په تیاره کي مي سیند ته وکتل، بیخي تر غاړې غاړې بهېده. اوبو به یو څرخک وخوړ او بیرته به خپرې شوې. د پله څلور

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر دریمه حصه پر سیند باندي پرته وه. د سیند یاغي څپې تر پله پورې لوړې راغلي وې. د دې سیند اوبه بیا تر پله ښه ورکښته په کوچنیو ویالو کې پر پراخ ډبرین بستر باندي بهېدې. د سیند پر څنډه باندي روان وو او کرار مو په هغه ډله کې ځانونه ورګډ کړل، چې له سیند څخه په پورېوتو وه. تر سیلابي څپو لړ لوړ، تر باران لاندي او د خلکو په ګڼه ګونه کې د میړ.ې په قدم وړاندي روان وو. د پله په هاغه بل سر کې توپچیانو سنګر نیولی وو. شاوخوا او سیند ته مي وکتل. ورو ورو تګ ډېر راباندي وغمېد او بیخي زهره چاوده کړم. له ځان سره مي وویل، که الوتکه د ورځې له خوا دغه پل بمبار کړي، څه حال به وي؟

ناري مي کړل "پیاني".

"دغه یم، دلته یم بریدمنه". په همدې ګڼه ګونه کې تر ما لږ وړاندي وو. ټول پټه خوله ورو ورو وړاندي روان ول. ټول په دې هڅه کې ول، چې له پله څخه په بېړه پوریوزي. په دماغ کې یې یوازې همدا فکر راتاوېده. موږ ته هم ډېره لار پاتې نه وه. د پله په سر کې څو تنه افسران له ټوپکوالو عسکرو سره ولاړ ول. څراغونه ورسره ول او د هر یوه پر مخ به یې ورنیوه. د دوی سایه مي لاندي ولیدل. څنګه چې دوی ته ورنژدې شوو، یو افسر د لاس په اشاره په قطار کې یو نفر په ګوته کړ. ټوپکوال د هغه په راوستو پسې د قطار مینځ ته ور په هوا شو او له هاخوا یې هغه نفر لاس نیولی راوست. له سړکه یې وه ایست او یوې ګوښې ته یې کړ. اوس نو زموږ او د دوی تر مینځ هم چنداني واټن پاتې نه وو. په قطار کې هر یو پورېوتونکی کس یې په ډېر دقت سره څاره. ځیني وختونه به دوه افسران په خپل مینځ کې په بوښېدو شول؛ بیا به قطار ته ښه ورنژدې شول او د یو کس پر څیره به یې څراغ ورونیو. زموږ تر رسیدو وړاندي یې یو بل نفر هم له قطاره وه ایست. دی مي هم ولید، په رتبه ډګرمن وو. پر ده باندي له څراغ اچولو سره مي د ده پر لستونو ټومبل شوي ستوري ولیدل. وربښتان یې خړ، کوتاه قده او پنډ سړی وو. ټوپکوالو دی د افسرانو تر لین شاته ودرواه. چې څنګه موږ ورسره مخ په مخ شوو، له دوی څخه یوه افسر ما ته وکتل؛ بیا یې ما ته ګوته ونیول او ټوپکوال ته یې یو څه وویل. ټوپکوال ته مي کتل، چې زما پر لور راپه هوا شو. د قطار په څنډه کې زما لور ته راتیر شو. داسي مي احساس کړل، لکه زه چې یې تر کالر ونیولم.

ورته ومي ویل "څه خبره ده؟" او په یوه څپېړه مي ونازاوه. تر خولې لاندي مي د ده مخ ولید، لوړې خوا ته تاو شوي بریتونه او پر باړخو یې د وینې دارې ښکاره شوې. یو بل نفر هم زما په لور راوالوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وویل"خبره څه ده؟" زما د سوال جواب يې رانه کړ. زما سره د پنجې نرمولو ته يې شيبې شميرلې، خپلې توپنچې ته مې لاس ورواوږد کړ.

"ته نه يې خبر چې افسر ته څوک لاس لا نه شي وروړلای؟"

يوه بل نفر د شا له خوا ونيولم او لاس يې په اوږه کې راوپيچئ. چې څنګه مې مخ راوګرځاوه يوه بل نفر تر غاړې ونيولم. ما هم ډېل ونه کړ، لمړی مې په لينګيو کې په لغته وواهه او بيا مې پښه په تشې کې ورکښېښوول.

د يو چا اواز مې تر غوږو شو "که زور وهې ډز پرې وکړئ".

"دا اوس تاسې څه کوی؟" نيت مې وکړ، چې په زوره نارې ووهم، خو له ستونې څخه مې اواز نه راوتی. زه يې هم د سړک ګوښې ته کړم.

يوه افسر وويل "که زور وهې ډز پرې وکړئ، ستونې ستخ يې پرې باسئ".

"تاسې څوک ياست؟"

"اوس به پوه شې".

"تاسې څوک ياست؟"

يوه افسر وويل "نظامې پوليس".

"ولې په سمه نه واياست؟ تاسې وار له مخه الوتکې راپسې راوليږلې".

جواب يې رانه کړ. اړتيا يې هم نه درلودل چې جواب راکړي. نظامي پوليس ول.

افسر وويل "دی هم له هغه نورو سره ودروئ. تاسې د ده خبرو ته متوجه شئ، په بېله لهجه خبرې کوي".

ما ورته وويل"ستا د ...."

لمړي افسر بيا وويل "له هغه نورو سره يې يو ځای کړئ". زه يې د افسرانو تر کرښې لاندې د هغو خلکو په لور رهي کړم چې د سيند له غاړې سره يې راټول کړي ول. د دوی پر لور ورروان وم، چې د ټوپک ډز مې واورېد. د مرمۍ د رڼا او ږغ پرته مې بل څه ونه ليدل. زه يې هم د دوی په ډله ورګډ کړم. څلور افسران يو ځای ولاړ ول. شاوخوا ټوپکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرې راچاپېره شوي ول. یوه بله ډله خلک، چې ټوپکوال پرې راچاپېره وه منتظر ولاړ وه. څلور نور ټوپکوال پر هغو افسرانو چې تحقیقات یې کول ماشه په لاس پیره وه. څلورو واړو افسرانو غټې خولۍ په سر کړې وې. هغو دوو نفرو چې زه یې راوستی وم، د ولاړو خلکو مېنځ ته یې ورټېله کړم. تر څو له ما هم تحقیقات وکړي. هغه سړي ته مې، چې اوس تحقیقات ځیني کېدل وکتل، پنډ او خړ وربېښتان یې ول. هماغه ډګرمن وو، چې له قطاره یې راایستلی وو. تحقیق کونکي افسران د هغو باکفایته، خونسرده او د امر خاوندانو له جملې څخه ول، چې ډزې یې کولې؛ خو ډزې نه پرې کېدې.

"د کومې لوا یاست؟"

وه هغه ته یې وویل.

"کوم غنډ؟"

بیا یې وه هغه ته وویل.

"له خپل غونډ څخه ولې رابېل شوي یاست؟"

هغه یې مخاطب کړ.

"ستا تراوسه په دې سر نه خلاصېږي، چې یو پوځي باید له خپلې ډلې بېل نه شي؟"

هغه پوځي په دې قانون پوهېده.

خبره خلاصه شول. یو بل افسر په خبرو شروع شو.

"ته او ستا په شان خلک وه، چې دې وحشیانو ته یې اجازه ورکړه، چې پر دې سپېڅلې مځکه خپل ناپاک قدمونه کېښېږدي".

ډګرمن وویل "بخښنه غواړم، تاسي څه وویل؟"

"ستاسي د بې سارې خیانت له امله موږ د برې میوه له لاسه ورکړل".

ډګرمن وپوښتل "تراوسه دي په یوه شاتګ کي برخه اخیستې؟"

"ایټالیا باید هیڅکله شاتګ ونه کړي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

د باران تر ځاځکو لاندې د دوی وه باندار ته غوږ وو. موږ او افسران مخ په مخ ولاړ وو. زندانیان له موږ نه لږ وړاندې ولاړ ول.

ډګرمن "که مو زما وژل هدف وي، د مهربانۍ له مخې له دې بېځایه پوښتنو تېر شئ او خپل کار مو په بېړه وکړئ. دا د وړوکو په څېر سوال و جواب پرېږدئ". د صلیب نښه یې پر ټټر وکښل. افسران په خپل مینځ کې سره وښیدل، یوه یې پر کاغذ باندې یو څه ولیکل.

ویې ویل "خپله ډله یې ترک کړې، باید وویشتل شي".

دوو ټوپکوالو ډګرمن تر باران لاندې د سیند غاړې ته رهي کړ. پوخ عمره وو. په لڅ سر له دوو ټوپکوالو سره رهي شو. د ده ویشتل مې ونه لیدل، خو د ډزو ږغ مې واورید. څنګه چې د ډګرمن کار خلاص شو، له یوه بل نفر نه یې تحقیقات پیل کړل. دغه افسر هم له خپلو پوځیانو رابېل شوی وو، خو بیچاره یې خبرو ته پرېنښود. د مرګ د حکم په اورېدو په ژړا شو. دی یې د ویشتلو لپاره بوت او له بل نفر څخه یې تحقیقات پیل کړل. د مخکنې پوښتل شوي کس د ویشتلو پر مهال، له یوه بل نفره پوښتنې ګروېږنې کول یې د ځان ژمنتیا ګڼل. له دې طریقې څخه دا واضح کېدل، چې دوی ته له وژلو پرته بل څه ورپاتې نه وه. زه دوه زړی شوم، چې تحقیقاتو ته منتظر شم او که د خلاصون یوه لار وسنجوم؟ د دوی په نزد دا یوه ښکاره حقیقت وو، چې زه په ایټالوۍ جامه کې یو جرمنی وم. پوهیدم چې د دوی دماغونه څه ډول کار کوي، که یې دماغ درلودای او که یې دماغ کار کولای. هغوی ټول ځوانان ول او خپل هیواد یې ساته. دوهم پوځ د ټګلیامنټو شاته د بیا راټولیدو او منظمیدو په حال کې وو. د رتبې په لحاظ له تورن څخه کښته ټول اشخاص، چې له پوځ څخه بېل شوي ول، د اعدام حکم پرې صادریده. په ایټالوۍ جامه کې د راغلو جرمنیانو کیسه یې په څو شېبو کې پایته رسول. د دوی فولادي خولۍ په سر وې. په موږ کې یوازې دوو نفرو فولادي خولۍ په سر کړې وې. ځینو ټوپکوالو هم په سرکړې وې. پاتې ټوپکوالو غټې خولۍ په سر کړې وې. دوی ته به موږ الوتکې ویل.

تر باران لاندې ولاړ وو، له موږ څخه یې یو یو بېلاوه، تحقیقات به یې ځینې کول او بیا به یې د ویشتلو حکم پرې کاوه. تراوسه چې یې له کومو کسانو څخه تحقیقات کړي ول، ټول د ټوپک په مرمۍ سوري شوي ول. تحقیق کونکي د هغه ډول انصاف او عدل لرونکي وه چې له مرګ سره یې نیغه اړیکه لرل کار وو او بېله دې، چې راتلونکو خطراتو ته پام وکړي، امر یې کاوه. د جبهې له یوه ډګرواله یې پوښتنې کولې. درې نفره نور یې هم راوستل او له موږ سره یې یو ځای کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"د ده غنډ چيري وو؟"

پر ټوپکوالو مي يو نظر وځغلاوه. نوي راغلي کسان يې په ځير تر څارني لاندي نيولي ول. پاتو ټوپکوالو بيا وه ډګروال ته کتل. زه يوناڅاپه خم شوم. د دو نفرو له منځه د سيند په لور په ځړيدلي سر په منډه شوم. د سيند پر ژۍ ودريدم او له يوه شړپ سره مي ځان اوبو ته وغورځاوه. اوبه ډيري يخي وې او تر څو چي طاقت مي کيده لاندي پاتي شوم. اوبو تاو راتاو کړم. په اوبو کي دومره پاتې شوم، ان فکر مي وکړ، چي نور به هيڅکله راپورته نه شم. يو ځلي راپورته شوم، ساه مي واخيستل او بيرته په بېړه اوبو کي غوټه شوم. له دومره زياتو جامو او بوټانو سره تر اوبو لاندي پاتېدل اسانه وه. کله چي دوهم ځلي راپورته شوم د سر له پاسه مي يوه لرګينه ټوټه وه. لاس مي وروغځاوه او راکش مي کړل. تخته مي د سر له پاسه ونيول او آن وه دې ته مي د کتلو هڅه هم ونه کړل. ما نه غوښتل چي د سيند غاړې ته وګورم. زما له ځغاستي او د لمړي ځل راپورته کيدو پر مهال شاوخوا د ډزو ږغونه ول.

چي کله مي سر راپورته کړ ډزې وې، خو اوس ډزې نه وې. د لرګي ټوټه په اوبو کي ځرخيدل البته په يوه لاس مي تکيه کړې وه. د سيند ژۍ ته مي وکتل داسي ښکاريدل چي په تيزی سره ځيني روان يم. د اوبو پر سر ښه ډير خس خاشاک راټول شوي وه. اوبه ډيري يخې وې. د اوبو له پاسه، چي خاشاک پرې راجمع شوي ول، روان وم. تخته مي په غبرګو لاسو نيولې وه او ځان مي دې ته ورسپارلی وو. د سيند ژۍ اوس نه ښکاريده.

## يوديرشم فصل

کله چي د اوبو جريان ورو وي، څوک نه پوهيږي، چي څومره وخت په اوبو کي پاتي شوی. ته به وايي چي ډېر وخت به دننه پاتي شوی يم، خو دومره وخت نه وي تېر شوی. اوبه يخې او سيلابي وې. د سيند له يوې څپې سره د اوبو له پاسه ټول خس و خاشاک ښه ليري ولاړل. زه نيکمرغه وم چي د ځان پرې تکيه کولو لپاره يوه غټه تخته په لاس راغلې وه. د يخو اوبو په مينځ کي وم. پر تخته مي زنه لګولې وه او په نرمۍ مي په دواړو لاسو تخته نيولې وه. پر دې بيريدم، چي ستړی نه شم؛ خو هيلمن وم چي ځان به تر ساحله پوري ورسوم. اوبو تختې ته يو اوږد څرخ ورکړ او ښه ډېر يې مخ ته بوتلم. د رڼا له خپريدا سره مي د ساحل پر غاړه، چي کوم خس او خاشاک وه، وليدل. بره خوا کي د خاشاکو يوه جزيره وه. اوس د ساحل پر لور روان وو. فکر مي وکړ، چي جامې او بوټونه به وباسم او ځان به تر ساحله په لامبو ورسوم، خو نيت مي بدل شو. د بل هيڅ شي فکر راسره نه وو، پرته له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې چي تر ساحله ځان ژر ورسوم. که چيري په لڅو پښو هوارې ته ختلی وای، امکان وو، چي ژوبل شم. ما بايد په يو ډول نه يو ډول ځان (ميسترې) ته رسولی وای.

د سيند غاړې ته مي وکتل، ورو ورو رانژدې کيدل. په همدې وخت کي اوبو لرګي ته څرخ ورکړ او ليري شوم، خو بيرته ژر ورنژدې شوو. د اوبو له پاسه کرار روان وو او د سيند غاړه هم وار په وار رانژدې کېدل. د سيند پر ژۍ باندي ولې ولاړې وې. تخته يو ځلي بيا وڅرخيدل، د سيند غاړې ته مي شا شول او پوه شوم، چي په ګرداب کي يم. يو وړوکی څرخ يې راکړ. دا ځلي چي مې د سيند غاړې ته وکتل، بيخي رانژدې شوي وه، ځکه مي نو په خپل وس، لاس و پښې وهل پيل کړل، خو هڅې مي بې ثمره پاتي شوې. وبيريدم چي له څرخک نه رابهر نه شم، په يوه لاس مي تخته ونيول پښې مي پرې راپورته کړې او وه تختې ته مي سيخي کړي. ځان مي په زوره د ساحل وه لور ته ورټيله کړ. زما له مسلسلو هڅو او لامبو وهلو باوجود اوبو زه پر خپله مخه پسي واخيستم. فکر مي وکړ چي د درنو بوټو له لاسه به غرق شم، خو لاسونه او پښې مي اخوا ديخوا وهل او مبارزې ته مي دوام ورکړ او په عين حال کي، چي کله مي ساحل ته وکتل، زه ورته د نژدې کيدو په حال کي وم. څومره چي مي وس کيده، هغومره په تيزی مي لامبو پيل کړل؛ څو چي ځان مي سيند تر ژۍ پوري ورساوه. لاسونه مي د ولې پر يوه راځړيدلې ښاخله پوري ټينګ کړل، خو دومره سپک راپکښې پاتې نه وو، چي وه وچې ته ورپورته شم. البته دومره پوهيدم، چي نور نو له خطرې خلاص شوم. د ډوبېدو بېره مي هغه وخت لا ليري شول، چي کله مي په لمړي ځل پر تخته لاس ټينګ کړ. د پرله پسې لامبو له امله مي سينې درد کاوه. دلته مي نو، پر ښاخلو لاسونه ونيول او د دمه کېدو په نيت تم شوم. په ځان کي له لږ سپک احساسولو سره مي ښاخله راکش کړل، لاسونه مي پرې نور هم ټينګ کړل او د ولې په مرسته باندي وه هوارې ته ورپورته شوم. نيمه روښنايي وه. د انسان ذات څرک نه وو. همدلته د سيند پر غاړه پرېوتم، د سيند د ياغي څپو شرهاري او باران ته غوږ شوم.

شيبه وروسته راپاڅيدم او د سيند پرغاړه روان شوم. پوهيدم چي تر لاتيسنا پوري د سيند له پاسه بل پل نشته. به ګمان اغلب اوس به د سان ويټو پر مخامخ وم. له ځانه سره مي وويل، بايد له دې زندان څخه د وتلو يوه لاره چاره وسنجوم. وړاندې يوه وياله وه چي سيند ته وربهيدل. همالته ورغلم. سيند ته تر غورځېدو وروسته مي د انسان ذات بوی لا نه و حس کړی. همالته د وښو په مينځ کي کښېناستم، بوټونه مي وکښل او له اوبو څخه مي وڅنډل. کوټ مي وکيښ، له جيبه مي لنده بټوه، اسناد او پيسې رابهرکړې او کوټ مي ونښتېځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پټلون مي هم ايسته کړ او ومي نښتيځه. بيا مي انګيا او لاندنی جامې وچې کړې. په لاسو مي بدن مالش کړ او بيا مي جامې واغوستې. خولۍ مي بې وفايي راسره کړې وه.

د کوټ له اغوستو وړاندې مي له لستونیو نه ستوري ايسته کړل او په جيب کې مي له پيسو سره کېښېښودل. پيسې مي که څه هم لندې وې، خو سلامتې وې. شمېر مي کړې، درې زره او څو ليرې وې. د جامو لوندواله مي پر بدن احساساوه. بدن ته مي بيا مالش ورکړ تر څو د وينې جريان پکښې روان پاتې شي. يو نخي نيکر مي هم اغوستی وو. زه ډاډه وم که چيرې روان وه اوسم له يخ نه به په امان يم. توپنچه يې همالته پر سړک رانه اخيستې وه او کمربند مي له کوټ نه لاندې تړلی وو. کوسۍ مي نه وه اغوستې، ځنګه چې به باران شو، يخ به هم حاضر شو. د سيند پر ژۍ وړاندې روان وم. ورځ روښانه وه او شاوخوا علاقه لنده، کښېناستلې او مړاوې ښکاريدل. شاوخوا کښتونه سپيره ښکاريدل. ښه ليرې، د يوې غونډۍ له پاسه مي يو څلی وليد. وه سړک ته راپورته شوم. لړ وړاندې پر سړک يو څو پوځيان راروان ول. له دوی څخه د پټېدو په خاطر د سړک يوې ډډې ته شوم. دوی تېر شول، خو زه يې ونه ليدم. د مشين ګنو په ټولۍ پورې مربوط ول، چې د سيند وه پاس خواته تلل. نور نو پر سړک د خپل مزله په لور رهي شوم.

په هماغه ورځ د وينيشن له هوارې نه تېر شوم. دا يوه کښته سيمه وه، په باران کې به نوره هم کښته کېدل. له درياب سره په خوا کې د وښو ډمونه او څو سړکونه غځېدلي ول. سړکونه ټول له رود سره اوږه پر اوږه تللي ول، چې دغه رود بيا وه درياب ته تويېده. له دې دښتو او باندو څخه د وتو يوازينی لار دا وه، چې زه بايد د ويالو پر ژۍ ژۍ وړاندې تللی وای او ځان مي تر هدفه رسولی وای. زه له شمال څخه د جنوب په لور پورېوتم. له ګنو وړوکو سړکونو، د اورګاډي له دوو پټليو او ښه مزل طی کولو نه وروسته د يوې بلې اورګاډي پټلۍ ته راووتم، چې له يوې زيمناکي ساحې سره په خوا کې تېره شوي وه. دغه عمومي پټلۍ له وينيس نه تر تريست پورې تللې وه. د پټلۍ دواړو اړخو ته محکمه پټم[24]، تر اوسپنيزي پټلۍ لاندې کلک بستر او له پاسه پرې د اورګاډي ډبله کرښه پرته وه. د کرښې د ساتنې پوسته له ما څخه لړ څه وړاندې وه، پر پيره ولاړ عسکر مي هم وليدل. د کرښې په هاغه بل اړخ کې يوه وياله وه، چې وه مرداب ته تويېدل او له پاسه پرې يو پل پروت وو. د همدې پله له پاسه هم يو پيره دار ولاړ وو او ما ليده. زه له دې کښت و کروندو څخه د شمال په لور پورېوتم چې پر پټلۍ باندې پر راروانې اورګاډي مي سترګې ولګېدې. سيمه هواره وه، ځکه نو اورګاډي تر ليرې ليرې پورې له کومې ستونزې پرته معلومېدل. زه له (پورتوګرارو) نه د

---

[24] Embankment پښتو کې پټم يا بند هغه ځای ته ويل کيږي، چې د اورګاډي پټلۍ يا هم سړک پرې سپور وي. ډبل اړخونه يې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوې بلې اورګاډي په تمه وم. پیره دار عسکر ته مې وکتل او له پټم سره داسې پریوتم، چې د پټلۍ دواړه اړخه مې تر نظر لاندې وه. د پله له پاسه ولاړ عسکر د پټلۍ هغه ځای ته، چې زه پروت وم رارهي شو؛ خو د لار په نیمایي کې بیرته وګرځېد او پله ته ولاړ. زه وږی تږی پروت وم او اورګاډي راتګ ته مې شیبې شمېرلې. په راروانې اورګاډي پسې دومره ډبې تړلې وې، چې په کشولو کشولو یې په لوکوموتیو[25] باندې ستمهاری کاوه. اورګاډي ته په ورختو کې مې کومه ستونزه نه لرل. د اورګاډي له رارسېدو مې نژدې امید ختلی وو، چې یو ناڅاپه مې پر راروانې اورګاډي سترګې ونښتې. لوکوموتیو نیغ زما لور ته راروان وو او ورو ورو نور هم رانژدې کیده. د پله له پاسه ولاړ پیره دار عسکر ته مې وکتل. د پټلۍ له هاغاړي سره نژدې د پله له پاسه یې ګزمه کول. بخت مې په دې هم یاري راسره کول، چې کله اورګاډي راورسېدل زما او د ده تر مینځ حایل شول او ده زه نه لیدم. لوکوموتیو چې ګڼې ډبې پرې تړلې وې، وار په وار رانژدې کیده. بیچاره خورا په تکلیف راروان وو. دلته مې بیا دا ډار په زړه کې راولوېد، چې کیدای شي په اورګاډه کې ساتونکي هم وي، ځکه مې نو د هغوی په لټه پسې سترګې ورغړولې، خو و مې نه لیدل. په هر حال لوکوموتیو تر ما پورې ځان راورساوه، ډبې په چغ و بغ وړاندې روانې وې. د اورګاډي انجنیر ته مې یې وکتل، تیر شو. زه له خپل سنګره راپاڅیدم او روانو ډبو ته ورنژدې شوم. البته که پیره دارانو له پټلۍ سره نژدې؛ ولاړ لیدلی وای، کیدای شوه، راباندې شکمن شوي وای. څو باربرې ډبې مې پرلپسې له مخې تېرې شوې. بیا مې یوه وړوکې ډبه چې دوی (ګنډولا) بلل او له پاسه ټاټ پرې هوار وو؛ مخې ته په تېریدو شوه. ګنډولا له نیمایې تیر شوې نه وه، چې ورټوپ مې کړل. پر دستګیر باندې مې لاسونه ټینګ کړل او ځان مې لوړ ورټیله کړ. د ګنډولا په منځ او د باربرې ډبو تر شا پر سینه باندې وڅکیدم. فکر نه کوم چې چا دې لیدلی وم. پر دستګیر مې لاس نیولی وو، خم شوم او د اتصال پرځای باندې مې پښې کښېښودې. موږ نو اوس تقریباً پله ته رانژدې شوي وو. د پله له پاسه ولاړ پیره دار مې تراوسه یاد دی، له پله نه د تیریدو پر مهال یې ما ته کتل. ځوان وو، غټه خولۍ یې پر سر وه. په یوه تحقیر امېزه نظر مې سترګې پرې وګنډلې، خو مخ یې رانه واړاوه. کیدای شي د ده په نظر زه د اورګاډي یو کارمند وم.

له ده راتېر شوو، ما چې ورته وکتل، په لړمانه کې څه نا څه ناارامه غوندې راته ښکاره شو او د اورګاډي پر نورو ډبو یې سترګې وګنډلې. ما له ده څخه مخ راوګرځاوه او ټاټ مې وکتل، چې څه ډول یې تړلی. څنډه یې په ګورمیټ باندې په رسۍ تړل شوي وه. له جېبه

---

[25] پر پټلۍ باندې هغه تلونکی موټر، ماشین او یا هم مخکنۍ ډبه ده چې د اورګاډي نورې شاتنۍ ډبې ورپسې کشیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مي چاړه راوایسته، رسۍ مي پرې کړل او لاس مي تر ټاټ لاندي کړ. تر ټاټ لاندي چې د باران له امله کلک شوی وو، لکي و بوکي موجودي وي. د اورګاډي پر مخکنیو ډبو مي یو سرسري نظر راتېر کړ، په مخکنیو ډبو کي د یوې باربري ډبې له پاسه یو ساتونکی ناست وو، خو هغه هم مخامخ کتل. ما دستګیرونه ایله کړل او تر ټاټ لاندي ورغړیدم. وچولی مي له کلکي اوسپنې سره ونښت، سخت یې خوږ کړم. ګړی وروسته مي د وینې تود جریان پر مخ حس کړ. خو له ځنډه پرته وڅکیدم او اوږد وغځیدم. بیا راوڅرخیدم او ټاټ مي په ځان پسي ټینګ وتاړه.

تر ټاټ لاندي له وسلو سره یو ځای پرېوتم. له دوی نه د تېلو او تازه ګریسو بوی راته. تر ټاټ لاندي غلی پروت وم. د باران څاڅکو او پر پټلۍ باندي د رواني اورګاډي کړپهاری مي اورېده. د ټاټ له سوریو څخه لږ لږ رڼا دننه راتله. زه پر خپل ځای بت غوندي پروت وم او وسلو ته مي کتل. هره یوه یې جلا جلا په پراشوټ کي تړلې وه. ممکن دغه وسلې له دریم لښکر نه رالیږل شوي وې. د وچولي ګړل شوې ناحیه وپړسېدل. تر هغو چې پر وچولي مي وینه پرنډېدل، غلی پروت وم. کله چې وینه کلکه شوه، په احتیاط مي د ژوبل ځای له شاوخوا ناحیې نه د وینې خورونه ایسته کړل. کومه خاصه خبره نه وه. د وچولي د پاکولو لپاره دستمال راسره نه وو، د ټاټ له سوریو نه اوبه څک څک راتویېدې. هغوی ته مي لاس ونیو او پر وچولي باندي وچه شوې وینه مي پرې پاکه کړل او وروسته مي د کوټ په لستوڼي، لوند ځای وچ کړ. ما نه غوښتل یو څوک راباندي شکمن شي. دماغ مي اشارې راته کولې، چې باید مسترې ته تر رسېدو وړاندي له اورګاډي کښته شم، ځکه د دې شونتیا وه چې د اورګاډي ساتونکي د وسلو په څار پسي دلته راشي. پوځ د هېرولو یا هم له لاسه ورکولو لپاره وسلې نه درلودې. معده مي یو مخ خالي وه.

## دوه دیر شم فصل

د موټر په مینځ کي تر ټاټ لاندي د وسلو په ګاونډ کي، لوند، یخ وهلی او سخت وږی پروت وم. په اخره کي ورغړیدم، پړمخي پریوتم او سر مي پر ځنګلو باندي کښېښود. ځنګون مي کلک، خو تر پخوا ښه وو. ولانتیني ډیر ښه عملیات کړي وه.

د شاتګ نیمایي لار مي په پښو طی کړې وه او د تګلیامنتو یو څه حصه مي د ده په پښه لامبو وهلي وه. ریښتیا هم، دا ځنګون د ډاکټر ولانتیني وو، خو هغه بل زما خپل وو. ډاکټران د ناروغ عملیات کوي، له هغه څخه وروسته بیا دا بدن د ده نه وي. سر او ګېډه زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله وه، خو په ګېډه کي د لوږې له لاسه طاقت نه کېده. داسي مي احساسول لکه معده، چي مي خپله پر سپېره ډاګ باندي خود بخوده څرخي. سر مي خپل وو، خو د کار نه وو. د فکر کولو لپاره نه، یوازي د یادولو،هغه هم زیات یادول نه.

د کاترین یادونه مي ذهن کي اخوا دېخوا کېدل، خو دا چي زما او د دې بیا ځلي ملاقات په شک کي وو، نو که مي د دې په اړه فکر کولای، لیونی کیدم. د هغې په اړه مي فکر نه کاوه. یوازي لږ غوندي فکر. یوازي د هغې په خاطر. ډېه ورو ورو له کړپهاري سره یو ځای وړاندي تلل. تر ټاټ لږ رڼا راتلل. د ډبې په کلک غولي کي پروت وم او زه چي له ډېر وخته اوږد غځیدلی وم، فکر مي نه کاوه، یوازي مي احساس کاوه. کالي مي لانده وه او د موټر غولی هم هرځلي ورو خوځیده. له دننه زړه تنګه او یوازي وم. د میرمنې پر ځای له سخت او کلک غولي او لندو جامو سره پروت وم.

نه د اورګاډي د ډبې پراخ غولی، نه په پراشوټ کي پېچل شوي وسلې، نه هم د غوړي شوي اوسپنې بوی او نه هم هغه ټاټ چي سوری وي او اوبه ځیني راڅاځي د چا په طبیعت لګیږي؛ خو بیا هم تر ټاټ لاندي له وسلو سره یو ځای، ښه خوند یې کاوه. خبره دلته دا وه چي زما مینه او علاقه له یوه داسي چا سره وه، چي دلته یې د موجودیت تصور لا نه شوای کیدای. اوس هرڅه روښانه او یخ ښکاریدل، خو دومره یخ هم نه لکه روښانه او خالي ګیډه. پر تشه ګېډه باندي پېرمخي پروت وم، سترګې مي رغړولې او وینې چي یوه پوځ میدان پرېښود او بل پوځ راوړاندي شو. خپل مال و سامان د هغه شاګرد په څېر داسي له لاسه ورکوې، چي د دوکان ټول هست و نیست یې په اور کي لولپه شي او جالبه لا دا چي دوکان بیمه شوی هم نه وي. نور اوبه له ورخه تېري دي هیڅ مسولیت یې ستا پر غاړه نشته. که له اورلګېدني وروسته شاګردان، په دې ګناه چي هغوی په یوه بېله لهجه باندي خبرې کولې وویشتل شي؛ بیا نو چي کله دوکان بیرته خلاص شي باید د دې شاګردانو د راتګ انتظار ونه شي، ځکه هغوی به په یو بل کار پیل کړي وي. هغه هم په هغه صورت کي که بل کار وي او پولیسو نیولي نه وي.

غصه او د مسؤلیت تعهد دواړه د سیند په اوبو کي پرېولل شوي ول. تعهد هغه وخت لا پایته رسیدلی وو، کله چي توپکوال زه ترغاړې ونیولم. نیت مي وکړ، چي اغوستی یونیفورم هم وکاږم، خو ما د یونیفورم وه ظاهر ته چنداني اهمیت نه ورکاوه. له لستونو مي هم ستوري ځکه ایسته کړل، چي څوک خندږ راته جوړ نه کړي. چنداني د ویاړ نښه هم نه وه. البته زه د هغوی مخالف نه وم. هرڅه یو سرګذشت وو. د دوی د نیکمرغۍ په هیله وم. د دوی په مینځ کي پاک زړي، دلاوره، ارام، غلي او احساس لرونکي خلک موجود ول، چي دوی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستحق وه؛ خو له جګړې سره زما اړیکه نوره پایته رسېدلي وه او زړه مي غوښتل چي دغه لعنتي اورګاډي ژر مستري ته ورسیږي، چي ډوډۍ وخورم او نور له فکر نه خلاص شم. باید بس کړي مي وای.

پیاني به ټولو ته ویلي وي، چي زه مړ شوی یم. زما ملګري و دوستان به د وژل شوو کسانو جیبونه پلټي، چي زما درک معلوم کړي؛ خو زما اسناد به هغوی ته په لاس ور نه شي. کیدای شي دوی فکر وکړي، چي زه په سیند کي غرق شوی یم. اندیښمن وم، چي په امریکا کي زما کورنۍ به زما په اړه څه اوریدلي وي. هغوی به دا فکر کاوه، چي زه د سختو ټپو او یا هم د یوه بل علت له امله وژل شوی یم. اوه، خدایه وږی یم. نه پوهیدم چي له پادري سره به په خوړنځای کي څه شوي وي. او رینالډي، هغه به ممکن په (پورډینون) کي وو؛ خو په دې شرط که یې نور شاتګ نه وو کړی. په هر حال، زه او دوی د تل لپاره سره بېل شوو. بیا به یو بل هیڅکله سره ونه وینو. د ژوند هغه پړاو نور پایته ورسېد. فکر نه کوم، چي رینالډي دي سفلس وو. ډاکترانو به ویل که یې پر وخت درملنه وشي، دومره د اندیښني وړ ناروغي نه ده. خو دی به هر وخت اندېښمن وو. که زه د ده پر ځای وای زه به هم اندېښمن وای. هر یو باید د خپل ځان په اړه فکرمند وه اوسي.

زه د فکر کولو لپاره نه وم پیدا شوی. زه د خوراک لپاره پیدا شوی وم. زما خدایه، هو. خوراک، څیښاک او له کاترین سره ناسته پاسته. نه دا ممکنه نه وه، خو سبا ماښام. موږ دواړه یو ځای، په هوټل کي، خوندور خواړه به وي او بیا به د بېلتون نوم و نښان لا نه وي. کیدای شي له ناچارۍ نه په بیړه ولاړ شو؛ خو دا ځلي به زه یوازي نه یم، دا به هم راسره مله وي. زه پوهیدم چي دا به هم ولاړه شي. خو څه وخت؟ پر دې خبره باید غور شوی وای. تیاره ورو ورو خپرېدل. زه د ډبې پر غولي باندي ارام پروت وم او په دې اړه مي فکرونه وهل، چي چیري به ځو او کوم ځای کي به اوسو؟ ځایونه بې شمېره ول.

درې دیرشم فصل

سهار له لمر راختو وړاندي، چي کله اورګاډي په میلان کي ورو شول، زه ځیني راوغورځېدم. له پټلۍ واوښتم او د دنګو تعمیراتو له منځه کوڅې ته ور ووتم. همالته یوه فعال کافي شاپ ته د ناشتې لپاره ورغلم. اوس لا ګهیځ وو. د کافي شاپ مخ یې جارو کړی وو او د راولاړ شوي ګرد او د قهوې بوی مي تر سږمو راورسېد. د دوکان څښتن د کاونټر شاته خزه وو. کافي شاپ کي دننه پر یوه مېز باندي دوه پوځیان ناست ول. کافي شاپ کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښېناستم کي؛ قهوه او يوه ګوله ډوډۍ مي وخوړل. قهوه په شيدو خړ رنګه شوې وه. په ګوله مي د قهوې پاسنی برخه راپورته کړل. دکاندار ته مي پام شو، په ځير ځير يې راکتل.

"يو ګيلاس ګراپا څيښې؟"

"نه. مننه".

"يو ګيلاس زما لپاره". يو وړوکی ګيلاس يې ډک کړ او زما لور ته يې راټېل واهه.

"په جبهه کي څه کيسې وې؟"

"د جبهې په اړه په هيڅ شي نه يم خبر".

"هغوی نشه دي". وه پوځيانو ته يې اشاره وکړل. باور پرې کيدای شوای. نشه ښکاريدل.

ده وويل "راته ووايه. په جبهه کي څه حالات دي؟"

"زه په ټکي لا نه يم خبر".

"له ديوال نه د راکښته کيدو پرمهال مي وليدلې. له اورګاډي نه راکښته شوې".

"ډير ستر شاتګ پيل شوی".

"زه اخبارونه لولم. څه پيښيږي؟ جګړه پايته رسيږي؟"

"فکر نه کوم".

له يوه وړوکي بوتل نه يې خپل ګيلاس ډک کړ.

بيا يې وويل "که په کومه ستونزه کي يې، زه دي مرسته کولای شم".

"مننه. تراوسه خو لا کومه ستونزه نشته".

"بيا هم که چيري په يوه ستونزه کي يې، همدلته پاتيدای شې".

"کوم ځای کي؟"

"په همدې بيلډينګ کي. ګڼ کسان همدلته اوسيږي. هرڅوک چي په ستونزه کي يې همدلته اوسي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ډېر خلک دي؟"

"دا نو بيا په ستونزه پوري اړه لري. ته د سهيلي امريکا يې؟"

"نه".

"په اسپانوي خبري کولای شې؟"

"لږ لږ".

پر کاونټر يې صافه راکش کړل.

"په اوسنيو شرايطو کي د هيواد پرېښوول له ربړو خالي نه دي؛ خو ناشوني هم نه ده".

"زه له هيواده د تيښتې هوډ نه لرم".

"ته هره وخته چي خوښه دي وي، همدلته پاتېدای شې. ما به هم وپيژنې، چي څنګه سړی يم؟"

"نن بايد ولاړ شم، خو د بيا راتلو په خاطر به ستاسي پته له ځان سره وساتم".

سر يې وښوراوه "که دي دا ډول خبرې کولې فکر نه کوم چي بيا دي راشې. ما فکر کاوه چي ته په کومه ستونزه کي يې".

"که څه هم زه په ستونزه کي نه يم، خو د يوه ملګري پته ياد ساتل ما ته ارزښت لري".

پر کاونټر مي د قهوې څښلو، په خاطر لس ليرې ورته کښېښودې.

ما ورته وويل "له ما سره يو ګيلاس ګراپا وڅښه".

"تشکر".

"فقط يو ګيلاس".

دوه ګيلاسه يې ډک کړل.

ده وويل "زما خبره ياد ساته، د دې ځای دروازه هر وخت ستا مخي ته خلاصه ده. نورو ته وخت مه ورکوه چي تا بوزي. دلته تا ته هيڅ مشکل او خنډ نشته".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“زه پر تا باور لرم”.

“باور لرې؟”

“هو”.

دی جدي وو. ”یوه مشوره درکوم. دغه کوټ چي تا اغوستی، له دې سره یوځای دباندي مه وزه”.

“ولي؟”

“د کوټ پر لستوڼي دي له ورایه معلومېږي چي ستوري ترې ایسته شوي. ټوکر یې بل ډول رنګ لري”.

ما څه ورته ونه ویل.

“که اسناد نه لرې، زه یې درکولای شم”.

“د څه شي اسناد؟”

“د رخصتۍ اسناد”.

“زه وه اسنادو ته هیڅ اړتیا نه لرم. زما سره خپل اسناد شته”.

ده وویل “ډېر ښه. خو که چیري وه اسنادو ته محتاج شوې، زه یې درکولای شم”.

“په څو دي؟”

“د هغوی پر نوعیت پوري اړه لري. قیمت یې مناسب دی”.

“في الحال خو اړتیا ورته نه لرم”.

اوږې یې پورته واچولې.

ما ورته وویل “د شیطان غوږونه دي کاڼه وي، تراوسه خو لا کومه ستونزه نشته”.

د وتلو په حال کي یې تر غوږ راتیره کړل “دا مه هیروه چي زه ستا ملګری یم”.

“نه”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده وویل "که ژوندي وو، بیا به سره وینو".

ما ورته وویل "له خیره".

بهر له تمځای نه چیري چي نظامي پولیس ولاړ ول، لیري ولاړم. د یوه وړوکي پارک وه څنګته مي یو ټکسي والا ته لاس ورکړ. وه موټړوان ته مي د روغتون پته وروښوول. په روغتون کي نیغ د چوپړوال کوټي ته ورغلم. میرمني یې چي څنګه ولیدم غیږ یې راباندي راتاو کړل. له خاوند سره مي یې ستړي مشي وکړل.

"تاسي پخیر راغلاست؟"

"هو. خیر دي په نصیب شه".

"ناشته دي کړي؟"

"هو".

میرمني یې له ما څخه وپوښتل "بریدمنه تاسي څنګه یاست؟ حالات څنګه دي؟"

"زه ښه یم".

"ناشته به په ګډه وکړو".

"نه، مننه. دارته وواياست چي مس بارکلي په روغتون کي ده؟"

"مس بارکلي؟"

"هغه بریتانوی نرسه".

میرمني یې وویل "هغه د ده میرمن". پر لاس یې وټکولم او راته مسکی شول.

چوپړوال "نه. هغه ولاړل".

سرسامه شوم "ریښتیا وایي؟ هغه قدبلنده او طلایي وریښتان لرونکي میرمن درته ښیم".

"زه ریښتیا وایم. هغه وه ستریسا ته ولاړل".

"څه وخت؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

"دوې ورځې وړاندې له يوې بلې بريتانوی سره ولاړل".

ما ورته وويل "ښه. له تاسي دواړو يوه غوښتنه لرم، انسان ذات ته لا ونه واياست، چي زه مو ليدلی يم. او دا خبره ښه سمه ياد ساتئ".

چوپړوال "موږ به هيڅ چا ته هيڅ ونه وايو". ده ته مي لس ليره يي نوټ ورکړ، خو بيرته يې راواپس کړ.

وې ويل "زه ژمنه درسره کوم چي وه هيچا ته به نه وايم. پيسې نه غواړم".

ميرمنې يې وپوښتل "ښاغلی بريدمنه، ستاسي څه ډول خدمت کولای شو؟"

ما ورته وويل "بس هماغه".

چوپړوال "موږ ګونګيان يو. واوره، ورور دي ستا لپاره سر ورکولو ته لا تيار دی".

ما ورته وويل "ژوندي اوسئ. د خدای په امان. که خدای کول بيا به له خيره سره ووينو".

تر دروازې يې بدرګه کړم، په دروازه کي ودرېدل او ما پسي يې کتل.

زه وه ټکسي ته ورپورته شوم او زما د ملګري، سيمونز پته مي ورکړل. دی مي هماغه ملګری؛ سيمونز وو، چي د سندرو په زده کړه بوخت وو.

سيمونز له ښاره ليري په پورټامګينټا کي هستېده. زه چي د ده کره ورغلم، دی لا د خوب په بستره کي وو او له سترګو يې ښکارېدل، چي خوب يې لا نه دی سر شوی.

سيمونز "زما له غرونو پناه ياره، بيخي وختي دي راوپاڅولم".

"زه په وختي اورګاډې کي راغلم".

"د غټې شاتګ اوازې دي. آ ښه دا بيا کوم کيسه ده؟ ته په جبهه کي وې؟ سګرېټ څکوې؟ د ميز پر سر په قوطی کي پراته دي". غټه خونه وه، له ديواله سره په خوا کي يو کټ، پاس يوه پيانو، ليري په يوه کونج کي يو شوکېز او يو ميز پروت وو. يوه چوکۍ مي راکش کړل له کټ سره مي نژدې کښېښوول او پرې کښېناستم. سيمونز پر بالښت څنګ واچاوه او سګرېټ يې بل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وویل "سیمه، وایي یار د یار لپاره خوري د غوایي غوښې. اوس په یوه مصیبت کي راګیر یم".

"زه هم. زه هم تل په ستونزو کي راګیر یم. سګرېټ نه څکوې؟"

ما ورته وویل "نه، وه سویزرلنډ ته څه ډول تلای شم؟"

"ته ځې؟ ایټالویان به تا له هیواده بهر پرېنږدي".

"هو پوهیږم. خو سویس، دوی به څه وکړي؟"

"که هغوی ته په لاس ورشې، زندان ته به دي ولیږي".

"پوهیږم. خو سویس ته څنګه تلای شم؟"

"ډیر اسانه. اصول یې ډیر اسانه دي. ته هرځای تلای شې. فکر کوم چي یوازي باید یو ریپورټ یا بل څه وکړي. ولي؟ له پولیسو تښتې؟"

"تراوسه لا معلومه نه ده".

"که دي خوښه نه وي، مه یې راته وایه؛ خو اوریدل به یې پر غوږو ښه ولګیږي. دلته هیڅ څه نه شي کولای. په پیاسینزا کي د مینه والو په راجلبولو کي پاتي راغلم".

"ډیر خواشینی شوم".

"اوه، له همدردۍ دي مننه.... که څه هم ما ښې سندرې وویلي، خو بیا هم کارونه خراب شول. په لایریکو کي یې یوځلي بیا امتحانوم".

"کاشکي همالته درسره تللای وای".

"ته ډیر مودب یې. صحت خو به دي ښه وي. که څنګه؟"

"نه پوهیږم".

"که نه غواړې مه راته وایه. له دي پدرلعنته جبهې څخه څنګه رالیري شوې؟"

"هوډ مي کړی، چي بیا به د جګړې او جبهې نوم په خوله لا نه اخلم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“شاباس. زه پوهیدم چي ته هوښیار يې. په هرحال زه کومه مرسته درسره کولای شم؟”

“ته خو بيخي ډېر بوخت ښکارې”.

“زما ګران انډيواله، محض امر کوه. زه به ډير خوشحاله شم چي ستا لپاره يو څه وکړم”.

“زما و ستا قد يو شان دی. ته به له خيره داسي وکړي، چي بازار ته به ولاړ شي او زما لپاره به يوه جوړه ملکي جامې وپيرې. زه جامې لرم، خو هغه په روم کي دي”.

“تا په روم کي ګذاره کړې؟ بيخي چټل ښار دی. هلته دي څنګه ګذاره کول؟”

“ما غوښتل له ځانه معمار جوړ کړم”.

“هغه ځای د دې لپاره نه دی. جامې مه رانيسه، زه به ستا تر بسه کالي درکړم. زه به دي په جامو داسي پټ کړم چي خپله به وايې شپاړس. کالو اغوستلو کوټې ته ولاړ شه؛ هلته يوه الماریَ ده، هرڅه چي دي پر زړه ولګيدل ځيني راويې خله. زما ګران ملګرې د جامو وه رانيولو ته هيڅ اړتيا نه لرې”.

“سيمه، زه وايم که يې وپيرم ښه به وي”.

“زما ګران ملګرې، زما لپاره د بازار تر تګ دا اسانه ده چي زه خپلي جامې درکړم. پاسپورټ درسره شته؟ بيله پاسپورټه به ولاړ نه شې”.

“هو، پاسپورټ اوس هم راسره شته”.

“نو بيا زما خوږ ملګرې، ورشه ځان تيار کړه او سويس ته له خيره ولاړ شه”.

“سويس ته تګ دومره اسان هم نه دی لکه ته چي وايې. لمړی بايد ستريسا ته ولاړ شم”.

“سويس ته تګ نو څه زور غواړي؟ په کښتيَ کي سپور شه او په پارو وهلو وهلو ولاړ شه. که زه وزګار وای، زه هم درسره تلم. په هرصورت، زه بيا وروسته درپسي درځم”.

“نارې وهلای شې؟”

“زما ګران ملګرې، نارې هم وهلای شم او زما دا خبره د زړه له تله ومنه، زه ريښتيا هم سندرې ويلای شم. هغه يوه جلا برخه ده”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

”زه سل په سلو کي او په ډاډ سره ویلای شم، ته یو ښه سندرغاړی یې“.

سګرېټ په لاس بیرته پر کټ اوږد اوږد وغځېد.

”که څه هم زه سندرې ویلای شم، خو له حده زیات پر ځان باوري کېدل هم ښه نه دي. سندرې هم هر څوک نه شي ویلای، خو هغه کوم چي سر و لای یې ورسره برابر کړم. سندرې ویل مي خوښیږي. غوږ شه“. په غړمبیدو یې پیل وکړ.”افریکانا...“ غاړه یې د ډېر زوره له لاسه سره شول او رګونه یې وپړسېدل. بیا یې وویل ”سندرې ویلای شم. نور نو که د هغوی خوښیږي که نه“. ما له کړکۍ نه بهر وکتل ”زه به لاندي ورشم او ټکسي والا به رخصت کړم“.

”زما خوږ انډیواله بیرته ژر راشه. ناشته به یوځای وکړو“. له کټ نه راکوز شو. سیخ ودرید، یوه ژوره ساه یې واخیستل او په تمرین یې پیل وکړ. زه کښته ولاړم او ټکسي والا ته مي د هغه کرایه ورکړل.

## څلور دیرشم فصل

په شخصي جامو کي ځان بیخي بل ډول راته ښکاره شو. له ډېره وخته مي نظامي جامې اغوستې، اوس مي عادت ورسره نیولی وو او که ریښتیا شي، اوس د دې نورو جامو رنګ لا رانه هیر شوی وو. پتلون راباندي غټ وو. په میلان کي مي د ستریسا ټکټ واخیست. یوه نوې خولۍ مي رانیول. د سپږ خولۍ مي پر سر نه سمیدل، خو جامې یې ښکلې وې او د تمباکو بوی هم ځیني راولاړیده. څنګه چي په اورګاډې کي کښېناستم، په کړکۍ کي مي دباندي وکتل، خولۍ ته مي پام شو، هغه نوې وه، خو جامې زړې وې. ځان مي د لمپارډ د باران وهلي مځکي په څېر چي د اورګاډي تر کړکۍ دباندي ښکاریدل خفه احساساوه. زموږ په ډبه کي څو پیلوټان هم راسره ول، خو ما ته یې چنداني پام د اهمیت په نظر نه کتل. هغه یې کول، چي ما ته ونه ګوري. ځکه زما په عمر نفر یې په ملکي جامه کي خورا حقیر ګاڼه؛ خو خپله مي ځان سپک نه احساساوه. که پخواني وختونه وای، کیدای شوای دوی مي سپک کړي او جګړه مي ورسره کړي وای. پیلوټان په ګالاریټ کي پلې شول، د دوی په پلې کیدو خوشاله شوم. اخبارونه راسره ول، خو ما ځکه نه ویل چي نه مي غوښتل د جګړې په اړه کوم څه ولولم. غوښتل مي، جګړه هیره کړم. ځانته مي د سولې یوه بېله نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړه کړې وه. ځان مې ډېر يوازې احساساوه. څنګه چې اورګاډې سټرېسا ته ورسيدل، د ارامۍ ساه راپکښې وچلېدل.

په تمځای کې يو ګړی ودريدم او منتظر وم، چې د هوټل کوم خادم يا چوپړوال به راشي، خو څوک رانغلل. ډېر وخت يې کيده چې موسم يې تېر شوی وو، نو ځکه د مسافرو ښه راغلي ته هم څوک نه راوتل. له خپلې غوټې سره چې سپم راکړې وه له اورګاډي نه پلی شوم. ډېره سپکه وه، د دوو جامو پرته بل څه پکښې نه وه. زه له باران نه نهام تر سايوان لاندې ودريدم. اورګاډي پخپله مخه ولاړل. همالته په تمځای کې مې له يوه نفر نه د فعالو هوټلو په اړه وپوښتل. (ګراند)،(ديس اسلز بورروميز) او څو نور وړوکي هوټلونه چې ټول کال خلاص وي، فعال ول. په باران کې د اسلز بورروميز په لور روان  شوم. په لار کې له يوې بګۍ سره مخ شوم، چلونکي ته مې يې لاس ورکړ. فکر مې وکړ، چې که هوټل ته په بګۍ کې ورشم ښه به وي. بګۍ د يوه غټ هوټل په دخولي دروازه ورننوتل. خادم سايوان په لاس زموږ. هرکلي ته راودانګل.

يوه ښه کوټه مې ونيول. ډېره لويه، روښانه او د سيند پر مخ وه. د سيند له پاسه غونډۍ غونډۍ وريځ ګرځېدې، چې ښکلا يې بيا د غروب پر مهال دوه برابره کيدل. هوټل والاو ته مې وويل چې ميرمن مې هم راسره ده. په کوټه کې يو لوی کټ چې له پاسه پرې ساټنې روجايي هواره وه، پروت وو. ډېر عصري هوټل وو. تر اوږده دهليز تېر شوم، پر پراخو زينو کښته شوم او د کوټو له لارې مې ځان تر باره ورساوه. مشر ساقي مې شناخته وخوت. پر يوه غټه چوکۍ ورته کښېناستم، مالګه وهلي بادام او چيپس مې نوش جان کړل. مارټيني ډېر ښه او مزه دار وه.

ساقي د دوهم ځلي د مارټيني له ګډولو وروسته وپوښتل "تاسي دلته څه کوی؟"

"په رخصتۍ راغلی یم. د صحت موندلو رخصتي".

"دلته هيڅوک نشته. زه نه پوهيږم چې دوی هوټل ولي فعاله ساتلی".

"د ماهيانو په نيولو پسي نه يې وتلی؟"

"څو ډوله ښکلي ماهيان مې نيولي. هرڅوک چې د کال په دې موسم کې د ماهيانو په مېله وځي، ډېر ښکلي ډولونه په لاس ورځي".

"هغه زما راليږلي تمباکو درته راورسيدل؟"

"هو، هغه زما کارډ تا ته در ونه رسيد؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وخندل. زه د تمباکو په پيداکولو ونه توانيدم. ده پيپ والا امريکايي تمباکو غوښتل، خو هغه له دې امله هيڅکله زموږ تر ګوتو را ونه رسيدل چي يا خو زما کورنۍ له ځان سره ايښي وه يا خو هم ضبط شوي وه.

ما ورته وويل "زه به يې له يوه ځای نه درته راوړم. خير، ته اوس ما ته دا ووايه چي په ښار کي دي دوې بريتانوۍ نجوني ليدلي؟ پرون نه وړمه ورځ راغلي دي".

"په هوټل کي نشته".

"هغوی نرسانې دي".

"دوې نرساني مي ليدلي، ته صبر وکړه، زه يې ولټوم چي چيري دي".

ما ورته وويل "يوه يې زما ميرمن ده. زه يې ليدو ته راغلی يم".

"هغه بله يې بيا زما ميرمن ده".

"زه ټوکې نه کوم".

ده وويل "بخښنه غواړم. پوه نه شوم". پاڅيد او ښه شيبه غايب وو. ما زيتون، مالګه وهلي بادام او چپس وخوړل. د بار وه شاته په راځوړند هنداره کي مي خپل ځان په ملکي جامه کي وليد. ساقي بيرته راستون شو."له تمځای سره نژدې، په يوه وړوکي هوټل کي دي".

"ساندويچ شته؟"

"زه به زنګ ووهم چي رايې وړي. ته به هم معلومات لرې، په ښار کي اوس ډير کم خلک شته. اوس په سل کيلومترۍ کي هم څوک نه تر سترګو کيږي".

"ريښتيا هم څوک نشته؟"

"ريښتيا وايم. که وي هم، شمېر يې ډير لږ دی".

ساندويچونه هم راورسيدل، درې داني مي له څو ګيلاسه مارتيني سره يوځای چټ وهل. دغه ډول خوندور خواړه مي تراوسه نه وه خوړلي. له دې وړاندي مي ښه ډير شراب، ډوډۍ، پنير، بدخونده قهوه او ګراپا څيښلي وه. د ښکلي شيشم ونې او په ژيړو کي د نيول

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي هنداريې پر مخامخ د کوم فکر او اندیښنې پرته ناست وم. ساقي یو څو سوالونه راباندي عطا کړل.

ما ورته وویل "د جګړې په اړه بحث مه کوه". جګړه له ما نه ډیره لیري وه. کیدای شوه جګړه ګرد سره وه نه. البته دلته اوس جګړه نه وه. بیا مي ځانته قناعت ورکړ چي جګړه یوازي زما لپاره پایته رسیدلې. په سلو رګو کي مي یوه رګ لا نه ویل، چي جګړه دي ختمه شي. زما حالت د هغه زده کونکي په څیر وو، چي له ښوونځۍ نه تللی وي، خو بیا هم په دې فکر کي وي چي اوس به په ښوونځۍ کي څه روان وي؟

هوټل ته چي ورغلم کاترین او فرګوسن ماښامنۍ ډوډۍ خوړل. له دهلېز نه مي د دوی میز تر سترګو شو. د کاترین څیره مي سمه نه شوای صحیح کولای. خو د وریښتانو لیکې، ښکلې څیره، اوږې او غاړه مي یې ولیدل. فرګوسن خبري کولې. څنګه چي یې زه ولیدم، باندار یې بس کړ.

دې وویل "اوه، زما خدایه! ته او دا ځای!"

سلام مي ادا کړ "سلام".

کاترین "دا تاسي یاست!" څیره یې وغوړیدل. له خوښۍ نه یې هیڅ باور نه کیده. ښکل شول. کاترین شرم غړانده شول او پر چوکۍ باندي ننوتلې غوندي کښېناستل.

فرګوسن "ته هم له کوم سرخوږي نه کم نه یې. دلته څه کوې؟ ډوډۍ دي خوړلې؟"

"نه". د هوټل خادمې ته مي، چي پر میزو یې غابونه یې ایښوول، د خوړو د راوړلو وویل. کاترین له ما څخه ګردسره سترګې نه اړولې.

فرګوسن "په دې ملکي جامو کي دلته څه کوې؟"

"د کابینې غړی شوم".

"فکر کوم بیا دي له ځان سره کوم سرخوږی راوړی".

"وخانده فرګي. په ژوند کي خوشالي ته هم یو څه ځای ورکړه".

"زه، چي تا وینم، زما څخه خندا هېره شي. زه پوهیږم چي دغه نجلی تا د ستونزو په دم کي غورځولې. زما له تا نه کرکه کیږي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاترین راته مسکۍ شول او تر میز لاندي يې په پښه وښورولم.

کاترین "فرګي، زه هیڅا په ستونزو کي نه یم اچولي، ما خپل ځان په خپله په ستونزو کي غورځولی."

فرګوسن "زه نور دی نه شم زغملای. ده پخپلو ایټالوي چلوټو ستا د تباه کولو پرته بل څه کړي؟ امریکایان تر ایټالویانو ډیر ناوړه دي".

کاترین "سکاټلنډیان ډیر مهذب دي".

"زما موخه هغه نه ده. زما هدف د ده ایټالوي پست فطرتي ده".

"فرګي، زه پست فطرته یم؟"

"هو ته يې. ته تر پست فطرته لا ورهاخوا يې. ته د مار په څېر يې. په ایټالوی جامه کي يو مار او له پاسه پرې کوسۍ".

"نور مي ایټالوی یونیفورم هم په تن نه دی".

"همدا دي د پست فطرتۍ یوه بله نښه ده. ټوله دوبی دي د مینې تارونه ورسره غځولي وو، حامله دي کړل او اوس فکر کوم، چي پر سپیره ډاګ به يې پرېږدې".

زه وه کاترین او کاترین وه ما ته مسکۍ شول.

کاترین "موږ دواړه به ولاړ شو".

فرګوسن "تاسي دواړه یو شان یاست. کاترین بارکلي، زه په تا شرمیږم. ته هیڅ شرم و حیا نه لرې. ته هم د ده په شان ذلیله يې".

کاترین ورو د دې پر لاس لاس ورکښېښود. "فرګي، داسي مه وایه. پر ما تهمت مه وایه. ته پوهیږې، چي موږ یوه له بل سره مینه لرو".

فرګوسن "لاس دي ایسته کړه". څیره يې سره واوښته."که تا شرم درلودای اوس به حالات بل ډول وای. خو اوس خدای خبر څومره وخت کیږي چي حامله ګرځې او دا هرڅه تا ته ټوکې ښکاري. تاسي وه دې ته خوښ یاست چي یو بل غولونکی راځې. تاسي هیڅ شرم او حیا نه لرئ". په ژړا يې پیل وکړ. کاترین ورنژدې شول او لاسونه يې پرې راچاپیره کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي دا د فرګوسن د دلاسايي لپاره ورپاڅېدل، په هیکل کي مي يې کوم توپير تر سترګو نه شو.

فرګوسن په سلګيو کي وويل "زما يې په څه، نتيجه که يې ښه وي که بده هر څه به ستاسي په برخه کيږي".

کاترين دا دلاسا کړل "سمه ده، سمه ده. فرګي زه شرم کوم. فرګي مه ژاړه، مه ژاړه زما ګراني فرګي".

فرګوسن بيا په سلګيو کي وويل "زه نه ژاړم. زه نه ژاړم، زما ژړا يوازي ستاسي پر دې ناوړه حالت ده". ما ته يې وکتل او ويې ويل "له تا مي نفرت کيږي. دا نه شي کولای ما ستا څخه د نفرته راوګرځوي. بي غيرته امريکايي ايټالويه". له ژړا سره يې پزه او سترګې سرې شوي وې.

کاترين ما ته مسکی شول.

"پر ما لاس چاپيره، وه ده ته مه خانده".

"فرګي، ته بيخي بې منطقه خبرې کوي".

فرګوسن په داسي حال کي چي سلګۍ يې وهلې وويل "پوهيږم. تاسي بايد له ما څخه خفه نه شئ. زه ګنګسه يم. دليل و منطق نه لرم. ما ته معلوميږي. زه ستاسي دواړو ښېګڼه غواړم"

کاترين "موږ دواړه يو له بله راضي يو. فرګي، ته ډيره ښه يې".

فرګوسن بيا په ژړا ژړا کي وويل "زه په دغه ډول رضايت خوښه نه يم. تاسي واده ولي نه کوئ؟ بله ښځه خو به دي نه وي کړې؟"

ما ورته وويل "نه". کاترين وخندل.

فرګوسن "دا د خندا خبره نه ده. ډېر خلک شته، چي څو څو ميرمنې لري".

کاترين "که ته په دې خوشاليږي، موږ به همدا اوس واده وکړو".

"زما د خوښۍ لپاره نه، بلکي د خپلو ځانو په خاطر".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"موږ له ډيره وخت مصروفه وو".

"هو، پوهيږم. مصروفيت اولادونه هم زيږوي". فکر مي وکړ چي بيا به په ژړا شي، خو پر ځای يې ترخې پيل کړې "نن شپه هم غواړې، له ده سره ولاړه شې؟"

کاترين "هو، که د ده خوښه وي".

"نو بيا زه؟"

"ته له يوازيتوب نه ډاريږې؟"

"هو".

"نو بيا به زه له تا سره پاتې شم".

"نه، له ده سره همدا اوس ولاړه شه. زه ستاسو دواړو له ديدن نه مړه شوې يم".

"لمړی به ډوډۍ وخورو بيا به ولاړ شو".

"نه. همدا اوس".

"فرګي، په هوښ کې شه".

"زه وايم همدا اوس ولاړ شئ. دواړه ولاړ شئ".

ما ورته وويل "نو بيا درځه". زه هم له فرګي څخه موړ شوی وم.

فرګوسن بيا موږ مخاطب کړو "تاسي غواړی، چي ولاړ شی. ورته وګوره، ډوډۍ لا نه راسره خورئ. ما تل غوښتل چي د ايټالوي جهيلونو سيل وکړم، خو اوس حالت دا ډول دی. اوه، اوه". په سلګی شول، بيا يې وه کاترين ته وکتل او ټوخی يې وکړ.

کاترين "موږ تر ډوډۍ خوړلو وروسته هم پاتيږو او که چيري ته غواړې له هغه نه وروسته به هم تا يوازي پريږدو. فرګي، زه به تا يوازي پريږدم".

"نه. نه. تاسي ولاړ شئ. زه ستاسي په تګ راضي يم". سترګې يې پاکې کړې"زه ډيره بي عقله يم، لطفاً له ما مه خفه کيږئ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې نجلۍ، چې خواړه یې ایښوول، له دې ژړا څخه متاثره شوې وه، اوس چې بیا ځلې راغلل او ویې لیدل، چې حالات عادي شوي نو د ارامۍ ساه یې واخیستل.

هماغه شپه په هوټل کې په خپله کوټه کې وو. دهلېز لوی، خو خالي وو. زموږ بوټونه بهر له دروازې سره پراته ول. د کوټې په غولي کې یو نری کارپیټ هوار شوی وو. له کړکۍ نه مې دباندې وکتل، باران ورېده. خونه روښانه، ښکلې او زړه وړونکې وه او بیا چې کله، څراغونه ګل شول ښایستو روجایانو او ښکلي کټ بېخي بېل ډول ښکارېد. داسې لکه خپل کور ته چې راغلي یو. نور نو د یوازیوالي احساس زموږ له زړونو نه کډه کړې وه. د شپې چې به په موږ دوو کې هر یو راویښ شو، یو بل مو نژدې موندل او لیدل مو چې څوک چیرې نه دی تللی. له ټولې نړۍ رابېل وو او په خپله نړۍ کې ګرځېدو. له سترګو سره بیدیدو او کله چې به یو راپاڅید؛ هغه بل به هم راپاڅید او زړه ته مو دومره وخت نه ورکاوه، چې د یوازیتوب احساس وکړي. ځیني وختونه نارینه غواړي چې یوازې وه اوسي او نجلۍ هم غواړې یوازې وه اوسي، خو که یوله بل سره مینه ولري په دې اړه یو له بل سره حسد کوي، خو زه په ډاډ سره ویلای شم چې زموږ په برخه کې داسې نه وه. کله چې به یو له بل سره وو د یوازیوالي احساس به مو کاوه. د نورو په وړاندې یوازیوالی. یوازې یوځلي دغه ډول حالت پر ما راغلی. ما له ډېرو ښځو سره د یوازیوالي احساس کړی، خو موږ چې به هر کله یوځای وو، هیڅکله یوازې او ترهېدلي نه وو. زه پوهېږم چې ورځ د شپې په څېر نه وي. هرڅه توپیر کوي او په ورته وخت کې شپنې موضوعات په ورځ کې نه شي بیانیدلای، ځکه هغه مسایل نور وجود نه لري او شپه ممکن د هغه چا لپاره کوم چې یوازیوالی یې پیل شوی وي، ډېره دردونکې وي. خو کله چې به له کاترین سره وم وضعیت هیڅ توپیر نه درلود، لا چې تر پخوا به ښه وم. که خلک نړۍ ته بېشانه زړه ورتوب راوړي، نړۍ هغوی له پښو غورځوي. هغوی وژني. بیا نو طبیعي ده چې محوه کیږي. نړۍ ټول له پښو غورځوي، خو ځیني بیا هم پر خپل ځای ولاړ وي، خو که له پښو ونه غورځي، بیا یې وژني. د نړۍ ډېر ښه ښاغلي او زړور خلک یو شان وژني. که له دې ډول خلکو څخه نه یې نو یقین وکړه چې وژني دې؛ البته په دې اړه به کومه خاصه بیړه نه وي.

یاد مې دي، په هماغه سهار، کله چې راپاڅیدم کاترین بیده وه. لمر راختلی وو او وړانګې یې د کړکیو له لارې کوټې ته راتلې. باران دریدلی وو. له کټه راکوز شوم او د کړکۍ خوا ته ورتېر شوم. لاندې باغونه ښکاریدل. ونې که څه هم، اوس سپېرې ښکاریدې خو د هغوی ښه ترتیب یې ښکلا ساتلې وه. فرش شوې لار، ونې، له جهیل سره په څنګ کې ډبرین دیوال او پر سیند باندې د لمر ژړې وړانګې؛ بیخي ښه خوند یې کاوه. د سیند په هاغاړه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرونه ښکاریدل. ګړی همدلته ولاړ وم او یوه شیبه مې د دباندې منظره وکړل. بیرته راتېر شوم، کټ ته چې راغلم کاترین راویښه شوې وه او ما ته یې کتل.

“ګرانه څنګه یې؟ ورځ څنګه ده؟”

”ته څنګه یې؟”

“زه بیخي ښه یم. ښکلې شپه وه”.

“ناشته کوې؟”

مونږ دواړه وږي وو. د نومبر د لمر وړانګې له کړکۍ څخه راتلې، د ناشتې پتنوس لاندې پروت وو.

کاترین “اخبارونه نه لولې؟ په روغتون کې خو دې هروخت لوستل”.

“نه. اوس مې علاقه ورسره نشته”.

“یعنې جګړه دې دومره بده ایسي، چې په اخبارو کې دې هم نه خوښیږي؟”

“نور نه غواړم د جګړې خبرونه ولولم”.

“کاشکې زه هم د جګړې په ډګر کې درسره وای، اوس به زه هم په هر څه خبره وای”.

“پروا نه لري. که مې تیري شوې کیسې ذهن ته راغلې، بیا یې درته وایم”.

“ که یې ته په دې ملکي جامه کې ونیولې، زنداني ته دې اچوي؟”

“کیدای شي سیده ډزې راباندې وکړي”.

”نوبیا دلته نه پاتېږو. له دغه هیواده باید وزو”.

“ زما هم همدا نظر دی”.

“له هیواده وزو. خو تر څو چې په دې هیواد کې یو، باید ډیر احتیاط وکړو. ښه داراته ووایه، له مسترې نه میلان ته څنګه راغلې؟”

“په اورګاډي کې راغلم. هغه مهال په پوځي جامه کې وم”.

“نو هغه وخت په خطره کې نه وې؟”

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ډیر نه. ځکه ما د تګ یو زوړ امر درلود. تاریخ مي په میسترۍ کي ورتبدیل کړی وو".

"ګرانه، هره شیبه د دي امکان شته چي تا ګرفتار کړي او زه دا هرڅه نه غواړم. د احتیاط په خاطر باید اوس سترګې څلور کړي. ښه ته داراته ووایه  که یې ونیولې، څه به کوو؟"

"دغه بحث به پریږدو. زه نور تر پزې ځیني راغلی یم".

 "که دوی ستا د نیولو لپاره دلته درپسي راشي، بیا څه کوې؟"

"ډزې وربانديږ کوم".

"ورته وګوره، بیخي بې منطقه. تر څو چي په دې هیواد او دغه ښار کي یو، ته به له هوټله ګردسره نه وزي".

"کوم هیواد دي له خیره په نظر کي دی؟"

"اوه، زما مجنونه دغه ډول خبرې مه کوه. هر ځای چي ستا خوښ وو، همالته ځو، خو اوس سمدستي یو ځای وټاکه".

"له سینده ورهاخوا سویس دی، همالته به ولاړ شو".

"سویس ډیر ښکلی ځای دی".

پر اسمان بیا ورځي اخوا دیخوا کیدې او پر جهیل خو اوس لا تیاره وه.

ما ورته وویل "کاشکی مو د مجرمینو په څېر ژوند نه کولای".

"ګرانه، دا ډول خبرې مه کوه. ستا ډیر وخت نه کیږی چي ده یوه تورن په حیث اوسې. بل دا چي موږ به هیڅکله د مجرمینو په څېر ژوند ونه کړو، موږ د څپل ښه ژوند په لور د سفر په نیمایي کي یو".

"ځان د یو مجرم په څیر احساسوم. له پوځه تښتیدلی یم".

"ګرانه منطقي اوسه. دا له پوځه تیښته نه ده، دا یوازي ایټالوی پوځ دی".

ما ورته وخندل "ته ډیره پاک زړه یې. ځای ته راشه هلته زه د راحت احساس کوم".

شیبه وروسته کاترین وویل "ته خو به ځان یو مجرم نه احساسوې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

"نه، کله چي له تاسره يم دا ډول احساس نه کوم".

"ته هم عجبه يې. خو ته به زما تر ځار لاندې يې. ښه ګرانه داراته وو ايه دا بيخي عجبه نه ده، زه سهارنی مريضي[26] نه لرم".

"ريښتيا هم. بيخي عجبه ده".

"ته بايد په ما غوندې، يوې ښې ميرمنې وويارې، خو کومه خبره نه ده. زه به تا ستا د دښمنانو له ګرفت څخه ډير ليري بوزم. همالته به يو ښکلی ژوند ولرو".

"درځه همدا اوس به ولاړ شو".

"له خيره ولاړ به شو، صبر وکړه. ټولو هغو ځايونو ته به ولاړ شو، چي ستا خوښ وي".

"راځه، د دې غمګينې نړۍ له غمو سره به د يو ګړي لپاره مخه ښه وکړو".

"سمه ده".

## پنځه ديرشم فصل

کاترين د سيند پر غاړه وه وړوکي هوټل ته د فرګوسن ليدو ته ولاړل. زه ساقې خانې ته ولاړم او هلته مې اخبارونه وويل. کافي شاپ کي ښکلي او پستې چرمي چوکۍ پرتې وي، همالته پر يوه باندی کښينستم او ساقي ته منتظر شوم. پوځ په تګليامنيتو[27] کي تر ډيره مقاومت ونه شوای کړای. (پياو) ته يې شا تګ راکړی وو. پياو مي څه نا څه په ياد وو. د جبهې اورګاډي له دغه ښار سره نژدې په سان ډونا کي تيريده. د اورګاډي پټلۍ په هغه ځای کي ګړنګ وزمه او بر يې تنګ وو. تر پټلۍ کښته په ويالو کي د غوماشو د لښکرو حساب نه وو. ځيني ښکلي مانۍ هم وې. يو وخت د جنګ ترمخه چي وه کورټ ډې امپيزا ته تلم څو ساعته مو د غونډيو په لمن کي مزل وکړ. پاس د اوبو جريان داسې ښکاريد لکه د ماهيګر جال. په کم عمقه ساحه، د صخرو په مينځ او سايه کي اوبه ډيري ورو تلې. سړک په کادور کي ترې تاويده. زه حيران دې ته وم، چي پاس په غره کي پوځيان به لاندي څه ډول راتا کيږي. په همدې فکرې نړۍ کی ګرځيدم چي ساقې راننوت.

[26] په حامله ښځو کي د استفراق او ګنګسيت ناروغي ته وايي.
[27] تګليامينتو او پياو ده ايټاليا ښارونه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساقي راته وويل "کانت ګريفي ستا پوښتنه کول".

"چا؟"

"کانت ګريفی. هماغه سپين ږيری سړی. هغه تير ځل چي ته راغلی وې او بانډار مو سره وکړ".

"آ، هاغه. هغه تراوسه لا ژوندی دی؟"

"هو. دا ځلي له خپل ورارہ سره راغلی. ما ستا له راتګه خبر کړ. غوښتل يې چي له تا سره بيليارډ لوبه وکړي".

"چيرې دی؟"

"هغه اوس قدم وهلو لپاره تللی".

"اوس څنګه دی؟"

"ډير نه دی زوړ شوی، البته نور هم ځوان شوی، برايي شپه يې تر ماښامنی مخکې درې بوتله چامپنه[28] وڅيښل".

"د هغه د بيليارډ لوبه څنګه ده؟"

"بيخي عجبه لوبه کوي. درې ځلي مي لوبه ورسره کړې، درې سره واره يې مات کړی يم. ستا د راتګ چي مي ورته وويل، خورا خوشاله شو. څوک نشته چي لوبه ورسره وکړي".

کانت ګريفی څلورنوې کلن وو. د مټرنيخ هم عصره وو. سپين بريتونه يې وه او ښکلي اخلاقي سړی وو. په ايټاليا او اتريش دواړو هيوادو کي يې ډيپلوماتيکي دندې مخته وړې وې. د ده کليزه په ميلان کي په خورا شاندارو مراسمو لمانځل کيده. تر سل کلنی پوري به د ژوند کولو هوډ وو. ډير ښه او منظمه بيليارډه لوبه يې کول چي د ده د څلور نوی کلنيتوب او له کاره لويدو سره په مغايرت کی وه. ما يوځل په سټريسا کی چي بې وخته تللی وم دی وليد. د بيليارډ لوبې پرمهال مو چامپن هم څيښه. زما په نظر دا يوه ښه طريقه وه. ده په هغه وخت کي ما ته له سلو څخه پنځلس نومرې راکړې او لوبه يی رانه وګټل.

ساقي ته مي وويل "تا ولي ما ته نه ويل چي دی همدلته دی؟"

[28] يو ډول اروپايی مشروب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

"هیر مې شول".

"نور څوک شته؟"

"ستا ملګري نشته. ټوله شپږ نفره دي".

"ته اوس څه کوې؟"

"هیڅ نه. بیکاره یم".

"راځه چي ماهیان ونیسو".

"زه یوازې یو ساعت وزګار یم".

"راځه، جال هم درسره راواخله".

ساقي کوټ واغوست او په ګډه رهي شوو. د سیند له غاړې سره مو یوه کښتۍ پیدا کړل. ما پارو وهی او ساقي د کښتۍ په شا کي راته ناست وو. د ماهیانو د جلبولو لپاره یې یو لرګی، چي یوه ټوټه دروند تور پرې ځوړند وو، لاندي اوبو ته ځړولی وو. له ساحل سره نژدې مو ماهیان ټینګول. ساقي جال په لاس د کښتۍ په پای کي ناست وو او ګړی په ګړی به یې جال ته ځنډ ورکاوه. ستریسا له ساحل نه ډیره لیري ښکاریدل. د سپیرو ونو اوږده قطارونه، غټ هوټلونه او بندي مانۍ مو لیدې. د (ایزولا بیلا) له لارې تر دیواله پوري ولاړو، له دیواله سره یو دم اوبه ژورېدې. په رڼو اوبو کی ډبرین دیوال، چي لاندي کج و وج تللی وو، ډیر واضح ښکاریده. د سیند په پاسنی برخه کي د ماهیګیرانو جزیره وه. د لمر وړانګې په وریځو کي تتي شوي وې. اوبه یې تاریکي، خو روانې او ډیري یخې وي. د اوبو پر صافه او ښوی سطحه مو څو ځلي د ماهیانو دایروې شکلونه او د تګ راتګ څرک لګولی وو، خو تراوسه مو لا کوم ماهی په ګیر نه وو راغلی.

کښتۍ مي د ماهیګیرانو د جزیرې په لور بوتلل، هغوی هم خپلي کښتۍ له اوبو راویستې وي او خپل جالونه یې ګنډل.

"څیښاک کوو؟"

"هو. ښه نظر دی".

کښتۍ مي د ډبرین میل لور ته بوتلل. ساقي جاله له اوبو نه راوایستل او د کښتی په منځ کي په دایروي شکل ورله ټوله کښېښوول. چنګک یي پر کښتی باندی وځړاوه. زه له کښتی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتا شوم او کښتی مي وتړل. وه يوې وړوکي ساقي خانې ته ورغلو. هلته پر يوه خالي لرګينه چوکۍ کښېنستو او د ورموت اډر مو ورکړ.

"کښتۍ خو سترې نه کړي؟"

"نه".

"د دې خوا کښتۍ ما ته راپرېږده او ته ماهيان نيسه".

"نه زه يې خپله وهم".

"زما خبره واوره، که دا ځلي جال ته ونيسي، کيداى شي يو دانه مانه په جال کي بند شي."

"سمه ده".

"ښه داراته ووايه، جګړه څنګه روانه ده؟"

"حالات ډېر وران دي".

"په ما نه ورکه ده، نه ودانه. د جګړې نه يم. د کانت ګريفي په څېر بوډا شوی يم".

"کيداى شي، په همدې بوډاتوب کي دي احضار کړي".

"ريښتيا هم. اورېدلي مي دي، وايي راروان کال زما په عمر خلګ وه جلب احضار ته ورغواړي؛ خو فکر نه کوم چي زه دي ورشم".

"نو څه کوي؟"

"هيواد پرېږدم. نه غواړم، جګړه کي ځان ښکېل کړم. زه يو ځلي وه حبشې ته د جګړې لپاره تللی يم. ته ولي تللی وې؟"

"نه پوهيږم. بي عقلي مې وکړل".

"يو بل ورموت څېښې؟"

"هو، سمه ده چي ته وايې وبه يې وڅيښو".

د بيرته تګ پر وخت کښتی ساقي چلول. له ستريسا سره نژدې او د ساحل سره په کم واټن کي مو په ماهيانو پسي تور اخوا ديخوا کاوه. جال مي په لاس کي نيولی وو او څو ځلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرلپسې یې ورو ورو ټکانونه وخوړل. موږ نور هم ژورو اوبو ته ور ننوتو او له ساحله لیري کیدو. ساقي ښه په خلاصو لاسو پارو واهه او وړاندې روان وو، چې جال بیا ټکانونه وخوړل. په همدې ټېل ماټېل کې جاله یو ناڅاپه درنه شول او بیرته یې سمدستي شا خوا ته زور کړ. ما د جال راپورته کولو هڅه وکړه، داسي ښکاریدل، لکه یو غټ ماهی چې پکي بند شوی وي. جالې بیا څو ټکانونه وخوړل، موږ چې ځانونه اماده کول، ښکار مو له لاسه وتلی وو.

"ډیر غټ وو؟"

"هو ښه په پوره اندازه غټ وو".

"یوه ورځ یوازې د ماهیانو په نیولو پسې راوتلی وم، جال مي په غاښو نیولې وو. ناڅاپه ماهی پکښې بند شو، نژدې وو، چې زامه یې رانه کښلې وای".

ما ورته وویل "ښه طریقه یی دا ده، چې د جالې تناب دې په پښو کي تړلی وي".

"اوه، هغه مهال د سړي فکر په ماهي کی وي، چی څه ډول یې ونیسې، غاښونه له لاسه نه ورکوې".

لاس مي په اوبو کي ډوب کړ، ډیرې یخې وې. اوس نو تقریباً د هوټل پر برابري وو.

"هوټل ته د تک وخت ډیر رانژدې شوی. یوولسو بجو ته باید همالته یم. د لهیورې ډی کوکتیل لپاره".

ما ورته وویل "سمه ده".

رسۍ مي راوکښل او پر لرګي باندې مې چې په دواړو سرونو کي ېې سورې درلودل وپیچل. ساقي کښتۍ ډېرین میل ته رانژدې کړل او په ځنځیر ېې پسې قلف کړل.

"هر وخت چې دې کښتۍ په کارشول، درسره بیولای یې شې".

"مننه".

له سینده راوختو او د هو ټل ساقي خاني ته راغلو. سهار وختي وو، ځکه مي نو ډیر څیښاک ته هم زړه نه کیده. ایله مي هوډ وکړ، چې ځان خپلي کوټې ته ورسوم. کوټې ته چې ورددنه شوم، خادمې تازه په تازه منظمه او پاکه کړې وه، خو کاترین لا نه وه راغلې. پر کټ اوږد وغځېدم او کوښښ مي کاوه چې له فکرو نه ځان لیري وساتم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کاترین په راتګ سره مي ټولې پریشانۍ ایسته شوې. فرګوسن یې لاندي ودرولې وه. غرمنۍ یې له موږ سره خوړل.

کاترین "زه پوهیږم، ته به د هغې په راتګ نه خفه کیږې".

"نه، ما ته کومه اهمیت نه لرې".

"څه خبره د ګرانه؟"

"نه پوهیږم".

"زه پوهیږم. ته کومه سرګرمې نه لرې ځکه داسي یې. ستا هست و نیست زه یم او زه هم درڅخه ولاړه شم".

"همداسي ده".

"بخښنه غواړم. فکر کوم دغه ډول چي یو څوک یو ناڅاپه یوازي شي، بیخي ډیر بدخوند کوي".

"بېله هغه هم زما ژوند ډېر نیمګړی دی او که ته هم رانه ولاړه شې، زه به له یوازیوالي څخه مړ شم".

"خو زه به تل له تا سره یم. یوازي د دوو ساعتو په مخه درنه ولاړم، یو بل کوم مصروفیت نشته، چي لاس دي پرې اخته شي؟"

"له ساقي سره د ماهیانو په نیولو پسې تللی وم".

"څنګه وو ساعت مو تېر شو؟"

"هو ښه پوره".

"زما په نه شتون کي زما په اړه فکر مه کوه".

"چي په جبهه کي وم، همداسي مي کول. خو همالته د کولو لپاره نور ډیر څه هم ول".

کاترین په ټوکو وویل "اوتیلو له خپلو کارونو سره ولاړئ".

"اوتیلو یو تور پوستی وو. خو د هغه ورهاخوا زه بخیل نه یم. په زړه کي مي ستا د محبت پرته بل څه نشته".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“له میس فرګوسن سره به په مخ کیدو کي څنګه یې؟ سم با اخلاقه او نرم اوسه”.

“له هغې سره زما راشه درشه ډیره ښه ده، خو که مي دا ونه ښکنځي”.

“ارام اوسه. حوصله کوه. دې خبرې ته پام وکړه، مور د هغې په نسبت ډېر څه لرو”.

“فکر نه کوم، چي دا دي هغه څه وغواړي، چي مور یې ښتنان یو”.

“ته نادان یې، ستا په دې شیانو سم سر نه خلاصیږي”.

“ښه سمه ده زه به د دې په وړاندې له حوصلې نه کار واخلم”.

“پوهیږم، ته ډیرښه یې”.

“فرګي له ډوډوۍ خوړلو وروسته پاتیږي؟”

“نه. ځان به ترې فارغه کړو”.

ما ورته وویل “بیا بیرته کوټې ته راځو؟”

“هو ولې نه. ستا په نظر نور باید څه وکړم؟”

مور له فرګوسن سره د غرمنۍ خوړلو په نیت راکښته شوو. د هوټل مجلل والي او ښکلا خورا تر تاثیر لاندي راوستې وه. د خوندوري ډوډۍ له پاسه مو دوه بوتله سپین کاپري وڅیښل. کانت ګریفي هم همالته وو. د ده حال و احوال مي واخیست. وراره یې هم ورسره وو، هغه خاص زما د انا په څېر وو. کانت ګریفي مي بارکلي او فرګوسن ته ورمعرفي کړ په اوریدو یې فرګوسن خورا ځیني متاثره شول. هوټل ډیر غټ او پراخه، خو خالي وو. البته خواړه یې ډیر خوندور ول. شراب ډیر خوندور وه چي په څیښلو یې د ټولو طبیعتونه ور واړول. کاترین نورې خوشالۍ ته اړتیا نه درلودل. اوس ډیره خوشحاله وه. فرګوسن هم اوس په سد شوې وه، زه هم خوشاله وم. د ډوډۍ له خوړلو وروسته فرګوسن د خپل هوټل په لور رهي شول. د رخصت پر مهال یې مخاطب کړو، ویل یې اوس ځم او بیدېږم.

ماپښین ناوخته وو، چي دروازه وټکېدل.

“څوک یې؟”

“کانت ګریفي تا ته منتظر دی، هغه غواړي ستا سره بیلیارد لوبه وکړي”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساعت ته مي وکتل نه وو، تربالښت لاندي مي ايښی وو.

کاترين ورو وويل "ته خامخا ځې؟"

"چي ولاړ شم، ښه به وي". په ساعت کي پاوباندي بالا څلور بجې وې. يوڅه په لوړ اوازمي ورته وويل "کانت ګريفي ته ووايه پر پنځه بجې لاندي درځم".

پاو کم پنځه بجې وې چي کاترين د خدای په امانی په دود ښکل شول. تشناب ته د کالو اغوستلو لپاره لاړم. نيکټايي مي تړل ځان مي په هنداره کي وليد، څيره مي بيخي عجيبه غوندي راته ښکاره شوه. د نوو جرابو او کالو رانيول مي بايد له ذهنه نه وای ايستلي.

کاترين "تر ډېره دباندي پاتېږي؟" په ځای کي ښکلې ښکارېده "ږمنځ به يو ځل رانکړې؟"

وربېښتان يې ږمنځول او ما ورته کتل. سر يې پر يوه اړخ ځړولی وو، ټوله وريښتان يې پر همدې اړخ راتوی شوي وو. بهر تياره وه، خو په کوټه کي د څراغ رڼا چي د دې پر وريښتانو او غاړه لګيدل، وريښتانو ته يې پړکا ورکول. ور تير شوم او د ښکليدو هڅه يې وشوه، له هغه لاس نه مې چي ږمنځ يې په نيولې وه ونيول. سر يې لاندي وځړيد. ځان مي د دي سره په بيحده مينه کولو له امله کمزوری احساساوه.

"د ليلا و مجنون تر مينځ فراق مي نه دی خوښ. زړه مي نه غواړي چي ورشم".

"زما هم نه ده خوښه چي ولاړ شې".

"نو بيا نه ځم".

"نه، ولاړشه. يو څو شيبې تيرې کړه بيرته بيا راشه".

" د ماښام ډوډئ به همدلته په کوټه کي وخورو".

"سمه ده. ته اوس ژر ولاړشه او بيرته ژر راشه".

کانت ګريفي د سنوکر لوبې په کوټه راته منتظر وو. خپله نښه يې پخول. د سنوکر ميز د پاسه د ځوړند څراغ په رڼا کي خورا ضعيفه ښکاريده. له څراغه لړ ها خواته پرميز باندي يو له يخي څخه ډک يو سلور رنګه سطل ښکارېد، چي له ليري لا د چامپن د بوتلانو راوتلي سرونه پکي ښکاريدل. د ده پر لور ورهي شوم، کانت زما په ليدو پر خپل ځای باندي راجست شو. لاس يې راوړاندي کړ. "ډير د خوښئ ځای دی چي تاسی دلته ياست. تاسي زما سره د لوبې لپاره ډير لطف وکړ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“دا ستاسو پيرزوينه وه، چي مورږ ته مو د لوبې کولو بلنه راکړل”.

“ستاسي صحت خو به ښه وي؟ خبر شوم چي په ايسونزو کي زخمي شوی واست. ستاسي د روغتيا په هيله”.

“اوس حاضردمه د خدای پاک فضل دی ښه يم. تاسي څنګه ياست؟”

“اوه، زه خو نه مريضيږم، هر وخت ښه يم. خو ستونزه دا ده چي زړيږم. د زړښت علامې اوس کرار کرار احساسوم”.

“داسي ژر زړه مه اچوه. تراوسه لا ځوان يې”.

“ياره څه درته ووايم؟ غواړې په ثبوت يې درته ورسوم؟ زه په ښه اسانی سره په ايټالوي خبرې کولای شم، خپل ځان د ډيسپلين په چوکاټ کي ساتم، خو کله چي بيا ستړی يم په ايټالوي خبرې کول خورا راته اسانه شي، نو همدا مي د بوډاتوب يوه نښه ده”.

“په ايټالوي خبري کوو کوم مشکل نشته، زه هم لږ غوندي ستړی يم”.

“اوه، خو ته چي بيا ستړی يې، ستا لپاره به په انګليسي خبرې کول اسانه وي”.

“په امريکايې ژبه”.

“هو. مهرباني به دي وي، که په انګليسي خبرې وکړې. ډيره ښکلې ژبه ده”.

ما ورته وويل “امريکايان دلته يوه دانه په ټکټ نه پيدا کيږي”.

“ياديږی به دې هم. د هر چا خپل هيوادوال په تيره بيا هيوادواله ډيره ياديږي. دا ما تجربه کړې. لوبه کوو که ستړی يې؟”

“نه ستړی نه يم. هغه مي محض يوه ټوکه درسره وکړل. څومره وخت به ما ته راکړې؟”

“له هغه راهيسي به دي ګڼې لوبې کړي وي؟”

“نه، ما بيا ګردسره دې لوبې ته لاس لا نه دی وروړی”.

“ته به ښه لوبه وکړي. لس نمرې په سلو کي؟”

“ته زما ستاينه کوې”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

" پنځلس؟"

"ښه خبره ده، خو فکر کوم، شکست به زما په برخه وي".

"خوښه دي نه ده، چي شرطي لوبه وکړو؟ ستا خو هر وخت داهیله وه چي شرطي لوبه وکړې".

"هو فکر کوم ښه به وي".

"سمه ده. اتلس نمرې درکوم، پر هره نمره باندي یوه یوه افغانۍ".

ډیره خوندوره سنوکر لوبه یې وکړل. په هغه چانس کي، چي ما په پنځوسو کی درلود زه یوازي تر ده څلور نمرې مخکي وم. کانت ګریفی د ساقي د راغوښتلو لپاره پر دیوال ځوړند زنګ وواهه.

هغه چي راغلی، ورته وې ویل"که تکلیف نه وي، یو ځلي خو دا د بوتل سر خلاص کړه". شیبه وروسته یې ما ته مخ کړ "څیښاک ښه دی، سټریا پرې لیري کیږي". شراب د یخي د ټوټو په مینځ کي یخ شوي ول او زبردست خوند یې کاوه.

" راځه په ایټالوي به خبري سره کوو. ستا خو به ډیره خوا نه بدیږي؟ دا مي اوس ستره کمزورې ګرځیدلې".

لوبې ته مو ادامه پسي ورکړه. بوتل مي څنګته راته ایښی وو او په غوړپ غوړپ به مي ځیني څیښه. په ایټالوي کي مو یو له بل سره خبرې کولې، هغه هم زیاتي نه؛ ځکه ډیر فکر او تمرکز مو په لوبه کي وو. کانت ګریفي خپلي سل نمرې پوره کړې. ما ته چي کوم وخت راکول شوی وو، څلور نیوې ته پکي رسیدلی وم. دی راته مسک شو او پر اوږه یې وټکولم.

"اوس به هغه بل بوتل وڅیښو او ته به هم ورو ورو د جګړې کیسې راته کوې". زما تر ناستې پوري منتظر شو.

"پر یوه بله موضوع به مجلس وکړو، خوښه دي نه ده؟"

"فکر کوم د جګړې خبرې دي نه خوښیږي؟ سمه ده، په اخبارو کي څه چاپ شوي؟"

ما ورته وویل "هیڅ نه. پر خپل ځان باندی بیریږم یو ډول ګنګس یم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“ته خو باید د ښار له اوضاع نه باخبره اوسې”.

“په جګړه ایزو حالاتو کې پر کومه موضوع ډیرې لیکنې کیږي؟”

“د باربیوس په نامه یوه لیکوال (تر اور لاندې) او هربرت جورج ویلز د (میسټر بریټلینګ سز ترو ایټ) تر عنوان لاندې، کتابونه لیکلې.”

“نه، هغه نه پکې ګورې”.

“څه شې؟”

“هغه یې په دې کې نه ګورې. هماغه کتابونه ما په هغه ما په روغتون کې لیدلې وه”.

“نو تر اوسه یې مطالعه کوې؟”

“هو، خو کومه ګټه مې پکې نه ده لیدلې”.

“ما فکر کاوه، چې میسټر بریټلنیګ د انګلیس د منځنۍ طبقې د خلکو د روحیاتو په اړه ښه اثر دی”.

“د روح په اړه معلومات نلرم”.

“بیچاره. موږ دواړه د روح په اړه معلومات نه لرو. ته پر خدای عقیده لرې؟”

“د ماښام له طرفه”.

کانت ګریفی مسک شو او په ګوتو یې ګیلاس ته څرخ ورکړ.

کانت “له ځان سره به مې ویل، چې څومره مې عمر ډیریږي، هغومره به مې عقیده سمه شي، خو داسې ونه شول. ډیر د تاسف خبره ده”.

پوښتنه مې ترې وکړل “غواړې له مرګه وروسته ژوند وکړې؟” ځان مې ناڅاپه د مرګ د لفظ په استعمال سره بل ډول احساس کړ، خو ده کوم ارزښت ورته ور نه کړ.

“دا نو بیا د ژوند پر کیفیت اړه لري. کوم ژوند چې اوس یې زه لرم، غواړم تل مدام ژوندی وه اوسم او دا دی تقریباً اوس مې هم ډیر ژوند کړی”. بیا مسک شو. موږ په پراخو چرمې چوکیو کې تکیه وهلې ناست وو. د چامپین بوتلان د مېز له پاسه پراته ول، خو زموږ ګیلاسونه موږ ته نژدې پراته ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

" که زما په څیر اوږد ژوند وکړې، نو له ډیرو عجبه او غریبو حالاتو سره به مخ شې".

"ته خو د ډیر عمر نه یې".

"دا ظاهري بدن دی چي زړیږي. ځینی وختونه پر دې بیریږم چي ګوته مي د تباشیر په څیر ماته نه کړم، خو زما روح نه دی زوړ شوی او نه تر دې هوښیار شوی".

"تاسي هوښیار یاست".

"نه. د بوډاګانو همدا ستره اشتباه ده. هغوی نور نه هوښیاریږي بلکي احتیاط یې ډیریږي".

"شونې ده، چي همدا هوښیارې وي".

"دا یو ډول غیر جذابه هوښیارې ده. ته په ژوند کي څه شي ته ډیر ارزښت ورکوې؟"

"هغه چا ته چي مینه ورسره کوم".

"ما هم همداسي فرض کړه. دا داناېي نه ده، ښه داراته ووایه چي ژوند ته ارزښت ورکوې؟"

"هو".

"زه هم. ځکه چي همدا زما ټوله داراېي ده او زما د کلیزو میلمستیاوې". بیا یې وخندل."ته کیدای شي تر ما پوه او دانا یې. ته خپله د زوکړې کلیزه نه لمانځې".

له ده مي پوښتنه وکړل "ښه د جنګ په اړه راته ووایه، د جګړې په اړه څه نظر لرې؟"

"زما په فکر دا یوه بیځایه جګړه ده".

"ستا په نظر دغه جګړه به څوک وګټي؟"

"ایټالیا."

"لامل یې څه دی؟"

"ځکه چي ایټالیا یو ځوان ملت او ولس دی".

"ځوان ملت او ځوان ولس هر وخت جګړه ګټي؟"

"دوی تر یو وخته د بري او سوبې لایق وي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“له هغه وروسته څه پيښيږي؟”

“بيا نو همدغه ځوان ملت زږيږي”.

“تاسي ويل، چي تاسي هوښيار نه ياست”.
“ګوره ځوانه، دا پوهه او دانايي نه ده. دې ته وايي(له مايوسوونکو فکرو تېښته)”.

“ما ته خو همدا دانايې ښکارې”.

“نه داسي نه ده. نور مثالونه هم درکولای شم. بد نه دي. فکر کوم چامپن خلاص شول”.
“هو تقريباً خلاص شوي دي”.

“نور څيښو؟ له هغه وروسته بيا نو زه کالي اغوندم”.

ما ورته وويل “فکر کوم د اوس لپاره همدا کفايت کوي”.
“د زړه څخه وايې؟ نور نه څيښې؟”
“هو”. او پاڅيد.

“هيله لرم برياليی، صحت مند، قوي او بياهم صحت مند اوسې”.

“مننه. په دې هيله يم، چي دا مځکه وي او تاسي پرې ژوندي ګرځئ”.

“مننه. که چيري دي يو وخت بيا عقيده جوړه شول؛ بيا که زه مړ وم په دعاو کي مي يادوه. له تا پرته مي له نورو ملګرو هم دا غوښتنه کړې. په دې ارمان وم، چي عقيده به مي جوړه شي، خو دا ارمان مي پوره نه شو”. پر څيره مي يې يوه دردناکه مسکا په نظر راغلل. د ده څيره دومره ګونجي ګونجي وه، چي د خندا په تفسيرولو يې ونه توانيدم. البته د څيرې ګونجواله به يې هغه مهال لا پسي زيات شول، کله چي به په خندا شو.

ده ته مي په جواب کي وويل “کيدای شي عقيده مي جوړه شي، په هر حال په دعاوو کي به دي تل ياد ساتم”.

“ما هم همدا ارمان درلود. ټوله کورنۍ مي پر عقيده باندي مړه شول، خو زما تقدير بيا بل ډول دی”.

“اوس هم وخت شته”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

“کیدای شي ډیر ناوخته وي. کیدای شي ما دومره ژوند کړی وي چي مذهبي احساسات مي له لاسه ورکړي وي”.

“زما عقیده یوازي دشپې لخوا جوړه وي”.

”نو بیا تاسي هم مین یاست. دا مه هیروئ، چي مینه مذهبي احساسات دي”.

“تاسي دغه ډول نظر لرئ؟”

“هو، مننه کوم چي لوبه دي راسره وکړه”. د میز لور ته ورتیر شو.

“ ډیر ښه خوند یې وکړ”.

“دواړه به یو ځای ولاړ شو”.

شپږدیرشم فصل

یوه طوفاني شپه وه. کله، چي راپاڅیدم د باران د څاڅکو ږغ مي، چي پر کړکۍ نښتل واورید. کړکۍ خلاصه وه، ځکه یې نو څاڅکي پرته له کوم خنډ نه کوټې ته راتلل. دروازه وټکیدل. ورو په داسي ډول چي کاترین راویښه نه شي، له کټ نه راکښته شوم او د دروازې لور ته ورتېر شوم. دروازه چي مي خلاصه کړل، پر ساقي مي سترګې ونښتې. لوی باراني کوټ یې اغوستی وو. په لاس کي یې لنده خولۍ نیولي وه.

“ښاغلي، ستا لپاره مي یو خبر راوړی”.

“خدای دي خیر پیښوي، څه خبره ده؟”

“خبره تر خبرې اوښتې ده”. شا وخوا مي وکتل. کوټه تیاره وه. د کوټې پر غولي مي له کړکۍ نه پر راغلو اوبو باندي سترګې ونښتې ”دننه راشئ”. له لاسه مي ونیو او تشناب ته مي دننه بوت. دروازه مي قلف کړل او څراغ مي ولګاوه. زه د حمام د ټېپ پر څنډه ورته کښېناستم.

“ایمیلیو څه خبره ده؟ ستونزه کي خو نه یې؟”

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ستونزه کي زه نه، تاسي یاست".

"څه وایې؟"

" پولیسو ستا د نیولو پلان جوړ کړی او سهار به یې په عملي کیدو پسي راشي".

"دا اوس ته څه وایې؟"

"زه د دې لپاره راغلم، چي تا ته خبر درکړم. د ښار په یوه کافې شاپ کي د دوی له دغه پلانه خبر شوم".

"پوه شوم".

ساقي پر خپل ځای د بت په څېر له څه ویلو پرته له لانده کوټ او لندې خولۍ سره ولاړ وو.

" زما د نیولو لامل څه دی؟"

"فکر کوم، له جګړې سره کوم ارتباط لري".

"مشخص لامل یې درته معلوم دی؟"

"دقیقاً نه. خو فکر کوم، وړاندي یې په پوځي جامو کي لیدلی وې. له کله چي دغه شاتګ پیل شوی دوی ټوله نیسي".

یوه شیبه مي فکر وکړ.

"پولیس څه وخت راپسي راځي؟"

"ګهیځ مهال، خو دقیق وخت یې نه دی راته معلوم".

"ستا په نظر، باید څه وکړم؟" خپله لنده خولۍ، چي اوس هم څاڅکي تري تويیدل په دوشۍ کي واچول.

"که له کومي خبرې څه بیره نه لرې، زنداني کیدل دومره خبره نه ده، البته زنداني کیدل ښه نه دي، په تیره بیا اوس".

"نه غواړم، چي زندان ته ولاړ شم".

"نو بیا سویزرلنډ ته ولاړ شه".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"څنګه؟"

"زما په کښتۍ کې".

"اوس خو هوا طوفاني ده".

"طوفان ختم شو. که څه هم لار به تکليفي وي، خو ميوه به يې خوږه وي".

"څه وخت بايد حرکت وکړو؟"

"همدا اوس. کيدای شي پوليس ستا نيولو ته ډير وختي راشي".

"زموږ د غوټو اوسامانو په اړه څه واياست؟"

"ټول سره يو ځای کړئ. ميرمن دي تياره کړه. زه د هغو څارنه پخپله کوم".

"ته به چيري يې؟"

"تر هغو چي تاسي ځانونه اماده کوی، زه همدلته په تشناب کي ستاسي انتظار کوم. نه غواړم دباندی په دهليز کي مي څوک ووينی". دروازه مي خلاصه کړل راووتم بيرته مي په ده پسي بنده کړل او د خوب کوټې ته ولاړم. کاترين راپاڅيدلې وه.

" څه خبره ده ګرانه؟"

"هيڅ نه. غواړې، همدا اوس سويس ته ولاړه شې؟"

"ته ځې؟"

"نه. زړه مي غواړي چي همدلته ښه ډير خوب وکړم".

"خبره څه ده؟"

"ساقي وايي چي پوليس سهار زما په نيولو پسي راځي".

"هغه خو به ليونی نه وي؟"

"نه".

"نو بيا ګرانه بيړه وکړه. ځان تياروه چي حرکت کوو". دا د کټ پر څنډه کښيناستل، تراوسه ګنګسه وه. "ساقي تراوسه په تشناب کي دی؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

"هو".

"نو زه به نه لمبیږم. زه جامې تبدیلوم، ګرانه که دې مخ واړوې ښه به وي. په یوه دقیقه کې ځان تیاروم". څنګه چې نایټ ګون یې ایسته کړ واورین کمر یې ولیدل شول. بیا مې د دې په غوښتنه مخ واړاوه. د حاملګۍ له امله یې ګېډه لویه ښکاریده، ځکه یې نه غوښتل چې ورته وکتل شي. ما هم ځان اماده کاوه او پر کړکۍ د باران څاڅکو ته غوږ وم. زما غوټه وړوکې وه، په یوه شیبه کې ټوله سره یوځای شول. "کاترین که ستا شیان ډیر دي، زما په غوټه کې ځای شته".

"زه اماده یم. اوه، ګرانه څومره بې عقله یم. ساقي ولي په تشناب کې دی؟"

"شش ـــ هغه زموږ غوټو وړلو لپاره منتظر دی".

"اوه، ساقي ډیر نامې سړی دی".

"هغه متل یې ناحقه نه دی کړی چې وايي، زوړ یار زین کړی اس دی. دی مې له ډیره وخته ملګر دی. یوځلي مې ده ته پایپ والا تنباکو رالیږلي ول". له کړکۍ مې بهر وکتل، تیاره وه. سیند مې نه شوای لیدای. دباندي تر شنه اسمان لاندې له تیارې او بارانه پرته بل څه نه ول. باد لا اوس خاموشه شوی وو.

کاترین "زه تیاره شوم".

"سمه ده". زه وه تشناب ته ورغلم "ایملیو غوټې دغه دي". ساقي دواړې غوټې واخیستې.

کاترین "ستاسو له مرستې مننه".

"نه اغلې دا څه دي. ستاسي سره په مرسته ډیر خوشحالیږم. او بله خبره دا، چې ستاسي سره په مرسته زه خپل ځان له ستونزو خلاصوم". ما ته یې وویل "غوږ شه زه دغه غوټې د مزدورانو د زینو له لارې لاندې وړم بیا له هغه لارې وه کښتۍ ته ځم، تاسي هم، چې بهر راځئ، ځانونه داسي واچوئ، لکه قدم وهلو لپاره چې بهر وزئ".

کاترین "د قدم وهلو لپاره ډیره ښکلې شپه ده".

"په هر صورت بیا هم نحصي ده".

کاترین "له ما سره خو لا شکر دی سایوان شته".

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کوټې رابهر شوو. دهلېز ته راووتو. په پراخو او نریو کارپیټ شوو زینو کې لاندې ولاړو. کښته له زینوسره خادم د میز تر شا ناست وو. زموږ له لیدو سره حیران شو.

خادم "تاسي دباندې وزئ؟"

"هو. موږ غواړو، په سیند کې راغلی طوفان ووینو".

"مشره، له تاسي سره سایوان شته؟"

"نه. دغه کوټ د اوبو د مخنیوي لپاره کافي دی". کوټ ته یې له شک سره وکتل " ښاغلي، تاسي تم شئ، زه همدا اوس تاسي ته سایوان راوړم". خادم له دې ویلو سره ولاړ او شیبه وروسته له یوه غټ سایوان سره راستون شو."یو څه غټ دی". لس لیرې مي ورکړې.

"اوه، صاحبه تاسي ډېر مهربان یاست. ډېره زیاته مننه". دروازه یې همداسي خلاصه پرېښودل موږ نو نور د خپل مزله په لور تګ پیل کړ. ده کاترین او کاترین وه ده ته مسکی شول.

خادم "په طوفان کي تر ډېره مه پاتېږئ، تاسي او آغلې به لانده شی". دی دوهمه درجه خادم وو، انګلیسي یې هم ماته ګوډه زده وه.

ورته ومي ویل "موږله خیره بیرته ژر راستنیږو". تر غټ سایوان لاندې په تیاره او لانده باغ کي روان شوو. له باغه چي راووتو، پر یوه سایوان لرونکي لار باندې وربرابر شوو. د سیند له پاسه ښه تند باد چلیده. هوا یخه وه او یوه شوم، چي په غرونو کي واوره ووري. د کښتیو له قطار څخه تیر او لنګر ته، چي ساقي راته منتظر وو، ولاړو. اوبه تاریکي ښکاریدې. ساقي د شا له خوا د ونو له قطاره راووت.

ساقي مخاطب کړو "ستاسي غوټې په کښتۍ کي دې".

"ستا د کښتۍ پیسې به درکړم".

ساقي "اوس څومره پیسې درسره دي؟"

"ډېرې نه دي".

"اوس پروانه لري بیا یې وروسته راولیږه".

"څومره راولیږم؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

“هر څومره، چي ستا راباندي پيرزو وي”.

“نه، راته ووايه څومره؟”

“که له خيره ورسيداست نو پنځه سوه فرانکه راوليږه، چي ورسيږي دا دومره شی نه دي”.

“سمه ده”.

يوه کڅوړه يې په لاس کي راکښيښودل “په دې کي سنډويچ دي. په ټول هوټل کي همدا وه. يو بوتل برانډي او يو بوتل شراب هم پکښې شته”. دغه شيان مي په خپله غوټه کي کښيښودل. ”د دې شيانو پيسې به درکړم”.

“سمه ده، پنځوس ليرې راکړه”. پيسې مي يې ورکړې.”دغه برانډې اعلی درجه دي. وه اغلې ته يې په ورکړه کي مه شرميږه”. ساقي کښتۍ نيولې وه، خو د ډبرين ديوال په خوا کي يې بيا هم جل واهه. له کاترين سره مي کښتۍ ته په ورختو کي مرسته وکړل. دا د کښتۍ په پای کي کښېناستل او کوسۍ يې پر ځان ټينګه راونغاړل.

“ته پوهيږې چي چيري ځې؟”

“ده سيند وه لوړې خواته”.

“د لارې واټن درته معلوم دی؟”

“تر لويينو تيريږو”.
“تر لويينو، کانيرو، کانوبايو، او ترانزانو تيريږئ. څو چي وه بريساګو ته نه ياست رسيدلي تاسي له سويس څخه دباندي ياست تر مونټ تاماري بايد تير شئ”.

کاترين “څو بجې دي؟”

“يوولس”.

“تاسي به د سهار اوو بجو ته ورسيږئ، په شرط د دې چي کښتۍ به مسلسله روانه وي”.

“لار څومره ده؟”

“پنځه ديرش کيلومتره”.

“څنګه به ځو؟ په دې باران کي يوه قطب نما هم بايد وي”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

“نه. تاسي به لمړی ایزولا بیلا  ته ولاړ شئ. بیا به د ایزولامدرې په هاغه بل اړخ کي د باد په ملګرتیا مخ په وړاندي ولاړ شئ. باد به تاسي وه پالنزا ته ورسوي. همالته به تاسي رڼاوي ووینئ. له هغه وروسته پر ساحل ورپوریوزئ”.

“کیدای شي، د باد لوری بدل شي”.

“نه. باد تر درو ورځو پوري پر همدې مسیر چلیږي. له (مټرون) نه سیده راالوزي. په کښتۍ کي یو دبلی هم شته، کیدای شي له کښتۍ نه د اضافي اوبو د پاشلو لپاره مو اړتیا ورته پیدا شي”.

“د کښتی یوڅه پیسې به اوس درکړم”.

“اوس نه. کله، چي خپل منزل ته ورسیداست بیا یې راولیږه”.

“ سمه ده”.

“د غرقېدو خطرت لږ دي”.

“دا یې بیا بله خوشالي”.

“ورځئ له خیره. له باد سره په ملګرتیا کي ولاړ شئ”.

“سمه ده”.  زه هم وه کښتی ته ورپورته شوم.

ساقي “د هوټل کرایه دي پریښودل؟”

“هو. زموږ په خونه کي مي په یوه پاکټ کي ایښي”.
“سمه ده. ښه بخت مشره”.

“نیکمرغه اوسئ او ډیره زیاته مننه”.

“که غرق شوې، بیا به مننه راځخه ونه کړې”.

کاترین “دی څه وایې؟”

“وایي ښه سفر ولرئ”.

کاترین ده ته وویل “ښه بخت او ډیره زیاته مننه”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"تاسي اماده یاست؟"

"هو".

دی را چوک شو او کښتۍ یې راتیله کړه. ما اوبو ته پاروګان ورواچول. وه ساقي ته مي لاس وښوراوه. ده هم لاس راته وښوراوه. له هوټل نه راوتونکي رڼاګانې مي لیدلې او پارو مي واهه. تر هغو مي سیده پارو واهه، چې رڼاګانې مي له سترګو نهامي شوې. سیند ارام او خاموشه وو، خو موږ له باد سره په ملتیا وړاندې روان وو.

## اوه دیرشم فصل

په تیاره کې مي پاروګان وهل او وړاندې روان وو. باران اوس دریدلی وو، خو کله چې به سیلۍ راوالوته د باران څاڅکي به هم ورسره مله ول. بیخي تپه تیاره وه او له بلې خوا بیا د یخ باد له لاسه هم طاقت نه کېده. کاترین د کښتۍ په پای کې ورله ټوله ناسته وه. دا مي لیدل؛ خو د پاروګانو سرونه مي نه لیدل چې چیرې ډوبېدل. اوږده اوږده پاروګان ول، خو په چرم کې نه وو نیول شوي، چې له خوړلو او ګړلو څخه ژغورل شوي وي. زه به یو ځلي ټیټ شوم، بیا به راپورته شوم، بیا به مي ځان مخ ته ټیله کړ او هڅه مي کول چې په ارامۍ پاروګان ووهم. پاروګان مي د باد له امله پر نه کړل. پوهیدم چې لاسونه به مي تناکي کیږي، خو دومره ژر مي تناکي کېدو ته نه پرېښودل. کښتۍ سپکه وه په اسانۍ وړاندې تلل. په تاریک سیند کې په تیاره اوبو کې روان وو. په تیاره کې د لاس ګوتې له نه ښکاریدې، خو دعا مي کول چې له خیره ژر پالنزا ته ورسیږو.

پالنزا مو ګردسره ونه لیدل. باد له کښې نه پورته چلېده. خپل تګ ته مو ادامه ورکړه، چې خبریدو له پالنزا نه تېر شوي وو او د ښار رڼاګانې مو هیڅ ونه لیدلې. په سیند کې له ښه مزله وروسته، د رڼا یوڅه څرک ولګېد. ساحل ته چې ورنژدې شوو، هغه(انترا) وه. له دې رڼاګانو چې تېر شوو، بیا مو تر ډیره نه کومه رڼا او نه هم ساحل ولید. بس یوازې موږ وو او د څپو له پاسه ښه په زور پارو وهل وه. ځیني وختونه به څپو کښتۍ پورته کړل او وچ پاروګان به مي په لاسو کي پاتې شول. زښت په زحمت او تکلیف وو، خو موږ هم همت نه بایلوده او پارو مو واهه. په لار کي د یوې صخرې له برامدګۍ سره، چې زموږ په خوا کي وه، مخ په مخ شوو. اوبه به پر صخره لګیدلې، شړپهاری به یې کاوه، پاس به تللې بیا به بیرته یو ناڅاپه لاندې راتلې. ښی پارو مي په زوره راکش کړ او په چپ پارو مي اوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوري وهلې، او دوهم ځلي بيا سيند ته ورداخل شوو. صخره ورو ورو له موږ څخه ليري کيدل او وروسته له سترګو پناه شول او موږ د سيند د هاغاړې په لور حرکت کاوه.

کاترين ته مي وويل "د سيند په څنډه کي روان يو".

"له پالنزا راتېر شوو؟"

"هو. داسي ښکاري، لکه ځيني راتېر شوي يو".

"ګرانه سترې شوی خو به نه يې؟"

"تراوسه لا نه".

کاترين "پاروګان ما ته راکړه، يو ګړی به يې زه ووهم".

"نه. تراوسه خو لا زه پرې غښتلی يم".

کاترين "بېچاره فرګوسن، سهار چي کله زموږ ليدو ته راشي، ځای به وي جولا به نه وي".

"په هغه خبره مي لا چنداني فکر نه دی خراب. زه غواړم، وړاندي له دې چي سهار شي او ساحلي ساتونکي مو ويني، ځان سويس ته ورسوم".

"اوس څومره لار پاتې ده؟"

"تقريبا ديرش کيلومتره".

ګرده شپه په پارو وهلو راباندي تېره شول. په اخر کي مي د بدن سېک بيخي ختم شو. ان پاروګان مي يو له بل سره نژدې کولای نه شوای. څو ځلي د سيند له غاړې سره ښه ټينګ ټکر شوو. له دې بيرې چي په سيند کي ورک نه شو، د سيند پر څنډه څنډ روان وو. په تګ تګ کي به يو ځلي د سيند څنډې ته دومره ورنژدې شوو، چي د سړک اړخو ته ولاړ، د ونو قطارونه او د غره ډډې به لا معلوميدې. وريځي له اوبو نه خالي شوي وې، ځکه نو باد په وريځو پسي رااخيستې ول او اسمان يې په يوه شيبه کي صاف کړ. د اسمان له صافېدو سره سپينه سپوږمۍ راښکاره شوه. شاته مي وکتل، د کستاګنولا[29] له پاسه تپه تياره وه. د سيند واورو ته ورته څپو کي د سپوږمۍ انځورو او د واورينو غرو له پاسه اصلي سپوږمۍ زموږ سيل کاوه. دې هرڅه تر ډيره دوام ونه کړ، وريځ بيا پر اسمان خپره شول او په څو

[29] د سويس د لوګانو ساحلي ښار پر څنډه يو پروت کلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیبو کي یې سپوږمۍ، غرونه او د سیند څپې زموږ له سترګو پناه کړې. البته رڼا د پخوا په نسبت زیاته شول او ساحل راته ډیر واضح ښکاریدل. هر څه ډیر واضح ښکاریدل. هڅه مي کول، کښتۍ له دغه ځایه لیرې بوزم، څکه که پر سړک باندي پولیس وای موږ یې لیدلو او ما نه غوښتل، چي پولیس مو ویني. اسمان چي بیا ځلي صاف شو، د غره په ډډو کي ولاړې سپیني او دنګي ماڼۍ او د ونو د قطارو له مینځه سپین سړک راښکاره شو. خو زه لا تراوسه مقصد ته رسیدلی نه وم او پارو مي واهه.

سیند برداره شو او له ساحله ورپورته، د غره له ډډې سره بیا د رڼا څرک راښکاره شو. به ګمان اغلب همدا لوبینو وه. د ساحل په هغه بل اړخ کي مي د غرو په منځ کي یوه خالیګاه غونډې ځای تر سترګو شو، فکر مي وکړ، چي همدا به لوینو وي. که چیري هغه لوینو وه، نو زموږ سفر په ښه حالت کي وو. پاروګان مي له اوبو راوکښل او د کښتۍ په سیټ کي مي ځان وغورځاوه. پاروګانو خورا او بېحده ستړی کړم وم. بازوګانو، اوږو او شا مي درد کاوه. لاسونه مي د حرکت نه ول.

کاترین "زه به سایوان پاس ونیسم، باد هم چلیږي د باد په مرسته کولای شو، وړاندي ولاړ شو".

" ما ته لار راښوولای شې؟"

"هو، کومه ستونزه به نه وي".

"نو بیا دغه پارو درواخله. له بازو سره یې جوخت ونیسه او د کښتۍ له ژۍ سره کښېنه. زه به سایوان ونیسم". د کښتۍ پای ته ورغلم او پارو نیولو چم مي وروښود. د خادم راکړی لوی سایوان مي راواخیست، د کښتۍ په مخ کي کښېناستم او له یوه کړې سره مي خلاص کړ. دواړې پښې مي خلاصې کړې، په سیټ کي کښېناستم او په دواړو لاسو مي سایوان ښه محکمه ونیو. باد چي څنګه تر سایوان لاندي شو، پرته له ځنډه کښتۍ په حرکت شول. تر خپله وسه مي هڅه کول، چي سایوان د کښتۍ له دواړو څنډو سره ښه سم ونیسم. ده بېحده زور واهه او ورسره کښتۍ هم ښه په سپیډ روانه وه.

کاترین "وا وا، ډیر ښه روان یو". د سایوان د لاستي پرته مي بل هیڅ شی نه لیدل. ده زور واهه او کشېده، ورسره موږ هم وړاندي روان وو. پښې مي راټولي کړې او سایوان ته مي سیخي کړې. که مي کتل، سایوان یو ناڅاپه راکوږ او یوه څنډه یې زما پر ټنډه باندي ولګیدل. کوښښ مي وکړ، چي سایوان بیرته نېغ ودروم، خو باد تر لاندي وو او ما ته یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمبډو وخت رانه کړ. سایوان له سره تر پایه پوري په ښور کي وو. د ده له سمبډو چي نااميده شوم، باره مي نو له چوکۍ نه راخلاص کړ او په کښتۍ کي مي کښېښود. زه بیرته کاترین ته ورغلم، چي پارو ځیني واخلم، خو د هغې خوله له خندا نه ډکه کېدل. زما لاس يې ونيو او لا يې خندل.

پارو مي ځيني واخيست او ورته ومي ويل "څه خبره ده؟"

"سایوان چي دي نیولي وو، بيخي بل ډول ښکاريدې".

"ريښتيا هم".

"ګرانه، غصه کيږه مه. واقعاً جالبه وه. سايوان چي دي نيولی وو، ډير برداره او معصوم ښکاريدې". له خندا يې ستونی وچ شو.

"زه به کښتۍ وچلوم".

" ته يو ګړی استراحت وکړه. يو څه څيښاک هم وکړه. ډيره اوږده شپه ده او ډيره لار مو وهلې".

"کښتۍ بايد د سيند له څپو وباسم".

"زه به مشروب درته راوړم. يوه شيبه هوسايي ښه ده ګرانه".

پاروګان مي راواخيستل او بيا رهي شوو. کاترين بيک خلاص کړ، د براندي بوتل يې ځيني راوايست او ما ته يې راکړ. له بوتله مي سرپوښ ايسته کړ او يو غټ غوړپ مي تريې وکړ. غوړپ خوندور او ګرم وو. ګرمواله يې زما په ټول بدن کي غځوني وکړې او يو نوی روح يې راپکښې پوه کړ "براندي ډير ښه خوند کوي". سپوږمۍ بيا د وريځې تر شا پټ پټانی کاوه، خو بيا هم ساحل ښکاريده. داسي ښکاريدل چي يوه بله دماغه هم تر ډيره په سيند کي ننوتي وه.

کاترين ته مي وويل "کاترين، يخ خو دي نه کيږي؟"

"نه زه ښه يم. خو يو څه خسته غوندي يم".

"تر پښو لاندي اوبه سيند ته واچوه او پښې دي لاندي کښيږده".

له څيښاکه وروسته، مي بيا پارو ته کش ورکړ او کاترين بيا له کښتۍ نه اوبه لاندي پاشلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

“دبلی خو راکړه، یو څه اوبه پکښې ځینم”.

“هغه بیخي چټل دی”.

“پروا نه لري، زه به یې پریولم”.

کاترین لمړی دبلی پریولی او بیا یې له اوبو ډک ما ته ونیو. د برانډي له ځینلو وروسته تږی شوی وم، اوبه هم یخي زمریني وې، چي ومي ځینلې غاښو مي ځانګې ورسره وکړې. ساحل ته مي وکتل، اوس نو دماغې ته ورنژدې شوي وو. له وړاندي پراته خلیج نه رڼاوي ښکاریدې.

کاترین ته مي وویل “مننه”. دبلی مي بیرته ورکړ.

“تشکر. نوري هم شته، که یې ځینې”.

“د خوراک یو شی درکړم؟”

“اوس نه. یو څه وخت وروسته، چي وږي شوو، وبه یې خورو”.

“سمه ده”.

په سیند کي وړاندي روان وو او هغه څه چي موږ ته له لیري ښخه یوه دماغه ښکاریده یوه کوچنی شانته جزیره وه. د سیند په هغه برخه کي چي موږ پکښې روان وو، ورو کمبره کېده. سپوږمۍ یو ځلي بیا راپورته شول، اوس نو که ساحلي ساتونکي پر ګزمه باندي وای، موږ یې په ډیره اسانی لیدای شوای.

کاترین مي وپوښتل “څنګه یې؟”

“ښه یم. څومره لار لا پاتې ده؟”

“تقریباً اته میله به پاتي وي”.

“اوس هم ډیر لار ده. خوارکیه، بیچاره. ته لا ژوندی یې؟”

“ هو. تراوسه خو لا ساه راپکښې چلیږي، خو لاسونه مي یو څه درد کوي”.

په سیند کي نور هم وړاندي ولاړو. د سیند په ښي اړخ کي د پراته غر په مینځ کي یوه سوړه وه. د سیند له دغې څنډې سره د مځکي او اوبو تر مینځ چنداني ډیر واټن نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا کانوبيو وه. موږ چې د سيند له څنډې سره ښه نژدې روان وو، د ساحلي ساتونکو له بيرې بيرته له څنډې ليرې شوو. په مخکې مو يو بل لوی غر پروت وو. که څه هم د حرکت نه وم، خو بيا مې هم ځانته ډاډ ورکاوه، چې اوس نو دومره لار نه ده پاته. البته بيا هم له کاره وروسته، چې کله څوک ستړی شي، وړوکې ستونزه ورته لويه ښکاري. پوهيدم، چې لمړی بايد له هماغه لوی غره نه تېر شم او له پنځه ميله تګ وروسته به سويسي اوبو ته ورداخليږو. سپوږمۍ ورو ورو په کښته کيدو وه، خو وړاندې له دې چې بشپړه کښته شي، وريځ پرې راغلل او پټه يې کړل. بيا تياره شوه. اوس به مې نو يوه شيبه پارو واهه او بيا به مې يوه شيبه هوسايي کول.

کاترين "اوس به نو يو ګړی زه پارو ووهم. پارو راکړه".

"تراوسه لا زه پرې غښتلی يم".

"بيخي نه. ما ته يې راکړه زما به هم يوه شيبه پام په بله شي".

"وايم ما ته يې راپرېږده".

"بلکل نه. ورو ورو پارو وهل د حامله ميرمنې لپاره ګټه لري".

"سمه ده. خو احتياط کوه. زه به همالته درشم. او ته د کښتۍ پر دواړو څنډو لاس نيسه او راشه".

د کښتۍ پای ته ولاړم او همالته کښېناستم. د کوټ کالرونه مې راجګ کړل او کاترين ته مې کتل چې پارو يې واهه. ښه پارو يې واهه، خو پاروګان ډير لوی ول او همدې لويواله دې ته مزاحمت کاوه. ما خپل بيک خلاص کړ، يو څو سنډويچه مې ترې راوايستل او له براندې نه مې غوړپ وکړ. دومره خوند يې وکړ، چې وايم شپاړس. بل ګيلاس مې هم ډک کړ.

"هر وخت چې ستړې شوې، بيا راږغ کړه". شيبه وروسته مې بيا ورته وويل "پام کوه چې پارو دې له نس سره ونه نښلي".

کاترين په داسې حال کې چې پاروګان يې په لاس کې نيولي وو، وويل "که ونښلي نو ژوند به نور هم اسانه شي".

يو بل ګيلاس براندې مې ځانته ډک کړ.

ما ورته وويل " ته څنګه يې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

"بیخي سمه یم".

"که ستړې شوې، بیا بڼغ راباندي وکړه".

"سمه ده".

له لږ براندې څیښلو وروسته مي د کښتۍ دواړې څنډې ونیولې او وړاندي ورغلم.

"اوس نه. ډیر ښه روان یو".

"ته بیرته خپل ځای ته ولاړه شه. ما ځان هوسا کړ".

یو څو شیبې د براندې په زور ښه په بیړه او سرعت وړاندي ولاړو. شیبه وروسته مي نو د بدن سیک ورو ورو مخ په ختمیدو شو. په څو لحظو کي مي ژامي په لړزه شوې. له براندې څیښلو نه وروسته له مسلسل پارو وهلو له امله مي د ژړو د راپورته کیدو احساس کاوه.

کاترین ته مي وویل "په ګیلاس کي یوڅه اوبه راکړه".

"همدا اوس به یې درکړم".

له صبح دم سره لږ لږ باران پیل شو. باد نه وو، که وو هم پر موږ نه لګیده، ځکه شاته مو غر وو. پوه شوم، چي نور نو سهار کیدونکی دی، نو ګونډې مي ورته ووهلې او داسي ښه سم مي پارو ته کش ورکړ. نه پوهیدم، چي چیري او په کوم ځای کي یو؛ خو زما هدف د سیند سویسی برخې ته ځان رسول وو. ګهیځ وختي ساحل ته نژدې راورسیدو. د سیند ډبرینه څنډه او له هغې سره ولاړې ونې له کومي ستونزې پرته ښه سمي معلومیدې.

کاترین "دا د څه شي بڼغ دی؟" پر پاروګانو مي تکیه وکړل او غوږونه مي څرک کړل. په سیند کي یوه ماشیني کښتۍ راروانه وه. خپله کښتۍ مي لږ څه ګوښې ته کړل او دواړه غلي کښیناستو. د کښتۍ بڼغ ورو ورو رانژدې کیده. ورته کتل مو په باران کي له موږ لږ شاته تېره شول. د کښتۍ په پای کي څلور ساحلي ساتونکي ولاړ ول. الپیني ډوله فولادي خولۍ یې پر سر کړي وې. د باراني کوټ کالرونه یې جګ درولي ول. ټوپکان یې شاته پسي ځوړند ول. ګهیځ وو، دوی ټول خوبوړي ښکاریدل. پر خولۍ او د باراني کوکټ پر کالر باندي یې ژړ ډوله کربښي ګنډل شوي وې. کښتۍ په خپل بړهاري کي نوره هم وړاندي ولاړل او بیا له سترګو پناه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیرته په سیند ورګډ شوم. اوس موږ وه  سرحد ته دومره نژدې وو چې د ساتونکو وه ښه راغلاست ته اړتیا نه وه. تر باران لاندې مو درې پاوه نور مزل وکړ. د ماشیني کښتۍ برهارۍ مې یو ځلې بیا واورید، دا ځلې هم تر هغو غلي وو، څو چې کښتۍ ښه را نه لیرې او برهارۍ یې د سیند په څپو کې نهام شو.

ما ورته وویل " کاترین، فکر کوم سویس ته له خیره راورسېدو".

"رېښتیا؟!"

"هر وخت چې مو له سویسي پوځیانو سره ولیدل، باور به مې راشي".

"یا هم د سویس له سمندري پوځیانو سره".

"د سویس سمندري پوځ کوچنۍ خبره نه ده. کیدای شي، هغه کښتۍ چې اوس تیره شول د سویس د سمندري پوځ وي".

"که سویس ته راغلي یو، نو ناشته به وکړو. د دې ځای رولونه، کوچې او مربا ډیره خوندوره ده".

تازه سهار او ښکلی باران وریده. له موږ نه ښه لیرې د سیند په مینځ کې لا اوس هم باد چلیده او د اوبو له پاسه یې له موږ نه لیرې سپینو سپینو حبابو موجونه وهل. اوس له خیالې نړۍ پرته په حقیقي نړۍ کې باوري وم، چې په سویس کې یم. ساحل سره د ولاړو ونو تر شا ګڼ کورونه ښکاریدل. لږ ورهاخوا یو کلی وو، د غونډۍ له پاسه څو ډبرین کورونه، مانۍ او یوه کلیسا له ورایه معلومېده. د سیند له څنډې سره پر تېر شوي سړک باندې مې په پولیسو پسې وکتل، خو څوک مې تر سترګو نه شو. اوس نو سړک ته ډېر ورنژدې شوي وو. یو عسکر مې چې له خوړنځای نه راووت، ولید. خړه دریشي او د جرمنیانو په څېر فولادي خولۍ یې په سر کړې وه. ځوان، او تکړه ښکاریده. د چارلي چاپلین په څېر بریتونه یې پرې ایښې ول. پر موږ یې هم یو نظر راغطا کړ.

کاترین ته مې وویل "لاس ورته وښوروه". کاترین هم لاس ورته وښوراوه، هغه ورته مسک شو. کښتۍ مې پر هماغه ځای ودرول، اوس نو د کلي پر برابري رارسیدلې وو.

کاترین مې مخاطب کړل "درځه له خیره، نور به نو سویس ته ورداخل شو".

"له ډیر احتیاط سره باید وړاندې ولاړ شو، زه نه غواړم، چې سرحد ته مو بیرته واپس کړي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“ سرحد اوس له دې ځايه ډېر ليري دی. زما په نظر دا يو سرحدي ښار دی. زه په ډاډ سره ويلای شم، چي همدا بريساګو ښار دی”.

“دلته به ايټالويان نه وي؟ په ګمرکي ښارو کي تل دواړه اړخونه وي”.

“البته په جګړه ايزو حالاتو کي نه. فکر نه کوم، چي دوی دي ايټالويانو ته، سرحد ته د رااوښتو اجازه ورکړي وي”.

د ښار په ليدو نه مړېدم. په لنګر کي د ماهيګيرانو ګڼي کښتۍ او د ماهيانو نيولو جالونه پراته ول. ښکلی باران وريده.

“ځنګه نور نه کښته کيږو؟ سهارنی به هم وخورو”.

“سمه ده”.

په چپ پارو مي کښتۍ وه ساحل ته نژدي کړل. بيا وه لنګر ته نژدي ورغلو. کښتۍ مي سيده کړل او يوه ځنګته شوو. پاروګان مي په کښتۍ کي پريښوول. يوه اوسپڼزه ټوټه مي راواخيستل، پر يوه لنده ډبره می کښيښوول، پښه مي پر تکيه کړل او د سويس په خاوره کي مو قدم کښېښود. کښتۍ مي وتړل او کاترين ته مي د مرستې لپاره لاس وروغځاوه.

“راځه له خيره. ډېر خوشحاله يم”.

“هغه زموږ سامانونه؟”

“همدلته يې په کښتۍ کي پريږده”.

له کاترين سره مي په ګډه د سويس پر خاوره قدم کښېښود.

کاترين “ډېر ښکلی هيواد دی”.

“ ښه ځای نه دی؟”

“راځه، له خيره اوس به ناشته وکړو”.

“ښه هيواد نه دی؟ تر قدمو لاندي مځکه يې لا يو بېل ډول خوند لري”.

“زه ډېره ستړې يم، احساسات مي چنداني په مزه کي نه دي، خو بيا هم ښکلی هيواد معلوميږي. ګرانه، ته رېښتيا هم ډاډه يې چي موږ له هماغه خونړي هيواده راوتلي يو؟”

(c) ketabton.com: The Digital Library

“بلکل. زه ډاډه یم. البته زما هم وړاندي هيڅ باور نه کيده”.

“هغه کورو ته وګوره. عجب ښکلی هيواد! همالته به يو ځای ناشته هم وکړو”.

“باران يې لا خوند کوي. دا ډول باران په ايټاليه کي نه وو. ډير خوندور باران دی”.

“او موږ هم راورسيدو! ستا ريښتيا هم باور کيږي، موږ سويس ته راغلي يو؟”

ريستورانت ته دننه ورغلو او يوه پاک لرګين ميز ته کښېناستو. موږ دواړه له خوښی نه په جامو کي نه ځايېدو. يوه نفيسه ميرمن چي پيش بند يې تړلی وو، زموږ خواته راغلل او د اډر په اړه يې پوښتنه رانه وکړل.

کاترين “رول، مربا او قهوه”.

“ د بخښني په غوښتو سره بايد درته ووايم، چي په جګړه ايزو حالاتو کي موږ رول نه لرو”.

“نو بيا ډوډی راوړه”.

“ډوډۍ به برشته کړو”.

“سمه ده”.

کاترين ورته وويل “زما لپاره يو څو هګۍ هم درسره راوړه”.

“او د ښاغلي لپاره څومره هګۍ؟”

ما ورته وويل “درې دانې”.

“څلور دانې ګرانه”.

“څلور دانې”.

ميرمن ولاړل. کاترين ښکل شول او لاس مي يې ټينګ ونيو. په ريستورانت کي ناست او يو بل ته مو کتل.

“څومره مينه ناکه ځای دی”.

“ريښتيا هم مينه ناک دی”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاترین وویل "که رول نشته، پروانلري. تو له شپه مي د رول په اړه فکرونه وهل. خو کومه خبره نه ده. زما هيڅ فکر نه دی په خراب".

"فکر کوم، ډير ژر به مو ګرفتاره کړي".

"فکر مه خرابوه. له هر څه نه وړاندي به ناشته وکړو. ناشته چي مو وکړل، که مو بيا ونيسي هم کومه خبره نه ده. بيا دوی په موږ څه کولای هم نه شي. ځکه بريتانوي او امريکايي تابيعتونه لرو. هغه هم له ښه شاليد سره".

"له تا سره پاسپورټ شته؟"

کاترين "هو. دغه بحث به پريږدو. د خوښۍ او خوشالۍ نړۍ ته راشه".

ما ورته وويل "تر دې زياته خوشحالي نه شم کولای".

يوه پنډه، خړه او لکۍ داره پيشي مي رابنکاره شوه. زموږ د ميز لور ته رارهي شول. لکۍ يې پورته نيولې وه، ځان يې زما پر پښه باندی ومښه له هر ځل مښلو سره يې پرهاری کاوه. لاس مي وروغځاوه او ومي رټل. کاترين راته پام شو او ويې خندل.

"کافي هم راورسيدل".

له ډوډۍ خوړو وروسته زموږ د هرکلي لپاره پوليس راغلل. زموږ سامانونه په کبنتۍ کي پراته ول، نو ځکه لمړی د کلي له لارې کبنتۍ ته ولاړو، هماالته مو عسکر وليد، چي له کبنتۍ سره اخوا ديخوا کيده.

" دا کبنتۍ ستاسي ده؟"

"هو".

"له کومه راغلي ياست؟"

"ده سيند له ها غاړې".

"له ما سره راځئ".

"هغه زموږ غوټې او سامانونه؟ "

"هغه هم درسره راواخلئ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوټې مي راواخیستې. زه او کاترین څنګ په څنګ د ګمرک د زړې ودانۍ په لور روان شوو. عسکر زموږ تر شا راپسې ول. په زاړه ګمرک کي یوه ډنګر او نظامي دوهم بریدمن له موږ څخه پوښتنې ګروېږنې پیل کړې.

"د کوم هیواد یاست؟"

"د بریتانیا او امریکا".

" پاسپورټونه مو راکړئ".

ما خپل پاسپورټ ورته ورکړ. کاترین هم خپل پاسپورټ له لاسي بټوې نه راوایست. ښه ګړی یې پاسپورټونه مخي ته نیولي ول.

"تاسي سویس ته په کښتۍ کي ولي راغلاست؟"

ما ورته وویل "زه یو لوبغاړی یم. کښتۍ چلول زما ذوق دی. کله چي وخت پیدا شي بس کښتۍ چلوم".

"نو دا ځای مو ولي غوره کړ؟"
"د ژمنیولوبو لپاره. موږ سیاحان یو او دلته د ژمنیو لوبو په نیت راغلي یو".
"دلته خو د ژمنیو لوبو لپاره ځای نشته".
"خبر یو. موږ غواړو هغه ځایو ته چي همالته ژمنۍ لوبې کېږي ولاړ شو".
"تاسي په ایټالیا کي څه کول؟"
"زه خپله هلته د معمارۍ زده کړه کوم او د خاله لور مي هنر وایي".

"د هغه ځای د پرېښودو لامل څه وو؟"

"غواړو ژمنۍ لوبې وکړو. دا چي اوس په ایټالیه کي جګړه روانه ده، ځکه نه شو کولای خپلو درسو ته دوام ورکړو".
دوهم بریدمن موږ مخاطب کړو "تاسي همدلته تم شئ". دی زموږ له پاسپورټو سره یو ځای تعمیر ته ولاړ.
کاترین "ډیر ښه. همدغه چل ته نور هم ادامه ورکړه. ته غواړې، چي ژمنۍ لوبې وکړې".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“ته د هنر په اړه یو څه معلومات لرې؟”
“ربنز[30]”.

ما ورته وویل “هغه لویه او پیړه ښځه”.

“ټیټیان[31]”.
“هغه طلایي وریښتانو والا، د مانتیګنا په اړه څه وایاست؟”
“سخت سوالونه مه را نه کوه. که څه هم په اړه یې پوهیږم —— ډیر تریخ”.
دې ته مي وویل “ډیر تریخ. د میخو له سوریو نه مالامال”.
کاترین “ورته وګوره، ته څومره لایقه میرمن لرې. زه به له دې ګمرکیانو سره د هنر په اړه ښه ډیري خبرې وکړم”.

ورته ومي ویل “هاغه دی راروان دی”.

ډنګر دوهم بریدمن د ګمرک له ودانۍ نه زموږ پاسپورټونه په لاس راروان وو.

دوهم بریدمن “تاسي به په یوه بګۍ کي له ساتونکي سره یوځای وه لوکارنو ته ولاړ شئ”.
ده ته مي په جواب کي وویل “سمه ده. هغه زموږ کښتۍ به څه په وکړو؟”
“هغه زموږ سره ضبط ده. له تاسي سره په دې غوټو کي څه دي؟”

زموږ دواړه بیکونه یې وپلټل او نیمه ډک د براندي بوتل یې ځیني راوایست.

بریدمن مي مخاطب کړ “که دي خوښه ده وبه یې څښو”.
“نه مننه”. راپاڅید او سیخ ودرید.

“دا راته ووایاست، څومره خوشمړي درسره دي؟”

“دوه زره پنځه سوه لیرې”.

ډیر زیات تر تاثیر لاندي راغلی. ”د خاله لور نه دي هم وپوښته. له هغې سره څومره ورسره دي؟”

له کاترین سره څه باندي ۱۲۰۰ لیرې وې. دوهم بریدمن په بریتو کي خورا خندنی وو. له موږ سره یې چلند هم توپیر وموند.

---

[30] پیټرپاول ربنز(۱۵۷۷-۱۶۴۰) د اوسني هالنډ یو رسام وو، چي د ۶۲کلنو په عمر کي مړ شوی دی.
[31] ټیټیان(تیزیانو ویسلي) د اوسنی ایټالیي یو مشهور رسام تیر شوی دی. په انګلیسي کي په ټیټیان نامه مشهور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

“که تاسي د ژمنيو لوبو په نيت راغلي ياست. نو وينګن يې مرکز دی. زما پلار په وينګن کي خورا ښکلی هوټل لري، بله داچي هغه هوټل هر وخت خلاص وي”.
“ډير ښه. هوټل په کوم نامه مشهور دی؟”
“زه به يې پر يوه کاغذ درته وليکم”. په ډير احترام يې کارډ راکړ.

موږ يې مخاطب کړو ”عسکر به مو وه لوکارنو ته ورسوي. ستاسي پاسپورټونه به هم له هغه سره وي. د دې هرڅه په اړه معذورت غواړم، خو دا مراحل ډير اړين دي. هيله من يم، چي دوی به په لوکارنو کي وه تا ته ويزه يا د اوسيدو اجازه درکړي”.

پاسپورټونه يې عسکر ته ورکړل او له غوټو سره د کلي په لور روان شوو، چي له هماغه ځای نه بيا په بګۍ کي لوکارنو ته ولاړ شو.
دوهم بريدمن په عسکر پسي رانارې کړل “هی”. په جرمني باندي يې يوڅه ورته وويل.
عسکر خپل ټوپک شاته واړاوه او زموږ غوټې يې راڅخه واخيستې او خپله يې پر اوږو پورته کړې.

کاترين ته مي وويل “ډير ميلمه پال هيواد دی”.

“وايم هيڅ ويل پکښي نشته”.

بريدمن ته مي وويل “کور دي ودان”. لاس يې راته وښوراوه.
“ستاسي په خدمت کي يو”. په خپل محافظ پسي ورپسې شوو.

په بګۍ کي د لوکارنو په لور رهي شوو. عسکر په مخ کي سيټ کي له ګاډيوان سره ناست وو. په لوکارنو کي له کومې ستونزې سره مخ نه شوو. سوال و جواب په ډير ادب او اخلاقو وشول، ځکه له موږ سره هم پاسپورټونه ول او هم پيسې. هيڅ فکر مي نه کاوه، چي زموږ پر دې له ځانه جوړه شوې کيسه دې باور وکړي. فکر مې وکړ چي دا مي بې عقلي وه، خو دا داسي ښکاريدل لکه يوه محکمه، منطقي دلايلو کار نه کاوه. يو څه چالاکي او هنر پکار وو، چي انسان ځان وربانديو ونښلوي او ځان خلاص کړي، بيله دي چي ځانته يې واضح کړي. بله دا چي له موږ سره پاسپورټونه وه او پيسې مو هم مصرفولې. په هرحال، موږ ته يې موقتي ويزې راکړې. دغه ويزې هر وخت فسخه کيدای شوای او هر وخت چي موږ يو ځای ته تلای، نو اړ وو چي پوليسو ته مو اطلاع ورکړي وای.

ايا موږ د خپل خوښي ځای ته تلای شوای؟ هو. خو چيري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(په دې ځای کې د دوی او د پولیس مامورینو تر مینځ بحث پیلیږي).

"کاترین، ستا په نظر موږ باید چیرې ولاړ شو؟"
کاترین "مونټریکس."

یوه مامور وویل "هغه ډیر ښکلی ځای دی، زما په نظر هغه ځای به مو خامخا خوښ شي."

بل مامور"همدلته په لوکارنو کې ښه ځایونه شته. زه ډاډه یم، چې همدلته په لوکارنو کې به دې پام ډیر په بله شي. ډیر ښه ځایونه شته".
"موږ غواړو یوه داسې ځای ته ولاړ شو، چې ژمنۍ لوبې پکښې کیږي".
"په مونټریکس کې ژمنۍ لوبې نشته".
"بخښنه غواړم. زه د مونټریکس څخه راغلی یم. له مونټریکس اوبیرلند برنویس ریل پټلۍ سره ګڼې ژمنۍ لوبې کیږي. فکر کوم چې که زما مشوره ونه منې ډیره لویه غلطي به دې وي".
"زه یې نه ردوم. ما صرف دا ویل، چې همالته ژمنۍ لوبې نشته".

"زه ستاسو پر دې ادعا او ستاسو پر خبرو نیوکه لرم".

"زه پر خپله خبره باندی ولاړ یم".
"زه پر دغه نظر باندی نیوکه لرم. ما خپله د مونټریکس په کوڅو کې لوژینګ کړی. یوځل نه بلکی په سلهاو ځله. لوژینګ خپله یوه ژمنۍ لوبه ده".

هغه بل مامور ما ته مخ راوګرځاوه.
"ښاغلې، ستاسې په نظر لوژینګ یوه ژمنۍ لوبه ده؟زما په نظر دلته په لوکارنو کې به دې ډیر ساعت تیر شي. د دغه ځای اب و هوا او چاپیریال ډیر جذاب دی. خلص به درته ووایم، چې ډیر ښه ځای دی".
"د مشر هیله داده، چې مونټریکس ته ولاړ شي".
پوښتنه مې ځینې وکړل " لوژینګ څه شی دی؟"

"ورته وګوره، ده تراوسه د لوژینګ نوم لا نه دی اوریدلی!"

په دې پوښتنه سره هغه بل مامور چې د موقع په لټه وو، ډیر خوشحاله شو.

لمړني مامور وویل "لوژینګ، توبوګان سورلې کول".
لمړي مامور سر وښوراوه "ستاسې په اجازه. زه د دې مخالفت کوم. بیا هم باید مخالفت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړم. توبوګان له لوژینګ سره ډیر توپیر لري. توبوګان په کانادا کي په غټو لرګیو سره کوي. لوژینګ یو معمولي لرګی دی. دقت هم یو شی دی".
پوښتنه مي تري وکړل "موږ لوژینګ کولای شو؟"
"ولي نه. ډیر ښه توبوګان کولای شې. په مونټریکس کي ډیر ښکلي کاناډایي توبوګان لرګي پیداکیږي. (اوک برادرز) ډیر ښه توبوګان خرڅوي، هغوی یې خپله راواردوي".

دوهم مامور مخ رواړاوه "توباګان لوبه یو ډول خاص پیست غواړي د مونټریکس په لارو کوڅو کي توبوګان نه کیږي. دلته نو ته دریږي چیري؟""

ورته ومي ویل "موږ نه پوهیږو. له بریساګو نه دلته په بګۍ کي راغلو، هغه هم تراوسه بهر ولاړه ده".
لمړي مامور بیا موږ مخاطب کړو "که زما مشوره مني، مونټریکس ته ولاړ شه. د هغه ځای ښکلې هوا به دي پر صحت ډیره ښه ولګیږي. بله دا چي که وه ژمنیو لوبو ته تللې هم، دومره فاصله به نه وي".
دوهم مامور بیا په راګډ شو "که ریښتیا هم غواړې، چي ژمنۍ لوبې وکړې، نو (اینګادین) یا هم (مورین) ته ولاړ شه. زه د مونټریکس پر تجویز، چي د ژمنیو لوبو لپاره شوی انتقاد لرم".
"تر مونټریکس لږ څه ورهاخوا په لیس کي د هر ډول ژمنیو لوبو لپاره ځای شته". هغه مامور چي د مونټریکس پر لور یې زور وو، خپل رقیب ته وکتل.

ما ورته وویل "ښاغلو، بخښنه غواړم موږ باید نور ولاړ شو. د خاله لور مي ډیره خسته شوې. وه مونټریکس ته به هم یو ځل بیا سر ورښکاره کړو".

لمړي مامور زما لاس وښوراوه او وې ویل "تبریک، خو دا یاد ساته، چي د لوکارنو په پریښودو سره به ارمان وکړې".

دوهم مامور هم خپل وار تیر کړ "په هرحال هر ځلي باید په مونټریکس کي وه پولیسو ته خبرتیا ورکړې".
لمړي مامور راته وویل "همالته به دي له پولیسو سره کومه اوقات تلخي رامنځته نه شي. له هغوی سره تر ګذارې وروسته به درته معلومه شي، چي هغوی څنګه خلک دي".
ما ورته وویل "له تاسو دواړو نه مننه. ستاسي له ګټورو مشورو نه زیاته مننه".
کاترین "ستاسي په اجازه. له تاسو دواړو نړۍ نړۍ مننه".

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دروازې یې بدرګه کړو. د لوکارنو پلوي رویه یو څه سړه غوندي ښکاریدل. تر زینو راکښته شوو او بګۍ ته وختو.

کاترین وویل "اوه خدایه. لږ په بیړه نه شو تلای؟" د یوه هوټل نوم مې، چې مامورینو راښوولی وو، ګاډیوان ته ورکړ. ده هم کیزه راپورته کړل.

کاترین "ساتونکی دي هیر کړ". دی د بګۍ څنګ ته ولاړ وو. د ده په لاس کې مې د لسو لیرو یو نوټ ورکښېښود. ده ته مې وویل "تراوسه لا سویسی پیسې راسره نشته". له مننې او سلامي کولو وروسته پر خپله مخه رهي شو. بګۍ هم په حرکت شول او د هوټل په لور رهي شوو.

له کاترین څخه مي وپوښتل "مونتریکس دي څنګه غوره کړ؟ ته رېښتیا هم غواړې هلته ولاړه شې؟"

کاترین "ما له لمړي سر نه د دغه ځای په اړه فکر کاوه. ښه ځای دی. لوړ په غره کي یو کور پیداکولای شو".

"تا ته خوب درځي؟"

"زه دادی همدا اوس بیده یم".

"ښه ډیر خوب به وکړو. بیچاره کاترین ټوله شپه دي په ویښو تیره کړل".

کاترین "زما خو خپله ډیر پام په بله شو. په تیره بیا کله، چي دي سایوان لوړ نیولی وو".

ما ورته وویل "ستا باور کیږي، چي موږ دي په سویس کي یو؟"
"نه، بیریږم، داسي نه دا هر څه یو خوب وي، چي په راپاڅیدو سره به هر څه له منځه ولاړ شي".
"زه هم".
دې راته وویل "دا رېښتیا دي که څنګه؟ زه خو به اوس د میلان[32] وه تم ځای ته له تا سره د خدای امانی لپاره نه ځم؟"
"زه خو په دې امید یم چي داسي نه وي".

[32] میلان د ایټالیا یو ښار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاترین "داسي مه وایه، زه بیریږم. کیدای شي دا هغه ځای وي".

"زه له خپل عادي حالته ورو ورو وزم، په هیڅ شي نه پوهیږم".

"ته دي لاسونه رانژدې کړه، چې وې ګورم".

لاسونه مي ور وړاندي کړل. دواړه لاسونه مي تڼاکې تڼاکې ول.

ورته ومي ویل "لاسونه مي لا تراوسه سوري شوي نه دي".

"مقدساتو ته سپکاوی مه کوه".

زیات خسته او یو ډول ګنګس وم. خوښي مي له سره الوتې وه. بګۍ لا رهي وه.

کاترین وویل "سولیدلي او ځوربدلي لاسونه".

"لاس مه ور وړه. اوه، خدایه دا اوس موږ چیري یو؟ ګاډیوانه دا اوس موږ چیري ځو؟" ده بګۍ ودرول.

"وه میټروپول هوټل ته، ولي هلته نه ځې؟"

"هو، سمه ده درځه".

کاترین "سمه ده درځه. مه پریشانه کیږه. په خوب به ښه ارمان وکاږو، کله چې سهار راپاڅیدې، بیا به تر و تازه یې".

"زه بیخي ګنګس یم. داسي ښکاري لکه یو ټوکیز پرو ګرام. اوه، زه خو وږی هم یم".

"ته ستړی یې. اوس چې ولاړو ښه ډېر استراحت به وکړې".

بګۍ د هوټل مخې ته ودریدل. یو نفر زموږ د غوټو وړلو لپاره راغلی.

ورته ومي ویل "زه اوس ښه یم".

له بګیه راکښته او د هوټل په لور روان شوو.

"زه پوهیږم چې ښه به شې. ته یوازي ستړی یې".

"په هر صورت، موږ دغه دی راورسیدو".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“هو رېښتيا مور دا دی په رېښتيا سره راورسېدو”.

په هلک پسي چي زمور غوټي ورسره وې، روان شوو.

## اته دېرشم فصل

په هماغه مني کي واوره وځنډېدل. مور د غره په ډډه کي په يوه خړ لرګين کور کي اوسېدو. د شاه بلوط ونو يوځنګل رابانديي راچاپېره وو. په شپه کي به پرخه ورېدل. سهار چي به کله راپاڅېدو په قفسچه کي د پرتو منګيانو د اوبو له پاسه به د يخي يو نازک ورغ پروت وو. اغلې ګوتينګن ګهيځ مهال د کړکيو بندولو او په نغري کي د اور بلولو لپاره کوټې ته راغلل. د اور لپاره به يې د جلغوزيو بوټي کارول. لرګو ته يې خاشه ووهل له بځرکو غورځولو وروسته اور ښه په زور کي بل شو. ګوتنګن بيرته دباندي ولاړل له ها خوا نه يې د نغري لپاره نور لرګي او يوه بدنۍ ګرمي اوبه راوړې. کوټه، چي ګرمه شول د سهارنۍ تيارولو پسي ولاړل. پر کټ به کښېناستو او ډوډۍ به مو خوړل. له دې ځايه به مو سيند او ورهاخوا فرانسوی اړخ هم ليده. د غرو څوکي سپينو واورو پوښلي وې او د غره په ډډه کي بهاند سيند اسماني ښکارېده.

زمور د کور پر برابري باندي، يو سړک پاس په غرو کي تللی وو. پر سړک باندي د تيرو شوو وسايطو د پلونو موړې د يخ له لاسه د اوسپنې په شان کلکي شوي وې. سړک پاس په غره کي په مارپيچ شکل وړاندي تللی وو. په شنه چمن او زرغون بستر کي ښکلي وړوکي کورونه له غوجلو سره يو ځای اباد ول. د کورو پر مخامخ يوه ژوره دره وه. د درې په مينځ کي يوه ښکلې وياله بهېدل، دغه وياله په پای کي په سيند باندي ورګډېدل. کله چي به پر دره باد راوالوت نو د اوبو شرپهاری به زمور تر غوږو رارسېده.

ځيني وختونه د جلغوزيو ځنګله ته تلو. مځکه يې پسته وه. د يخ تاثير تر سړک دلته کم وو. که څه هم سړک ښوی وو، خو مور ته يې کومه ستونزه نه وه جوړه کړې ځکه زمور د بوټو تر تليو لاندي ميخونه ول. ميخو به خوله پر يخي لګول او وړاندي به روان وو. له دې سره  به مو لا ډېر توان په خپل ځان کي احساساوه. د ځنګله سياحت ښه خوند کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ د کور پر مخامخ غر، د سیند وه څنګته درې ته ګړنګ وزمه کښته شوی وو. موږ به په برنډه کې د لمر پټاوي ته ناست وو او د غره په ډډه کې به مو د سړک کږلیچو او د انګورو وچو شوو تاکانو ته کتل. د دې باغو تر مینځ د حایل په ډول ډبرین دیوالونه پورته شوي ول. ورلاندې په وړوکې دره کې کورونه اباد وه. د سیند په مینځ کې یوه جزیره وه، چې یوازې دوې ونې پکښې ولاړې وې. دغه دوې ونې خاص د ماهي نیونکو د دوو کښتیو په څیر ښکاریدې. د سیند په هاغه غاړه کې غرونه دنګ او لاندې بیا ډیر ګړنګ وزمه ول. د سیند سره د څنګ دښتې په پای کې د رون دره وه، چې د غرو د دوو لړیو په منځ کې وه. د درې په پای کې چې هلته بیا غرونو یو له بل سره قطعه کېدل، ډینت ډو میډي یو په واوره پوښلی غر وو. پر دره باندې راچاپیره شوی وو، خو سایه یې ځکه پر دره باندې ډیره نه وه، چې یو څه لیرې وو.

کله چې به هوا صافه او لمرینه وه نو غرمنۍ به مو په برنډه کې خوړل، خو د نورو وختو ډوډۍ به مو پاس په یوه لرګینه کوټه کې، چې یو غټ نغری یې هم درلود، خوړه. په ښار کې مو ګڼ کتابونه او مجلې رانیولې. یوه له هغو نه "هویل" وه چې ښه ډیرې دوه نفري د ورقو لوبې مو ترې زده کړې. وړوکې خونه چې نغری پکښې وو، زموږ د اوسیدلو کوټه وه. په همدې کوټه کې دوې ښه غټې چوکۍ او د کتابو لپاره یو ښکلی میز پروت وو. له ډوډۍ خوړو وروسته چې به کله غابونه او لوښي ایسته شول، نو پر هماغه به مېز به مو د ورقو لوبه پسې پیل کړه. اغلې ګوتنګن او خاوند یې کښته اوسیدل. دواړه پر خپل حال راضي ښکاریدل. ماښامي مهال چې فارغه به شول، باندار به یې کاوه؛ ځیني وختونه به یې خبرې موږ هم اوریدې. دوی دواړو په یوه هوټل کې چې خاوند یې همالته سرخادم وو کار کاوه. پیسې یې سره رایوځای کړې وې او بیا یې همدا کور پرې رانیولی وو. د دوی زوی هم د خپل پلار پر نقش قدم د دوام لپاره زده کړې کولې. زوی یې د زیوریخ په یوه هوټل کې کار کاوه. زموږ تر چت لاندې یو میلمستون غوندې ځای وو، چې شراب او بیر یې پکې پلورل. ځیني وختونه به مو بهر د ګاډیانو کړپهاری او د ګڼې ګونې اوازونه اوریدل. له ګاډیانو به خلک راکښته کېدل او میلمستون ته به دننه ورتلل.

د کوټې له دروازې سره له بوټو نه ډک یو کارټن پروت وو. له همدې کارټن څخه به مو بوټې رااخیستل او کوټه به مو پرې ګرمه ساتل. د شپې به تر ډیره ویښ نه پاتیدو. د تیارې له خپریدو سره به د خوب د لویې کوټې په لور رهي شوو. جامې به مې وکښلې، له خلاصې کړکۍ سره به ودرېدم، په اسمان کې به یخ ستوري او کښته به د شاه بلوط ونو ځنګل معلومېده او بیا به مې په بېړه ځان تر بسترې رساوه. بسترې ته تر راتګ وړاندې یخي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

صافي هوا او له کړکۍ دباندې شپې، ډېر ښه خوند کاوه. د شپې به مو ډېر ارام خوب کاوه، خو که د يوه لامل په وجه به راپاڅېدم، روجايي به مې ډېره ورو، چې کاترين راويښه نه شي پر ځان بيا سمه کړل او بيرته به مې له يوه نوي کيفيت سره ځان د خوب غېږې ته وسپاره. موږ اوس له جګړې نه ډېر ليرې وو، خو بيا هم له حالاتو نه د خبرو په واسطه خبرېدم او داسې ښکارېدل، چې د واورې د نه ورښت له امله اوس هم په غرو کې جګړه دوام لري.

ځيني وختونه به له غره راکوزېدو او مونټريکس ته به تلو. د غره په کږليچو کې يوه لار کښته تللې وه، دا چې هغه بيخي ګړنګ وزمه وه، ځکه نو زموږ تګ و راتګ پر يوه ښوی او برداره سړک باندې وو. دغه سړک د کروندو په مېنځ کې له تيرېدو وروسته، د انګورو د باغو په مېنځ کې تيرېده، چې هر يو باغ د ډبرين ديوال په مرسته يو له بل نه بيلېدل، له دې وروسته نو بيا دغه سړک د لارې په اوږدو کې پر پرتو کليو باندې سپور وو. په لار کې درې کلي ول، چيرنيکس، فونټان وينټ او د وروستي کلي نوم مې د دماغ له ډکشنرۍ نه ډيليټ شوی. بيا به په لار کې د غره په لمن کې له يوې زړې ډبريني کلا څخه تيرېدو، چې مخې ته يې د انګورو يوه وړوکې باغچه وه. د انګورو ډېری تاکان په نورو وړوکو لرګيو باندې تړل شوي ول، چې کاږه نه شي. تاکان له يوې مخې ټول خړپړ ښکارېدل، لکه د منې باد چې وهلي وي. مځکې د واورې راتګ ته شيبې شميرلې او د سيند تل داسې ښکارېده لکه زنګ وهلې وسپنه. سړک د زړې کلا له مخې تر تيرېدو وروسته کښته تلی، بيا ښي اړخ ته تاويده او بيا ګړنګ وزمه نور هم لاندې تلی. لار تر مونټريکس پورې کرېږ شوې وه.

په مونټريکس کې نه چاپيژاندو او نه موږ څوک پيژانده. په لار کې به د سيند په څنده څنډه باندې ميده ميده روان وو. د سيند له پاسه قاز، ګول[33] او ټرن[34] ښکاريدل، سيند ته په رانژدې کيدو سره به يې ريز کاوه. د سيند په مېنځ کې کې ګريب[35] په ډله ډله ګرځېدل کله چې به په سيند کې لمبيدل اوږدې کرښې به يې د اوبو پر سر پرېښوولې. د ښار په عمومي واټونو کې به ګرځېدو او د هټيو سيل به مو هم کاوه. د ښار مرکزي او لوی هوټلونه ټول بند ول، خو هټۍ فعالي او پير و پلور يې کاوه. هټيوال زموږ په ليدو من من غوښه اخيستل. په ورځو کې يوه ورځ کاترين په بازار کې د وريښتانو لنډولو لپاره يو سينګارځای ته ورپورته شوه. د دوکان څښتنه يوه ډېره بااخلاقه ميرمن وه. په ټول مونټريکس کې مو يوازې همدا

---

33 يو ډول سمندري مرغان دي، په فارسي کې ورته مرغ نوروزي ويل کيږي. په شمالي اروپا او اسيايي هيوادونو کې پيدا کيږي.
34 د ګول کورنۍ يو ډول مرغان دي، په فارسي کې ورته چلچله دريايي وايي. په ټوله نړۍ کې په تيره بيا په ساحلونو کې ډېر پيداکيږي.
35 دا هم يو ډول مرغان دي، په فارسي کې ورته کشيم ويل کيږي. ماهيان او حشرات يې خوراکه ده. د اوبو پر سر ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيژندل. کاترين مي همدلته پرېښوول او د بير څښنلو په نيت يوې هټۍ ته ورپورته شوم. هټۍ کي مي د ميونيخ تاريک بير وڅښنل او د اخبار سرټکي مي هم څه ناڅه ولوستل. له پاريس نه راغلي (کوريرې دی سارا)، انګليسي او امريکايي اخبارونه مي تر نظر تېر کړل. اعلانات او اشتهارات يې له دښمن سره د اړيکو د نيولو د مخنيوي له امله بند کړي وو. اخبارونه مي هم ښه ونه ايسيدل. حالات ډېر نازک ول. زه د بير له يوه غټ منګي او په کاغذه کي د پيچلي مالګيني ډوډۍ سره پر يوه چوکۍ کښېناستم. او د دې ګډوډو حالاتو په اړه مي څه مطالعه کړل. زه د کاترين په انتظار ناست وم، خو هغه وځنډېدل او درک يې معلوم نه شو. د تګ په نيت راپاڅيدم، اخبارونه مي پر ميز کښېښول، د بير پيسې مي ورکړې او د کاترين په لور وررهي شوم. سړه، يخه او خوپه ورځ وه. په لار کي مي د کورو ديوالو ته وکتل، فکر مي وکړ چي د دوی هم لکه چي يخ شوی. کاترين لا تراوسه په سينګارځای کي وه. ارايشګرې يې وريښتان توني کول. زه همالته ورته کښېناستم او سيل مي يې کاوه. هر څه بيخي عجبه ښکارېدل، کاترين راته مسکی شول او خبرې يې راسره پيل کړې. اواز مي د يوه عجبه احساس له امله بيخي نری شوی وو. له نوسي نه يو زړه راښکونکی اواز وته. کاترين مې په درو هندارو کي ليدل. دباندي که څه هم يخ وو، خو دلته هوا بده نه وه. ارايشګرې د کاترين وريښتان سره ورسم کړل. کاترين په هنداره کي وکتل او يو ګړی يې ګوتې پکي ووهلې، بيا په سنجاق کي بند کړل او راولاړه شول. "بخښنه غواړم. پر تا مي ډېر ناوخته کړ".

ارايشګره مسکی شول او وې ويل "ميسير[36] يې خورا جذب کړی وو. همداسې نه ده؟"

ورته ومي ويل "همداسي ده".

دباندي وه کوڅې ته راووتو. له يوې خوا هوا يخه وه او له بلي خوا بيا ښه تند باد هم چليده.

کاترين ته مي وويل "اوه، ګرانې مينه درسره لرم".

"ما ته غوږ شه، راځه نن به له خيره د چايو پر ځای بير وڅښنو. د ماشومې کاترين لپاره هم ګټور دی، نوره يې هم وړوکې ساتي".

ما ورته وويل "کوچنی کاترين، ناشولته".

---

[36] په فرانسوي ژبه کي د نارينه د احترام لپاره کارول کيږي. په پښتو کي لکه ښاغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاترین راغبرګه کړل "تر اوسه خو لا ښه ده. لږ و ډیر مي تکلیفوي. ډاکټر ویل چي بیر ستا لپاره ښه دي او بله دا چي دا هم وړوکي ساتي".

"که یې ډیره وړوکې کړي او هغه هلک شو، کیدای شي ښه اس سپور تري جوړشي".

کاترین وویل "زما په نظر وړاندي تر دې چي ماشوم مو وشي، باید واده وکړو". د بیرو د دوکان په پای کي پر یوه میز ناست وو. ورو ورو تیاره کیدل. که څه هم اوس لا وختي وو، خو ورځ تاریکه وه. ترغونی هم وختي راپورته شوی وو.

ما یې په جواب کي ورته وویل "راځه، همدا اوس به واده وکړو".

کاترین "نه. اوس یې لا وخت نه دی. ګېډه مي بیخي راوتي ده او په دې راوتلې ګېډه خو ګردسره نه غواړم، چي واده وکړم".

"کاشکي مو واده کړی وای".

"زه هم همدا ارمان لرم، خو څه وخت مو کړی وای؟"

"نه پوهیږم".

"زه په یوه شي پوهیږم. په دغسي حالت کي له یوه کورداره سره واده نه شم کولای".

"ته داسي نه ښکاري لکه یوه کورداره".

کاترین "اوه یم. په سینګارځای کي ارایشګرې پوښتنه راڅخه وکړل، ویل یې دا مو لمړی اولاد دی؟ درواغ مي ورته وویل. ما ورته وویل دوه هلکان او دوې نجونې هم لرو."

"په هر صورت داراته ووایه، واده کله کوو؟"

"د ماشوم له زیږیدو وروسته. بیا چي دي زړه شو هغه وخت. زه غواړم داسي واده وکړو، چي ټوله ګوته په غاښ ورته پاتي شي".

"یعني ته اوس پریشانه نه یې؟"

"اوه ګرانه، زه نو ولي پریشانه شم؟ یو ځل چي ځان راته سپک ښکاره شو هغه په میلان کي وو، چي یوازي یې اوه دقیقي طول ونیو. او هغه هم له اثاث البیت له امله. ولي زه ستا لپاره یوه ښه میرمن نه یم؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

"نه. ته یوه ډیره ښه میرمن یې".

"بس یې ده. نور ډیر مه علمي کیږه. چې څنګه مو ماشوم پیدا شو، واده به وکړو".

"سمه ده".

"یو بل بیر وڅیبنم؟ ډاکټر زما د ملا په اړه راته وویل، ویل ملا دي نسبتاً نرۍ ده. هر څومره چې ځوانه کاترین وړوکې ساتو ښه دی".

د دې خبرو په اندېښنه کې کړم، ځکه مې نو پوښتنه ورنه وکړل "ډاکټر نور څه وویل؟"

"هیڅ نه، ګرانه زما د وینې فشار بیخي ښه وو. بیخي ورته ګوته په غاښ وو".

"ستا د نرۍ ملا په اړه یې څه وویل؟"

"هیڅ نه. هیڅ یې ونه ویل. خو دا یې راته وویل چې باید سکې ونه کړم".

"ډیر ښه".

"هغه راته وویل چې د شروع کولو لپاره یې اوس ډیر ناوخته دی. دا یې هم راته وویل چې سکې کولای شم، خو په دې شرط چې پر مځکه ونه لویږم".

"ډاکټر هم بلا کوي".

"ریښتیا هم، خو ډیر ښه سړی وو. د زیږون پر مهال به همدا ډاکټر راوغواړو".

"د واده په اړه دې پوښتنه نه ځنې وکړل؟"

"نه. ډاکټر ته مې وویل، چې زموږ د واده څلور کاله کیږي. دې ټکي ته متوجه شه، که چیري زما او ستا واده تر امریکایي قوانینو لاندې وشي زه به هم امریکایي تبعه شم او اولاد به مو هم قانوني وي".

"دا هر څه دې چیري زده کړل؟"

"په نیویارک ورلډ المناک کتابتون کې".

ما ورته وویل "ته هم بیخي عجبه یې".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“زه به ډېره خوشحاله شم که امریکایي تابعیت واخلم. امریکا ته به ولاړ شو که څنګه؟ غواړم چي دنیګارا ځړوبی ووینم”.

“ته ډېره ښه يې”.

“یو بل ځای هم دی، چی باید یوه لیدنه ځیني وکړم، خو نوم می یې ذهن ته نه راځي”.

“مسلخ؟”

“نه، نوم مي يې ذهن ته نه راځي”.

“ولورت تعمیر؟”

“نه. هغه هم نه دی”.

“ستره دره؟”

“نه. هماغه هم نه، خو غواړم، چي ستري درې ته هم په منظره ولاړ شم”.

“کوم ځای دی؟”

“طلایې دروازه. دا هغه ځای دی چي باید ویې وینم. طلایې دروازه چیري ده؟”

“په سانفرانسیسکو کي”.

“نو بیا درځه چي هلته ولاړ شو. سانفرانسیسکو به  هم ووینو”.

“سمه ده، هلته به هم ولاړ شو”.

“اوس راځه چي پاس وه غره ته ولاړشو. که څنګه؟”

“تر پنځو بجو لږ څه وروسته اورګاډي حرکت کوي”.

“نو بیا درځه. داسي نه چي اورګاډي رانه ولاړه شي”.

“سمه ده. زه به یو څه بیر لا وڅیښم”.

له هټۍ نه بهر کوڅې ته راووتو او تمځای ته رهي شوو. هوا ډېره سړه وه. له رون درې نه د باد یوه یخه څپه راالوتې وه. په ډبرینو زینو کي پاس تمځای ته روان وو. په لار کي مو هټیو ته کتل، له کړکیو نه یې د څراغانو رڼاګانې راوتې. برقي اورګاډي د تګ لپاره شیبې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شميرلې. بټۍ يې ټولي روښانه کړي وي. د اورګاډي د تګ مهال ويش معلومولو لپاره يې يوه پاڼه ځړولې وه. ټول وختونه پرې ليکل شوي ول. خپل لاسي ساعت ته مې وکتل لس بالا پنځه بجې يې ښودلې. بيا مې د تمځای وه ساعت وکتل، پنځه بالا وي. وه اورګاډي ته چې وروختم ډريور او کلينر مې يې وليدل، چې له ساقي خانې نه راووتل. موږ کښېناستو او کړکۍ مو خلاصه کړل. اورګاډي په برق سره توديدل، يو څه تربوختي يې جوړه کړې وه. خو له کړکۍ نه بيا تازه هوا راتلل.

کاترين مې وپوښتل "کاترين، ستړې خو نه شوې؟"

کاترين "نه، تراوسه خو لا ښه يم".

"فکر کوم اورګاډي سفر به ډېر وخت په بر کي ونه نيسي".

"زما سفر خوښ دی. ګرانه زما په اړه تشويش مه کوه، زه ښه يم".

له کريسمس نه درې ورځې وړاندي لا واوره نه وه، خو يوه ورځ سهار، کله چې راپاڅېدو واوره وريدل. له بسترې نه ونه خوځيدو. په ځای کي همداسي غلي پاتې شوو. په نغري کي د اور لمبې تاو راتاو کيدې او کوټه يې ښه ګرمه ساتلې وه. د واورې سپينو او پر مځکه راپرېوتونکو غټيو ته مو کتل. اغلې ګوتينګن د سهارنۍ لوښي يووړل، خو له تګه وړاندي يې نغري ته نور بوټي ورواچول. د واورې يو لوی طوفان رااولوتی وو. د دې له خولې خبر شوو، چې واوره د شپې په نيمايي کي پيل شوې وه. د کړکۍ لور ته ورتير شوم، خو د سړک ها خوا نه ښکاريدل. واوره او باد ښه په درز کي رااولوتي ول. بيرته خپل ځای ته د باندړار لپاره راستون شوم.

کاترين "کاشکي مې سکې کولای شوای. خو افسوس چې چل يې نه راته راځي".

"يوه دانه بوبسليډ به رانيسو، وروسته به وه سړک ته ووزو. د موټر تر سورلی زيات مضر نه دی. د دی ضرر له موټر چلولوزيات نه دی".

"هوا خو به ډېره خرابه نه وي؟"

ما ورته وويل "د طوفان د زور تر لږېدو پوري به يو څه صبر وکړو".

کاترين "خدای دي وکړي، چې طوفان ډېر قوي نه وي".

"ګړی وروسته به د سپيني واورې په مينځ کي ګرځو".

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاترین "ډوډۍ به اوس نه خورو. له دباندي چي کله راغلو، ښه به ستړي یو او اشتها به مو هم ښه خلاصه شوي وي".

"زه خو هر وخت وږی یم".

کاترین "زه هم ستا په څېر یم".

بهر چي واورې ته ورووتو، یو څو قدمه به وړاندي تللي وو، چي باران پیل شو. نور هم وړاندي ولاړم او تر تمځایه مي یو خط ډوله کرښه پر ځای پرېښوول، چي په ځان خبریدو ډیره لار مو وهلې وه. د واورې د طوفان له لاسه مو په ډیره سختی لار صحیح کولای شوای. د اورګاډي له تمځای سره په خوا کي یوه میلمستون ته ورننوتو. همالته مو جامې له واورې څخه وڅنډلې، پر یوه میز کښېناستو او د ورموت اډر مو ورکړ.

د میلمستون خادمې مخاطب کړو "د واورې طوفان راالوتی".

"ریښتیا هم".

"واوره سږ کال ناوخته شول".

"هو".

"یو دانه چاکلیټ وخورم؟ غرمنۍ څه وخت خورو؟ زه خو هر وخت وږې یم".

ما ورته وویل "سمه ده، یو دانه وخوره".

کاترین "ګورګورې والا چاکلیټ خورم".

خادمه "هغه ډیر ښه خوند کوي. زما خپله ډیر خوښ دي".

ما ورته وویل "زه به یو بل ورموت هم وڅیښم".

کورته د ستنېدو پر مهال مي په لاره کی زموږ د پښو پلونو ته پام شو، چي واورې پټ کړي ول، خو لږ نښې نښانې یې اوس هم ښکاریدې. واوره مخامخ راباندي وریدل، ورسره موږ په سختی سره کولای شوای، چي لار ووینو. کور ته له رسېدو سره سم مو له واورې ځانونه وڅنډل او د غرمنۍ خوړلو په نیت لوړ کوټې ته پورته شوو. د اغلې ګوتنګن خاوند ښاغلي ګوتنګن غرمنۍ تیاره کړې وه.

"سبا له خیره سکې لوبې کیږي. ښاغلی هنري تاسي ګډون پکي کوی؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

"نه. خو غواړم چي زده یې کړم".

"زده کړه یې ډېره اسانه ده. زما زوی په کرسمس کی له خیره راځي.هغه به یې درته وښیي".

"ډیر ښه، نو هغه له خیره څه وخت راځي؟"

"سبا ماښام".

له غرمنۍ وروسته په کوچنۍ کوټه کي په نغري کي بل اور ته ناست وو او له کړکیه دباندي مو وریدونکي واورې ته کتل.

کاترین "دباندي تګ ته خو به دي زړه نه کیږي؟ غواړې له نارینه و سره سکې وکړي؟"

"نه. ولي؟"

"همداسي مي ویل. ځیني وختونه له ځان سره فکر کوم، کیدای شي، له ما پرته دي د بل چا لیدو ته هم زړه کیږي".

"ولي؟ دلته خو به دي نفس نه وي تنګ شوی؟"

"نه".

" ما هم همداسي وګڼه".
"پوهیږم. خو زما و ستا تر مینځ توپیر شته. زه ځانته په دې قناعت ورکوم، چي حامله یم ځکه نو چنداني هوا خوردني او دباندي تګ ته مي هوا نه کیږي. ما ته معلومیږي اوس بې عقله شوي یم او کیدای شي په ډیرو خبرو مي ته هم یو څه تنګ کړی یې، نو په زړه کي مي راوګرځېدل ما ویل که ته یو څه وخت دباندي تېر کړي، یو څه پام به دي په بله شي، بیا نو زه هم نه درباندي غمیږم".

"ستا خوښه ده، چي دباندي ولاړ شم؟"

"نه. زما خوښه دا ده، چي زما مجنون له ما سره پاتې شي".

"زما هم همداسي خوښه ده".
کاترین "دلته راشه. غواړم په وریښتانو کي دي ګوتې ووهم". په وریښتانو کي یې ګوتې وهلې. "ګرانه، ښه به نه وي، چي ږیره پریږدې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

“ستا همداسي خوښه ده؟”

“ډير به ښه وي. زما داسي خوښه ده، چي ږيره پريږدې”.
“سمه ده. پرې به ايږدم. له همدې شيبې نه مي پريښوول. ښه نظر دی. زما هم همداسي خوښه ده”.
“بيکارې خو به غمېدلې نه وي؟”

“نه. تراوسه لا نه. تراوسه خو لا له کومي ستونزې سره نه يم مخ شوی. ته څه نظر لرې؟”

“زه هم له خپله ژونده راضي يم. خو زه د خپلي ګېډې غټواله په فکر کي اچولې يم. هسي نه چي تا ته مي کوم سرخوږی جوړ کړی وي”.

“اوه، کاترين ته نه پوهيږې، زه تر خپل ځان زيات له تا سره مينه لرم”.
“په اوسني حالت کي هم؟”

“هو. په همدې حالت کي هم. زه له خپله ژونده راضي يم. ته پر خپل ژوند راضي يې؟”

“هو، خو زما سره بيا ستا د نفس تنګی فکر راسره وي”.
“زه نفس تنګه نه يم. البته ځيني وختونه د جبهې او زما د جګړې د مهال د ملګرو په اړه فکر کوم، خو طبيعيت مي نه په خرابوم. دا مي عادت دی چي د هيڅ شي په اړه ډير فکر نه کوم”.
“په ملګرو کي دي کوم يو ډير ياديږي؟”

“رينالډي، پادري او ځيني نور ملګري. خو په اړه يې ډېر فکر نه کوم. که ريښتيا درته ووايم، ګردسره د جګړې په اړه فکر لا نه کوم”.

“اوس د څه شي په اړه فکر کوې؟”

“د هيڅ شي په اړه”.
“ستا له ښځې نه ښکاري، چي ته يو څه پټوې. راته ووايه خبره څه ده؟”

“د رينالډي په اړه مي فکر کاوه، چي هغه په سفليس ناروغي اخته وو که يا”.

“همدومره؟”
“هو”.
کاترين “رينالډي سفليس وو؟”

(c) ketabton.com: The Digital Library

“خبر نه یم”.

“ډیره خوشحاله یم، چي ته نه یې پرې اخته. تراوسه دي دا شان ناروغې تیره کړې؟”

“یو ځلي ګونوریهی[37]ا وم”.
“نه غواړم په اړه یې واورم. ډیر یې په تکلیف کړی وې؟”

“ډیر زیات”.

“کاشکي زه هم په دغه ناروغي اخته وای”.
“نه. خداي دي نه کوي”.
“هو، کاشکي زه هم وای بیا به نو ستا په څیر وای. کاشکي ستا له ټولو نجونو سره وای چي هغوی مي ستا لپاره مسخره کړي وای”.

ما ورته وویل “جالبه ده”.

“ستا په ګونورهیا اخته کیدل جالبه نه ده”.

“پوهیږم. اوس به دا بحث پریږدو. ښکلې واوره ده، ته ورته وګوره”.
کاترین راته وویل “زه د واورې پر ځای تا ته ګورم. وریښتان دي ولي نه غټوې؟”

“څه ډول غټول؟”

“یعني یو څه یې نور هم غټ کړه”.
“همدا حالت یې سم دی”.
“نه. یو څه یې نور هم غټ کړه، زه به بیا خپل وریښتان یو څه لنډ کړم، باره به نو زه او ته یو شان شو”.

“ستا وریښتان پر همدې حالت مناسب دي”.

“ګردسره نه. زه بیخي تر پزې ځیني راغلې یم. په شپه کي مي ډېره په تکلیفوي”.

“که زما دا مني، پر همدې حالت سم دي”.
کاترین “ستا نه ده خوښه چي لنډ یې کړم؟”

---

[37] یو ډول مریضي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته ومي ويل "خوښ به مي شي، خو دغه اوسني حالت کي هم بد نه دي".

" زه وايم، چي لنډ شي ښه به وي، ځکه باره به زه او ته يو شان شو. اوه ګرانه، بيخي ډيره مينه درسره لرم، غواړم چي زه ته اوسم".
"هو ته يې. موږ دواړه يو، يو".
"شپې ډيري ښې دي".

"غواړم چي موږ دواړه يو په بل کي وه اغښل شو. زه نه غواړم چي له ما نه ليري ولاړ شي. همدومره مي درته وويل. که غواړې، چي ولاړ شې، ولاړ شه خو ژر راستون شه. ځکه کله چي ته نه يې ما ته ژوند معنی نه لري."

"زه اصلاً نه ځم، زه هم له تا پرته ژوند نه شم کولای. له تا پرته ژوند نه ژوند".

"نه. زه غواړم ته ژوند وکړې، هغه هم داسي ژوند، چي له خوښيو مالامال وي. خو موږ به يو ځای يو. که څنګه؟"
ورته ومي ويل "ښه اوس دا راته ووايه، چي ږيره پريږدم، که يې وخريم؟"

"نه لويه يې کړه. ډير ښه خوند به وکړي. کيدای شي د نوي کال لپاره هم وي".

"شطرنج نه کوو؟"
"نه. لوبه چي درسره وسي ښه دی".
"نه، شطرنج به وکړو".

"له هغه وروسته بيا لوبه کيږي؟"

"هو".

"سمه ده".

زه پاځېدم د لوبې لپاره مي شيان ميان سره برابر کړل او په داسي حال کي چي دباندي ښه درنه واوره ورېدل، لوبه مو پيل کړل.

يو ځلي د شپې په نيمايي کي راويښ شوم، که مي کتل کاترين هم ويښه وه. سپوږمۍ راختلې وه او له کړکۍ نه يې په راتلونکې رڼا کي په کړکۍ د پرتو شيانو سايه د کوټې په مينځ کي اچولې وه.
"ګرانه، ته راويښ شوې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

“هو، تا ته خوب ولي نه درځې؟”

“زه همدا اوس راويښه شوم او په دې سوچو کي وم، چي په لمړي ځل چي کله ستا سره مخ شوم؛ نژدې وو ليونۍ شم. ستا په ياد دي؟”
“لږ ليونۍ غوندي وې”.
“اوس د پخوا په شان نه يم. اوس ډېره ښه يم، ګرانه ته ووايه ډېر ښه، ووايه ډېر ښه”.

“ډېر ښه”.

“اوه ګرانه، زما ژوند يې او زه اوس پر سد يم. اوس ډېره ډېره خوشحاله يم”.

“سمه ده. اوس بيده شه”.
کاترين “سمه ده. راشه دواړه به پر يوه وخت بيده شو”.

“سمه ده”.

خو داسي ونه شول. تر ډېره وخته په چورتو کي ډوب وم او د بيدې کاترين ځيرې ته مي کتل. څه وخت وروسته زه هم خوب وړی وم.

## نهه ديرشم فصل

د جنوري د مياشتي منځنۍ شپې و ورځې رارسيدلې وې. ږيره مي غټه شوې وه. ژمی له سختو سړو شپو او ورځو سره راته واړول. پر سړکانو مو تګ راتګ بيا پيل کړ. واورې هر څه پوښلي ول. له لرګو نيولې، بيا تر وښو او د غره په ډډه کي تر ولاړو ونو پوري؛ ټول يې سپين ګرځولي ول. واورې تقريباً تر مونټريکس پوري هر څه پوښلي ول. د سيند د ها غاړې ټول غرونه سپين ګرځېدلي ول او د رون درې تپې خو ګردسره په واورو کي غرقي وې. موږ به په هغه بله غاړه کي تر بينز دي اليازه پوري پلی تګ کاوه. کاترين به له ميخ لرونکو بوټانو، باراني کوټ او يوې تيرې نوک لرونکي لکړې سره ګرځېده. په باراني کوټ کي چنداني لويه نه ښکارېده. ډېر تېز به هم نه وو روان، خو کله چي به دا ستړې شول، د ونو پر تنو چي د سړک په څنډو کي به پرتې وې، څه ګړی به کښېناستو او يوه شيبه به مو ځانونه دمه کړل.

په بين دي الياز کي د ونو په مينځ کي يو وړوکی ميلمستون وو. محلي لرګي وهونکي به همدې ميلمستون ته راتلل، چای مای به يې څښلې او يوه شيبه به يې استراحت کاوه. موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم به ځيني وختونه ورتلو، ځانونه به مو تاوده کړل او څو ډوله ګرم سره شراب به مو څيښل. دغه سره شراب يې (ګلووين) بلل، چې د بدن د حرارت د معتدل ساتلو لپاره ښه وه. دننه ميلمستون تياره او له دوده ډک وو، بهر، چې به راووتو داسي به ښکاريدل لکه د پزې پر سر، چې غوماشې چيچلی يو. له ميلمستونه چې رابهر شوو، شا ته مي وروکتل، له کړکيو نه يې دباندي رڼاوې راوتې. د ميلمستون مخې ته به لرګي وهونکو خپل اسان تړلي ول او لاندي به يې واښه ورته ايښي ول. اسانو به کله سرونه پورته کړل، کله به يې کښته کړل. د وربوز پر وريښتانو يې پرخه لوېدلي وه، کله چې به يې ساه وکښل، ساه به يې د دود په څېر هوا ته پورته شول. پر سړک د کور په لور روان وو، سړک تر يو ځايه ښوی او صاف وو. اسانو تر هغه ځای چې د لرګيو کرښه نوره تاوېدل، ټول يخی سړک نارنجي کړی وو. په ځنګله کي تير شوی سړک پر هماغه خپل حالت باندي وو. کور ته د راستنيدو پر مهال دوه ځلي له ګيدړو سره مخ شوو.

ښکلی وطن وو. هر ځلي، چې به له کوره دباندي راووتو، خامخا به مو پام په بله کېده.

کاترين "ړيره بيخي ښه خوند درسره کوي، خاص د لرګو وهونکو په څير ښکارې. هغه سړی دي وليد چې کوچني طلايي غوږوالي يې په غوږ کړي ول؟"
"هغه د غرڅو ښکاري وو. دوی په دې عقېده چې د دې غوږوالو په غوږ کولو سره د دوی د اورېدو حس پياوړی کيږي".
"ريښتيا؟ زما خو هيڅ باور نه په کيږي. ما فکر کاوه، چې دوی غوږوالي په دې خاطر په غوږ کوي، چې وښيي، دوی د غرڅو ښکاريان دي. دلته نژدې شاوخوا غرڅې شته؟"

"هو. له دينت دی جامان سره شته".

"د ګيدړو ليدو بيا بېل خوند وکړ".

"دوی چې کله بيديږي، د ځان تودولو په خاطر خپله لکۍ پر ځان راچاپېره کوي".
"بيخي جالبه".

"کاشکي ما هم د دوی په څېر لکۍ درلودای. که موږ هم د ګيدړو په شان لکۍ درلودای ښه به نه وای؟"

"د کالو اغوستلو پر مهال نو له ستونزو سره مخ کيدو".
"متل يې کړی، وايي اړتيا د ايجاد مور ده. باره به مو نو بيا د هغه وخت په څير کالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړولای او یا به یوه داسي هیواد ته تللي وای، چي د کالو اغوستنګ یا نه اغوستنګ کومه خبره نه وای".

کاترین "یوه شیبه به دلته کښېنو. یو څه ستړې شوم".

د ونې پر تنه بغل پر بغل کښېناستو. په مخکي مو یو سړک وو، چي ځنګله ته دننه تلی.

"دا خو به زما او ستا تر مینځ بیلتون نه راولي؟ ماشوم درښیم".

"نه. زما او ستا تر مینځ د نفاق اچولو موقع به ور نه کړو".
"د پیسو له اړخه په کوم حال کي یو؟"

"پیسې ډیري دي. هغه وروستی حواله یې هم رالیږلي".

"کورنۍ به دي هم خبره شوي وي، چي تاسي سویس ته راغلي یاست، نو په تا پسي نه راځي؟"
"کیدای شي، راشي. یو لیک ورلیږم".
"تراوسه دي لیک نه دی ورلیږلی؟"

"نه. یوازي حواله".

"اوه، خدایه شکر چي زه خو ستاسي د کورنۍ نه یم".

"یو تلګراف له خیره ورلیږم".
"د کورنۍ فکر درسره نشته؟"
"ولي نه، خو زموږ په مینځ کي دومره ناندرۍ پیښي شوي، چي د دوی له نظره هرڅه له منځه تللي دي".

"کیدای شي، طبیعت مو سره ولګیږي. کیدای شي ستا له کورنۍ سره ښه مینه ناک ژوند ولرو".

"که مو موضوع ته تغیر ورنه کړ، کیدای شي د هغوی په اړه په اندېښنو کي شم." شیبه وروسته مي ورته وویل "که دمه شوي یې، نو درځه له خیره".

"دمه شوم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر سړک رهي شوو. ورو ورو تیاره کېده. تر بوټو لاندې واورې شنهارۍ کاوه. هغه شپه وچه، خو یخه او صافه وه.
کاترین "ږیره ښه خوند درسره کوي. ږیره دې ګڼه، ښه پسته او نرمه ده".

"په ږیره کې ښه ښکارم، که له ږیرې پرته؟"

"فکر کوم په همدې حالت کې ښه ښکارې. دا یوه خبره مې واوره تر څو چې وړوکې کاترین نړۍ ته راغلې نه وي، وریښتان نه لنډوم. اوس بیخي غټه او مړوښه ښکارم، البته د دې تر زیږون وروسته یې لنډوم. وروسته به نو په یوه بېل ډول باندې یم. دواړه به یوځای ولاړ شو او وریښتان به لنډ کړو. او یا به زه یوازې ولاړه شم، لنډ به یې کړم او تا به حیران کړم".

د دې د خبرو په جواب کې مې څه ونه ویل.
"ته خو به مې نه مانع کیږي؟"
"نه. او دا به بیخي جالبه وي".

"اوه، ته ډېر ښه یې. زه به بیا په یوه بېل ډول ښکارم. ډېره به ډنګره شم او تا به بیا د مینې په دام کې بند کړم".

"بېځایه خبرې مه کوه، زه اوس هم بېحده مینه درسره لرم. څه رانه غواړې؟ تباه کوې مې؟"

"هو. زه غواړم چې تباه دې کړم".
ورته ومې ویل "ډېر ښه زه هم همدا غواړم".

## څلویښتم فصل

ښه ژوند وو. د جنورۍ او فبرورۍ سړې میاشتې ښه په خوشالۍ تېرې شوې. څو ځلې د باد نرمې او ګرمې څپې راوالوتې، واوره هم ویلې شوه او هوا به خاص د پسرلي په څېر شول، خو هر ځلې به د ژمي سړې څپې بیا بیا راغلې او ژمی به یې بیا راته میشت کړ. اخر په مارچ کې د ژمي لمړنۍ ماته پیل شوه. شپه وه، چې باران پیل شو. راروانه ورځ هم ټوله ورځ وورېد، واوره یې ویلې کړل. پر غره پرتې واورې هم په نه زړه له خپل تمځای سره وداع ته تیارې ونیو غر یې له فراق سره غمجن شو. د سیند او درې له پاسه اوس هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

وریځې په ډېر غرور سره اخوا دیخوا ګرځیدې. کاترین خپل غټ باراني بوټونه او ما بیا د ښاغلي ګوتنګین ربړي بوټان په پښو کړل، سایوان مو راسره واخیست او پر هغه ښوی سړک چې د باران اوبو پرېولی وو تر تمځایه ولاړو، په لار کې یوه مېلمستون ته وروګرځېدو، د غرمې ډوډۍ ته لا وخت پاتې وو، ځکه مو نو د ورموت اډر ورکړ. همالته په مېلمستون کې ناست وو او دباندې مو د باران شرپهارۍ اورېده.

"څه فکر کوې، که په ښار کې هستوګن شو؟"

کاترین په جواب کې راته وویل "ته په دې اړه څه نظر لرې؟"
"که ژمی ختم شوی وي او باران هم دغه شان ورېږي نو بیا د دې ځای خوند نشته، د ماشومې کاترین راتګ ته څومره خت پاتې دی؟"
"یوه میاشت یا هم لږ".

"موږ باید نور له دې ځایه کډه او مونټریکس ته ولاړ شو".

"لوزین ته به ولاړ شو. همالته روغتون هم شته".

"سمه ده. خو فکر کوم هغه بیخي غټ ښار دی".
"څه فرق کوي، همالته به هم د دې ځای په څېر یوازې ژوند کوو. کیدای شي هغه ځای تر دې لا ښه وخیژي".

"نو څه وخت له خیره حرکت کوو؟"

"دغه فیصله ستا په واک کې درکوم. هر وخت چې دې زړه وو هماغه وخت به ولاړ شو. زه خو خپله نه غواړم دغه ښار پرېږدم".

"هوا ته به ګورو".

درې ورځې پرلپسې باران ووریډ. د واورې زور اوس تر تمځای لاندې پر غر وو. بل اړخ ته بیا سړک خړو اوبو پر سر اخیستی وو. پر سړک باندې بیخي د نه منلو اوبه ولاړې وې. د باران درې ورځې وشوې، په سهار مو یې پریکړه وکړل، چې ښار ته ځو.

ښاغلي ګوتنګن "ښاغلی هنري، کومه ستونزه نشته. تاسي اړ نه یاست چې وار له مخه موږ ته خبر راکړی. فکر نه کوم چې د هوا له خرابیدو سره دې تاسې دلته تم شی".

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وویل "میرمن مي ناروغه ده، نو هرڅومره چي روغتون ته نژدې، یو ښه دی".
ده وویل "ما ته معلومیږي. د ماشوم تر زیږېدو وروسته د راتګ پلان لرې؟"
"ولي نه. په دې شرط که مو تشه کوټه درلوده".
"په پسرلي کي چي کله هوا ښه جانانه وي راشئ. ډیر به مو پام په بله شي. ماشوم او پرستاره به په هغه لویه کوټه کي، چي اوس بنده ده اوسي. تاسي او خانم به په هماغه پخوانۍ کوټه کي واوړئ. له هغه ځایه د سیند ښکلې منظره هم کولای شئ".
ده ته مي وویل "که مو د راتګ پلان درلود، نو وړاندي له راتګ نه تاسي ته خبر درکوو."

غوټې مو سره ټولي کړې او تمځای ته رهي شوو، اورګاډي له غرمنۍ وروسته د تګ تابیا درلودل. اغلې ګوتنګن او خاوند یې دواړه تر تمځایه له موږ سره ولاړل. خاوند یې په دې شرپهاري کي له موږ سره زموږ د غوټو په وړلو کي همکاري وکړل. دوی دواړه د تمځای سره په خوا کي ودریدل او لاسونه یې راته ښورول.

کاترین "دوی ښه خلک وه".
"ریښتیا هم له موږ سره یې رویه ډیره ښه وه".

له مونټریکس نه په اورګاډي کي د لوزیان په نیت رهي شوو. له کړکیو نه مو وه هغه ځای ته چي پکي اوسیدو، کتل. پر غرو باندي وریځ ورو ورو راغونډېدل. اورګاډې یو ځلي په ویوې کي ودریدل. له دې ځایه بیرته رهي شوو. د لارې په یوه اړخ کي مو سیند په بل اړخ کي مو خړ خړ کښتونه، تش ځنګلونه او باران وهلي لانده کورونه ول. لوزیان ته له رارسېدو سره مو په یوه متوسط هوټل کي واړول. له تمځای سره، نژدې یوې بګۍ ته ورپورته شوو او هوټل ته راغلو. باران تراوسه ښه په شرپهاري وربېده. د هوټل د ناظم په چپه ګردن ځوړند کیلۍ، لفټ، په کارپیټ فرش شوی دهلېز، سپینه چیلم چۍ له ښکلو ظرفونو سره، ژړ رنګه کټ او ښکلې لویه کوټه دا هرڅه ډیر زړه راښکونکي او خیالي ښکاریدل. له کړکۍ نه ورلاندي یو لوند بڼ ښکاریده، د دیوال له پاسه یې اوسپنیزه کټارې راتاو شوي وې. زموږ له هوټل نه لږ ورهاخوا دې ته ورته یو بل هوټل وو، چي خاص د دې بڼ په شان بڼ همالته هم وو. تر کړکۍ لاندي مي فوارې ته وکتل، چي د باران څاڅکې پکي رالوېدل.

کاترین څراغان روښانه کړل او د غوټو په خلاصولو یې پیل وکړ. د یوه بوتل ویسکي او سوډا راوړلو اډر مي ورکړ. د ویسکي او سوډا تر رارسیدو پوري پر کټ اوږد وغځیدم او په تمځای کي رانیولی اخبار مي مخي ته ونیو. اوس د ۱۹۱۸میلادي کال د مارچ میاشت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه. جرمني پر فرانسې حمله کړې وه. ویسکي او سوډا مي وڅیښل او اخبارونه هم مي هم تر نظر تیر کړل. کاترین هم د غوټو له شنلو نه فارغه شوې وه او په کوټه کي شاوخوا راګرځېدل.

کاترین "ستا په نظر اوس باید څه شي رانیسو؟"

"څنګه څه شي رانیسو؟"
"د ماشوم جامې او پوښاک ښیم. خلک وړاندي له دې چي زما حالت ته راورسیږي، د ماشوم ټول اړین مواد یې تیار کړي وي".
"ولاړه شه او ویې پېره".
"همداسي کوم. سبا له خیره بازار ته ځم او ټول اړین شیان رانیسم".
"ستا باید په هرڅه سر خلاص وي، نرسه هم یې".
"البته په جګړه ایزو حالاتو کي ډېر کم موندل کیږي، چي پوځیان دي پلرونه شي".
"زه خو دادی پلار شوم".

بالښت یې راباندی راخیر کړ، سوډا او ویسکي چپه شول.
کاترین "د یو بل بوتل د راوړلو به ورته ووایم. ډیره بخښنه غواړم اشتباه زما وه".
"بوتل کي ډېر څه نه وو پاتې. دلته راشه".

"نه. کوټه ډېر کار غواړي، باید د یوڅه په خیر خو ښکاره شي".

"د څه په څیر؟"
"زموږ د کور په څیر".
"د متفقینو بیرغ پکي را ځوړند کړه".
"غلی شه".
"دا جمله بیا ووایه".
"غلی شه".
"څومره ورو دي وویل، داسي لکه د یو چا ازارول دي نیت کي نه وي".
"هو نه غواړم".
"نو بیا راشه".

"سمه ده". راغلل او د کټ له پاسه کښېناستل "کرانه پوهیږم چي د کوم درد نه دوا کیږم. اوس د اوړو د ګونی په څیر شوي یم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“نه. نه يې. ته ډېره ښکلې او ښه يې”.
“په هرصوت، بيا هم نادره ده، چې ما غوندي بدقواره دي د خپل ژوند ملګرې وګرځول”.
“نه داسي نه ده. ته هر وخت ښکلې وې”.
“خو دا خبره واوره، زما ګېډه به بيا له خيره وړوکې شي”.
“اوس هم بده نه ايسې”.
“ته لا تراوسه څښناک کوې؟”
“يوازي سوډا او ويسکي دي”.
“هاغه دی، په دهلېز کي د يو چا د پښو کړپهار دی. ورته وبه وايو چي زموږ ماښامنۍ دلته کوټې ته راوړي”.
“که داسي وشي، ښه به وي”.

کاترين وويل “که مو ډوډۍ همدلته وخوړه، نو بيا دباندي تګ ته اړتيا نشته. همدلته به پاتې شو”.

“او لوبه به وکړو”.
کاترين “زه به يو څه څښناک وکړم. فکر نه کوم، چي مضر دي وي. هماغه پخواني کاپري شراب به وڅښنو”.
“سمه ده. دلته په هوټلونو کي ايټالوي شراب ډېر پيداکيږي”.

خادم دروازه وټکول. دی له يوه پتنوس سره، چې د يخي ټوټې، يو بوتل ويسکي او يو کوچنی بوتل سوډا پکښې وه کوټې ته راننوت.
ده ته مي وويل “مننه. همالته لاندي يې کښېږده. که تکليف نه وي، دوه نفري ماښامنۍ له دوه بوتله کاپري او يخي سره راوړه”.
“خوښه مو نه ده چي ماښامنۍ په سوپ سره پيل کړئ؟”
“کاترين، ته سوپ خورې؟”
“هو”.
“سوپ د يوه نفر لپاره”.
“مننه ښاغلي”. بهر ووت او دروازه يې بنده کړل. بيرته مي اخبارونه مخي ته ونيول او په اخبارو کي رواني جګړې ته ورستون شوم. ګيلاس کي پراته يخي او ويسکي باندي مي ورو سوډا ورتوی کړل. دا خبره مي هېره شوه، چي خادم ته مي ويلي وای، چي يخی په ويسکي کي وانه چوي، بلکي جلا يې راوړي. پدې سره پوهيږو چي په ګيلاس کي څومره ويسکي شته او ناڅاپه که سوډا ګيلاس ته واچوم ويسکي به نه نرۍ کيږي. ما بايد ويسکي د مخه لا

(c) ketabton.com: The Digital Library

رانیولي وای، سوډا او یخی مي له دوی نه غوښتي وای. همدا یې ښه لاره وه. ښه ویسکي خوندوره وي.

"په څه سوچو کي ډوب یې، ګرانه؟"

"د ویسکي په اړه مي لږ فکر کاوه".

"څه فکر دي کاوه؟"
"دا چي څومره ښه خوند کوي".
کاترین په بېل انداز وویل "ډېر ښه".

په هماغه هوټل کي مو درې اونۍ تېري کړې. بد نه وو، خوړنځای به ډېری وختونه تش وو او کله کله به مو د شپې ډوډۍ په خپله کوټه کي خوړه. په ښار کي به ګرځېدو راګرځېدو، ځیني وختونه به په اورګاډې کي (اوچې) ته د منظرې لپاره تلو. هوا خاص د پسرلي په څېر معتدله شوې وه. ارمان مو کاوه چي کاشکي بیرته هماغه غرني کور ته ولاړ شو، خو دې کاذب پسرلي ډېر لږ دوام وکړ او بیرته د ژمي یخي څپې راوالوتې.

کاترین ټول هغه شیان چي د ماشوم لپاره اړین ول، وپیرل. ما د ښار په یوه جمنازیم کي بوکسنګ پیل کړ. سهار وختي به چي کاترین به لا بیده وه کلب ته تلم. په کاذب پسرلي کي تر بوکس کولو وروسته لمبا، بیا په کوڅه کي تګ، د پسرلي ښکلي هوا تنفس کول، په کیفي کي کښېناستل او د خلکو تګ راتګ ته کتل، د اخبار له لارې له نړۍ نه ځان خبرول له دې سره جوخت د ورموت څیښل او بیا په هوټل کي له کاترین سره ناشته کول؛ دا هرڅه ډېر پام اړونکي ول. د بوکس لارښود مو یو بریتور او ډېر باریک بین انسان وو. ډېر چسپانده وو، که به چا هغه په تمرین کي تعقیباوه نو خامخا به ستړی کیده. هماالته جیمنازیم کي به مي پام هم په بله کیده. په ښکلي هوا او تر رڼا لاندي مو سخت تمرینات کول. تر رسۍ اوښتل، شیډو بوکسینګ او د نس حرکات، دې ټولو تمریناتو د لمر د وړانګو په وړاندي، چي له خلاصي کړکۍ نه دننه راتلې ډېر ښه خوند کاوه. ځیني وختونه به مو د تمرین پر مهال زموږ لارښود هم ډاروی. په پیل کي مي د اوږدې او نرۍ هینداري په وړاندي شیډو بوکسینګ نه شوای کولای، ځکه په ږیره کي تمرین راته بیخي بل ډول ښکاریدل. خو وروسته ورسره عادي شوم. کله چي مي بوکس پیل کړ د ږیرې خریلو نیت مي وکړ، خو کاترین راسره ونه منل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني وختونه به زه او کاترين د اس سورلۍ لپاره د ښار څنډو ته په بګۍ کي تلو. که به هوا سمه او صافه وه نو سورلۍ به ډير ښه خوند کاوه. د خوراک او دمه کېدو لپاره مو دوه ښکلي ځايونه غوره کړي ول. کاترين په دې شپو او ورځو کي ډير پلی تګ نه شوای کولای، زما بيا دا ارمان وو، چي د ښار په څنډو کي د سړک پر ژيو تر ډيره وګرځو. په هغه ورځ چي هوا به سمه او معتدله وه، ډير ساعت به مو تېرېده او په خپل منځ کي مو تشويش ته هيڅ ځای نه ورکاوه. په عين زمان کي پوهيدو، چي د ماشوم راتګ ته ډير وخت پاتې نه دی او داسي مو احساسول لکه يو بيړنی کار چي مو پاتې وي، ځکه مو نو يوه شيبه هم يو له بل نه په جدايي کي نه تيرول.

## يو څلويښتم فصل

يوه شپه نژدي درې بجې وې، چي راپاڅيدم. کاترين ته چي مي وکتل، په ځای کي پرله اوښتل.

"کاترين، خيريت خو به وي؟"
"له يو ګړي راهيسي مي دردونه کيږي".
"مسلسل او منظم دي؟"
"نه، زيات نه".
"که دردونه مسلسل وي، نو بيا روغتون ته درځه".

ډير خوبوړی وم او په څو شيبو کي بيرته خوب راباندي غالبه شو. شيبه وروسته بيا راپاڅيدم.
کاترين "فکر کوم که ډاکټر ته ټيلفون وکړې ښه به وي. فکر کوم دردونه يې پيل شوي".

د تليفون لور ته ورتېر شوم او ډاکټر ته مي ټيلفون وکړ پوښتنه يې رانه وکړل"دردونه څه وخت راځي؟"

"کاترين، دردونه څه وخت راځي؟"

کاترين "فکر کوم هر پنځلس دقيقې وروسته راځي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر "نو بیا په بېړه روغتون ته ځانونه رسوئ. زه خپله په بېړه کالي تبدیلوم او هلته درځم".

ټیلفون مي بند کړ او وه ګاراج ته مي په ټکسي والا پسي زنګ وواهه. ښه ډیر زنګونه مي ور ووهل، خو چا جواب رانه کړ. کاترین هم ځان اماده کړ او ټول هغه شیان چي په روغتون کي ورته اړتیا پیښیدل، را واخیستل. ښه ځنډ وروسته یوه سړي وعده راسره وکړل چي لږه شیبه وروسته به یو ټکسي رااستوي. دباندي له چوکیداره پرته بل څوک نه وو. خپله مي لفټ راپورته کړ او د کاترین غوټه او شیان مي پکښې ځای پر ځای کړل. دا هم پکښې سپره شول او راکښته شوو. چوکیدار دروازه خلاصه کړل او بهر پر سړک وه ټکسي ته منتظر شوو. هوا ښه صافه وه، ستوري هم ځلیدل. خو کاترین حیرانه دریانه پاتې وه.
کاترین "په پیلیدو یې خوښه شوم. ښه دی، چي غم یې ژر لنډ شي".
"ته ډیره زړوره یې".

"ډار نه دی په کار. خدای دي وکړي، چي دا ټکسي اوس ژر راشي".

د ټکسي غرهاری مو واورېد. په مخ کي لګیدلي بتۍ باندي مي سترګې ولګیدې. موږ ته رانژدې شو. له کاترین سره مي موټر ته په ورپورته کېدو کي مرسته وکړه. موټروان زموږ غوټې د موټر په مخکني سیټ کي کښېښودې.

موټروان ته مي وویل "وه روغتون ته درځه".

سړک ته ورپورته شوو او د روغتون پر لور رهي شوو. روغتون ته له رسیدو سره سم مي له ټکسي نه غوټې راکښته کړې او روغتون ته دننه ورغلو. روغتون کي د میز تر شا یوه میرمن ناسته وه. د کاترین نوم، عمر، پته، خپلوان او مذهب یې په کتاب کي درج کړل. کاترین ورته وویل چي لامذهبه ده. هغې هم په کتاب کي د دغه لفظ په مقابله خانه خالي باندي کرښه راوکښل. خپل نوم یې کاترین هنري ورياد کړ.

د میز تر شا ناستي میرمن مخاطب کړو "زه به تاسي ته ستاسي کوټه دروښیم". په لفټ کي لوړ ولاړو. بیا یې لفټ ودراوه، دباندي راووتو او په دهلېز کي په دې پسې شوو. کاترین ټینګ له لاسه نیولی وم.
"دغه ستاسي کوټه ده. جامې تبدیلي کړئ او پر هاغه کټ پریوزئ. شپنی جامې هم شته".
کاترین "زما سره خپلي شپنۍ جامې شته".
هغې ورته وویل "که هماغه جامې واغوندې ښه به وي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه بهر راووتم او په دهلېز کي پر چوکۍ کښېناستم.
میرمنې راته وویل "تاسي اوس دننه راتلای شئ". دننه ورغلم کاترین پر یوه نري کټ باندي پرته وه او غټ چارتراخه کي شپنۍ جامې یې اغوستي وې. له خالص شیټ څخه جوړ شوي وه. زما په لیدو راته مسکۍ شول.
کاترین "دردونه اوس کم شوي". هغې ښځې د کاترین مړوند نیولی وو او په خپل لاسي ساعت باندي یې د دردو وخت اندازه کاوه.
کاترین "اوه، بیا یو غټ درد راغلی". له څېرې نه یې ښکاریدل، چي څومره تاثیر یې پرې کړی.
زموږ له لارښودي مي وپوښتل "ډاکټر چیري دی؟"
"بیده دی، که هغه ته اړتیا شول بیا یې راغواړو".
نرسه "د اغلې لپاره اوس په بېړه زه خپله یوه چاره کوم، کیدای شي یو ځلي بیا ووزئ؟"

زه بیا وه دهلېز ته راووتم. دهلېز تش تور ولاړ وو. له دوو بندو کړکیو او بندو دروازو پرته بل څه نه وو. د دواوو بوی مي پزه بوخته ساتلي وه. همدلته پر یوه چوکۍ باندي کښېناستم، سر مي لاندي وځړاوه او د کاترین لپاره په دعاو مشغوله شوم.
نرسه "تاسي راتلای شئ". دننه ورغلم.
کاترین "سلام ګرانه".
"دردونه اوس څنګه دي؟"
"اوس بیا ژر ژر راځي." څېره یې الوتي وه. راته مسکۍ شول.
"هغه دی بیا راغلی، نرسې کیدای شي چي لاس مو زما وه شاته ونیسئ؟"
نرسه "که ستاسي د درد دوا کیدای شي، ولې نه".
کاترین "ګرانه ته تلای شې. دباندي ولاړ شه او د خوراک لپاره یو څه راوړه. نرسه وایي کیدای شي دا لړۍ ډیر وخت ونیسي".
نرسه "اول واري(لمړنی) ولادت تل تکلیفي وي".
کاترین "لطفا دباندي ولاړ شه او د خوراک یو شی راوړه. زه ریښتیا درته وایم ښه یم".
"زه به یوه شیبه لا ودریږم".

دردونه بیا پرلپسي راغلل، خو بیرته یودم ورک شول. کاترین حیرانه دریانه پاتې وه. کله چي به دردونه سخت وه نو ښه به یې بلل، بیا چي به کله ولاړل ناامیده او شرمګړاندې به شول.
کاترین مخاطب کړم "ته ورشه. فکر کوم چي ستا موجودیت مي په تکلیفوي" څېره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننوتې ښکاریده.
"هغه دی. هغه ښه یې دی. زه غواړم چې یوه ښه میرمن وه اوسم او پرته له کومې ستونزې ماشوم نړۍ ته راوړم. لطفا دباندې ولاړ شه او د سهارنۍ لپاره یو څه درسره راوړه. بیرته بیا راشه، فکر کوم چې ستا کمی به محسوس نه شي. نرسه له ماسره ډیره مرسته کوي".
نرسه "په بیغمه زړه ناشته کولای شئ".

"نو بیا زه ځم. د خدای په امان ګرانې".
"په مخه دې ښه. او یاد یې لره، چې زما سهارنۍ دې هم له یاده ونه وزي".
له نرسې مې وپوښتل "سهارنۍ لپاره چیرې ولاړ شم؟"
"له څلور لارې چې تیر شوې، همالته په کوڅه کې یو کافي شاپ دی، کیدای شي اوس هم خلاص وي".

ورو ورو سهار کیده. په تشه توره کوڅه کې د کافي شاپ په لور پلی روان شوم. په کړکۍ کې یې څراغ لګیده. دننه ورغلم او یوه زاړه سړي راته یو جام له ډبل روټۍ سره راته وړاندې کړ. ډبل روټې د تیرې ورځې وه. هغه مې په جام کې غوټه کول او خوړل او په پای کې مې یو ګیلاس قهوه هم پسې وڅیښل.
زاړه سړي پوښتنه راڅخه وکړل "په دې سهار وختي څه کوي؟"
"میرمن مې د کوچني مریضې لري".
"د ښه بخت په هیله یې یم".
"یو بل جام هم راکړه".

بوتل یې پر جام باندې راپورته کړ او تر خولې یې راډک کړ. څو څاڅکي پر میز هم ترې توی شول. هغه جام مې هم تر ستوني کړ. د سهارنۍ پیسې مې ورکړې او دباندې را ووتم. دباندې په کوڅه کې د کچرې سطلونه، وه مزدور ته په انتظار پراته ول. همالته یوه ولاړ سپي پر یوه سطل باندې پزه راکښل.
له ده مې وپوښتل "څه شي لټوې؟" په سطل کی می وکتل چې که یو شی مي پیداکړ او ورته وریې کړم، خو د قهوې له دبلیو او ځینو مړاوو ګلانو پرته بل څه نه ول.
ورته ومي ویل "سپیه دلته خو کوم شی نشته". سپي د کوڅې یو بغل ونیو او ولاړ. په روغتون کې هغه پوړ ته چې کاترین پکښې بستر وه، وروختم او د کاترین د کوټې دروازه مې وټکول. چا جواب رانه کړ. دروازه مې ور ټیل وهل، د کاترین د غوټو او شپنیو کالیو پرته، چې پر دیوال ګیر باندی ځړیدل بل څه نه وو. بیرته وه دهلېز ته کښته شوم او شاوخوا ګرځیدم چې یو څوک پیدا کړم. په اخره کې مي یوه نرسه پیداکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"اغلې هنري چیري ده؟"
"یوه خانم یې همدا اوس وه ولادت خانې ته بوتلل".
"ولادت خانه چیري ده؟"
"زه به یې درته وښیم".

زه یې د دهلېز پای ته بوتلم. د کوټې دروازه لږ خلاصه وه. د دروازې له چولې نه مې کاترین ته وکتل، چې پریوه کټ باندې پرته وه او یوه برستن پرې هواره وه. نرسه یې یوه څنګته او ډاکټریې وه دا بل څنګته له څو ډبو سره ولاړ وو. ډاکټرله یوه ربړي ماسک سره، چې یو پیپ پرې تړلی وو، ولاړ وو.
نرسه "زه به یوه چپنه درکړم بیا کولای شي چې دننه هم ورشي. مهرباني وکړئ دلته راشئ".

سپینه چپنه مي واغوستل او په سنجاق باندې مې پسې ټینګه کړل.
"اوس دننه ورتلای شئ". دننه ورغلم.
کاترین په لړزانده اواز وویل "سلام ګرانه. وضعه مې لا نه ده سمه شوې".
ډاکټر"تاسې ښاغلی هنري یاست؟"
"هو. ډاکټر صاحب د ناروغ وضع څنګه ده؟"
ډاکټر"خدای پاک مهربان دی. دلته ځکه راغلو چې د اړتیا په وخت کې اکسیجن ژر ورکولای شو".
کاترین "رایې کړه". ډاکټر ربړي ماسک د دې پر خوله باندې ورکښېښود او ډایل یې سره وڅرخاوه. کاترین ته مې کتل چې ژوره او په بیړه یې ساه اخیستل. شیبه وروسته کاترین ماسک له مخې لیري کړ. ډاکټر هم اکسیجن پرې بند کړ.

کاترین "دا ځلې دومره غټ نه وو. څو شیبې وړاندې یې ډیره په تکلیف کړم. ډاکټر زه بیخي بیهوښه کړم که څنګه ډاکټر صاحب؟" اواز یې بیخي لړزانده وو، د ډاکټر له ویلو سره یې اواز راپورته شو. ډاکټر مسک شو.
کاترین "هله بیا یې راکړه." ربړي ماسک یې پر خوله باندې جوخت ونیو او په بیړه یې ساه واخیستل. زګیروی مې یې واورید. بیا یې ماسک له مخې لیري کړ او مسکۍ شول.
کاترین "دا یې هم له هغه غټو څخه وو. بیخې غټ. خو ګرانه ته مه پریشانه کیږه. ته ولاړ شه یو ځلې بیا هم ناشته وکړه".
ما ورته وویل"نه زه به همدلته پاتې شم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سهار نژدې درې بجې به وي، چې مونږ روغتون ته ولاړو. تر غرمې پورې لا کاترین په ولادت خانه کې وه. دردونه اوس بیا لږ څه کم شوي وه. دا ډیره ستړې او کوټل شوې ښکاریدل، خو بیا هم همت بایللې نه ښکاریدل.
کاترین "ګرانه زه ښه نه یم. ډیره بخښنه غواړم، ما فکر کاوه، چې دا هرڅه به ډیر ژر ختم شي.اوس ــــ دادی بیا ــــ" لاس یې راوړاندې کړ او ماسک یې پر خپل مخ باندې ورجوخت کړ. ډاکټر بیا ډایل وڅرخاوه او دې ته یې وکتل. شیبه وروسته درد بیا ختم شو.
کاترین "دا ډیر غټ نه وو". راته مسکۍ شول"په دغه اکسیجن پسې لیونۍ شوې یم. ډیر ښه خوند کوي".
دې ته مې وویل " کور ته به یې هم له خیره یوسو".
کاترین یو ناڅاپه وویل "هغه دی بیا راځي". ډاکټر بیا ډایل وڅرخاوه او ساعت ته یې وکتل.
ما پوښتنه ځیني وکړل "اوس د دردونو تر منځ فاصله څومره ده؟"
"شاوخوا یوه دقیقه".
ما ورته وویل "د غرمې ډوډۍ کله خورې؟"
ده وویل "اوس به یې وخورم".
کاترین "ډاکټر صاحب تاسې باید ډوډۍ وخورئ. بخښنه غواړم چې تاسې مې ځنډولې یاست. زما خاوند اکسیجن راکولای شي؟"
"که ستاسو خوښه وي بیا نو سمه ده. دغه نمبر پر دوه باندې ودروه".
ما ورته وویل "سر مې په خلاص شو". پر ډایل باندې یوه نښه وه چې په لاس باندې څرخیدل.
کاترین"هله ژر یې راکړه." ماسک یې بیا پر خوله باندې جوخت ونیو. ما نمبر پر دوو باندې ودراوه او چې کله کاترین ماسک ایسته کړ بیرته مې اکسیجن پرې بند کړ. د ډاکټر له خوا راسپارل شوې دنده راته په زړه پورې وه.

کاترین "اکسیجن تا راکړ؟" زما مړوند یې ټینګ ونیوه.
ما ورته وویل "هو".
"ته ډیر ښه یې". اکسیجن پر دې باندې اغیز کړی وو.
ډاکټر وویل "زه به په دا څنګ کوټه کې یو څه ډوډۍ وخورم. که مو زه په کار شوم، راته ویلای شئ".

ډاکټر ته به مې هر ګړی کتل. ډوډۍ خوړلو باندې بوخت وو. څو شیبې وروسته مې، چې کله ده ته وکتل، ډډه یې لګولې وه او سګرېټ یې څکاوه. کاترین شیبه په شیبه نوره هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستړې کېدل.
کاترین "څه فکر کوې، ته وا ماشوم به دې نړۍ ته راوړو؟"
"هو. ولې نه".
"زه تر وسه وسه هڅه کوم، چې نژدې راشي. هغه دی بیا راغلی. هله اکسېجن ژر راکړه".

څه کم دوې بجې له روغتونه، د غرمې ډوډۍ په نیت ووتم. کافي شاپ کې یو څو نور کسان هم ناست ول. مخې ته یې د الوبالو او مارک شراب پراته ول. زه هم پر یوه میز باندې کښېناستم. " د خوراک لپاره څه درسره شته؟"
"د غرمنۍ وخت تیر شوی".
"اوس هیڅ هم نه شته؟"
"چکروټ شته".
"یو چکروټ له بیر سره راوړه".
"نیمایي که بشپړ؟"
"لږ څه نیمایې".

د کافي شاپ خادم له هاخوا نه له یوه لوښي ساورکرات چې له پاسه پرې غوښې اېښوول شوې وې او یوه ساسیج سره، راغلی. پر دوی سربېره مې بیر پسې وڅښل. ډېر وږی وم. همدلته مې پر ناستو خلکو یو نظر وځغلاوه. د یوه میز له پاسه ورقې کېدې. زما ګاونډ کې دوو نفرو بانډار کاوه او سګرېټ یې څکاوه. دلته د دود له لاسه طاقت نه کېده. په کافي شاپ کې اوس درې نفره په کار بوخت ول. یو بوډا، یوه تورکالی او خړیته میرمن، چې هر څه یې تر خپل ځار لاندې ساتلې ول او یو ځوان چې پیش بند یې تړلی وو. تورکالی میرمن د کاونټر شا ته، تکیه وهلې ناسته وه. دې خبرې ته فکر وړی وم، چې د دې به څومره اولادونه وو؟

ډوډۍ چې مې وخوړل، بیرته روغتون ته راغلم. کوڅه یې پاکه کړې وه او کچره دانۍ یې ټوله وړې وې. که څه هم خال خال وریځ وه، خو لمر به بیا هم یو وار وار تر وریځو راوته. روغتون ته له رارسېدو سره په لفټ کې لوړ وختم. د کاترین کوټې ته، چې ما خپله چپنه پکښې پرې ایښې وه، ورغلم. چپنه مې واغوستل او په غاړه کې مې په سنجاق باندې بنده کړل. په هنداره کې چې مې ځان ته وکتل، شکل مې بیخي یوه جعلي ډاکټر ته پاتېده. بیرته راکښته شوم او ولادت خونې ته ورغلم. دروازه یې بنده کړې وه. ما چې وروټکول، چا جواب رانه کړ، خپله مې دروازه خلاصه کړل او وردننه شوم. ډاکټر له کاترین سره نژدې ناست وو. نرسه د کوټې په پای کې په یو څه باندې بوخته وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر کاترین مخاطب کړل "ستاسي خاوند راغلی".
"اوه ګرانه! ډاکټر صاحب ډېر ښه او مهربانه دی." دغه جمله یې په یوه سختی سره وویل.
"دی بیخي ښه خوندورې کیسې راته کوي او چې کله مي دردونه شدید شي، نو مي بیخي بېهوښه کړي. ډاکټر صاحب تاسي ډېر ښه شخصیت یاستی".
دې ته مي وویل "ته په سد کي نه یې".
کاترین "پوهیږم، خو تا ته یې د ویلو اړتیا نشته. هله هغه راکړه. هله هغه راکړه". په بیړه یې ماسک پر خپله خوله باندي جوخت ونیو. څو پرلپسې او ژورې ساه ګانې یې واخیستې. له هر ځل ساه کښلو سره به تنفسي آلې یو ډول اواز کاوه. په اخره کي یې یو غټ اسویلی وکیښ. ډاکټر خپل چپ لاس ور وړاندي کړ او ماسک یې ځیني واخیست.
کاترین "ډېرسخت وو". اواز یې ډېر توپیر کړی وو."اوس نو، نه مړه کیږم. د مرګ له ځایه اوس راتېره شوې یم. ګرانه ته خوشحاله نه یې؟"
"بیا یې اړخ ته لا ورتېره نه شې".
"نه مړه کیږم. له مرګه نه ډاریږم. مرګ له ما څه غواړي؟ ګرانه زه نه مړه کیږم".
ډاکټر "داسي نه شي کیدای. ته خپل خاوند یوازي نه شې پرېښودئ".
"اوه، زه نه مړه کیږم. زما مرګ نه دی خوښ. مرګه ته مي لا ډېر وخت پاتي دی. هغه دی بیا راغلی".

څو شیبې وروسته ډاکټر مخاطب کړم "ښاغلی هنري! که تکلیف نه وي، د یو څو شیبو لپاره دباندي ولاړ شئ. زه به یوه معاینه وکړم".
کاترین "دی زما سیل ته ولاړ دی. خو ته کولای شې، چي بیا راشې، همداسي نه ده ډاکټر صاحب؟"
ډاکټر وویل "همداسي ده. که تا ته اړتیا پیدا شول، بیا دي موږ راغواړو".

زه دباندي راووتم او په هغه کوټه کي، چي له زیږون نه وروسته یې کاترین ورته راوستل، کښېناستم. یوه چوکی مي راکش کړل، پرې کښېناستم او شاوخوا مي کتل. غرمه چي د ډوډۍ لپاره بازار ته وتلی وم، بازار کي مي اخبارونه رانیولي وو، له جیبه مي راوایستل او ومي لوستل. ورو ورو تیاره کېده. زه پاڅیدم او ګروپ مي ولګاوه. ګړی وروسته مي اخبارونه یوه بغل ته کړل، ګروپ مي خاموشه کړ او دباندي مي کتل. دې فکرو، چي ډاکټر لا ولې تراوسه یو نفر نه راپسي راولیږه، پر سر واخیستم. کیدای شي همالته زما نه شتون تر شتون بهتره وو. کیدای شي د هغه غوښتنه همدا وه، چي زه د یو څو شیبو لپاره بهر ولاړ شم. خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسي ساعت ته مي وکتل. هوډ مي وکړ که تر څو شیبو پوري یو څوک راپسي راونه لیږي، نو له ستنه پرته به ورځم.

بیچاره، بې وزله زما ګرانه کاترین. دا د یوځای بیدیدو بیه وه، چي اوس مو پرېکول. همدا د لومې پای وو. همدا یو له بل سره د مینې کولو پایله وه. په هر صورت بیا هم د خدای پاک شکر دی چي ګاز شته. آ ښه که د بیهوښۍ درمل نه وای، نو؟ دردونه چي به یو ځلي پیل شول نو بیا بیا ځلي به تکرارا راتلل. کاترین تر زیږون پوري له کومې ستونزې سره مخ نه شول. هر څه عادي ول. ان ډیره کمه به ناروغه کېدل. تر دا وروستیو میاشتو پوري خو چنداني په تکلیف هم نه وه. له پیښي نه تیښته نشته. څه غضب وهلی تګ! که مو پنځوس ځله هم واده کړی وای پایله به یې همدا وای. که دا مړه شي نو؟ نه داسي نه شي کیدای. په اوس وخت کي څوک د ولادت پر مهال نه مري. ټوله میړونه همدا ډول فکر کوي.هو، خو که مړه شي نو؟ دا نه شي مړه کیدای. اول واري ولادت خو همداسي تکلیفي وي. دا هرڅه یوازي یو څو شدید دردونه دي. خو کوم شدید دردونه؟ کاترین بیا وایې په ریښتیا چي دومره بد نه وه. ښه که دا مړه شي نو؟ نه داسي نه شي کیدای. هو همداسي ده. خو که مړه شي نو؟ خو زه درته وایم چي دا نه شي مړه کیدای. بې عقل کیږه مه. دا یوازي یو څو دردونه دي. دا یوازي طبیعي تکلیف دی چي دې ته ورکول کیږي. لمړی ولادت خو له معمول سره سم تکلیفي وي. هو، خو که دا مړه شي نو؟ داسي نه شي کیدای. ولې مړه شي؟ ایا د دې د مرګ کوم لامل شته؟ یو کوچنی دی محض تولد کیږي. د ربړو او مشکلاتو بوجۍ یوازي همدا دی دی. وه دې نړۍ ته راځي، بیا یې پالنه کیږي. ممکن ښه دي هم ترې راشي. خو که مړه شي نو؟ دا هیڅ شونتیا نه لري. خو که مړه شي نو؟ نه داسي نه شي کیدای. هغه سمه دمه ده. خو که مړه شي نو؟ دا امکان نه لري. خیر، خو که مړه شي نو؟ که مړه شي نو څه؟

ډاکټر کوټې ته راننوت.
ما ورته وویل "د ناروغ وضعه څنګه ده؟"
ډاکټر وویل "د وضعې خوند نشته".
"څه شي؟"
"بس همدا. معاینات مي یې وکړل....". د معایناتو نتایج یې راته توضیح کړل. "له هغه راهیسي ورته منتظر یم، خو هیڅ توپیر تراوسه نه دی تر سترګو شوی".

"ته یې په اړه څه وایې؟"
"اوس دوه لارې پاتې دي. لمړی دا چي زیږون به د انبور په وسیله سرته رسیږي، له دې سره د زیاتي ژوبلېدا او د خطر اندازه زیاتیږي. د ماشوم لپاره هم زیانمن ثابتیدای شي او بله

(c) ketabton.com: The Digital Library

طریقه یې هم د سزارین عملیات دي".
"د سزارین خطر بیا څه دی؟ که مړه شي نو بیا؟"
"خطر یې تر معمولي زیږون ډیر نه دی".

"عملیات تاسي خپله کوی؟"
"هو. د اړتیا وړ شیانو تیارول نژدې یو ساعت وخت غواړي. کیدای شي تر دې لږ".
"ستا په نظر اوس باید څه وشي؟"

"زما په نظر د سزارین عملیات به یې ښه حلاره وي. که زما خپله ښځه وای، ما به همدا عملیات کول".
"جانبي عوارض به یې څه وي؟"

"جانبي عوارض نه لري. یوازي یو ټپ پاتیږي".

"که مکروبي شي بیا؟"
"خطر یې نسبت وه انبوري عملیاتو ته زیات نه دی".
"که یې پر همدې حالت پسي پریږدو او منتظر شو؟"
"یو څه باید وشي. میرمن دي اوس لا، تر پخوا ډیره کمزوره شوي. هر څومره چي ژر شوني وي باید عملیات شي".

ما ورته وویل "نو بیا چي څومره ژر شوني وي، عملیات یې کړئ".
"زه ځم، وه نرسانو ته لازمي لارښووني کوم".

ولادت خونې ته ورغلم. کاترین پر یوه کټ باندي پرته وه. له پاسه پرې یوه نازکه روجایې اچول شوې وه. څنګ ته یې یوه نرسه ولاړه وه. رنګ الوتې او خسته ښکاریدل.
کاترین "له ډاکټر نه دي پوښتنه وکړل، هغه یو څه کولای شي؟"

"هو، خدای پاک مهربان دی".
"ډیر ښه. اوس به دا هر څه له خیره ژر پایته ورسیږي. زه یې هم له اخه و ټوخه واچولم. غوټه یې ماته کړم. هله هغه راکړه. آخ دا خو کار نه کوي. اوه خدایه دا خو هم له کاره ولوېد!"

"ژوره ساه واخله".

"سمه ده. اوه دا خو بیا کار نه کوي. له کاره ولوېد!"
نرسې ته مي وویل "یو بله ډبه (سلنډر) راوړه".

(c) ketabton.com: The Digital Library

“دغه ډېره نوې ده. ځو شیبې وړاندې مو راوړل”.
کاترین “ګرانه، زه بیخي ناکاره یم. دې هم کار پرېښود”. په ژړا یې پیل وکړ.”اوه خدایه، ما غوښتل چې اولاد مي وشي خو پرته له مشکل نه. اوس خبره خلاصه شوې، زه مړه کیږم، دا هم کار نه کوي. اوه ګرانه. دا خو بلکل کار نه کوي. پروا نه لري چې مړه شم، خو چې دا دردونه مي ارام شي. اوه، خدایه! ګرانه دا دردونه لیرې کړه. هغه دی بیا راغلی اوه اوه اوه!”. د سلګیو وهلو پر مهال یې په ماسک کي ساه واخیستل.”له کاره ولوېد. کار نه کوي. بیکاره شو. ګرانه، له ما مه خفه کیږه. لطفا مه ژاړه. زما په خبرو سر مه ګرځوه. زه یې غوټه ماته کړم. زما مجنون بېچاره. مینه درسره لرم زه به ډېر ژر ښه شم. زه به ډېر ژر روغه شم. دوی ما ته یو شی نه شي راکولای؟ فقط یو شی دي راته راکړي”.

“زه به یې اوس سم کړم. درجه به یې تر وروستیو پوري وڅرخوم”.
“ژر یې راکړه”.

ډایل مي تر وروستۍ درجو پوري وڅرخاوه. کاترین له یوه ژور تنفس وروسته ماسک پرېښود. ما ګاز بند کړ او ماسک مي ترې پورته کړ. کاترین له یوه اوږده ځنډ وروسته بیرته په حال شول.
“ګرانه ډېر ښه وشول. ته زما لپاره ډېر ښه یې”.

“له همت نه کار واخله. زه یې هر ځلي نه شم کولای. کیدای شي همدا دي ووژني”.
“په ما کي نور همت نه شته. زه یې غوټه ماته کړې یم. نور یې نه شم زغملای. زه اوس د دې دردو په سختواله پوه شوم”.

“دا دردونه یوازې ته نه، ټول یې زغمي”.

“خو زه یې بیخي له حرکته وغورځولم. تر هغو چې څوک ښه ستړی نه کړي، نه یې پرېږدي”.
“یو څو شیبې لا صبر شه، هر څه به په خیر شي”.
“ځومره ښه. ګرانه زه خو نه مړه کیږم. همداسي نه ده؟”
“ته به نه مړه کیږې. له ما سره ژمنه وکړه، چې نه مړه کیږې”.

“زه هم نه غواړم، چې مړه شم او تا یوازې پرېږدم. خو زه یې دومره ناهیلې کړې یم، چې اوس مرګ ته په تمه یم”.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"بېځایه خبرې مه کوه. ته‌وله همداسي فکر کوي".
"ځیني وختونه فکر کوم، چي زه مړه کېږم".

"ته. داسي نه شي کیدای".
"خو که مړه شم نو؟"

"زه به تا د مرګ کومي ته پرېنږدم".

"هله هغه ژر راکړه. ژر کوه".

"نه مړه کېږم. زه ځان د مرګ کومي ته نه سپارم".
ما ورته وویل "بلکل همداسي ده".
"ته له ماسره پاتېږې؟"
"د سیل لپاره نه".

"نه، یوازي همدا ستا د شتون په خاطر".
"ولې نه. زه به هر وخت له تا سره یم".
"ته ډیر زړه سوانده یې. هغه دی بیا راغلی. ماسک ژر اکړه. هله ژر کوه. اوه خدایه دا خو بیا کار نه کوي".

ډایل مي له درو نه وه ځلورو ته وځرخاوه. دعاوې مي کولې چي ډاکټر ژر راشي. زه له دوه نه په پورته شمېرې باندي بېریدم.

بنه ګړی وروسته یو نوی ډاکټر له دوو نرسانو سره کوټې ته راننوت. کاترین یې په یوه اربه لرونکې تذکیره کي پرې ایستل او په دهلېز کي رهي شوو. تذکیره په بیړه د لفټ په لور روانه وه. لفټ ته ورپورته شوو. له ګنې ګوښې نه په ډک لفټ کي راټول شوو. لوړ ولاړو، بیا د لفټ دروازه خلاصه او ترې رابهر شوو. تذکیره په ربړې اربو باندي وه عملیات خونې ته وردننه شول. ماسک وهلی او خولۍ پر سر ډاکټر مي ونه پیژاند. همالته یو بل ډاکټر او څو نرسانې هم ولاړې وې.

کاترین "د درد د آرامي لپاره باید یو څه راکړي. اوه ډاکټر صاحب لطفا ما ته تسکینونکې درمل راکړئ".

د ډاکټرانو له مینځ نه یوه د کاترین پر خوله باندي ماسک ورکښېښود. له دروازې نه مي د ولادت خونې وه وړوکي امفي تیاتر ته کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوې نرسي راته وويل "که تکليف نه وي، له دغه ځايه تير شئ، همالته په هغه بله کوټه کي کښېنئ". د کټارې تر شا په رڼا کي سپين ميزونه ښکاريدل. کاترين ته مي يو نظر کاته وکړل، پر خوله باندي يې ماسک وراينىی وو. اوس د پخوا په نسبت غلې وه. تذکيره يې وړاندي بوتلل. زه بيرته راوګرځيدم او دهلېز کي روان شوم. دوې نرسانې په بيړه د دخولي دروازې په لور رواني وې.

يوې يې وويل "سزارين دی. دوی سزارين عمليات کوي".

هغه بلې يې وخندل "دوی هم پر وخت راورسيدل. بخت يې کار وکړ. که څنګه؟" پر هغه دروازه باندي وردننه شوې چي وه دالان ته ورغلې وه.

يوه بله نرسه راغلل، د دې هم بيړه وه. ما ته يې وويل "همدا اوس له دې ځايه ولاړ شه. همدا اوس ولاړ شه".
"زه بهر تم کيږم".

همداسي په بيړه ولادت خونې ته وردننه شول. زه په دهلېز کي پورته او کښته کيدم. له دننه ورتګ نه بيريدم.. له کړکۍ نه مي بهر وکتل. ماښام وو، خو د څراغانو په رڼا کي د باران وريدونکي څاڅکي ښکاريدل. د دهلېز په پای کي وه يوې کوټې ته ورغلم. هلته مي په يوه ښيښه يې الماری کي پر بوتلانو نوشتې ولوستې. بيا راووتم، بهر په تش دهلېز کي ودريدم او د عمليات خونې دروازې ته مي په برندو سترګو کتل.

له ولادت خونې نه يو ډاکټر، چي نرسه هم ورسره وه دباندي راووت. په دواړو لاسو کي يې يو شی نيولی وو. يوه تازه پوست شوي سوی ته ورته وو. په ډيره بيړه له دهلېز نه ووتل او پر يوه بله دروازه وردننه شول. دوی مي تعقيب کړل، يوې خونې ته وردننه شول همالته په يوه نوي زيږيدلي ماشوم باندي بوخت وه. ډاکټر هغه ما ته د راښکاره کولو په نيت راپورته کړ. تر پوندو يې ونيو او په چپلاخه يې وواهه.

"څنګه دی؟"
"ښه دی. پنځه کيلو دی".

په زړه کي مي ورته کوم احساسات نه درلودل. داسي نه ښکاريدل چي له ما سره دي کومه اړيکه ولري. اصلاً د پلارولی احساس مي نه کاوه.

نرسې پوښتنه رانه وکړل "تاسي د زوی په پيدايښت خوښ نه شوی؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی لمړی ماشوم پرېولی او بیا یې په یوه ټوکر کې وپېچه. توربخنه ځیره او لاسونه مې یې ولیدل، خو کوم خوځښت او کړیکه مې وانه ورېدل. ډاکټر هغه یوې خوا او بلې خواته کړ او وروسته ماښېچې ودرېد.

ما ورته وویل "یا داسې نه شي کیدای. نژدې وه، چې خپله مور یې وژلې وای".
"ګناه د ماشوم نه ده. تاسې اولاد نه غوښت؟"

ما ورته وویل "نه". ډاکټر په هغه مصروفه وو. بیا یې تر پښو ونیو او په چپلاخه یې وواهه. زه یې لیدو ته تم نه شوم. بیرته وه دهلېز ته ولاړم. اوس دننه ورتلای او کتلای مې شوای. په دروازه ورننوتم او په دهلېز کې یو څه وړاندې ولاړم. له کټارې سره پر پرتو میزو څو نرسانې ناستې وې، زما له لیدو سره یې ما ته اشاره وکړه، چې ورشم. ما د نه په دود سر ورته وښوراوه. دوی مې لیدای شوې.

ما چې ویل کاترین مړه شوې. خاص د مړې په څېر ښکاریدل. د ځیرې هغه برخه یې چې ما لیدل خړرنګه وه. ولادت خونه کې ډاکټر وه رڼا ته د یوه اوږد او نري زخم په ګنډلو بوخت وو. یوه بل ماسک تړلي ډاکټر د بیهوښۍ درمل ورکول. له ډاکټرانو سره دوې همکارې نرسانې د هغوی په څنګ کې ولاړې وې. دغه صحنه د منځنیو پیړیو وه بې رحمیو ته ورته وه. څنګه چې مې دوی ته وکتل، فکر مې وکړ چې ټول عملیات زما په وړاندې شوي؛ خو داسې نه وه او خوشحاله هم وه، چې د عملیاتو پر وخت خپله حاضر نه وم. فکر نه کوم، هغه ځای چې ډاکټرانو ځیرلی وو، ما دي لیدلی وي؛ خو د یوه ماهر موچي په څیر باتجربه ټکانو ته مې کتل، چې ټپ یې ګنډه. او ورته خوشحاله هم وم. د ټپ له ګنډلو او پیوستولو وروسته دباندې راووتم. ګړی اخوا دیخوا کېدم، چې ډاکټر هم راووت.
"زما میرمن څنګه ده؟"

"روغه رمټه ده. تا راته کتل؟"

ډاکټر ستړی ښکاریده.

"د ټپ ګنډلو پر مهال مې درته کتل. زخم ډیر اوږد ښکاریده".
"تا همداسې فکر کاوه؟"
"هو، ټپ به یې بیرته هوار شي؟"
"اوه، هو".

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو لحظې وروسته يې اربه لرونکې تذکيره راوايستل او په ډير بېړه يې په دهلېز کې د لفټ په لور روانه کړل. زه هم پسې ورغلم. کاترين زګيروی کاوه. لاندې په کوټه کې يې پر يوه کټ باندې پرې ايستل. زه يې له پښو سره کښېناستم. په کوټه کې يوه نرسه هم وه. لږ وروسته راپاڅيدم او کاترين ته نژدې ودرېدم. په کوټه کې تياره وه. کاترين له روجايې نه لاس راوايست.

کاترين "سلام ګرانه". ږغ يې ډېر بې سېکه او نښتيځلی شانته وو.

"سلام ګرانې".
"نجلۍ وه که هلک؟"
نرسه "شش..... خبرې مه کوه".

"هلک. غټ، اوږد او تور".
کاترين "سم خو به وي؟"

نرسې موږ ته رډ رډ کتل.

کاترين "بدن مې ټوک ټوک دی او سخت درد کوي. ته څنګه يې ګرانه؟"
"ښه يم. نورې خبرې مه کوه".
"ته ډير ښه يې. اوه ګرانه ډيرسخت درد مې کيږي. کوچنی څنګه ښکاري؟"
"داسې ښکاري لکه د سوی نه چې پوست وکاږې او لکه د يوه بوډا بونجې څيره".

نرسه "ته دباندې ووزه. اغلې لطفا خبرې مه کوئ".
ما ورته وويل "زه به ووزم".
"ورشه، يو څه ډوډۍ وخوره".

"نه. زه بهر تم کيږم". کاترين مې ښکل کړل. څېره الوتې، کمزورې او ستړې ښکاريدل. نرسې ته مې وويل "له تاسې سره يو څو خبرې لرم." موږ دواړه دهلېز ته راووتو. له کوټې څو قدمه هاخوا تېر شوو.

له نرسې څخه مې پوښتنه وکړل "په ماشوم څه شوي؟"

"ته نه يې په خبر؟"
"نه."

(c) ketabton.com: The Digital Library

“هغه ژوندی نه وو”.
“مړ وو؟”

“دوی یې په تنفس کښلو بریالي نه شول. نه پوهیږم چې پړی یې په غاړه کې تاو شوی وو، او که بله مسله وه”.
“نو مړ شو؟”
“هو. ډیر د شرم ځای دی. ډیر تندرست او غټ هلک وو. ما فکر کاوه، چې ته خبر یې”.

دې ته مې وویل “زه نه وم خبر. مننه. که اوس بیرته وه اغلې ته ورشې، ښه به وي”.

پر یوه چوکۍ باندې کښېناستم. پر مخامخ مې یو مېز او یو چنګک په دېوال کې ټک وهل شوی وو، چې نرسانو به د خپلو کړنو ریپورټ پرې نښلاوه. له کړکۍ مې دباندې وکتل، د څراغ په رڼا کې د باران د څاڅکو پرته بل هیڅ شی نه ښکارید. ماشوم ومړ. د ډاکټر د ماڼېچنې کیدو لامل هم هماغه وو. خو دوی په هماغه کوټه کې له ده سره دا هرڅه نه کول؟ دوی به دا فکر کاوه، چې کیدای شي اوس به ساه اخیستل پیل کړي. زه لادین وم، خو زما په نظر ده ته باید غسل تعمید ورکړل شوی وای. څه پروا لري چې ده ګرد سره تنفس ونه کړی. ماشوم د کاترین د ګېډې پرته ګردسره ژوند ونه کړ. په وارو وارو مې د ده لغتې وهل احساس کړي وه. خو د یوې اونۍ راهیسې دا هرڅه نه وه. کیدای شي په همدې موده کې خفه وو. بیچاره ماشوم. ارمان مې درلود چې زه هم د ده په شان خفه وای. نه، نه مې غوښتل. نور مرګ ګټه نه درلودل چې پناه دې وروړې وای. کیدای شي کاترین یې وژلې وای. همدا د عمل جزا وه. مړکیږې، خو نه پوهیږې چې ولې؟ هیڅکله یې د لامل لټولو لپاره ژوندی نه پاتیږې. دوی دې لمړی ننباسي، بیا قوانین درته وایې او له هغه نه وروسته دې وژني او یا هم د ایمو په څېر پرته له کوم دلیله وژل کیږي. یا هم په سفلس باندې مړ کیږي، لکه رینالډي. له مرګه په هیڅ ډول چاره نشته. که نن زما نوبت دی، سبا بیا ستا نوبت دی.

یو وخت مې په کمپ کې له میږیانو نه ډک یو لرګی د اور له پاسه کښېښود. څنګه چې لرګي اور واخیست، میږیان تبجن شول، د لرګي له ګوټ نه راووتل او د اور په لور په ځغاسته شول. همالته له رسیدو سره یې بیرته شاتګ راوکړ او ټول د لرګي په اخره کې راغونډ شول. څنګه چې د لرګي پر اخره باندې د میږیانو شمېر زیات شو، لرګی د اور مینځ ته ولوېد. ځیني یې په سوځلو بدنو اخوا دیخوا په ځغاسته شول، خو نه پوهیدل چې اوس کوم لور ته ولاړ شي. ځیني یې بیرته د اور په لور روان وه، په همدې ټېل ما ټېل کې یې ډیری

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه اور ته ولوېدل. په هماغه شېبه مي فکر وکړ، چي دا د نړۍ پای دی. له ځان سره مي فکر وکړ، چي که غواړم له ځانه مسیح جوړ کړم همدا یې ښه موقع ده، باید دغه لرګی له اور نه راایسته کړم او بیا یې پر مځکه کښېږدم چي میږیان په اور کي له لولپه کېدو نه په امان شي. خو ما داسي ونه کړل. البته ګیلاس کي موجودي اوبه مي پر اور وپاشلي، هغه هم د دې لپاره چي ویسکي او اوبه سره ګډي کړم او بیا یې وڅیښم. فکر مي وکړ، چي د اوبو له پاشلو سره میږیان بخار شول.

اوس په دهلېز کي ناست وم او د کاترین په اړه مي غوړونه په بې صبرۍ سره، د یو څه اورېدولو په تمه ول. نرسه تراوسه دننه په کوټه کي وه. د حوصلې کاسه مي ډکه شوه، د دروازې په لور ورتېر شوم او دننه مي وروکتل. لمړی مي څه نه لیدل، ځکه په دهلېز کي څراغ ډېر روښانه او په کوټه کي تیاره وه. وروسته مي نرسه ولیدل، له کاترین سره نژدې ولاړه وه. کاترین پر یوه بالښت سر ایښی وو او یوه نغاړکۍ پرې هواره وه. نرسې د کاترین پر شونډانو ګوتې کښېښودې. بیا راپاڅیده او د دروازې لور ته راغلل.
له دې مي پوښتنه وکړل "دا څنګه ده؟"

نرسه "ښه ده. ته ولاړ شه ډوډۍ وخوره او که دي خوښه وه بیا بیرته راشه".

په دهلېز کي رهي شوم، د زینو له لارې لاندي راکښته شوم او بیا له روغتون نه دباندي ووتم. په تیاره کوڅه کي د باران په څاڅکو کي کافي شاپ ته ولاړم. دننه ښه روښنایي وه، د خلکو شمېر هم زیات وو. په یوه خالي مېز پسي مي یوې خوا او بلې خوا ته وکتل، خو په نظر مي رانغلی. خادم یې زما لور ته راتېر شو له ما نه یې لوند کوټ او لنده خولۍ واخیستل او د یوه نشه بوډا څنګ ته وه پرتې چوکۍ ته یې اشاره وکړل. بوډا بیر څیښل او ماښامني اخبارونه یې لوستل. زه کښېناستم او له خادم نه مي د ورځې د خاصې غذا په باب پوښتنه وکړل.

"د ګیلګي غورمه، خو هغه خلاصه شوي".

"اوس د خوړلو لپاره څه شته؟"

"غوښې، هګۍ، هګۍ له پنیرو سره او ساسیج".

ما ورته وویل "ساسیج مي نن غرمه وخوړل".

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده وويل "هو، ريښتيا. تاسي نن غرمه ساسيج وخوړ". دی پوخ عمره، نزله ختلی او ښوی سری سړی وو. مهربانه څيره يې درلودل.
"اوس مو څه شي ته زړه کيږي؟ هګۍ، غوښې او که هګۍ او پنير؟"

ما ورته وويل "هګۍ او غوښې له بير سره".
"نيمايي؟"

"هو".

ده وويل "زما ياد دي، غرمه دي هم نيمايې څيښلی وو".

غوښې او هګۍ مي وخوړل او له پاسه مي بير پسي وڅيښه. غوښې او هګۍ په يوه ګردي غاب کي وي. هګۍ د غوښو له پاسه پرتې وې. خواړه ګرم وه، په دې چي خوله مي ونه سوځي، نو مي په لمړنيو څو ګولو پسي هر ځلي د بير غوړپ کاوه. ټينګ وږی شوی وم، خادم ته مي د يو بل خوراک د راوړو وويل. څو ګيلاسه بير مي پرلپسې وڅيښل. د دنيا او مافيها پرېشانۍ او فکرونه مي ايسته کړل. زما پر برابري ناست سړي، اخبار مخي ته نيولی وو، زما چي پام ورواوښت، په شاتنۍ برخه يې ما پيل وکړ. په جبهه کي يې د بريتانويانو د ماتې په اړه يو مطلب ليکلی وو. ده چي ما ته وکتل چي زه يې د اخبار شا لولم؛ اخبار يې کت کړ. فکر مي وکړ چي وه خادم ته د اخبار راوړلو ووايم، خو فکر مي راغونډ نه وو. په کافي شاپ کي ګرمې وه، اصلاً هوا يې د کار نه وه. اکثره کسان، چي دلته ناست ول، يو بل يې پيژندل. د څو مېزو له پاسه د ورقو لوبې کيدې. خادمان سخت لګيا وه. ډک جامونه به يې اېښوول، تش به يې بيرته وړل. دوه نفره پر دروازه رادننه شول، شاوخوا يې په يوه خالي مېز پسي وکتل، خو پيدا يې نه کړ. زما پر برابري باندي راته ودريدل. ما د يوه بل بير اډر پسي ورکړ. اوس لا وختي وو، د تللو اراده مي لا نه وه کړې. البته اوس لا روغتون ته د تګ وخت نه وو. هڅه مي کول چي له سوچو نه ځان وژغورم او په بشپړه توګه ارام وه اوسم. هماغه دوه نفره اخوا ديخوا شول، خو چا له خپل ځای نه ښور ونه خوړ، بيرته ووتل. ما يو بل بير هم کورټ کړ. اوس مي د نالبکيو يو غونډ وه مخي راټول شوی وو. زما وه مخ ته ناست سړي له سترګو نه عينکې ايسته کړې او په پوښ کي يې واچولې. اخبار يې کت او په جيب کي يې کښېښود. د ليکوير ګيلاس يې په لاس کي نيولی او شاوخوا يې سترګي رغړولې. يو ناڅاپه مي په زړه کي راوګرځيدل چي بايد ولاړ شم. خادم مي راوغوښت، خپل حساب مي تصفيه کړ. کوټ مي واغوست، خولۍ مي پر سر کړل او د دروازې په لور رهي شوم. په باران کي د روغتون په لور رهي شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زينو کي له نرسې سره چي لاندي راکوزيدل، مخامخ شوم.

ما ته يې وويل "ما همدا اوس په تا پسي وه هوټل ته ټليفون وکړ". د بدن وجغوني مي زيږې شوې.

"خدای دي يې خير کړي، څه خبره ده؟"
"د اغلي وينه تويیدنه شوې( خونريزي)".

"زه دننه ورتلای شم؟"
"نه، اوس نه. ډاکټر همالته دی".

له نرسې مي وپوښتل "خونريزي خو به خطرناکه نه وي؟"

"ډيره خطرناکه ده". نرسه کوټې ته دننه شول او دروازه يې بنده کړل. زه دباندي په دهليز کي کښېناستم. هيڅ په سد کي نه وم. دماغ مي کار پرېښود. بيخي بېحاله غوندي وم. دومره پوهېدم، چي کيدای شي مړه شي، خو دعاوې مي کولې، چي داسي ونه شي. خداي پاک دي يې نه مړه کوي. اوه، خدايه ته خو يې مه مړه کوې. که مړه نه شي زه به ستا لپاره هرڅه وکړم. لطفاً، لطفاً، لطفاً اه خدايه پاکه ته خو يې مه مړه کوې. زه به ستا د خوښی لپاره هر څه وکړم. ماشوم دي ځانته در وغوښت خو دا مه راڅخه اخله. هغه پروا نه کوی خو دا مه راڅخه اخله. لطفاً، لطفاً اوه خدايه دا مه راڅخه اخله.

نرسه راووتل. او د ګوتې په اشاره يې وروغوښتم. زه کوټې ته دننه ورغلم. زه چي ورغلم، کاترين پاس ونه کتل. زه ورتېر شوم او له کټ سره په خوا کي ودريدم. ډاکټر د کټ په بل اړخ کي له کټ سره ولاړ وو. کاترين ما ته وکتل او مسکی شول. زه ورخم شوم او ژړه غونی شوم.

کاترين په يوه بې سېکه اواز وويل "زما مجنون بيچاره". ډيره کمزورې ښکاريده.

ما ورته وويل "کاترين، په تا هيڅ نه دي شوي. ته به ډير ژر بيرته جوړه شې".
زه يې مخاطب کړم "زه مړه کيږم". بيا تم شول او وې ويل "نفرت مي ترې کيږي". لاس مي يې ونيو.

وې ويل "لاس مه راوړه". لاس مي يې ايله کړ. مسکی شول.
"ګرانه، څومره چي زړه دي وي، لمسولای مي شې".

"کاترين، ته به ډير ژر بيرته روغه شې. زما زړه راته وايي چي ته به جوړه شې".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ما غوښتل چي يو ليک درته وليکم که داسي وشول له تاسره به وي، خو و مي نه شواى کولاى".

"غواړې چي يو پادري يا بل څوک راولم، چي تا وګوري؟"

ما ته يې وويل "يوازي تا غواړم". شيبه وروسته يې بيا وويل "زه له مرګه نه ډاريږم، فقط کرکه مي ورځني کيږي".
ډاکټر "تاسي بايد دومره زياتې خبرې ونه کړئ".

کاترين وويل "سمه ده".
ما ورته وويل "کاترين، زه ستا لپاره کوم څه کولاى شم؟ يو شى درته راوړلاى شم؟"

کاترين مسکۍ شول "نه". شيبه وروسته يې بيا وويل "زما او ستا تر مينځ چي کوم څه شوي، هغه خو به له يوې بلي نجلۍ سره نه شريکيږي. که څنګه؟"

"داسي به هيڅکله ونه شي".

"خو بيا هم زما رايه دا ده، چي ښځه ولرې".
"هيڅوک مي نه دي په کار".

ډاکټر "تاسي له حده زياتي خبرې کوى. ښاغلى هنري تاسي بايد ولاړ شئ. تاسي بيا وروسته راشئ. ته نه مړه کيږې. بې عقلي مه کوه".
کاترين "سمه ده. زه هم بيا درځم او سره يو ځاى به يو". کاترين په ډيره سختى سره خبري کولې.

ډاکټر "لطفا بهر ولاړ شه. تاسي بايد له خبرو نه ډډه وکړئ". کاترين ما ته سترګه ووهل. د خيرې رنګ يې الوتى وو. ورته ومي ويل "زه دباندي درته منتظر يم".

کاترين "تشويش مه کوه. زه هيڅ نه بيريږم. يوازي يوه عجبه لوبه ده".

"زما زړورې مينې".

زه دباندي په دهليز کي منتظر شوم. زما انتظار ډير وخت ونيو. نرسه له کوټې راووتل او نژدې راتېره شول. بيا يې وويل "زه بيريږم. د اغلې وضعيت ډير وخيم دى. ډيره بيريږم".

"مړه شول؟"
"نه، تراوسه لا بېهوښه ده".

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي ښکاریدل چي د کاترین پرله پسي خونریزۍ شوې وه. ډاکټران يې د خونریزي په مخنيوي کي پاتې راغلل. کوټې ته دننه ورغلم او تر هغو چي روح يې له بدنه سره مخه ښه کول، ورته ولاړ وم. ټوله وخت په بېهوښۍ کي پرې تېر شو او روح يې بيخي ژر له بدنه ووت.

له کوټې راووتم او په دهلېز کي مي له ډاکټر سره خبرې وکړې ”زما لپاره که کوم امر وي؟”

“نه. نه. هيڅ نشته. زه دې تر هوټله ورسوم؟”
“نه، مننه. زه همدلته يوه شېبه تم کيږم”.

“زما سره د خبرو الفاظ نشته. زه نشم ويلای چي.......”.

“نه. مننه”.

ډاکټر “يوازي همدا لار پاتې وه، عملياتو ثابته کړه چي.........”.
ما ورته وويل “زه نه غواړم په اړه يې خبرې وکړم”.

“تر هوټله به دې ورسوم”.
“نه، مننه”.

دی په دهلېز کي رهي شو. زه ولادت خونې د دروازې په لور ورتېر شوم.

يوې نرسي وويل “تاسي دننه نه شئ راتلای”.

ما ورته وويل “له مخي مي ليري شئ”.

“تاسي لا تراوسه د دننه راتګ اجازه نه لرئ”.

ما ورته وويل “تاسي ټول ووزئ”.

کله چي دوی ټولې دباندي ولاړې، دروازه مي بنده کړه. څراغ مي ولګاوه، خو کومه فايده يې نه لرل. داسي وه لکه د يوې مجسمې سره چي خدای په اماني کوم. څو شيبې وروسته راووتم، روغتون مي پرېښود او په باران کي د هوټل په لور روان شوم.

پای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژباړن لنډه پېژندګلوي

ښاغلی رزاق راحل له نن څخه یوویشت پسرلیه وړاندي د افغانستان په تاریخي ولایت، کندهار کي زیږیدلی. په کال ۱۳۹۳ کی له ښونځۍ نه فارغ شوی او سمدستي د کانکور ازمویني له لارې د کندهار پوهنتون د ښووني او روزنې پوهنځۍ، پښتو څانګي ته بریالی شو. ښاغلی رزاق راحل انګلیسي ژبه په کندهار کي لوستې او له پښتو ادب سره د بې حده میني په خاطر یې (له وسلې سره مخه ښه کتاب) له انګلیسي نه راپښتو کړ. البته همدا یې لمړنۍ ژباړه هم ده. هیله ده، پښتو ژبې ته خپلې دغه هڅې لاپسي پراخي کړي. بریالی دي وي

د خدیجة الکبرا فرهنګي او ټولنیزه ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**